# سیګار

ځانګړی عمومي پلټونکی د افغانستان
بیارغونې لپاره

د 2014
اپریل 30



د متحده ایالاتو کانګرس ته درې میاشتنی رپوټ

## د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی د 2008 مالي کال د ملي دفاع واکمنی (P.L. 110-181) لایحې لخوا تاسیس شو.

د سیګار څارونکې ماموریت د قانون لخوا داسې تعریف شوې ده چې د هغو بسپنو ، پروګرامونو او عملیاتونو په

- د افغانستان بیارغونې لپاره چمتو کړی شوي یا تخصیص شوي مقدارونو سره بسپنه شوي پروګرامونو او عملیاتو پورې اړوند پلټنې او تحقیقات پرمخ ویسي.
- د هغو وړاندیزونو او پالیسیو مشري او همغږي کول چې د پروګرامونو او عملیاتونو د اقتصاد، موثریت او ګټې زیاتولو لپاره په پام کې نیول کیږي، او په داسې پروګرامونو او عملیاتونو کې د پیسو ضایع کیدو، چل، او ناوړه کارونې موارد کشف کړي.
- داسې وسیلې چې د یادو پروګرامونو او عملیاتونو د نیمګړتیاو او ستونزو په اړه د بهرنیو او دفاعي چارو وزارتونه په بشپړ ډول خبرداره وساتل شي، او د اصلاحي کړنو ضرورت او پرمختګ ورته په ګوته کړي.

د افغانستان په بیارغونه کې هر هغه لوی قرارداد، مرسته، هوکړه لیک، یا د مرستې هر هغه میکانیزم شامل دی چې د متحده ایالاتو کوم وزارت یا ادارې لخوا د افغانستان د بیارغونې لپاره د تخصیص شوو یا په هر ډول چمتو شوي پیسو په کارولو سره پلي کیږي.

سرچینه: P.L. 110-181، "د مالي کال لپاره د ملي دفاع واکمنۍ لایحه،" 1/28/2008.

(د دې رپوټ د هغو محتویاتو د لست لپاره چې د کانګرس لخوا تصویب شوي دي، 3 برخه وګورئ).

**د پوښ تصویر:**

د اپریل په 5 افغانان د کابل د رای ورکولو په مرکز کې ولاړ دي ترڅو د نوي ولسمشر او د 34 ولایتي شوراګانو د غړو لپاره په ټول هیواد کې په رای ورکولو کې برخه واخلي. (په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د معاونت ماموریت، عکس د فردین واعض لخوا)


جوزجان
بلخ
کندوز
تخار
بدخشان
فارياب
سمنګان
بغلان
سر پل
بادغيس
پنجشیر
نورستان
پروان
کاپیسا
کونړ
باميان
کابل
لغمان
هرات
د 2013 د ترهګريز بريد وروسته
اوس هم د ترميم په حال کې
وردک
ننګرهار
غور
لوګر
دایکندي
پکتيکا
غزني
خوست
ارزګان
فراه
زابل
پکتيکا
نيمروز
هلمند
کندهار
د SIGAR اوسنی دفتر
هغه ولايتونه چيرته چې SIGAR د آډيټ،
تفتيش، او څېړنې کار ترسره کړی دی

# د افغانستان بیا رغونې
# لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی

زه خوښهاله یم چې د سیګار 23ام درې میاشتنی راپور په افغانستان کې د امریکا د بیا رغونې د هڅو په درېځ د امریکا کانګرس، او د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزیرانو ته وړاندې کوم.

پدې ربع کې افغانستان د هیلې له یوې نادرې شیبې څخه خوند واخیست. د ملي دیموکراتیک انستیتوت په وینا، د 2014 د اپریل په 5، له اوو میلیونو څخه زیات افغانان، چې 35% یې میرمنې وې، په ټولټاکنو کې برخه واخیسته ترڅو یو نوی ولسمشر او د ولایتي شوراګانو غړي غوره کړي. تر ټولټاکنو څو اونی وړاندې د طالبانو پر ګواښونو او پر بهرنیانو او افغانانو پر وژونکو حملو برسیره، د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو وکولای شول ترڅو د ټولټاکنو له 6,423 مرکزونو څخه 6,218 پرانیستي وساتي. د افغانستان د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون لخوا له لمړني راپورونو داسي ښکاري چې ټولټاکنې به د دوو مخکښو کاندیدانو عبدالله او محمد اشرف غني احمدزي ترمنځ دویم پړاو ته ولاړې شي. دواړو کسانو ژمنه کړې ترڅو دوه اړخیزه امنیتي تړون لاسلیک کړي چې لدې موافقې سره به د امریکا ځینې ځواکونه په افغانستان کې وساتل شي ترڅو د افغانستان د امنیتي ځواکونو لپاره د دوامدارې روزنې ملاتړ برابر کړي او د دوامدارې بیارغونې ملاتړ لپاره لار پرانیزې.

د ځواک پر سولیزې دیموکراتیک سپارلو برسیره، د امریکا لخوا تمویل شوې بیارغونې لپاره اوس هم ډیر خطرونه پاتې دي. نړیوال بانک د څو کلونو لپاره وړاندوینه کړې ده چې افغانستان به د ایتلاف د ځواکونو له کمیدلو سره له اقتصادي انقباض سره مخامخ شي. د تیر مالي کال لپاره (د 2012 د دسمبر له 21 د 2013 د دسمبر تر 20) د هیواد کورني عواید د مالیې وزارت تر نښو 11.9% کم شوې و. په عین وخت کې، د افغانستان د حکومت لګښتونه زیات شوي دي، او دې کار د عوایدو د ټولولو او د بودجې لګښتونو ترمنځ پخوانی ډیر واټن نور هم زیات کړی. په 2014 کې د افغانستان عواید کولای شي د هیواد د 7.5 میلیاردو امریکایي ډالرو بودجې دریمه برخه تر پوښښ لاندې ونیسي. د عوایدو کمښت په هغه وخت کې راځي چې د بیارغونې د لسګونو پروژو او د هغوی د اړوندو عملیاتو او ساتنو لګښتونه د افغانستان حکومت ته سپارل کیږي.

پدې ربع کې د سیګار ځینو کارونو پدغې مسلې باندې کار کړی. د تیرو دریو مالي کلونو لپاره د ګمرکونو عواید د هیواد د ټولو کورنیو عوایدو د 44% او 48% ترمنځ حساب شوي دي. خو د سیګار د فعالیت پلټنه چې په اپریل کې خپره شوې موندلي چې سره لدې چې امریکا د افغانستان د ګمرکونو د عوایدو د ټولولو د ودې لپاره 198 میلیونه امریکایي ډالر ورکړي، د حکومت د عوایدو د سرچینې لپاره د ګمرکونو وړتیا اوس هم په شک کې ده. د سیګار پلټونکو موندلي چې تر ټولو یوه لویه مسله چې د ګمرکونو عوایدو ټولول محدودوي هغه اداري فساد دی. پردې برسیره، د امریکا سلاکارانو راپور ورکړی چې د افغانستان هغه مامورین چې هڅه کوي په مناسبه توګه د ګمرکونو مالیي ټولي کړي، اختطاف یا ګواښل شوي دي. د دې راپور 1 برخه په ټولیزه توګه د بیارغونې د هڅو په وړاندې د اداري فساد په ګواښ باندې خبري کوي.

پدې ربع کې افغانستان ته زما دسفر په وخت کې، ما د پاکستان له سرحد سره د تورخم د سرحد په دروازه له مخکنی عملیاتي پایګاه څخه لیدنه وکړه. نږدې 80% د افغانستان د ګمرکونو عواید د راپورونو په اساس پدې سرحد کې ټولیږي، چې د هیواد تر ټولو بوخت ګمرک دی. ما ته وویل شول کله چې د امریکا استادان او نظارت کوونکي شتون نلري، د عوایدو ټولول را لویږي. دا هڅوونکی نه وو، په ځانګړې توګه دا چې د امریکا کار کوونکي به په نږدې وختونو کې دې سرحد ته لاس رسی ونلری ځکه چې د امریکا اردو به دې سمیې ته د ملکي کسانو سره نه ځي.

لکه څنګه چې د امریکا اردو ځواکونه کمیږي، زه اوس هم د امریکا د ادارو د توان په اړه اندیښنه لرم چې و به کولای شي د بیا رغونې پروګرامونه تطبیق او ورڅخه نظارت وکړي. په فبروری کې، سیګار د سولې لپاره د امریکا له انستیتوت سره یو سمپوزیم جوړ کړ ترڅو د نظارت د ننګونو په اړه خبري وکړي او د لرو پرتو سیمو د ادارې او په نا امنه چاپیریال کې د نظارت لپاره ښه کارونه پیدا کړي. مونږ به ډیر ژر د دې سپموزیم یو راپور خپور کړو چې له 2014 وروسته به د نظارت لپاره اختیارونه وښیي.

پدې ربع کې 20 پلټنې، تفتیشونه، او هغه نور راپورونه چې سیګار خپاره کړي هغه پروګرامونه او پروژې یې ارزولې چې ارزښت یې نږدې 31 ملیارده امریکایي ډالر و. هغوی د پلان کولو، ساختماني کارونو، او نظارت ناکامی پیدا کړي. هغوی د نړیوال مرستندویه امنیتي ځواک د پلانونو په اړه چې وبه وکولای شي د افغانستان د امنیتي ځواکونو لپاره د ارزونې د هڅو خپل توان وساتي، د افغانستان د اوبو د سکتور لپاره د USAID ستراتیژي، او د کجکي په بند کې د بریښنا د تولید لپاره د اضافي توربین د نصبولو په اړه هم اندیښنه ښودلي. سیګار دوې مالي پلټنې هم بشپړې کړې چې تر اوسه له نږدې 75.3 میلیونو امریکایي ډالرو څخه یې تر پوښتنې لاندې نږدې 14.5 میلیون امریکایي ډالر پیدا کړي. د دې راپور 2 برخه زمونږ د موندنو او سپارښتنو لنډیز وړاندې کوي.

کانګرس ته زما د وروستی راپور څخه تراوسه پورې سیګار 60 نوي تحقیقات پرانیستې او 40 یې تړلي دي، چې پدې سره د روانو تحقیقاتو شمیر 338 ته رسیږي. د راپور ورکولو پدې وخت کې، د سیګار له روانو تحقیقونو څخه جرمي جریمي، بیرته تادیات، جریمي، او د امریکا حکومت لپاره د لګښتونو سپما نږدې 6.7 میلیونه امریکایي ډالر و. د سیکار د تعلیق او بندیز پروګرام 16 انفرادي کسان او 15 شرکتونه د نږدې 61 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت د قراردادونو په اړوند د تقلب او نه فعالیت تورونو په اساس د تعلیق او بندیز لپاره راجع کړي.

پدې ربع کې، زه بیا د امریکا د اردو د تعلیق او بندیز د پروګرام د پالیسو په اړه پخپلو اندیښنو ټینګار کوم. لکه څنګه چې ما د تیرو څلورو ربعونو په راپوورونو کې ورته اشاره کړې وه، چې اردو نه غواړي د یاغیتوب ملاتړ کوونکي تعلیق او بند کړي ځکه چې د دغو سپارښتنو ملاتړ کوونکي معلومات محرم دي، دا کار نه یووازې د قانون په اساس غلط دی، خو دا کار د ښې پالیسۍ او ملي امنیت د موخو په ضد هم دی. زه اوس هم کانګرس هڅووم ترڅو دا غلطه پالیسي بدل کړي او د اردو د تعلیق او بندیز په پروګرام باندې عام منطق تحمیل کړي.

له 2002 څخه، د امریکا کانګرس د افغانستان بیاجوړولو لپاره نږدې 103.2 میلیارده امریکایي ډالر تخصیص کړي دي — دا له هغه څه زیات دي چې امریکا د بل هیواد د بیارغونې لپاره په تیر کې لګولي دي. سیګار د افغانستان د حکومت د توان په اړه اندیښنه لري چې وبه کولای شی د تیرو 12 کلونو لاسته راوړنو ته دوام ورکړي ځکه چې د عوایدو او مکلفیتونو ترمنځ واټن د زیاتیدو په کال کې دی. امریکا او متحدینو یې د بودجې لپاره د څو هیوادونو د وجهي صندوقونو یا له هیواد څخه هیواد ته مستقیمه مرسته برابره کړې ده، ترڅو د افغانستان د حکومت د بودجې کمښت پوره کړي. مونږ به د امریکا د مستقیمې مرستې پروګرامونو نظارت او ارزونې ته دوام ورکړو. مونږ به په ټول سکتور کې د پروګرام ډیزاین، تطبیق، او دوام ته د یو لړ پلټنو په ترڅ کې چې اوس تر کار لاندې دي زیاته کتنه هم وکړو.

لکه څنګه چې افغانستان پخپل تاریخ کې د لمړني دیموکراتیک ځواک سپارلو په لور روان دی، زما کارکوونکي او زه له کانګرس، تطبیق کوونکو ادارو، او د نظارت له نورو ادارو سره یوځای کارکولو ته سترګې په لار یو ترڅو د امریکا د مالیي ډالرونه تر اداري فساد یا ضایعاتو لاندې رانشي.

په درناوې،

جان اف ساپکو
د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی

**دا راپور د 2014 د جنوری له 1 څخه د مارچ تر 31 پورې، د افغانستان د بیارغونې د دریو مهمو سکتورونو د پرمختګونو په اړه د سیګار د نظارت د کار یو لنډیز او نوي معلومات وړاندي کوي.* پدې راپور کې د بیارغونې د هڅې په وړاندې د اداري فساد د ګواښ په اړه خبري هم شامل دي. د راپور پدې دوره کې، سیګار د پلټنې، تفتیشاتو، خبرداری لیکونو، او نورو مسایلو 20 راپورونه خپاره کړي چې پدې کې د افغان امنیتي ځواکونو جوړولو، د حکومتولی د ودې، او د ټولنیز او اقتصادي پراختیا په برخو کې د متحده ایالاتو هڅې یې ارزولې دي. دا راپورونه د اداري او څارنې نواقص، کمزوری پلان جوړونه، د رغونې نواقص او د روغتیا او خوندیتوب د خطراتو په شمول یې یو شمیر ستونزو ته ګوته نیولې ده. د راپور ورکولو پدې وخت کې، د سیګار له روانو تحقیقونو څخه جرمي جریمې، بیرته تادیات، جریمې، او د امریکا حکومت لپاره د لګښتونو سپما نږدې 6.7 میلیونه امریکایي ډالر و. د سیګار تحقیقونو پایله په امریکا کې د یوه نیولو، د یوه جرمي معلوماتو، د دوو موافقو غوښتنو، او د شپږو بندي کولو سبب هم شو. په افغانستان کې، په دوو وګړو د بند حکم صادر شو او اته انفرادي کسان د اردو تاسیساتو ته له لاس رسي څخه منع شو.**

# د سیګار عمومي کتنه:

## پلټنې

سیګار د فعالیت درې پلټنې، دوه مالي پلټنې، دوه تفتیشونه، او د تفتیشونو د خبرتیا دوه مکتوبونه خپاره کړي. د **فعالیت** پلټنو موندلي:

- د نړیوال امنیت مرستندویه ځواک (آیساف) اړتیا لري ترڅو د ایتلاف د ځواکونو له کمیدلو وروسته د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) د توان د ارزونې د دوام لپاره خپل پلان کول ښه کړي.
- د افغانستان د حکومت د وړتیا ترڅو وکولای شي د ګمرکونو عواید ټول کړي، پر ځینو بریالیتوبونو برسیره، ننګونې به ګمرکونه د افغانستان د عوایدو د سرچینې د دوام په توګه محدود کړي.
- د افغانستان د اوبو سکتور لپاره د نړیوالې پراختیا لپاره د امریکا اداري (USAID) ستراتیژۍ اړتیا لري چې نوي شي ترڅو په اغیزمنه توګه نظارت او حساب ورکول ترسره کړي.

**مالي پلټنو** د کورنیو کنترولونو د نیمګړتیاوو او د نه اطاعت د مسلو له کبله تر پوښتنو لاندې نږدې 14.5 میلیون امریکایي ډالر پیدا کړي. د نیمګړتیاوو او د نه اطاعت په مسلو کې د نورو شیانو په منځ کې، د نغدو پیسو د توزیع غیر مناسب کنترولونو پایلې له کبله د فیدرال د مرستو غلا، د مهال ویش د پاڼو د ورکیدو، د مدیریت او اداري لګښتونه د افغانستان د بیارغونې په غلطې مرستې پورې حسابیدل، د قراردادي د تعلیق او بندیز د کنترولونو نه ترسره کول، د تفریغ غیر مستحق لګښتونه، د سندونو کمزورې ساتنه، د ملاتړ کوونکو سندونو نشتون، د تدارکاتو د طرزالعملونو نه مراعات کول، د بیلونو او د تادیاتو د غوښتنلیک غیر مناسب تاییدول، او د قرارداد اړتیا په اساس د سړک د ساختمان نه بشپړول شامل وو.

د **تفتیش خبرتیا مکتوبونو** د امریکا دفاع وزارت ته اطلاع ورکړې چې سیګار په پکتیکا کې د شرنې د مخکینی عملیاتو پایګاه د سوځولو سیستم د ساختمان په اړه یو لمړنی تحقیق پرانیستی دی او د بغلان په ولایت کې یې د بندیخانې د ساختماني نیمګړتیاو په اړه د امریکا بهرنیو چارو وزارت ته اطلاع ورکړې ده.

د امریکا لخوا د تمویل شویو تاسیساتو د **تفتیش راپورونو** پدغو مسلو باندې خبري کړي:

- د سیګار لخوا د سالنګ روغتون د تفتیش په اړه په افغانستان کې د امریکا ځواکونو نظرونه (USFOR-A)
- آیا د جوزجان په ولایت کې د کمپ نظارت د موخو لپاره ترسره کیږی

## نوي پلټنې او تفتیشونه

پدې ربع کې، سیګار د فعالیت شپږ نوې پلټنې، 27 نوې مالي پلټنې، او پنځه نوي تفتیشونه پیل کړي. شپږ نوې مالي پلټنې به دا ارزونې وکړي:

- د امریکا بهرنیو چارو وزارت، USAID او د امریکا دفاع وزارت ته په مالي، تفتیشونو، یا د پلټنو راپورونو کې د ټولو سپارښتنو دریځ

- په افغانستان کې د قانون حاکمیت پروګرامونو د جوړولو لپاره د امریکا مرسته
- د افغان مهاجرینو او په هیواد کې دننه د بې ځایه شویو کسانو د مرستې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت او USAID لخوا ترسره شوي پروګرامونه او نوښتونه
- تر هغې کچې چې د امریکا دفاع وزارت د سوداګرۍ او ثبات عملیاتونو لپاره د دندې ځواک (TFBSO) او د USAID پروګرامونه خپلو موخو ته رسیدلي ترڅو د افغانستان استخراجي صنعت ته پراختیا ورکړي

27 نوې مالي پلټنې به د امریکا دفاع وزارت، د امریکا بهرنیو چارو وزارت، او د USAID قراردادونو چې ټول لګښت یې له 2.3 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات دی ارزونه وکړي، چې لدغو سره به د ټولو روانو مالي پلټنو شمیره 45 ته ورسیږي چې نږدې 4.1 میلیارده امریکایي ډالر لګښت لري.

پنځه نوي تفتیشونه به د دوو صنعتي پارکونو، د افغانستان د ملي اردو د مسلخ، د افغانستان د ملي اردو کوماندو د کمپ تاسیساتو، او د افغانستان دفاع وزارت د قرارګاه ارزونه وکړي.

## ځانګړې پروژې

د راپور ورکولو پدې وخت کې، د ځانګړو پروژو دفتر، افغانستان ته د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د مرستې په اړه د حقیقت یوه پاڼه خپره کړې. پردې برسیره، دفتر پدغو اړه د معلوماتو مکتوبونه خپاره کړي:

- د Mi-17 ټکر او له منځه وړل
- د افغانستان د ملي پولیسو (ANP) نامعلومه یا خیالي کارکوونکي
- د یوې پریکړې له بیا کتنې څخه ترڅو د 64,000 مربعه فوټو یوه ودانۍ جوړه کړي د سندونو ساتنه
- د مخابرې له برجونو څخه د هغوی د ټاکل شویو موخو لپاره کار اخیستل شوی ندی
- د امریکا دفاع وزارت د قرارداد معلومات
- د USAID فسخه شوي قراردادونه
- د افغانستان د ملي پولیسو د پیسو ګرځنده امتحاني پروګرام
- د امریکا د کرنې وزارت د سویا بین پروګرام

## تحقیقونه

د راپور ورکولو په وخت کې، د سیګار روانو تحقیقونو د امریکا حکومت ته نږدې 2.7 میلیونه امریکایي ډالر سپمولي. د سیګار تحقیقونو پایله په امریکا کې د یوه نیولو، د یوه جرمي معلوماتو، د دوو موافقو غوښتنو، او د شپږو بندي کولو سبب هم شو. په افغانستان کې، په دوو وګړو د بند حکم صادر شو او اته انفرادي کسان د اردو تاسیساتو ته له لاس رسي څخه منع شو. جرمي جریمي، بیرته تادیات او جریمي، نږدې 4 میلیونه امریکایي ډالر و. سیګار 60 نوي تحقیقات پیل او 40 یې تړلي دي، چې پدې سره د روانو تحقیقونو شمیر 338 ته رسیږي. سربیره پردې، د هغه شواهدو له مخې چې د سیګار د تحقیقونو په ترڅ کې په افغانستان او امریکا کې لاسته راغلي دي، سیګار د 16 کسانو او 15 شرکتونو نومونه د تعلیق او بندیز لپاره وړاندې کړل.

په مهمو تحقیقونو کې دغه شامل دي:

- د ترانسپورتي شرکت یوه تحقیق چې د امریکا حکومت لپاره یې 2.5 میلیونه امریکایي ډالر وسپمول.
- د امریکا دوه عسکر د رشوت او توطیې لپاره بندي شوي
- د افغانستان د لاریو دوه ډریوران د غلا لپاره بندي شوي
- د کندهار په هوایي ډګر کې د انسانانو قاچاق د پلان مخنیوی
- د امریکې یو خاوند او میرمن یې د تقلب د توطیې لپاره بندي شوي
- د امریکا اردو یو پرکمشر د غلا د توطیې لپاره بندي شوی
- د امریکا د بهرنیو چارو وزارت یو قراردادي د غیر قانوني پیسو اخیستلو لپاره بندي شوی

* کیدای شي سیګار به د خپریدلو تر نیټې پورې، د محصولاتو او غونډو په اړه هم راپور ورکړي چې د 2014 د مارچ له 31 وروسته منځ ته راغلي.

# منځپانګو لست

## برخه 1




**1 اداري فساد بیارغونه ګواښي**
4 د امریکې ستراتیژي په اداري فساد کې برخه اخیستې
5 زیاتې پیسې، ډېر کم نظارت
6 د اداري فساد واضح تعریف نشته
10 له فساد سره د مبارزې لپاره سیاسي ارادې نشتون
12 د اداري فساد په وړاندې د هر اړخیزې ستراتیژي د جوړولو ناکامي
13 د فساد پر وړاندې د ستراتیژي جوړول آسانه ندي
15 د امریکا د راتلونکو بیارغونې مرستو خوندي کول


## برخه 2




**17 سیګار نظارت فعالیتونه**
20 په یاد ده: جول برینکلي
21 سیګار د امریکا د نړیوالي پراختیایي اداري د نظارت په اړه تصدیق کوي
22 څېړنې
35 پلټنې
40 ځانګړې پروژې
47 تحقیقونه
55 د سیګار نور فعالیتونه
60 د سیګار بودیجه
60 د سیګار کارکونکي
61 په مننې سره: ویکتوریا بټلر


## برخه 3




**63 د بیارغونې نوي خبرونه**
65 عمومي کتنه
68 د افغانستان بیارغونې لپاره مرسته
71 د فنډونو وضعیت
85 امنیت
119 حکومتداري
157 اقتصادي او ټولنیزه پراختیا

# **منځپانګو** لست



## برخه 4


**201 د نورو ادارو نظارت**
204 د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه
209 د نظارت یا څار روان فعالیتونه


## ضمیمې او پایلیکونه


222 ضمیمه الف: قانوني غوښتنو ته د راپور متقابل مراجعه
228 ضمیمه ب: د متحده ایالاتو فنډونه د افغانستان د بیا رغونې لپاره
230 ضمیمه ج: د سیګار لیکل شوي محصولات
236 ضمیمه د: د سیګار تحقیقات او د تماس شمیره
242 ضمیمه ه: مخففات او لنډیزونه
248 پایلیکونه

”یو اقتصاد یووازې کولای شي یو اندازه پیسې
تر هغه وخته پورې جذب کړي چې بیا تر سره
ډک شي. اضافي پیسې بل چیرته ځي، معمولاً
د پیسو پرواز، معمولاً غیر قانوني. په افغانستان
کې، د جذبولو ظرفیت د عملیاتو په لمړني کال
کې ډک. او دا د اداري فساد د پیلیدو سبب شو.“

— د USAID لوړ پوړی چارواکی

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت د لوی درستیز راپور لپاره مرکه، د اداري فساد مخنیوي/ضد مطالعې عملیاتي کول، د 2014 فبروري.

# 1

# اداري فساد
# بيارغونه ګواښي



# د اداري فساد منځپانګې


د امریکې ستراتیژي په اداري فساد کې برخه اخیستې 4

زیاتې پیسې، ډیر کم نظارت 5

د اداري فساد واضح تعریف نشته 6

له فساد سره د مبارزې لپاره سیاسي ارادې نشتون 10

د فساد پر وړاندې د هراړخیزې ستراتیژۍ جوړولو ناکامي 12

د فساد پر وړاندې د ستراتیژۍ جوړول آسانه ندي 13

د امریکا د راتلونکو بیارغونې مرستو خوندي کول 15


**عکس په تیره پاڼه کې**

له هوا څخه د خیبر د درې او د تورخم دروازې منظره، چې د افغانستان د ګمرکونو په سیستم کې د سرحد یوه مهمه دروازه ده. دا موقعیت به په راتلونکي لنډ وخت کې د امنیتي اندیښنو له کبله د سیګار کارکوونکو لپاره د لاس رسي وړ نه وي.
(د سمیت اندرسن لخوا د سیګار عکس)

# اداري فساد بيارغونه ګواښي

"اداري فساد په مستقيمه توګه د افغانستان د دولت وړتيا او مشروعيت ګواښي،"
دا د امريکا د دفاع وزارت (DOD) د لوی درستيز د يوې مهمې مطالعې خطرناکه خبرداری و چې پدې ربع کې خپره شوې دا مطالعه چې په افغانستان کې د امريکا د ځواکونو قوماندان، جنرال جوزف دانفورد لخوا منظور شوې خطر ته لنډه کتنه کوي: "اداري فساد د نفوس يوه مهمه برخه لرې کوي، د حکومت او امنيتي ځواکونو اعتبار کموي، نړيوال ملاتړ کمزوری کوي، د دولت کارونه او د قانون حاکميت کمزوري کوي، عوايد له دولت څخه لرې کوي، او د اقتصادي پراختيا پر وړاندې خنډونه جوړوي."[1] د لوی درستيز راپور په ځينو برخو کې د سيګار له پلټنو څخه ګټه اخيستې او د افغانستان په ثبات او پراختيا کې د شاملو انفرادي کسانو نظرونه تکرار کړي. لکه څنګه چې مهمه آګاهي او رښتيا خبري ډيری وختونو په رسمي سندونو کې نه وي، پدې راپور کې ځينې مهمې موندنې راغلي:[2]

- په افغانستان کې د امريکا لمړنی ستراتيژي يوه داسي سياسي چاپيريال ته وده ورکړه چې اداري فساد يې وهڅاوه.
- د افغانستان حکومت ونشو کولای د اردو او مرستو ډيري زياتي پيسې جذب کړي. دې کار له کمزوري نظارت سره، د اداري فساد لپاره فرصتونه جوړ کړل.
- د اداري فساد د بنې په اړه د يوه عمومي نظر نشتون، د مخنيوي د هڅو مخه ونيوله.
- له اداري فساد سره د مبارزې لپاره په دواړو نړيوالې ټولنې او د افغانستان په حکومت کې د سياسي ارادې نشتون پايله د معافيت کلتور شوه او د فساد پر وړاندې مبارزې هڅې يې له خنډ سر مخامخ کړې.
- د امريکا د فساد پر وړاندې د هر اړخيزې ستراتيژې نه جوړول د بيلابيلو فساد په وړاندې نوښتونو اغيزمنتيا کمه کړه.

سروې ګانو، پلټنو، حقوقي اجراتو، او له ډيرې مودې راهيسې د افغانستان او نړيوالې ټولنې نظارت کوونکو اداري فساد د بيارغونې د هڅو په وړاندې تر ټولو يو ډير خطرناکه خنډ په توګه پيژندلی و. نړيوال شفافيت افغانستان، سوماليا او شمالي کوريا په 177 هيوادونو کې د ډير زيات مفسد هيوادونو په توګه د لست په پای کې راوړي.[3] د امريکا د کانګرس او لوړ پوړو چارواکو پدې اړه زياتيدونکي اندېښنه ښودلې ده.[4] حتی د امريکا نړيوالې پراختيايي اداري (USAID) چارواکي دونالد ايل سمپلر د اپريل په پيل کې د سنا فرعي کميټې ته په افغانستان کې د امريکا د مرستو د لاسته راوړنو په اړه



د کندهار په شمال کې چې دا عکس **اخیستل شوی د کوکنارو کروندې** له قانوني محصولاتو سره خمکه شریکوي. (د سیګار عکس د الیزابیت فولکنر لخوا)

وویل، هغه نظر ورکړ چې "دا تر هغو ټولو ځایونو چې ما لیدلي یو ډېر زیات مفسد ځای دی."[5] د امریکا د لوی درستیز راپور دا په وضاحت وایي چې د امریکا حکومت هڅو مرسته وکړه ترڅو داسي یو چاپېریال جوړ شي چې په هغه کې اداري فساد کولای شي وده وکړي.

## د امریکا ستراتیژي په اداري فساد کې برخه اخیستې

د امریکا اردو د جنګ لپاره له نورو ځواکونو ګټه واخیستله، چې تر زیاتې کچې د افغانستان له شمالي ټلوالې سره تړلي و، ترڅو په 2001 کې طالبان او القاعده له ځواک څخه لرې کړي. مګر، لکه څنګه چې ځینو ملکي او د اردو تحلیل کوونکو نظر ورکړی، او لکه څنګه چې د اردو تر ټولو لویه مطالعه ټینګار کوي، دغو جنګ سالارانو ډېرې وختونه د امریکا له ملاتړ څخه ګټه اخیستې ترڅو په معافیت سره چلند وکړي او خپل سیاسي ځواک زیات کړي او خپل اقتصادي حالتونه ښه کړي.[6] د افغانستان سیاسي مشرانو د سیاسي معاملو له لارو وفادارن زیات کړي او ځواکمن کسان د حکومت په مهمو پوستونو کې ځای په ځای کوي او هغوی ته اجازه ورکوي ترڅو په معافیت سره چلند وکړي.

لدغو کسانو څخه ځینو یې د حکومت له خپلو پوستونو څخه ګټه اخیستې ترڅو د خپل ملاتړ کوونکو شبکې ټینګې او پراخې کړي. په ځینو حالتونو کې، د ملاتړ کوونکو دغې شبکې په جرمي شبکو بدلې شوي چې په ټولو برخو کې تر قضا پورته د ملکیتونو په غصب او باج اخیستنې، د مخدره توکو تر قاچاق او پیسو مینځلو کې لاس لري.

د نړیوالې سولې لپاره د کارنیګي انداومینت د قانون د حاکمیت او د دیموکراسي یوه عالمه سارا شایز استدلال کوي چې که څه هم د اردو شتون دا ستونزه زیاته کړې، اردو اداري فساد ته کمه پاملرنه کړې:

> په هره کچه کې، د امنیت لنډ مهالي اړتیا په دوامداره توګه د اداري فساد اندیښنې زیاتي کړي. د کنډکونو قوماندانو د پولیسو له چارواکو سره اړیکي ښې کړې او دا هغه کسان وو چې عسکرو یې د تلاشي په هره پوسته کې سیمیز خلک په وهلو یا سپکولو ځورول، یا د پیسو لپاره یې بندي کول، یا یې د چای هلکانو یا نورو فعالیتونو لپاره د ځوانو زامنو غوښتنه کوله. ډیپلوماتان اوږه په اوږه د ولایتونو له والیانو سره ودریدل، هغه کسان چې د لوټمارۍ د حکومت په شبکو کې یې مهمې ونډې درلودې. سي آی اې په محرمه توګه د پیسو تادیه کولو باندې ټینګار کاوه، پشمول د افغانستان ولسمشر حامد کرزي ... او افغانانو ورته کتل. د کندهار یوه پخواني ګاونډي وویل، "خلک فکر کوي چې امریکایان اداري فساد غواړي."[7]

پدغسې یوه چاپیریال کې، امریکا د بیا رغونې په میلیاردونو ډالر واچول.

## ډیري زیاتې پیسې، ډیر کم نظارت

د امریکا د لوی درستیز راپور مونډلي، "افغانستان ته د اردو او مرستو پیسو سیلاب،" د دغو پیسو د جذبولو لپاره د افغانستان حکومت توان تر اغیز لاندې راوړ. دا او د امریکا او نورو نړیوالو مرستندویو تطبیق کوونکو ادارو لخوا کمزوري نظارت، "د اداري فساد لپاره ډیر زیات فرصت برابر کړ."[8]

افغان چارواکو، پشمول د ولسمشر حامد کرزي، په نړیوالې ټولنې باندې تور لګولی دی چې اداري فساد یې زیات کړی.[9] د امریکا لوړ پوړو چارواکو دا منلي چې افغان ولسمشر سمه خبره کوي. د امریکا د اردو تورن جنرال هربرت آر مکماستر، هغه څوک چې د یوه دندې ځواک مشري کوله او یوه برخه یې د فساد په وړاندې مبارزه وه، په 2011 کې د کابل پوهنتون اوریدونکو ته وویل، "په تیرو لسو کلونو کې افغانستان ته د نړیوالې ټولنې د ډیرو زیاتو پیسو راتلو له کبله اداري فساد زیات شوی، چې ډیری وختونه یې مناسب نظارت ندرلود. . . ."[10]

یووازې د بیارغونې مرستې د افغانستان اقتصاد په پرتله ډیري زیاتي وي. د بیلګې په توګه، د نړیوال بانک په وینا، په 2010 کې د افغانستان ټول ناخالص کورني محصولات نږدې 15.9 میلیارده امریکایي ډالر و. پدغه کال کې، کانګرس د ولسمشر اوباما د غوښتنې لپاره له 16 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات تخصیص کړل ترڅو د افغانستان امنیتي ځواکونه، حکومت، او اقتصاد جوړ کړي. پدغو کې په لسهاوو هغه میلیاردونه امریکایي ډالر شامل نه و چې پدغه کال کې په افغانستان کې د امریکا د اردو عملیاتو لپاره لګیدلي. له 2010 څخه، کانګرس د بیارغونې د پروګرامونو لپاره نږدې 64 میلیارده امریکایي ډالر برابر کړي دي. دا د 103 میلیاردو امریکایي ډالرو نږدې 62% ده چې له 2002 څخه کانګرس د افغانستان بیارغونې لپاره تخصیص شوي دي.

د سږ کال په مارچ کې د اتلانتیک کونسل ته په یوې بیانیه کې، ځانګړي عمومي مفتش جان ساپکو دا پوښتنه وکړه: "څنګه به افغانستان، له یوه کمزوري اقتصاد سره، کولای شول په اغیزمنه توګه دا پیسې جذب کړي، او ولي به مفسدو چارواکو او نورو د دغو کمزورو مدیریت شویو پیسو سیلابونو او نامعلومې راتلونکې ته نه کتل او لدغه فرصت څخه به یې ولې ګټه نه اخیستله ترڅو د خپلو ځانونو لپاره برخه بیله کړي؟"[11]

سیګار او نورو مونډلي چې د امریکا تطبیق کوونکو ادارو تل د خپلو ډیرو زیاتو لګښتونو اغیزمنه نظارت ندی ترسره کړی. د سیګار پلټنو او تفتیشونو د پلان کولو نشتون،

د قرارداد سم مدیریت نه کول، د کنترول کمزوری کیفیت، او کمزوری حساب ورکول لست کړي دي. په پایله کې، په افغانستان کې په خرابه توګه ښوونځي جوړ شوي چې د لویدو په خطر کې دي، کلنیکونه ډاکټران یا روغتیایي مواد نلري، د پولیسو او اردو بارکونه د ګټې اخیستنې لپاره مناسب ندي، او سړکونه د نه ساتنې له کبله له منځه ځي.

د غیر مناسب مدیریت او نظارت لپاره ډېر توضیحات شتون لري، پشمول د کمزوري امنیت، د امریکا د اردو او ملکي کارکوونکو ډېر بدلیدل، د بیارغونې پروژو د تعقیب لپاره د ادارو ترمنځ د متحد سیستم نشتون، او د بې کاره او غیر صادقانه عملونو لپاره د غیر مناسب حساب ورکولو ترسره کول شامل دي. د دغو او نورو غلطیو پایله دا وه ترڅو د اداري فساد لپاره دروازه پرانیستي یا زیاته پرانیستي پریښودل شي.

د ایتلاف هڅې ترڅو د اداري فساد په وړاندې مبارزه وکړي د غیرو دقیقو توضیحاتو له کبله له خنډ سره مخامخ شوي.

## د اداري فساد واضح تعریف شتون نلري

د امریکا لوی درستیز راپور اشاره کړې چې امریکا او د ایتلاف ملګرو یې د اداري فساد یو واضح او ګډ تعریف ندرلود، یا په پوره توګه دا ومني چې افغانان د اداري فساد په اړه څه فکر کوي.[12] د اداري فساد په اړه د 2013 د نړیوال امنیتي معاونت ځواک (آیساف) یوه راپور ورته نظر وکړی، او اشاره یې کړې ده چې "عموماً دا نظر په ټولې نړی کې پیژندل شوی مګر کلتوري عوامل، د هیوادونو ترمنځ په قوانینو کې توپیرونه، او نور عوامل په یوه هیواد کې د هغه څه په منځ کې چې د منلو وړ دي یا ندي لیکه تیاره کوي؛ او د اداري فساد په وړاندې د ملګرو ملتونو کنوانسیون هم دې اصطلاح ته تعریف نلري."[13] افغانستان په 2008 کې د فساد په وړاندې د ملګرو ملتونو کنوانسیون تایید کړی. مګر، لکه څنګه چې د آیساف راپور وایي، د ملګرو ملتونو د اصطلاحاتو لست په واضح توګه



د ګردیز خوست له سړک **خڅه واورې لرې کړی شوې**. د افغانستان د لویو سړکونو په سر د رشوت اخیستل د اداري فساد یوه عادي بڼه ده. (د USAID/افغانستان عکس)

"اداري فساد" ندی تعریف کړی، مګر یو شمیر جرمي عملونه لکه اختلاس او د پیسو مینځل یې په لست کې راوړي.

د افغانستان فرمان چې له فساد سره د نظارت او مبارزې عالي اداره یې تاسیس کړه، (یا "HOO"، چې ځینې وختونه پدې حروفو "HOOAC" هم اختصاریږي) اداري فساد ته په یوه رسمي پراخ نظر ګوري، هغه چلند هم تر پوښښ لاندې نیسي چې ډیری خلک به هغه د دندې نه پاملرنه یا کمزوری فعالیت ووایي نه دا چې ښکاره اداري فساد: له اجازې پرته د رسمي سندونو له منځه وړل، د "رښتیا پټول،" او د ګمارل شویو دندو ترسره کولو ځنډول.[14] لکه څنګه چې د HOO د قانون کلمي وایي، د اداري فساد رسمي تعریف کیدای شي د هغوی له کچې سره توپیر ولري.

د امریکا دفاع وزارت لوی درستیز، هغو تعریفونو ته اشاره کړې چې له عامه دفتر څخه ناوړه ګټې اخیستنې او شخصي ګټې باندې راګرځي، او وایي چې "د 'ناوړې ګټې اخیستنې' او 'شخصي' کلمې ډیری وختونه د افغانستان له اوضاع سره کار کولو لپاره مناسب نه و،" چیرته چې د چارواکو لپاره سوغاتونه او قومي ملاتړ شبکې عادي شیان دي. په پای کې آیساف اداري فساد د "شخصي ګټې لپاره له ځواک څخه ناوړه کار اخیستنې" په توګه تعریف کړ، مګر بیا یې ومندل چې د دې سست ستندرد تطبیقول هم ستونزمن و.[15]

د افغانستان په اداري فساد کې هر شی د ورځنې خدماتو لپاره د کمو پیسو له رشوت، واسطې، او قومي ترجیهاتو څخه، د قرارداد تر تقلب، د ډیرو پیسو غلا، او د قضا سیستم تر پښو لاندې کول شامل دي.

## په پراخه کچه کم اداري فساد

هیڅ څوک پدې نه پوهیږي چې افغانان هر کال څومره رشوت ورکوي، مګر اټکلونه ډیر زیات دي. د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو دفتر (UNODC) تیر کال راپور ورکړی چې په 2012 کې، "نیمی افغان وګړو د عامه خدماتو غوښتنې لپاره رشوت ورکړی او عامه چارواکو ته تادیه شوی رشوت 3.9 میلیارده امریکایي ډالر و،" چې دا د هیواد د کورنیو ناخالصو محصولاتو له 20% سره برابر دي.[16] د غیر حکومتي سازمان د افغانستان د اعتبار نظارت لخوا د اداري فساد په شیړ میاشتنی سروې کې دا شمیره ډیره کمه و. دې سروې اټکل کړی چې د 2010 د 1.07 میلیاردو امریکایي ډالرو په پرتله، په 2012 کې افغانانو نږدې 1.25 میلیارده امریکایي ډالر رشوت ورکړی.[17] دې سروې موندلي چې 18% ځواب ورکوونکو عامه چارواکو لکه پولیس ته رشوت ورکړی دی. یوه عادي ځواب ورکوونکي څلور رشوتونه ورکړي چې هر یو یې نږدې 190 امریکایي ډالر و، او دا په یوه هیواد کې چې د هر وګړي لپاره ناخالص کورني محصولات یې یووازې 687 امریکایي ډالر دي، ډیري پیسي دي.[18] د اعتبار نظارت په اوس وخت کې د نوي سروې د موندنو بیا کتنه کوي چې پلان لري په راتلونکو میاشتو کې یې خپره کړي. دې سیګار ته وویل چې د سیګار لمړنی موندني دا ښیي چې اداري فساد لا نور هم ستونزمن شوی.

دا توپیر لرونکي اټکلونه، چې لږ تر لږه د افغانستان حکومت د کورنیو عوایدو له نیمی سره برابر دي، د هغو رشوتونو پایله ده لکه یوه عامه چارواکي ته د خدمت لکه د حکومت یوه فورمه ټاپه کول یا د پولیسو له یوې تلاشی څخه د تیریدلو لپاره رشوت ورکول دي. UNODC ویلي دي چې د اداري فساد پراخوالی او کچه تر یوې اندازې د افغانانو د چلند او کارونو منعکس کوونکي دي. افغانان د خپل هیواد لپاره اداري فساد ته د ستونزې په توګه

ګوري، مګر په عادي ژوند کې یو څه اداري فساد هم مني. UNODC وايي چې په 2012 کې له هغو 68% وګړو سره چې مرکه شوې فکر کاوه چې دا د منلو وړ و چې عامه کارکوونکي خپل کم معاشونه په کمو رشوتونو سره زيات کړي، پداسي حال کې چې 67% وګړو ويلي چې ځینې وختونه دا د منلو وړ دي چې کورنی اړيکي او ملګرتيا د عامه خدماتو استخدامولو پريکړه وکړي.[19] HOO هم کم رشوت داسي تشريح کړی چې دا په ساده توګه د جوازونو، ليسنسونو، او سندونو اخيستلو د "يوې ستونزمنې، د نه زغم وړ، زيات وخت نيونکي او قيمتي پروسې په وړاندې يو ځواب دی،" او اضافه کوي چې "پدغو ټولو پروسو کې د کم اداري فساد تسهيلات شامل دی."[20] پداسي حال کې چې ځينو استدلال کړی چې کم رشوت هغه څه دي چې افغانانو په عنعنوي توګه کار کړی، سارا شايز، هغه ښوک چې په کندهار کې يې يو شرکت پر مخ وړ او د ښو کلونو لپاره يې له آيساف سره د سلاکار په توګه کار کړی وړاندې تر دې چې د نړيوالې سولې لپاره د کارنيګي ايندوامنت سره يو ځای شي، وايي چې رشوت د اداري فساد په "عمودي متحدو" شبکو کې منځ ته راځي:

> غربې تحليل کوونکي او پريکړه کوونکي غواړي ترڅو هغه څه ته چې هغوی "کم اداري فساد" وايي، لکه د ترافيکي مقرراتو پلې کولو په پلمه د پوليسو بدلول؛ د ښوونځيو د مديرانو، ډاکټرانو لخوا د پيسو غوښتنې، يا هغه مامور چې د مړينې سندونو ډکولو لپاره پيسې اخلي . . . او د قضا پريکړو سيستماټيک پلورلو ته په کمه سترګه ورته وګوري. ډيری غربيان داسي ناوړو ګټو اخيستنو ته يووازې د ټيرونو د ويلونو ګريس کول وايي ترڅو د پراختيا په حال کې په هيوادونو کې "کارونه ترسره شي." په حقيقت کې، داسي بې عدالتي او سپکاوي د وګړو د هرې ورځې شکايتونه دي . . . او هغوی په لوړو پوړونو کې له کرايې اخيستونکو سره نږدې اړيکې لري. د اداري فساد دا شبکې په عمودي توګه متحد دي. د عامه څارنوالانو په وينا، په افغانستان کې، د کندهار ميز له هغو رشوتونو څخه چې سيميز قاضيان يې هره مياشت اخلي يوه برخه يې د سترې محکمې ريس ته ورکوي.[21]

په بل عبارت، دا کم رشوت يا د لوټمارۍ اداري فساد، د عنکبوتي اداري فساد هغه بڼه ده چې مالي او د قضا سکتورونه يې راګير کړې دي، د عوايدو ټولول يې له خنډ سره مخامخ کړي، د ځمکو غصب يې زغملی، او د جرمي شبکو ملاتړ کوونکو لپاره يې پيسې برابرې کړي.

## ډير زيات اداري فساد د عامو خلکو ډاډ کموي

سيستماټيک، په لويې کچې اداري فساد د افغانستان د عوايدو ټولولو مخه نيسي، اقتصادي پراختيا له خنډ سره مخامخ کوي، او د قانون حاکميت تاسيسولو هڅو مخه نيسي.

د امريکا بيارغونې په ستراتيژۍ کې د افغانستان حکومت سره مرسته شامله ده چې زيات عوايد ټول کړي ترڅو د خپلې بودجې نيمګړتياوې پوره کړي او د خپلو عملياتي لګښتونو لپاره پر نړيوالې ټولنې باندې کمه تکيه ولري. پدې ربع کې د افغانستان د ګمرکونو په اړه د سيګار يوې پلټنې موندلي چې "اداري فساد د ګمرکونو په ټولو پوړونو باندې اغيز لري او دا تر ټوله لويه مسله ده چې د افغانستان د ګمرکونو په پروسو او عوايدو باندې اغيز لري." پلټنه وايي چې د ګمرکونو د اداري فساد کچې او اغيز "اندازه معلومول ستونزمن کار" دی، مګر وايي چې د امريکا ادارو اټکل کړی چې هر کال په لسهاوو ميليونه ډالر د قاچاق له کبله ورکيږي او دا چې د اداري فساد کمول "کيدای شي

# اداري فساد ګواښوونکی دی



د امریکا د **ګمرکونو سلاکاران د افغانستان** د ګمرکونو له چارواکو سره د ویش د سرحد په دروازه کې کار کوي. (د امریکا د اردو عکس)

د ګمرکونو عواید چې مرکزي حکومت ته لیږل کیږي دوه برابره کړي.» پلټنه دا هم وايي چې له 2009 څخه امریکا لږ تر لږه 198 میلیونه امریکايي ډالر لګولي ترڅو د ګمرکونو د ارزونې او عواید ټولولو لپاره د افغانستان حکومت توان ښه کړي.[22]

له 2012 څخه، افغانستان ندی توانیدلی ترڅو د خپلو عوایدو ټولولو نښې پوره کړي. د 2012 له دسمبر څخه د 2013 تر دسمبر پورې، د خپلو 2.4 میلیاردو امریکايي ډالرو نښه یې تر نږدې 12% کمه وه. د امریکا او افغان چارواکو ژورنالستانو ته وویل چې کیدای شي د خپل 2014 موخه چې 2.5 میلیارده امریکايي ډالر دي تر 20% کمه وي. دا به دا معنی ولري چې د افغانستان حکومت به وشي کولای ترڅو د خپلې بودجې چې 7.5 میلیارده امریکايي ډالر ده یوازې دریمه برخه تادیه کړي. دا به په نړیوالې ټولنې پورې اړه ولري ترڅو دا کموالی پوره کړي. د افغانستان د بودجې د بشپړو خبرو لپاره، د دې راپور د 3 برخې 159 پاڼه وګورئ.

د افغانستان حکومت او نړیواله ټولنه هیله لري چې افغانستان به وکولای شي خپل اقتصاد ته پراختیا ورکړي او د خصوصي سکتور او په ځانګړې توګه د کانونو له پراختیا سره به عواید زیات کړي. مګر، د هیواد انرژۍ او مینرالونو د سرچینو پراختیا لپاره پلانونه، چې د دې راپور په 3 برخه کې تشریح شول، که حکومت ونشي کولای د کانونو د پراختیا لپاره حقوقي کاري چوکاټ تاسیس او پلي کړي، کیدای شي د ډېر زیات اداري فساد لپاره فرصتونه پرانیزي، تر هغه څه به زیات وي چې اوس په هغه هیواد کې شتون لري چې په نړۍ کې یې د کوکنارو تولید لمړی درجه وړي.

په عین وخت کې، اداري فساد د بامسولیته او مالیه ورکونکي خصوصي پراختیا هڅو لپاره هم زیات خنډ جوړوي. لکه څنګه چې HOO وايي، "اداري فساد د خصوصي سکتور پانګونه محدودوي، د معاملو لګښتونه زیاتوي، د ملکیتونو مالکیت، اکادمیک او د مالکیت نورو حقونو/قراردادونو د غیر منظموالي له کبله سوداګر د باج اخیستنې له ګواښ سره مخامخ کوي."[23]

د نړیوال بانک یو تحلیل چې په 185 هیوادونو کې د سوداګرۍ چاپیریال پرتله کوي لدې نظر څخه ملاتړ کوي. که څه هم نړیوال بانک د سوداګرۍ د پیلولو لپاره افغانستان په 28 ځای کې راوړی، خو د قرارداد د پلې کولو لپاره یې دا هیواد په 164ځای کې او د پانګه والو خوندیتوب لپاره یې په 185 ځای کې راوړی.[24] احتمالي پانګوال به پدې فکر وي چې پدغو درجو کې اداري فساد څومره ونډه لري، او دا به د هغوی لپاره څومره پیسو ته اړتیا ولري ترڅو ښه چلند لاسته راوړي.

د کابل بانک کیسه، چې سیګار یې په اړه د خپلو ربعونو په راپورونو او مالي پلټنو کې کانګرس ته راپور ورکړی دی، یوه بیلګه ده چې څرنګه د ملاتړ سیستم او هغه د مجرم کسانو چې په زیات تقلب او ناوړې ګټې اخیستنې کې لاس لري قصدي نه محاکمه کول د افغانستان اقتصاد کمزوري کوي او راتلونکي پراختیایي هڅې له زیات خطر سره مخامخ کوي. وړاندې تردې چې په 2010 کې له نږدې ړنګیدو سره مخامخ و، کابل بانک د افغانستان تر ټولو لوی خصوصي بانک و. انفرادي کسانو او شرکتونو چې لدې بانک سره تړاو درلود د بانک نږدې 935 میلیونه امریکايي ډالر یې تر زیاتې کچې د تقلبي پورونه فعالیتونو له لارو غلا کړل. د دغو پیسو نږدې 92% هغو انفرادي کسانو ته ولاړې چې ښې اړیکې یې لرلې. د افغانستان مرکزي بانک ورکې پیسې بیرته پوره کړې، چې په 2010 کې د حکومت د ټولو کورنیو عوایدو له نیمی سره برابر وې، او په هغه وخت کې یې د هیواد د 5% کورنیو ناخالصو محصولات استازیتوب کاوو.

پر یو لړ تحقیقونو او د نړیوالې ټولنې پر فشارونو برسیره ترڅو د په غلا کې له اړوندو کسانو حساب واخیستل شي، د افغانستان حکومت یوازې نږدې 174.5 میلیونه امریکایي ډالر بیرته لاسته راوړي. د افغانستان د لوی څارنوال دفتر قصداً تحقیق ځنډنی کړ او که څه هم یو څو کسانو ته د کمې مودې بند ورکړ شو، خو اصلي تورن کسان، پشمول د هیواد د سیاست لوړ پوړي عدالت ته ندي راوړل شوي. (د کابل بانک د نویو معلوماتو لپاره، د 3 برخې، 167 پاڼه وګورئ.)

د کابل بانک کړکیچ په ټول مالي سکتور باندې ډیر زیات اغیز کړی دی. سیګار په دې لنډو وختونو کې یوه پلټنه خپره کړې چې دا یې موندلي چې د بانکداري سیستم اوس هم ډیر کمزوری دی. مرکزي بانک ظرفیت نلري او د تخنیکي مرستې لپاره زیاته اړتیا لري. مګر، د افغانستان حکومت د امریکې سلاکاران له مرکزي بانک سره له کارکولو څخه منع کړي. د سیګار پلټونکي دې پایلې ته رسیدلي چې افغانستان د بانکداری د کړکیچ په یوه بل زیات خطر کې دی.[25]

د بانکداري سکتور د نه اصلاح او نه منظم کول د هیواد راتلونکې پراختیا له خطر سره مخامخ کوي. د بیلګې په توګه، د نړیوال وجهي صندق (IMF) د نامحدود کریډیت آسانتیاوې (ECF) د کمو عوایدو هیوادونو لپاره په منځ مهاله توګه په کم یا هیڅ ګټې سره مرسته برابروي. له افغانستان سره د پور موافقه د بانکداری او مالي سکتور کې د حکومت په اصلاحاتو پورې اړه لري چې لدې سره به شفافیت او حساب ورکول زیات شي. پدې کې د پیسو مینځلو پر وړاندې په نړیواله کچې د منلو وړ قانون تصویب، هغه څه چې د افغانستان حکومت ندي تسره کړی، او د مرکزي بانک او د افغانستان د قانون پلي کوونکو ادارو ترمنځ د معلوماتو شریکولو آسانتیاوې او د بنسټیزو اقتصادي نښو پوره کول شامل دي. IMF به د ECF هیڅ مرستې د بورد له مثبتې بیا کتنې څخه توزیع نکړي. IMF له 2012 څخه هیڅ مرسته نده توزیع کړې، ځکه چې افغانستان په اصلاحاتو کې مناسب پرمختګ ندی کړی.

پدې ربع کې، د مالي عمل کاري ځواک (FATF)، یوه نړیواله اداره چې د پیسو مینځلو، تروریستانو تمویل، او د نورو ګواښونو سره د نړیوال مالي سیستم اعتبار لپاره مبارزه کوي، د افغانستان دریځ یې کم کړی ځکه چې په دوامداره توګه ندی توانیدلی ترڅو د پیسو مینځلو مخنیوی خپل ګامونه اصلاح کړي. متخصصینو خبرداری ورکړی چې افغانستان په تور لست کې د شاملیدو په خطر کې دی. که په تور لست کې راشي، دا به د افغانستان بانکونو لپاره ستونزه جوړه کړي ترڅو له نړیوالو بانکونو سره دوه اړخیزې اړیکې ولري، او کیدای شي دا به د ټول هیواد مالي سکتور او اقتصاد لپاره ناوړه پایلې ولري. افغانستان باید د ډاډ وړ بانکداري سیستم ولري چې نړیوال منل شوي مقررات په پام کې نیسي او پلي کوي ترڅو بهرنی پانګه راجلب کړي او له 2014 وروسته د نړیوالې مرستې بهیر وساتي. د دې مسلې د لا نورو معلوماتو لپاره، د دې راپور 3 برخه وګورئ.

## د فساد پر وړاندې د مبارزې لپاره سیاسي اراده نشته

د لوی درستیز راپور دې پایلې ته رسیدلی چې نه نړیواله ټولنه او نه هم د افغانستان حکومت د فساد په وړاندې د مبارزې لپاره په بشپړه توګه ژمن ندي. مطالعې ویلي چې په بیلا بیلو دلیلونو د ایتلاف ځواکونو تر 2009 پورې په اداري فساد باندې کار ندی کړی:

- آیساف هغه توان نلري ترڅو په دقیقه توګه د اداري فساد ارزونه وکړي.
- د امریکا اردو هیڅ پروګرام نلري ترڅو له اداري فساد په وړاندې د مبارزې لپاره کارکوونکو ته روزنه ورکړي او تجهیز کړي.
- د کارکوونکو زیات بدلیدل د فساد پر وړاندې ګامونو بنسټیز کول یې ستونزمن کړي.

په عین وخت کې، د لوی درستیز راپور مندلي چې، د امریکا اردو لیواله نه و ترڅو د اداري فساد ستونزې لپاره د حل لار پیدا کړي مګر که داسې ښکاره شي چې اردو وکولای شي پرځای یې د مخنیوی نور ګامونه واخلي. په حقیقت کې، راپور وایي چې د افغانستان چاپیریال د مرستندویه هیوادونو لپاره ستونزې جوړوي، چې هڅه کوي د فساد پر وړاندې او فساد مخنیوی ګامونه تطبیق کړي. د امریکا دفاع وزارت د لوی درستیز راپور وایي چې د اداري فساد پر وړاندې ګامونه لکه د شفافیت اړتیاوې، د حساب ورکولو کنټرول، تفتیشونه، او پلټنې د اداري فساد فرصتونه محدودوي او په انفرادي چلند باندې اغیز لري، مګر هغو کسانو ته چې غلط کارونه کوي جزا نه ورکوي. جزا د فساد مخنیوی تر ګامونو لاندې ترسره کیږي چې پدې کې دواړه جزا ورکول او مخنیوې شامل دي. له بده مرغه، په افغانستان کې، "د فساد مخنیوی ګامونه تر ډیرې کچې د قانون په یوه اغیزمن سیستم، په ځانګړې توګه په یوې خپلواکې قضا باندې تکیه لري." افغانستان نه یوه خپلواکه قضا لري او نه یو قانوني سیستم چې د اداري فساد په له منځه وړلو باندې کار وکړي.[26]

د سیستماتیک اداري فساد په وړاندې مبارزې لپاره د کورنیو بنسټونو جوړول یو ډیر زیات ستونزمن کار دی. د کمزورو هیوادونو د مشروعیت په یوې مطالعې کې، د اقتصادي همکارۍ او پراختیا نړیوال سازمان (OECD) لیدلي چې "په ډیرو کمزورو هیوادونو کې بنسټیزه ستونزه دا ده چې سیاسي او اقتصادي لوړ پوړي کیدای شي د هیواد د ظرفیت په ډیرولو یا له وګړو سره په اړیکو کې کمه لیوالتیا ولري، ځکه چې هغوی د عوایدو لپاره په هغوی باندې تکیه نلري." خو OECD دا هم وایي چې په ځینو خوارو هیوادونو کې لوړ پوړي د قاچاق، صادراتو معاملو، او د غیر قانوني مخدره توکو د قاچاق له لارو "د شخصي شتمنیو ټولولو لپاره ځانګړي فرصتونه لري."[27]

د 2014 د اپریل په یوه بیانیه کې، ولسمشر کرزي استدلال کړی چې افغانستان به په بریا سره د اداري فساد لپاره د حل لار پیدا نکړي که دا هیواد د حکومت د اصلاحاتو په برخه کې پرمختګ ونکړي ترڅو د ملکي کارکوونکو لپاره د ژوند کولو معاش او باامنه راتلونکې برابر کړي. "د اداري فساد په وړاندې د مبارزې لپاره، مونږ باید خپل اداري سیستم اصلاح کړو او دا وګورو چې خپلو کارکوونکو ته مناسب معاش ورکړو او دا وګورو چې د هغوی راتلونکی تضمین شي،" هغه وویل، "تر اوسه، زه د اداري فساد په وړاندې په مبارزه کې یا په حکومت کې اصلاحاتو په راوړلو کې د بریا کومه نښه نه وینم."[28]

HOO اداري فساد د ډیرو ژورو ریښو بنسټیزې ستونزې په توګه تشریح کړی دی، چې د دواړو کورنیو او بهرنیو عواملو لخوا زیات شوی. په کورنیو عواملو کې، HOO دغه لاندې په لست کې راوړي:

- په ملي او ولایتي کچه د بنسټونو کمزوری ظرفیت
- تقنیني او مقرراتي کمزوری کاري چوکاټ
- د قوانینو او مقرراتو کمزوري پلې کول
- د عامه چارواکو کمزوری او/یا نه اهلیت پر اساس استخدام

- کم معاشونه او د قانون پلي کوونکو چارواکو کمه شمیره
- د شکایتونو کولو میکانیزمونو او د عامه تفتیش لپاره دسیستمونو نشتون
- د ترياکو له قاچاق او سرحدونو له قاچاق څخه غیر قانوني ګټي[29]

HOO دا نظر هم ورکوي چې نړیوالې ټولنې د خپلو "ډېرو زیاتو پراختیایي او بشري مرستو" او د نړیوالو ځواکونو، امنيتي شرکتونو، او د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د ملاتړ لپاره د قراردادونو د مرستو د بهیر له لارې په اداري فساد کې برخه اخیستې ده.[30]

مګر HOO د ستونزې یوه برخه ده. لکه څنګه چې پدې ربع کې سیګار USAID ته راپور ورکړی، HOO د فساد په وړاندې ډېر کم کار کړی دی. د HOO د جوړولو لپاره د USAID پروګرام د 2013 په نومبر کې پای ته ورسید. USAID، HOO د بې کاره، غیر فعاله او سیاسي شوې په توګه تشریح کړی دی. د HOO د خبرو په اړه 3 برخه وګورئ.[31]

د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو هم د افغانستان د لوی څارنوال دفتر په اړه هم زیات انتقاد کړی، دا هغه بنسټ دی چې د افغانستان اساسي قانون ورته د جرمونو د تحقیق او محاکمه کولو مسولیت ورکړی.[32] د سیګار تحقیق کوونکو، چې د فیدرال قانون پلې کولو له نورو ادارو سره یې له نږدې کار کاوو، د ځینو جرمي شبکو او چې تر کومې کچې هغوی د افغان چارواکو په موافقې کارونه ترسره کول، په پیژندلو کې مرسته کړې ده. هغوی له نږدې دا تجربه لري چې افغان قانون پلي کوونکو ته څومره ستونزمن کار دی ترڅو د اداري فساد مهمې قضیې محاکمه کړي. د افغانستان لوی څارنوال دفتر قصداً یا لوړ پوړي چارواکې یا هغه کسان چې له لوړ پوړو چارواکو سره اړیکي لري محاکمه کړي ندي.

## د فساد پر وړاندې د هراړخیزې ستراتیژي جوړولو ناکامي

که څه هم د امریکا ملکي او اردو ادارو په افغانستان کې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې لپاره بیلا بیل پروګرام پیل کړي دي، مګر په افغانستان کې د فساد پر وړاندې د فعالیتونو لپاره امریکا هیڅ کله یوه هر اړخیزه ستراتیژي ندرلوده. د 2010 د لندن د مرستندویانو په کنفرانس کې نړیوالې ټولنې په ځانګړې توګه اداري فساد د یوې مهمې اندیښنې په توګه راپورته کړه. پدغه کال کې، مرستندویانو او د افغانستان حکومت هم د فساد پر وړاندې د نظارت او ارزونې ګډه کمیټه (MEC) تاسیس کړه، ترڅو د اداري فساد په اړه د نړیوالې ټولنې اندیښنو لپاره د حل لار پیدا شي. په 2012 کې، د ټوکیو د مرستندویانو په کنفرانس کې، مرستندویانو په ډاګه خبري کولي. هغوی له 2014 وروسته مرستې په هغو نښو پورې وتړلي چې د ټوکیو د حساب ورکولو په دوه اړخیز کاري چوکاټ کې تشریح شوي. مګر دا نښې ناڅرګنده دي او پایلې یې نشي اندازه کیدلای.

په عین وخت کې، امریکا د بیلابیلو دندو ځواکونو په تاسیسولو پیل وکړ ترڅو هڅه وکړي او د اداري فساد په کچه او داخلي اړیکو بڼه باندې پوه شي. په 2010 کې، د امریکا دفاع وزارت د 2010 دندې ځواک تاسیس کړ ترڅو دا وګوري چې د امریکا لخوا تمویل شوي قراردادونه د یاغیتوب ملاتړ ونکړي. دې وزارت د شفافیت دندې ځواک هم جوړ کړ، چې د "شفافیت" معنی لري، ترڅو د مخدره توکو او یاغیتوب د فساد په څلور لارې کار وکړي.

د امریکا کابل سفارت په 2010 کې د فساد پر وړاندې د یوې هر اړخیزې ستراتیژۍ مسوده خپره کړه، مګر د امریکا بهرنیو چارو وزیر په رسمي توګه دا مسوده تایید کړې نده.[33]

سیګار په دوامداره توګه سپارښته کړې چې امریکا د اداري فساد پر وړاندې یوه هر اړخیزه ستراتیژي جوړه او تطبیق کړي ترڅو لکه څنګه چې په افغانستان کې د تلونکي امریکایي ځواکونو قوماندان، جنرال جان الن په 2013 کې ولسمشر اوباما ته "د افغانستان لپاره د شته ستراتیژیک ګواښ په توګه تشریح کړی،" د حل لار پیدا شي.[34]

پداسي حال کې چې د دغسي ستراتیژۍ جوړول به آسانه کار نه وي، مګر دا یو اړین ګام دی ترڅو د هغې ستونزې لپاره د حل لار پیدا شي چې په افغانستان کې د امریکا ټوله هڅه له ګواښ سره مخامخ کوي.

## د اداري فساد پر وړاندې د ستراتیژۍ جوړول آسانه ندي

نړیوال مالي بنسټونه او نړیوال تحقیقي سازمانونه ویلي چې اداري فساد نشي کیدای آسانه یا چټک حل شي. د ناروې نړیواله تمویل شوی د ریس میکلسون انستیټوت پدې وروستیو کې په افغانستان، تانزانیا، او زمبیا کې د اداري فساد په اړه د مرستندویانو د ځوابونو په اړه یو تحلیل خپور کړی. دا تحلیل دې پایلې ته رسیدلی چې شته تحقیقونه دا نظر ورکوي چې د پراختیا ملګري "محدود امکانات لري ترڅو د اداري فساد په پراخو حرکتونو باندې اغیز ولري." د ناروې راپور دا نظر هم ورکوي چې کیدای شي ناکامه هڅې تاوان هم ورسوي، ځکه چې د اکثریت خلکو هغه احساس لا زیاتوي چې هغوی د اداري فساد په 'لوبه' کې 'بند' دي. دې مطالعې د پالیسي جوړونکو د غور لپاره یوه مهمه پوښتنه هم وړاندې کړې: "آیا دا به یوه تیروتنه وي که پداسي یوه چاپیریال کې چیرته چې غویې یو میلیون ښکرونه لري، هڅه وشي او غویې له ښکرونو ونیول شي؟"[35]

په افغانستان او د پراختیا په حال کې په نورو هیوادونو کې، امریکا او د نړیوالې ټولنې نورو مرستندویانو په هیواد کې دننه د نظارت ادارو، دیموکراسۍ، د قانون حاکمیت، عامه کارکوونکو لپاره زیات معاشونه، خپلواکه محاکمې، آزاده مطبوعات، د مدني ټولنو وده، او نورو هڅو باندې غږ کړی، مشوره ورکړې او په پایله کې یې ملاتړ کړی، ترڅو اداري فساد کم شي. مګر د سویډن د پوهنتون تحقیق کوونکو چې د دغو هڅو پایلې یې په افریقا کې ارزولې، دې پایلې ته رسیدلي چې "لدې پانګونې څخه کمه بریا لاسته راغلې."[36] تحقیق کوونکو موندلې چې "لکه څنګه چې اداري فساد په یوې ځانګړې ټولنې کې د تمې وړ چلند دی مونږ باید دا تمه ولرو چې د نظارت وسیلې او د جزا ورکولو سیستمونه . . . به تر زیاتې کچې بې اغیزه وي ځکه چې هلته به په ساده توګه هغه چارواکي نه وي چې تطبیق یې کړي."[37]

هغه خلک چې غواړي له غیر قانوني لارې شتمن شي هغه کولای شي او هغوی به خپل چلند بدل کړي ترڅو د فساد پر وړاندې د ګامونو مخه ونیسي. په MIT او هارورډ کې د پروفیسورانو یوه تحقیق "عادلانه او کلک شواهد" موندلي چې "مفسد چارواکي نظارت او جزا ته په هغه توګه غبرګون ښیي لکه چې یو کس یې له لمړنی هڅونې تیوري څخه لري، مګر دا اضافه کوي چې د نورو اداري فساد بنو لپاره د "مفسدو چارواکو د توان

**د کریسټین میکلسون انسټیټوټ (CMI):** د ناروې په برګن کې د نړیوالې ټولنې لخوا تمویل شوی د پراختیایي تحقیق یو خپلواکه انسټیټوټ دی. په 1930 کې تاسیس شوی، CMI د ناروې د پخواني صدراعظم کریسچن میکلسن (1857–1925)، په نوم دی، چې هغه یې اصلي ملاتړ کوونکی و. CMI د اداري فساد پر وړاندې د سرچینې مرکز ("U4") کوربه توب کوي د بې وزلی، بشري حقونو، جنګ، او په منځني او کم شتمن هیوادونو کې د پراختیا په اړه تحقیق ترسره کوي. مرستې د ناروې له حکومت، د ناروې د تحقیق له شورا، او بیلابیلو غیر حکومتي سازمانونو څخه راځي. د CMI په پیرودونکو کې ملګري ملتونه، نړیوال بانک، او انګلستان د نړیوالې پراختیا اداره شامل دي. ویب پاڼه یې دا ده: www.cmi.no

سرچینې: CMI او د مالیې او پراختیا لپاره نړیوال مرکز (http://www.ictd.ac/en/cmi-chr-michelsen-institute)




**MEC** د لوړ پوړو چارواکو د اداري فساد د معافیت په اړه زیاته اندیښنه ښودلې، چې د دې اداري په وروستي شپږ میاشتني راپور کې په جزییاتو سره راغلي. (د یوناما عکس د فردین واعظی لخوا)

بدلون او یا که له پالیسیو سره ځان په لنډ یا اوږد مهاله وخت کې ځان برابروي، داسي نظر ورکوي چې د اداري فساد په وړاندې د اصولو لدغسي ګامونو څخه کار اخیستل به په عمل کې ستونزمن کار وي." [38]

د فساد پر وړاندې د ستراتیژۍ د تطبیقولو پر زیاتو ننګونو برسیره، په افغانستان کې بیلابیل پرمختګونه داسي ښيي چې د ودې په حال کې مدني ټولنه تر ډیرې کچې د اداري فساد پر رابرسیره کولو او مبارزې باندې کار کوي. لکه څنګه چې ځانګړې عمومي مفتش جان اف ساپکو د اتلانتیک کونسل ته د سږکال په مارچ کې وویل، "افغانستان د ودې په حال کې یو شمیر سازمانونه او انفرادي کسان لري چې د اداري فساد رابرسیره کولو او د قانون حاکمیت پراختیا لپاره ژمن دي. افغانستان قوي مطبوعات لري چې د اداري فساد په اړه د افغانانو ناخوښي منعکس کوي." [39] MEC چې افغان او نړیوال استازي لري، ثابته کړې چې یو مهمه اداره ده چې له مهمو مسلو سره لاس او ګریوان ده، د اداري فساد مهم کارونه یې پیژندلي، او د شفافیت او حساب ورکولو د ښه کولو لپاره یې سپارښتنې کړې. دې ادارې د کابل بانک په اړه ترټولو یو مهم راپور خپور کړی. دې راپور ویلي چې د افغانستان د لوی څارنوال دفتر د څارنوالانو د استخدام لپاره قانوني اړتیاوي ندي تعقیب کړي او اړتیا لري ترڅو د "اداري فساد د هڅولو د کمولو لپاره د څارنوالانو معاش زیات کړي." [40] د MEC د اداري فساد د کمزورۍ بلې ارزونې راپور ورکړی چې افغانستان د تقاعد اداري سیستم د رشوت له فرصتونو، جعلي نظرونو، د متقاعدینو په اړه د معلوماتو نشتون، او د حکومت د لوړ پوړو چارواکو له "غیر عادلانه اغیز سره مخامخ ده." [41] داسي له مدني ټولنې څخه لکه MEC داسي زړه ور کارونه په دوامداره توګه له نړیوالې ټولنې څخه هر اړخیز ملاتړ ته اړتیا لري.

## د امریکا د بیارغونې راتلونکو مرستو خوندي کول

سیګار په دوامداره توګه د امریکا په حکومت باندې غږ کړی چې په افغانستان کې د امریکا د پانګونې د خوندي کولو لپاره د اداري فساد پر وړاندې یوه هر اړخیزه ملکي-نظامي ستراتیژي تطبیق کړي. د بیارغونې د مرستې ضایعاتو، تقلب، او ناوړې ګټې اخیستنې د مخنیوی لپاره، دواړه امریکا او د افغانستان حکومت چې له ټولټاکنو څخه راوځي باید د اداري فساد پر وړاندې مبارزه یو لوړ لمړیتوب وي. امریکا او د ایتلاف ملګري یې باید نوی حکومت وهڅوي ترڅو له خپلو نړیوالو موافقو څخه اطاعت وکړي او له کله څنګه چې د نړیوالو مرستندویانو په تیر کنفرانس کې ژمنه شوې وه، اصلاحات تطبیق کړي.

ځانګړي عمومي مفتش ساپکو هغو ساحو ته اشاره کړې ده چې سیګار باور لري امریکا کولای شي له افغانانو سره مرسته وکړي ترڅو د اداري فساد مخنیوی وکړي. هغه د امریکا تطبیق کوونکي اداري هڅولي دي ترڅو دا لاندې ګامونه واخلي:

- د امریکا له قراردادیانو او حکومت له کارکوونکو څخه حساب اخیستل.
- ټینګار وکړي ترڅو افغانان له خپلو قراردادیانو او د حکومت له کارکوونکو څخه حساب واخلي.
- د امریکا لخوا تمویل شوي د فساد پر وړاندې له هغو څخه لکه د 2010 د دندې له ځواک او د افغانستان د مالي ګواښ له اداري څخه دوامداره ملاتړ وکړي.
- د پیسو لګولو ته دې کمه پاملرنه وشي مګر دا چې دا پیسې څرنګه لګول شوي دې ته دې زیاته پاملرنه وشي.
- دا څرګنده ده چې زیاتو پیسو لګول په کم وخت کې، چې کم خوندیتوب لري، د کرکیچ لپاره یو لار ده.
- پدې دې ټینګار وشي چې د افغانستان وزارتونه د امریکا د مرستو ترلاسه کولو لپاره باید ښه کورني کنترولونه جوړ کړي او وساتي.
- د هغو افغاني مدني ټولنو لپاره چې د اداري فساد پر وړاندې مبارزه کوي لکه MEC، د اعتبار نظارت، او د ودې په حال کې د افغانستان خپلواکو مطبوعاتو لپاره ملاتړ برابر کړي.[42]

په افغانستان کې د امریکا د بشري او مالي موخو د مشری او د هیواد او خلکو د راتلونکي لپاره د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې لپاره د یوې اوږدې مودې، همغږې، او څو اړخیزه مبارزه یوه مهمه دنده ده.




ځانګړی عمومي مفتش جان **اف ساپکو** په افغانستان کې د اداري فساد په اړه د اتلانتیک کونسل په وړاندې خبرې کوي. (د اتلانتیک کونسل عکس)

”په افغانستان کې د دوا‌ړو هغو خلکو چې ژوند یې له لاسه ورکړی او د لګول شویو پیسو اندازه ډیره زیاته ده. که مونږ لدغه فرصت څخه ګټه وانخلو او اوس د اداري فساد په اړه جدي نشو، مونږ هغه ټولې کمزورې لاسته راوړني چې مونږ پخپل اوږده جنګ کې لاسته راوړي د ناکامی له کبله له خطر سره مخامخ کوو.“

— ځانګړی عمومي مفتش جان اف. ساپکو

سرچینه: د 2014 مارچ په 20 کې، د اتلانتیک شورا کې بیانیه.

# 2 د سیګار نظارت **فعالیتونه**



# د سیګار نظارت منځپانګې


| | |
|---|---|
| په یاد ده: جول برینکلي | 20 |
| سیګار د امریکا د نړیوالي پراختیایي اداري د نظارت په اړه تصدیق کوي | 21 |
| پلټنې | 22 |
| تفتیشونه | 35 |
| ځانګړې پروژې | 40 |
| تحقیقونه | 47 |
| د سیګار نور فعالیتونه | 55 |
| د سیګار بودجه | 60 |
| د سیګار کارکوونکي | 60 |
| په مننې سره: ویکتوریا بټلر | 61 |


**تصویر په تیره پاڼه کې**
د سیګار د دفتر ریس، تیم نیلسن، لکه څرنګه چې هغه او د سیګار همکاران یې په هلیکوپتر کې تاسیساتو ته راځي، د شور اندام له صنعتي پارک څخه لیدنه کوي. (د سمیت اندرسن لخوا د سیګار عکس)

# د سيګار ځارونکي فعاليتونه

پدې ربع کې سيګار د پلټنو، تفتيشونو، خبرتيا مکتوبونو، او نورو 20 راپورونه خپاره کړي چې د نږدې 31 ميليارده امريکايي ډالرو پروګرامونو ته يې کتنه کړې. سيګار په افغانستان کې د بيارغونې د دوام په اړه پوښتنه کړې، په هغو ساحو کې لکه د افغانستان د حکومت د توان په اړه ترڅو د ګمرکونو عوايد ټول کړي، د نړيوال امنيت مرستندويه ځواک (آيساف) د پلانونو په اړه ترڅو د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) د ارزونې په اړه خپلې وړتيا ته دوام ورکړي. سيګار د پلان کولو، نظارت او ساختماني کارونو په اړه هم ناکامي ښکاره کړې.

د فعاليت يوې پلټنې موندلي چې آيساف اړتيا لري ترڅو د افغانستان امنيتي ځواکونو د ارزونې د وړتيا د دوام لپاره خپل پلانونه ښه کړي. د فعاليت بلې پلټنې راپور ورکړی چې د ګمرکونو تر پوښتنې لاندې معلومات، د نړيوالو ځواکونو وتل، او اداري فساد ټول د افغانستان حکومت لپاره د ګمرکونو عوايدو راټولنکی د باثباته عوايدو سرچينې په توګه محدودوي. د فعاليت يوې دريمې پلټنې موندلي چې د امريکا نړيوالې پراختيا اداره (USAID) اړتيا لري چې د افغانستان د اوبو سکتور لپاره خپله ستراتيژي نوې کړي ترڅو وګوري چې مناسب نظارت او حساب ورکول ترسره شي، او دا چې د USAID د اوبو څلور پروژې چې له 2010 مالي کال څخه تطبيق شوي د فعاليت توپير لرونکي پايلې ښيي. يوه تفتيش خبرداری ورکړی چې دا معلومه نده چې آيا د جوزجان په ولايت کې د افغانستان ملي اردو (ANA) له تاسيساتو څخه د ټاکل شويو موخو لپاره کار اخيستل کيږي. د پروګرام له پيل څخه، د سيګار مالي پلټنو د نږدې 75.3 ميليونو امريکايي ډالرو تر پوښتنو لاندې لګښتونو او د فيدرال له مخکنيو مرستو څخه د ټکټانې نه تاديه کولو نږدې 140,894 ميليونه امريکايي ډالر پيژندلي دي.

د سيګار د ځانګړو پروژو دفتر USAID ته د هغو انديښنو په اړه ليکلي چې د کجکي په بند کې د بريښنا د توليد اضافي توربين اتکل شوی لګښت درې برابره شوی او 75 ميليونو امريکايي ډالرو ته رسيدلی. د معلوماتو پر نورو مکتوبونو برسيره، ځانګړو پروژو هم د USAID د 17 پروژو د يوه لست په اړه چې USAID د فسخه شوِو په توګه پيژندلي معلومات کړی، او د امريکا دفاع وزارت ته يې ليکلي ترڅو خبرداری ورکړي چې داسې ښکاري د سيګار د تحقيق د پريکړو په اړه مهم سندونه ساتل شوي چې دا کار په کمپ ليدرنيک کې د يوې 64,000 فوټې مربعې ودانی د جوړولو سبب شوی، چې اوس هم خالي ده.

د راپور ورکولو په وخت کې، د سيګار له روانو تحقيقونو څخه جنايي جريمې، بيرته تاديات، او جرمې، او د امريکا حکومت لپاره د لګښتونو سپما نږدې 6.7 ميليونو امريکايي ډالرو ته رسيدلې. په امريکا کې د سيګار د تحقيقونو پايله د يوه نيولو، د يوه جرمي

## ورکړ شوې رسمي ويناوې

- بيانيه 14-46-TY: په افغانستان کې د USAID له هغو څخه د نظارت زده شوې لوستونه

## د کړنې بشپړې شوې پلټنې

- پلټنه 14-33-AR: د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د ارزونې هڅې
- پلټنه 14-47-AR: د افغانستان ګمرکونه
- پلټنه 14-52-AR: د افغانستان اوبو سکتور

## بشپړې شوې مالي پلټنې

- مالي پلټنه 14-34-FA: د Jhpiego شرکت لخوا د منځ تر راغلي لګښتونو پلټنه
- مالي پلټنه 14-39-FA: د هغه لګښتونو پلټنه چې د نړيوال سوکالي او پرمختګ انکارپوريشن (IRD) لخوا مصرف شوې دي

## بشپړ شوي تفتيشونه

- تفتيش 14-31a-IP: د سالنګ روغتون: د USFOR-A لخوا نظرونه
- تفتيش 14-41-IP: د کمپ نظارت ساختماني کار

## د تفتيش خبرتيا مکتوبونه

- خبرداری ليک 14-42-AL: د شرنې د FOB سون ځايونه
- خبرداری ليک 14-45-AL: د بغلان بنديخانې ساختماني کار

## د ځانګړې پروژې بشپړ شوي محصولات

- ځانګړې پروژه 14-35-SP: د معلوماتو مکتوب: د Mi-17 لوېدل او له منځه ورل
- ځانګړې پروژه 14-36-SP: د معلوماتو مکتوب: د افغانستان ملي پوليسو نامعلوم کارکوونکي او د LOTFA مالي اداره
- ځانګړې پروژه 14-37-SP: د معلوماتو مکتوب: مخابراتي پايې
- ځانګړې پروژه 14-38-SP: د معلوماتو مکتوب: د 64,000 فوټ مربعې ودانی د سندونو ساتنې بياکتنه
- ځانګړې پروژه 14-40-SP: د معلوماتو مکتوب: د کجکي 2 واحد پروژه
- ځانګړې پروژه 14-43-SP: د معلوماتو مکتوب: د امريکا دفاع وزارت قرارداد معلوماتو غوښتنه
- ځانګړې پروژه 14-44-SP: د معلوماتو مکتوب: د USAID فسخه شوي قراردادونه
- ځانګړې پروژه 14-49-SP: د حقيقت پاڼه: د افغانستان لپاره د امريکا بهرنيو چارو وزارت مرسته
- ځانګړې پروژه 14-50-SP: د معلوماتو مکتوب: د افغانستان ملي پوليسو لپاره د پيسو امتحاني پروګرام
- ځانګړې پروژه 14-51-SP: د معلوماتو مکتوب: د امريکا کرنې وزارت سويا بين پروګرام

# جول برینکلي



سیګار د ستراتیژیک سلاکار، د 61 کلن، جول برینکلي د لاسه ورکولو په اړه خواشینی دی، هغه په ناڅاپي توګه د سختي لوکیمیا د ناروغی له کبله د 2014 د مارچ په 11 له نړۍ څخه سترګي پټي کړي.

جول برینکلي د پولیتزر جایزې وړونکي د ژورنالست او لیکوال په توګه له ډیري شې دندې وروسته له سیګار سره یوواړې درې میاشتې وړاندې کار پیل کړی و. پدې وروستیو کې، هغه د اوو کلونو لپاره د ژورنالیزم د پروفیسور په توګه د ستانفورد په پوهنتون کې کار کاوو. له دې وړاندې، هغه د راپور ورکوونکي، ایدیتور، او بهرني راپور ورکوونکي په توګه له نیو یارک ټایمز سره 23 کلونه تیر کړي و. په ستانفورد کې، جول د لوستونکي په توګه د ټولنې په یوې اونیزه کې د بهرنیو چارو په اړه یو مضمون لیکو، چې په هره اونی کې به د امریکا او یو شمیر نړیوالو ورځپاڼو او ویب پاڼو کې خپریدو. هغه د نړیوالو چارو په ژورنال کې په منظمه توګه لیکنې او بلاګ کاوو، او د پولیتیکو د بهرنیو چارو لیکوال و.

جول د واشنګټن دي سي اصلي اوسیدونکی و، او په چپل هیل کې د شمالي کارولینا له پوهنتون څخه فارغ شوی و. هغه د ژورنالیزم خپل مسلک له اسوشیتید پرس سره پیل کړ او بیا وروسته د اتو کلونو لپاره یې د ریچموند نیوز لیدر او کوریر ژورنال لپاره د کنټکي په لویز ویل کې کار کاوو. هغه د کمبودیا د مهاجرینو د کرکیچ په اړه د خپلو ژورنال راپوروونو لپاره په 1980 د پولیترز جایزه یووړه. وروسته لدې چې په 1983 کې له ټایمز سره یوځای شو، جول د واشنګټن او د سپینې ماڼی د راپور ورکوونکي او د اورشلیم د بیورو د رییس په توګه کار کاوو. هغه له 10 کلونو څخه زیات په واشنګټن او نیویارک کې د ایډیټور په توګه کار کړی. کله چې هغه په 2006 کې ټایمز پریښود، هغه یو ځل بیا د ایډیټور په توګه کار کاوو. هغه د پنځو کتابونو لیکونکی و، پشمول د هغه د وروستي کتاب، د کمبودیا زورونه: د یوه ستونزمن ځای عصري تاریخ (د عامه چارو کتاب، 2011).

له جول څخه د هغه میرمن، سبرا چارترند، او دوې لوڼې، شارلت، 15، او ویرونیکا، 10، پاتې دي.

معلوماتو، د دوو اعترافونو موافقې، او د شپږو بندیز کولو سبب هم شوي. په افغانستان کې، په دوو وګړو باندې د بند حکم صادر شوی او اته انفرادي کسان د اردو تاسیساتو له لاس رسي څخه منع شوي. د سیګار د تعلیق او بندیز پروګرام 16 انفرادي کسان او 15 شرکتونه د هغو تورونو په اړه چې هغوی د نږدې 61 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت د قراردادونو په تقلب او نه فعالیت کې لاس درلود د تعلیق یا بندیز لپاره راجع کړي.

## سیګار د امریکا د نړیوالې پراختیایي ادارې د نظارت په اړه شهادت ورکوي

**ورکړ شوې رسمي ویناوې**

- بیانیه TY-46-14: په افغانستان کې د USAID له هغو څخه د نظارت زده شوې لوستونه

ځانګړي عمومي مفتش جان اف ساپکو د 2014 د اپریل په 3 د نظارت او حکومت اصلاحاتو لپاره د کمیټې د ملي امنیت لپاره دسنا د فرعي کمیټې په وړاندې په افغانستان کې د USAID د نظارت د زده شویو لوستونو په اړه شهادت ورکړ. ساپکو وویل چې له 2002 څخه، USAID له 18 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات د افغانستان د بیاجوړولو لپاره مکلف کړي دي. سیګار د USAID د هڅو په اړه ډېر زیات کارونه تولید کړي دي. په ټولیزه توګه، دغه راپورونو د هغو کارونو په اړه چې اغیزناکه و او نه و پراخ لوستونه رابرسیره کوي، هغه لوستونه چې کیدای شي د راتلونکو بیړنیو عملیاتو د خبرولو لپاره ورڅخه کار واخیستل شي او تر هغې کچې چې امکان ولري د "تحول په لسیزه" او وروسته په افغانستان کې د امریکا دوامداري هڅې قوي او ښې شي.

لمړی لوست دا و چې د بیارغونې پروګرامونه باید د لاسته راوړونکي هیواد توان په نظر کې ونیسي چې کولای شي د دغو پروګرامونو لګښتونه پوره کړي او دوام ورکړي. ساپکو ویلي چې د افغانستان د مالي دوام په اړه د 2011 یوه راپور، چې د USAID نړیوال شیمونیکس شرکت لخوا چمتو شوی و، موندلي چې د دودیزو ګمانونو په اساس، له ټولو بهرنیو پرمختګونو سره د عملیاتو او ساتنو اړوند لګښتونه، نږدې د افغانستان له اوسنی عملیاتي بودجې سره برابر دي. مګر سیګار موندلي دي چې USAID دا زده کړه په دوامداره توګه د پروژو د ډیزاین او تطبیق لپاره په یوې حقیقي طریقې باندې نده بدله کړي.

دویم لوست دا و چې د یوه جنګ ځپلي هیواد بیارغونه عموماً خطرناکه ده او دغه خطر باید په مناسبه توګه کم شي. USAID د خپلو پروګرامونو له لومړنیو ورځو څخه ډېر زیات پرمختګ کړی دی. د بیلګې په توګه، USAID خپلې هڅې زیاتې کړي ترڅو د افغانستان د یو شمیر وزارتونو د ظرفیت ارزونه وکړي ترڅو وکولای شي د امریکا مستقیمي مرستې اداره کړي. له بده مرغه، د خطرونو په ارزونه کې د USAID له پرمختګ سره د ورته ځواکمنې ستراتیژۍ لخوا مرسته نده شوي ترڅو وکتل شي چې د افغانستان حکومت دا خطرونه کموي.

دریم لوست دا دی چې نظارت د بیارغونې یوه مهمه برخه ده. د سیګار کارونو ښودلي دي چې د USAID لخوا د نظارت تطبیق شوي تخنیکونه په ځینو قضیو کې ډېر ښه وو، مګر په نورو کې ښه نه و. په افغانستان کې د USAID پروګرامونو ته په یوې هر اړخیزې کتنه کې، د حکومت د حساب ورکولو دفتر (GAO) د USAID د پروژو په نظارت او د پروګرام په فعالیت کې یې د سیستماتیکو کمزوریو په اړه راپور ورکړی.

څلورم او د پای لوست هغه دی چې د بیارغونې یوه هڅه باید ښکاره موخې ولري او یوه ښه طریقه ولري ترڅو د دغو موخو په لور پرمختګ اندازه شي. د ستراتیژیک پلان

**د فعالیت پلټنې:** د تاییدو شویو معیارونو په وړاندې په پوره اندازه او د مناسبو شواهدو د ارزونو په اساس ډاډ یا پایلې وړاندې کوي. د فعالیت پلټنې حقیقي تحلیل برابروي ترڅو اداره او هغه کسان چې د حکومتوالۍ مسولیت لري وکولای شي له معلوماتو څخه کار واخلي ترڅو د پروګرام فعالیت او عملیاتونه ښه کړي، لګښتونه کم کړي، او د مسول لورو لپاره د پریکړو اخیستل آسانتیاوې برابرې کړي، ترڅو د عامه حساب ورکولو لپاره د سمون ګامونو نظارت وکړي یا پیل کړي. د فعالیت پلټنې عموماً د حکومت د پلټنې منل شویو ستندردونو (GAGAS) او د اعتبار او اغیز عمومي مفتشینو شورا (CIGIE) د عمومي مفتش د فیدرال دفترونو کیفیت ستندردونو په اساس ترسره کیږي.

**تفتیشونه:** د ډیزاین، تطبیقولو، او/یا د اداري عملیاتو پایلې، پروګرامونو، یا پالیسیو، سیستماتیک او خپلواکه ارزونه ده. سیګار د تفتیش او ارزونو لپاره د CIGIE د ستندردونو د کیفیت پر اساس، تفتیشونه ترسره کوي، ترڅو د کانګرس او عامه خلکو لپاره په ټول افغانستان کې د تاسیساتو د ساختماني کارونو او زیربنا په اړه د کیفیت معلومات برابر کړي؛ او عموماً دا ارزونه برابروي چې تر کومې کچې تاسیسات د قرارداد د اړتیاوو په اساس جوړ شوي، د موخو لپار ورڅخه کار اخیستل کیږي، او ساتنه یې کیږي.

**مالي پلټنې:** دې په اړه چې آیا د یوه بنسټ لخوا د حالت، پایلو، او له سرچینو څخه کار اخیستل د پیژندل شویو معیارونو پر اساس وړاندې شوي، یوه خپلواکه ارزونه او مناسب ډاډ برابر کړي. سیګار د GAGAS په اساس پلټنې ترسره کوي، چې پدې کې د پلټنې د ستندرد په اړه د تجربه لرونکو عامه محاسبینو امریکایي انستیتوت راپورونه او په GAGAS نورې برابرې شوې اړتیاوې شامل دي. سیګار د خپلواکو عامه محاسبینو (IPA) مالي پلټنو ارزونه هم کوي. کله چې یو IPA کومه مالي پلټنه ترسره کوي، سیګار د منطقي کرنلارو په مرسته د هغې موافقه له GAGAS سره ارزوي، البته دا کار د IPA د کار څخه د استفادې د حدودو او دا چې سیګار نوموړې ادارې ته څومره مسولیت سپارلې دی، په نظر کې نیولو سره ترسره کیږي.

کولو اړتیا په ډیره پراخه کچه منل شوی، مګر سیګار په دوامداره توګه مونډلې دي دا د افغانستان د بیارغونې په ټوله هڅه کې ډیری وختونه په پام کې نه دی نیول شوی.

## پلټنې

سیګار د افغانستان د بیارغونې اړوند پروګرامونو او پروژو د فعالیت پلټنې، تفتیشونه او مالي پلټنې ترسره کوي. کانګرس ته له وروستي راپور څخه، سیګار د فعالیت درې پلټنې، دوه تفتیشونه، د مالي پلټنې دوه راپورونه، او د تفتیش د خبرتیا دوه مکتوبونه خپاره کړي دي. سیګار پدې ربع کې، د فعالیت په اړه شپږ نوې پلټنې پیل کړې، چې پدې سره د کړنې په اړه د روانو پلټنو شمیر 17 ته رسیږي. سیګار 27 مالي پلټنې او پنځه تفتیشونه هم پیل کړې. د فعالیت پلټنو راپورونو د افغانستان امنیتي ځواکونو په اړه د آیساف د ارزونې وړتیا د پلانونو د دوام د هڅو، د افغانستان د اوبو سکتور لپاره د USAID ستراتیژۍ او د USAID د اوبو د څلورو پروژو د فعالیت توپیر لرونکو پایلو، او د افغانستان د حکومت لپاره د دوامداره عوایدو سرچینو په توګه د ګمرکونو په اړه اندیښنې راپورته کړې.
د کړنې پلټنو په مجموعي ډول 7 سپارښتنې وړاندې کړې. مالي پلټنو معلوم کړې چې د داخلي تفتیش د نواقصو او د مقرراتو څخه د سرغړاوی په نتیجه کې 14.5 میلیونه ډالر په مشکوکو مواردو کې مصرف شوي دي.

## د فعالیت د پلټنو راپورونه خپاره شوي

پدې ربع کې، سیګار د فعالیت د پلټنو درې راپورونه بشپړ کړي چې د ارزونې د وړتیا د هڅو دوام لپاره یې د افغانستان د امنیتي ځواکونو پلانونه، د افغانستان د اوبو سکتور لپاره د USAID ستراتیژۍ، او د افغانستان د ګمرکونو عواید ارزولي.

### پلټنه AR-33-14: افغان ملي امنیتي ځواکونه

**د وړتیا ارزونې د هڅو دوام لپاره د پلانونو ښه کولو ته د عملونو اړتیا ده**

له 2005 څخه، کانګرس د افغانستان امنیتي ځواکونو د وجهي صندق لپاره نږدې 53 میلیارده امریکایي ډالر تخصیص کړي دي، د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د روزنې، تجهیز او دوام لپاره دا د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا تر ټولو لوی وجهي صندق دی. تمه کیږي چې افغانانو ته د امنیتي مسولیتونو د سپارلو پروسه به د 2014 تر پایه بشپړه شي، چې دا به د امریکا او ایتلاف ځواکونو له کمیدلو سره په عین وخت کې ترسره شي. د افغانستان لپاره د ناټو ستراتیژیک پلان وایي چې د 2013 تر پایه د افغانستان ملي اردو او پولیس باید په ګډه 352,000 کارکوونکي ولري، او لږ تر لږه باید تر 2015 پدې شمیره پاتې شي، ترڅو په افغانستان کې د دوامدارې پراختیا او یوې دوامدارې او با امنه چاپیریال ته اجازه ورکړي.
د سیګار او د نورو ادارو پخوانیو کارونو د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د ارزونو د اعتبار او دوام په اړه اندیښنه ښودلې. لکه څرنګه چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه تر زیاتې کچې د خپل هیواد امنیتي مسولیتونه په غاړه اخلي، پخپلو پښو ولاړ د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د پرمختګ لپاره د اعتبار وړ اندازه کولو ګامونو ته اړتیا ده ترڅو د ټول افغانستان لپاره د بشپړ امنیت اخیستلو توان ولري.

د دغې پلټنې موخې دا وې چې تر کومې کچې (1) د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د کارکوونکو د استخدامولو، روزنې، او تجهیز لپار د آیساف وسیله، د قوماندان د واحد د ارزولو وسیلې (CUAT)، څخه په دوامداره توګه د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د قطعو د ارزونې لپاره کار اخیستل شوی، او (2) آیساف هغه ګامونه اخلي ترڅو د اردو د ځواکونو د کمیدلو او افغانستان حکومت ته د امنیت د سپارلو په وخت کې د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د ظرفیت د ارزونې لپاره په دوامداره توګه د معلوماتو ټولولو، تایید، تحلیل او راپور ورکولو لپاره پلان جوړ کړي.

د 2008 مالي کال لپاره د ملي دفاع صلاحیت قانون د امریکا دفاع وزارت ته هدایت ورکوي ترڅو د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د قطعو د عملیاتي چمتووالي په اړه د خپلې ارزونې راپور ورکړي. په ځانګړې توګه، قانون د امریکا له دفاع وزارت څخه غواړي ترڅو د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د هغو قطعو د شمیر په اړه چې پخپلواکه توګه د عملیاتو ترسره کولو وړتیا لري، هغې قطعې چې د امریکا او ایتلاف له ملاتړ سره د عملیاتو ترسره کولو وړتیا لري، او هغې قطعې چې د عملیاتو ترسره کولو وړتیا نلري، په اړه راپور ورکړي. د دغې اړتیا د پوره کولو لپاره، د 2010 له اپریل څخه د 2013 تر جولای پورې، د آیساف ګډې قومانداني (IJC) د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د روزنې، او تجهیز ظرفیت لپاره د ارزونې او راپور ورکولو له CUAT څخه د اصلي وسیلې په توګه کار اخیستی.

CUAT د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د قطعو ارزونې لپاره دوې برخې لري. لمړی برخه د کمیت له معلوماتو څخه، لکه د شته ګمارل شویو کارکوونکو او تجهیزاتو له ټولې شمیرې څخه جوړه شوې. د IJC سلاکارانو ټیمونه بیا لدغو معلوماتو څخه کار اخلي ترڅو د کمیت خپلو ارزونکو ته معلومات ورکړي، د CUAT دویمه برخه، چې له یوې هر اړخیزې ارزونې او د 14 ساحو د برخو له ارزونې څخه جوړه شوې. د هغوی د ارزونو د موندنو په اساس، د سلاکارانو ټیمونه د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د قطعو هرې ساحې لپاره له شپږو رنګ شویو رمز لرونکو درجې معلوملو رنګونو څخه یو رنګ ټاکي او د ټاکل شوي درجې لپاره لیکل شوي نظرونه وړاندې کوي.

د 2011 له اګست څخه د 2013 تر جولای پورې، د درجو د معلوملو کچې دا وې (1) له سلاکارانو سره خپلواک، (2) له سلاکارانو سره فعال، (3) له ملګرو سره فعال (4) له ملګرو سره د ودې په حال کې، (5) تاسیس شوې، او (6) ارزول شوي ندي. د CUAT ارزونې، د جنګ له ساحې څخه له راپورونو، د قوماندان له غیر رسمي ارزونو، او نور معلوماتو سره یوځای، چې پدې وخت کې د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د عملیاتي اغیزمنتیا او چمتووالي په توګه د امریکا دفاع وزارت او آیساف د ټولیزې ارزونې د اساس په توګه ورڅخه کار اخیستل شوی.

د 2012 له جنوری څخه د 2013 تر جولای پورې، د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د قطعو د ارزونې لپاره د CUAT د اندازه کولو پیژندلو کچې ښیي چې د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو کارکوونکو د استخدامولو، روزنې، او تجهیز کولو کې ځینې پرمختګونه لیدل شوي. د بیلګې په توګه، د 2012 جنوری او د 2013 جولای ترمنځ د افغانستان ملي اردو د قطعو شمیره چې له سلاکارانو سره یې خپلواکه درجه لاسته راوړې، له 20 څخه 93 ته زیات شوي. مګر، د افغانستان ملي اردو او ملي پولیسو هغه قطعې چې ندي ارزول شوي د ایتلاف د ځواکونو د کمیدلو له کبله پدې وخت کې یې شمیره زیاته شوې.

د 2010 اپریل او د 2011 اګست ترمنځ، د IJC د CUAT د درجې معلوملو اندازه ځلور ځلې بدله کړې. پردې بدلونونو برسیره، له ستندردونو څخه چې د هرې کچې ملاتړ ښیي

## د کړنې بشپړې شوې پلټنې

- پلټنه 14-33-AR: افغان ملي امنیتي ځواکونه: عملي ګامونو ته اړتیا ده ترڅو د وړتیا ارزونې هڅو دوام لپاره پلانونه بنه شي
- پلټنه 14-47-AR: د افغانستان ګمرکونه: د امریکا پروګرامونو ځینې برياوې لري، مګر ننګونې به د افغانستان حکومت لپاره د دوامدارې سرچینې په توګه د ګمرکونو عواید محدود کړي
- پلټنه 14-52-AR: د افغانستان د اوبو سکتور: د USAID ستراتیژي اړتیا لري چې نوې شي ترڅو مناسب نظارت او حساب ورکول په پام کې ونیسي

د سیګار تحلیل ښیي چې د ټولې ارزونې لپاره ستندردونه عموماً له یوه بدلون څخه تر بدلون پورې منظم پاته شوي. مګر، د ځینو ساحو د برخو ارزونې لپاره د ستندردونو کچو بدلون کړی. د بیلګې په توګه، د 2010 د سپتمبر بیاکتنې پر اساس، د افغانستان ملي اردو یوې قطعې د تجهیزاتو لپاره که د مهمو تجهیزاتو اندازه یې د تایید شویو تجهیزاتو له اندازې څخه له 85% زیات وای، "له سلاکارنو سره فعال" درجه یې لاسته راوړې وای. د 2011 د اګست د بیاکتنې پر اساس، د ملي اردو یوې قطعې کولای شول د خپلو تایید شویو تجهیزاتو له 75% څخه زیات یا برابر کچې سره ورته درجه لاسته راوړي.

CUAT د سلاکارانو ټیمونو لپاره چې د کمیت ارزونه بشپړوي د عملیاتو ستندرد طرزالعمل لیکلی، او د سلاکارانو ټیمونه یې هڅولي ترڅو د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د قطعو په ارزولو کې له خپل قضاوت څخه کار واخلي ترڅو د معلوموملو درجه وټاکي او د ارزونې په ساحه کې نظرونه وړاندي کړي. مګر، د CUAT د عملیاتو ستندرد طرزالعمل د هغو اړینو جزییاتو په اړه ښکاره لارښوونه نده برابره کړې ترڅو د یوه ټیم د درجې ورکولو ملاتړ وکړي یا د یوه ټیم په خپلواکه ارزونه کې باید څه شامل وي. دغه نامعلومه لارښوونه د CUAT په ټوله ارزونه کې د کمیت او د کیفیت د توپیر لرونکو معلوماتو او د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د کارکوونکو د استخدامولو، روزنې، او د قطعو د تجهیز د توپیر لرونکو ارزونو سبب شوې.

د 2013 په جولای کې، IJC، CUAT د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو سیمه ایز درېځ راپور (RASR) سره بدل کړ. د IJC چارواکو ویلي چې قوماندانی سیستم بدل کړ ځکه چې د آیساف لوړ پوړې مشری موندلي چې د CUAT لوستل ستونزمن کار و، په توپیرلرونکي توګه ورڅخه کار اخیستل کیده، او د ګټې وړ نه و. پردې برسیره، د IJC چارواکي تمه لري چې RASR به د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو ارزونې آسانه، نوي، او ښې کړي او قوماندانی ته به اجازه ورکړي ترڅو تر هغې کچې چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه کولای شي کارکوونکي استخدام کړي، تجهیز کړي، او له دښمن سره د بریالی مبارزې لپاره د روزنې ظرفیت یې تعقیب کړي.

RASR له شپږو رنګ شویو رمزونو څخه د درجې د کچې تعریف لپاره کار اخلي، (1) بشپړ وړ، (2) وړ، (3) ترېوې کچې وړ، (4) د ودې په حال کې، (5) تاسیس شوی، او (6) ارزول شوی ندی، ترڅو د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو قطعې په هره میاشت کې د لیوا او په سیمه ایزې کچې وارزوي. پردې برسیره، RASR د قطعو د ځانګړو برخو په ارزونه باندې کار کوي، لکه پیاده او مخابره، د یوې ټولیزې او پنځو په نښو شویو برخو کې: ګډې وسلې، سوق او اداره، مشري، دوام، او روزنه. دغې پنځه په نښه شوې برخې د یوې ټولیزې ارزونې او د 14 ساحو برخو ځای نیولی، چې پخوا په CUAT ورڅخه کار اخیستل شوی.

لکه څرنګه چې د ایتلاف ځواکونه کمیږي او د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو قطعو لپاره د سلاکارانو کم ټیمونه ګمارل کیږي، د IJC چارواکو ویلي چې هغوی به د افغانستان د امنیتي ځواکونو د وړتیاوو په اړه کم معلومات ولري او د ارزونې د معلوماتو لپاره به د افغانستان په ملي امنیتي ځواکونو باندې تکیه کوي. چارواکو ویلي چې دا به د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو په ارزونو کې د هغوی ټولیز ډاډ کم کړي. IJC، د افغانستان له حکومت سره په همغږۍ کې ګامونه اخلي ترڅو د افغانستان امنیتي ځواکونو کورني ارزونې ظرفیتونه ښه کړي او په هغو لارو خبري کوي ترڅو د افغانستان له امنیتي ځواکونو څخه د ایتلاف د نظارت د کمیدو خطر کم کړي. د بیلګې په توګه، د 2013 په جولای او

اګست کې، د کورنيو چارو وزارت د ملي پوليسو نږدې 100 کانديدان غوره کړل ترڅو يې ترکيې ته د ارزونې د طريقې زده کړې لپاره وليږي او د پوليس د ارزونې لپاره نوې وسيله جوړه کړي ترڅو د افغانستان په ټولو ملي پوليسو کې ارزونه ستندرد کړي.

پردې هڅو برسيره، آيساف يو پلان ندی جوړ کړی چې دا جزييات ولري چې څرنګه به (1) لکه څرنګه چې د ايتلاف ځواکونه کميږي، په دوامداره توګه د افغانستان د امنيتي ځواکونو د ظرفيت د ارزونو د معلوماتو راټولول، تحليل، تاييد، او راپور ورکولو ضمانت وشي؛ او (2) د کمو سلاکارانو د ټيمونو د شتون ستونزې لپاره د حل لار پيدا شي ترڅو ارزونه ترسره کړي، او د خپلو کورنيو ارزونو د ترسره کولو لپاره د افغانستان په ملي امنيتي ځواکونو باندې تکيه وکړي. لدې پلان څخه پرته، کيدای شي آيساف به ونشي کولای ترڅو د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د قطعو د وړتيا په اړه دقيق معلومات لاسته راوړي، هغه معلومات چې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د ټوليزې اغيزمنتيا او چمتوالي په اړه د پراخو ارزونو د راپورونو لپاره اړين دي.

سيګار يوه سپارښتنه کوي: په ځانګړې توګه، سيګار سپارښتنه کوي چې د آيساف قوماندان د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د وړتيا ارزونو د معلوماتو ټولولو، تاييد، تحليل، او راپور ورکولو لپاره يو پلان جوړ کړي، ترڅو دا جزييات ولري چې څرنګه به آيساف له کمو سلاکارانو سره د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د وړتيا ارزونه ترسره کړي او هغې ننګونې چې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د خپلې ارزونې د پايلې راپور ورکولو سره تړاو لري، کم کړي.

د دغه راپور د مسودې په اړه د نظرونو برابرولو کې، په افغانستان کې د امريکا ځواکونو (USFOR-A) ويلي چې "له ټولو سپارښتنو سره موافق دی،" مګر "له ځينو ځانګړو سپارښتنو سره موافق ندی." سيګار د USFOR-A لخوا د اضافي معلوماتو پر اساس يوه سپارښتنه لرې کړې.

## پلټنه 14-47-AR: د افغانستان ګمرکونه

### د امريکا پروګرامونو ځينې برياوې لرې، مګر ننګونې به د افغانستان حکومت لپاره د دوامدارې سرچينې په توګه د ګمرکونو عوايد محدود کړي

له 2009 څخه، د امريکا حکومت لږ تر لږه 198 ميليونه امريکايي ډالر تخصيص کړي ترڅو د افغانستان حکومت وړتيا له زياتولو سره مرسته وکړي ترڅو وکولای شي د ګمرکونو د عوايدو ارزونه ترسره کړي او عوايد ټول کړي. د 2009 له نومبر څخه د 2013 تر اګست پورې، USAID د افغانستان لپاره د سوداګرۍ موافقه او آسانتيا (TAFA) I او TAFA II پروګرامونه مديريت کړی. لدغو پروګرامونو وروسته د افغانستان د سوداګرۍ او عوايدو (ATAR) پروګرام راغلی، چې د 2013 له نومبر څخه د تعقيبوونکي پروګرام په توګه استازيتوب کوي. د امريکا د کورني امنيت وزارت د ګمرکونو او سرحدونو خونديتوب (CBP) په 2006 کې د سرحد د مديريت د دندې ځواک (BMTF) له پيل څخه، د دې ځواک د اداره کوونکي په توګه کار کړی دی. د دغو پروګرامونو له لارې، امريکا کار کړی دی ترڅو د افغانستان د ګمرکونو د رياست (CBP) په مرکز کې او په ټول افغانستان کې د ګمرکونو په موقعيتونو کې د افغانستان قوانين، پاليسی، او د ګمرکونو پروسې جوړې او اصلاح کړي.

دا پلټنه (1) به ارزونې وکړي چې تر کومې کچې د USAID او د CBP پروګرامونه خپلو ټاکل شويو پايلو ته رسيدلي، او (2) د افغانستان د عوايدو لپاره د يوه باثباته او دوامدارو ګمرکونو ننګونو ارزونه وکړي.



**د مالونو لارۍ د ويش** په سرحدي دروازه کې له سرحد څخه تيريږي. (د مارتين ويلسن لخوا د سيګار عکس)

د يوه هيواد لپاره د سرحدونو کنترول مهم دي ترڅو د قانوني او غيرقانوني توکو بهير کنترول کړي او د مناسبو تعرفو او ګمرکونو ماليو ارزونه ترسره کړي. د ګمرکونو عوايد د افغانستان د ملي بودجې يوه مهمه برخه ده، چې په اوس وخت کې د کورنيو عوايدو د ټولولو او د نړيوالو مرستندويانو له ګډې لارې څخه تمويليږي. د افغانستان د وروستيو دريو مالي کلونو لپاره، د ګمرکونو عوايد په هرکال کې له 698 ميليون امريکايي ډالرو څخه تر 1.1 ميليارد امريکايي ډالر توليد کړي، چې دا د ټولو کورنيو ټول شويو عوايدو له 44 څخه تر 48% جوړوي. مګر، کورني عوايد اوس هم تر لګښتونو کم دي، او تمه کيږي چې په راتلونکو کلونو کې نړيواله مرسته هم کمه شي. په پايله کې، د افغانستان حکومت د کورنيو عوايدو ټولول د دواړو د افغانستان او امريکا حکومتونو لپاره يوه مهمه موخه ده.

د امريکا حکومت د USAID او د امريکا د کورني امنيت د CBP لخوا د اداره شويو پروګرامونو له لارې، د افغانستان حکومت لپاره مرسته او تخصص برابر کړی ترڅو د خپلو ګمرکونو د ارزونې او عوايدو ټولولو وړتيا ته وده ورکړي او اصلاح کړي. USAID يو شمير پروژې اداره کړي دي چې د ګمرکونو د چاپيريال د ښه والي، پشمول د 2009 له نومبر څخه د 2013 تر اګست پورې د دوو TAFA پروګرامونو، چې د TAFA I او TAFA II په نومونو ياديږي او د هغوی د ځای ناستې پروګرام لپاره ډيزاين شوي. BMTF ،CBP اداره کړی دی، دا د دندې يو څواک دی چې د ACD، د افغانستان سرحدي پوليسو، د سرحدونو د کنترول په ځايونو او د ګمرکونو په کورنيو ډيپوګانو کې د افغانستان د ګمرکونو پوليسو استازو لپاره زده کړه برابروي.

د دې څواک په لاسته راوړنو کې، TAFA د افغانستان له حکومت سره د سوداګرۍ په خبرو کې مرسته کړې او تر زياتې کچې يې د ګمرکونو د اجرا کولو وختونه او د افغانستان په ټولو سرحدونو کې د سوداګرۍ د اړتيا وړ ګامونو شمير کم کړي. په ځانګړې توګه، دا توانيدلی ترڅو د افغانستان د ګمرکونو په نهو کورنيو ډيپوګانو او د کابل په

نړیوال هوایي ډګر کې د ګمرکونو د اجرا کولو شمیر کم کړي، دا هغه موقعیتونه دي چې د افغانستان د ګمرکونو 98% عواید ترې لاسته راځي، د راپور په اساس لدې څخه سوداګر او د افغانستان حکومت په هر کال کې 39 میلیونه امریکایي ډالر سپموي.

داسي ښکاري چې د CBP، BMTF هم ځینې بریاوې لرلي. د بیلګې په توګه، BMTF د کابل هوایي ډګر د ګمرکونو ساحه پاکه کړې او سمه کړې، چې د CBP چارواکو په وینا پایله یې د ګمرکونو په ساحه کې زیات اغیزمنتیا وه چې لدې سره د ګمرکونو د اجرا کولو وخت له 10 ورځو څخه دوه ورځو ته را کم شو او پدې موقعیت کې د 37% ګمرکونو عوایدو زیاتوالي سبب شو. د BMTF راپورونه ښیي چې د BMTF استادانو د 2010 او 2013 تر منځ له 7,000 څخه زیات د زده کړې غونډې ترسره کړې، او پدغه وخت کې یې له ACD سره د 670 ضبطونو ترسره کولو کې مرسته کړې.

مګر، سیګار موندلې چې د BMTF استادان د قراردادونو او فرعِ قراردادونو په اساس کار کوي چې د فعالیت اندازه کول نلري. په ځانګړې توګه، د BMTF فعالیتونو لپاره د قرارداد په سندونو کې یو اندازه کول شامل ندي ترڅو د BMTF استادانو لاسته راوړنې لپاره د اندازه کولو موخې تعریف کړي، یا د فعالیت اندازه کول ولري ترڅو د پروګرام بریا ورسره اندازه شي.

د فعالیت له حقیقي اندازه کولو پرته، د یوه انفرادي استاد ورځني نظارت او اوږد مهاله فعالیتونو لاسته راوړنه ستونزمنه ده یا دا چې په دقیقه توګه اندازه شي.

د USAID، CBP، او TAFA چارواکو په وینا، اداري فساد د ګمرکونو په ټولو پوړونو باندې اغیز لري او دا تر ټولو هغه لویه مسله ده چې د افغانستان د ګمرکونو او عوایدو پر پروسو باندې اغیز لري. په افغانستان کې د ګمرکونو په پروسې باندې د اداري فساد اندازه کول ستونزمن دي. مګر، د USAID چارواکي ګمان لري چې د ګمرکونو په پروسو کې د اداري فساد له منځه وړل یا زیات کمول کیدای شي دا احتمال ولري ترڅو د مرکزي حکومت لپاره د ګمرکونو عوایدو تادیات دوه برابره شي.

BMTF دا هم ویلي چې جرمي شبکې له ګواښونو څخه کار اخلي ترڅو توکي قاچاق کړي، او دا د غنمو او وریجو د واردولو لپاره په یوه ګمرک کې په هر کال کې د نږدې 25 میلیونه امریکایي ډالرو د ورکیدو سبب ګرځي. په یوه جلا اټکل کې، د TAFA چارواکو ویلي چې نږدې 60 میلیونه امریکایي ډالر په هر کال کې د سوداګرۍ قاچاق له کبله ورکیږي. د جرمي او ملاتړ شبکو په وړاندې مبارزې هڅې نور هم له ستونزو سره مخامخ دي او دا د BMTF د سلاکارانو په راپورونو کې راغلي چې افغان کارکوونکي اختطاف کیږي او ګواښیږي ځکه چې هغوی د BMTF سلاکارانو ته غوږ نیسي او په مناسبه توګه د ګمرکونو مالیې ټولوي.

د اداري فساد کمولو مرستې لپاره، د افغانستان او امریکا حکومتونو چارواکو وړاندیز کړی ترڅو د ګمرکونو پروسې اصلاح او اتومات شي. د ګمرکونو د پروسو په اتومات کولو کې دوه مهم نوښتونه، د خطر اداره کولو سیستم او د پیسو بریښنایي تادیه کولو سیستم د TAFA تر لاندې پیل شوي. د خطر کمولو سیستم، د دې لپاره جوړ شوی ترڅو د کارګو په اساس د هغې کارګو چې ترانسپورت کیږي په نښه شوی تفتیش، د استازو چلند، او د نورو استخباراتي سرچینو لپاره سهولت برابر کړي، دا د دې لپاره جوړ شوي ترڅو د امنیت له محدودو سرچینو څخه زیات کار واخیستل شي او د ترانزیت وختونه کم شي. پداسي حال کې چې ACD د خطر اداره کولو سیستم په اصولو کې منلی، مګر راپور یې ورکړی چې لدې سیستم څخه کار اخیستل ډیر زیات ستونزمن دي او یو لنډ سیستم یې غوره کړی، چې د خطر اداره کولو سیستم د ځانګړو برخو تطبیقول یې په دوو کلونو باندې ویشلي دي.

په ورته توګه، د ګمرکونو ماليو لپاره د پيسو بريښنايي تاديه کولو سيستم تطبيقولو پرمختګ هم ځنډنی دی. اوس، په افغانستان کې د ګمرکونو په کورنيو ډيپوګانو کې د ګمرکونو فيسونه په نغدو پيسو اجرا کيږي، چيرته چې وارد شوې کارګو تفتيش کيږي او د ګمرکونو ماليه ټاکل کيږي. پدې سيستم کې استازې له ډيرو نغدو پيسو سره زيات سفر کوي ترڅو د وارد شويو توکو په اساس د ګمرکونو ماليه تاديه کړي. د نغدو پيسو په اساس د تادياتو سيستم غير منظم دی، د ګمرکونو استازې د غلا په خطر کې اچوي، او د ګمرکونو په پروسو کې د اداري فساد فرصتونه زياتوي.

د USAID او TAFA پروګرام چارواکو په وينا، د 2013 په اګست کې د TAFA د پروګرامونو په پای کې، ACD د اړتيا وړ هغه تجهيزات او تخنيکي پوهه لرله ترڅو آزمايښتي سيستم پيل کړي. مګر، د USAID چارواکو ويلي چې د پيسو تاديه کولو بريښنايي سيستم ندی تطبيق شوی، او دا چې تطبيق يې ځنډول شوی، او دا لدې کبله و چې يوه افغان چارواکي ويلي چې يووازې يوه افغاني بانک ته به اجازه ورکړي ترڅو د ګمرکونو ټول بريښنايي تاديات اجرا کړي. دې ترتيباتو به غوره شوي بانک ته د دغو عوايدو په بهير باندې انحصار ورکړی وای او دا به په نورو سيالانو باندې يو ډير زيات غير مناسب ښه والی و. که څه هم د خطر اداره کولو سيستم او د پيسو تادياتو بريښنايي سيستم د TAFA او ATAR د قرارداد په سندونو کې د يوه مهم اداري فساد ضد ګامونو په توګه ليکل شوي، سيګار موندلې چې د ATAR قرارداد له تطبيق کوونکي ملګري څخه نه غواړي ترڅو د سيستمونو د تطبيق لپاره کلنی نښې پوره کړي.

د افغانستان حکومت لپاره د ګمرکونو عوايد د عوايدو د يوې باثباته سرچينې په توګه څرګند ندي. د TAFA او BMTF پروګرامونه د افغانستان د ګمرکونو د قانون، پاليسيو، او طرزالعمونو اصلاحاتو په برخو کې ځينې لاسته راوړني لري، مګر هغه لويې مسلې چې تر پوښتنو لاندې دي لکه د ګمرکونو د معلوماتو، د نړيوالو ځواکونو د وتلو، او د اداري فساد په اړه دي اوس هم پاتې دي.

سيګار سپارښتنه کوي چې د CBP ځای ناستی کميشنر په افغانستان کې د CBP استازې ته لارښوونه وکړي ترڅو د BMTF د استادی عملياتونو فعاليت لپاره ښکاره اندازه کول جوړ کړي او دا اندازه کول د امريکا دفاع وزارت/مرکزي قوماندانی ته د BMTF په راتلونکو قراردادونو يا د دندې فرمايشاتو کې د شاملولو لپاره وړاندې کړي. سيګار دا سپارښتنه هم کوي چې د USAID اداره کوونکی د افغانستان لپاره د USAID د ماموريت رييس ته لارښوونه وکړي چې (1) د ATAR تطبيق کوونکي ملګرې ته لارښوونه وکړي ترڅو د افغانستان د تعرفې احصايې له ادارې سره خپل کار ته دوام ورکړي ترڅو د ګمرکونو په معلوماتو کې توپيرونه کم کړي او د احصايې توپيرونو کې کموالی د ATAR د پروګرامونو د قرارداد لپاره يوه اړتيا وټاکي، او (2) دا وګوري چې د اداري فساد ضد ګامونو تطبيق کلنی نښې، لکه د پيسو بريښنايي تادياتو سيستم، د ATAR د پروګرام په قرارداد کې د فعاليت د اړتيا په توګه شامل شي.

## پلټنه 14-52-AR: د افغانستان اوبو سکتور

### د USAID ستراتيژي اړتيا لري چې نوي شي ترڅو مناسب نظارت او حساب ورکول په پام کې ونيسي

د 2006 له مارچ څخه، USAID د افغانستان د اوبو په سکتور کې نږدې 580 ميليونه امريکايي ډالر پانګونه کړې ده، ترڅو د نورو شيانو ترڅنګ، د ښارې او کليوالي اوبو رسولو او پاکوالي او کرنې محصولاتو پراختيا ملاتړ وکړي.

# د خاړنې په برخه کې د سيګار **فعاليتونه**

د افغانستان لپاره د د امريکا د 2010 بين الاداري د اوبو ستراتيژي د امريکا په ټولو ادارو باندې هڅې اچوي ترڅو د اوبو سکتور د پراختيا لپاره يو قوي طريقه لاسته راوړل شي. USAID د امريکا حکومت د هڅو په لارښوونه کې مرکزي ونډه لوبوي او له 2010 مالي کال څخه يې د اوبو نهه پروژې تمويل کړي دي. د سيګار راپورونه د دغو په څلورو پروژو کار کوي. پدې پوهيدل چې آيا د USAID هڅې په مناسبه توګه هدايت شوې، اندازه کيږي، او خپلې موخې لاسته راوړي او موخې د افغانستان د اوبو سکتور ملاتړ لپاره اړيني دي. د دې پلټنې موخې دا وې ترڅو دا وکتل شي چې تر کومې کچې (1) USAID د افغانستان لپاره د امريکا د 2010 څو ادارو ترمنځ د اوبو ستراتيژ خپلې مهمې موخې پوره کړي او (2) د USAID د اوبو څلور پروژې چې له 2010 څخه تطبيق شوي د خپلو پروژو موخې ته رسيدلي.

سيګار موندلي چې USAID د امريکا د 2010 د څو ادارو ترمنځ د اوبو ستراتيژي، چې د USAID، د امريکا بهرنيو چارو وزارت، USFOR-A، د امريکا اردو د انجنيرانو قول اردو (USACE)، او نورو لخوا جوړه شوې، درې مهمې موخې ندي پوره کړې. د بيلګې په توګه، USAID د ستراتيژۍ هغه موخه نده پوره کړې ترڅو د ادارې کاري پلان تطبيق کړي او له څرنګه چې په ستراتيژي کې راغلي، د نورو کارونو ترڅنګ پروژې او فعاليتونه له موخو سره وصل کړي. ستراتيژي ويلي چې د امريکا هره اداره، پشمول د USAID، بايد د هر کال کاري پلان جوړ او تطبيق کړي او د ستراتيژۍ د موخو پوره کولو لپاره د دې فعاليتونه په جزيياتو سره وليکي.

پرته لدې چې د ادارې يو کاري پلان جوړ کړي، مګر USAID غوښتل ترڅو د وړانديز شوي پروګرام د 653 ميليونو امريکايي ډالرو د اوبو سرچينو پراختيا له پروګرام څخه د "ادارې د کاري پلان" په توګه کار واخلي. مګر، دا پروګرام هيڅ تطبيق شوی ندی، ځکه چې USAID يې د تطبيق لپاره مرسته نه درلوده. په پايله کې، هيڅ کاري پلان ندی جوړ شوی ترڅو د اوبو ستراتيژۍ شرط پوره کړي. له يوه کاري پلان څخه پرته، چې پروژې او فعاليتونه له موخو سره وصلوي، دا روښانه نده چې تر کومې کچې د USAID د اوبو انفرادي پروژې د امريکا حکومت په پراخو هڅو کې برخه اخلي ترڅو د افغانستان اوبو سکتور ته پراختيا ورکړي، او کيدای شي USAID د اوبو سکتور د روانو هڅو پراختيا د پلان کولو او تطبيق لپاره له اضافي ستونزو سره مخامخ شي.

USAID د ستراتيژۍ هغه موخه هم پوره کړې نده ترڅو د فعاليت له مهمو نښو څخه کار واخلي او د ستراتيژۍ د موخو پوره کولو په لور خپل فعاليت اندازه کړي او ارزونه ترسره کړي. پخپله ستراتيژي احتمالي پايلې په نښه کړې، لکه د کرنيزو محصولاتو زياتول او د خاورې او اوبو ساتنې ښه کول، مګر USAID د دغو نښو په وړاندې د خپلو پروژو فعاليت ارزونه نده ترسره کړې. په پايله کې، USAID دا ويلای نشي چې خپل کار يې څرنګه د ستراتيژۍ موخې لاسته راوړي. د ستراتيژۍ بله موخه له USAID څخه غوښتي چې ستراتيژي نوې کړي ترڅو د افغانستان اوبو په سکتور کې بدلون موندونکي اړتياوې منعکس کړي او "يو سند جوړ کړي چې راتلونکې لپاره په درد وخوري." مګر، دا ندي ترسره شوي. د بيلګې په توګه، لکه څرنګه چې ستراتيژي په 2010 کې بشپړه شوې، USAID له لويو زيربنايي پروژو لکه بندونو، تجارتي اوبو او فاضله اوبو سيستمونو څخه خپل لمړيتوبونه بدل کړي دي، او د افغانستان د وزارتونو په ظرفيت لوړولو باندې کار کوي ترڅو دغه پروژې خپله اداره کړي. د لمړيتوبونو پر دغو بدلونونو برسيره، ستراتيژي نده نوي شوې، او ستراتيژي په هغه وخت کې چې تمه کيري د بهرنيو اردو ډيری ځواکونه



د کرنې پروژې په يوه برخه کې په افغانستان کې د USAID لخوا د **سيمټو اوبو لګولو کانالونه** جوړ شوي. (د USAID تصوير)

له افغانستان څخه وځي، ستراتیژۍ سیاسي او امنیتي سپارل هم په پام کې ندي نیولي. څکه چې USAID نده توانیدلې ترڅو د اوسنیو لمړیتوبونو لپاره ستراتیژي نوي کړي، USAID د اوبو هغو پروژو پلان کول او تطبیقول له خطر سره مخامخ کوي چې د افغانستان د اوبو سکتور پراختیا لپاره یې له خپلو موخو سره تړلي ندي.

د USAID چاروکو ویلي چې که څه هم دې اداري د ستراتیژۍ موخې ندي پوره کړي، مګر د ستراتیژۍ ځینې موخې د انفرادي پروژو د تطبیق له لارې پېژندل شوي دي. مګر، له 2010 څخه هغه څلور مهمې پروژې چې تطبیق شوي او سیګار ارزولي، د فعالیت توپیر لرونکي پایلي ښیي، او دا د USAID بیان تاییدول ستونزمن کوي.

د بیلګې په توګه، USAID نږدې 43.3 میلیونه امریکایي ډالر د دوامدارو اوبو او صفایي (SWSS) په خپلې پروژې باندې لګولي، ترڅو د افغانستان د سیمه ایزو خلکو په منځ کې د دوامدارو پاکو اوبو سرچینو لپاره لاس رسی زیات کړي. مګر، دې پروژې د فعالیت ځینې موخې ندي پوره کړي او د بودجې کمیدلو، د فعالیت غیر واقعي نښو، او له اټکل څخه پورته زیاتو لګښتونو له کبله یې د فعالیت نورې موخې ندي اندازه کړي. په پایله کې، په SWSS کې د USAID پانګونه او د افغانستان په اوبو رسولو او صفایي خدماتو باندې یې ټولیز اغیز معلوم ندی. په بله پروژه کې، د 27 اوبو څانګو لپاره USAID نږدې 3.5 میلیونه امریکایي ډالر لګولي ترڅو په ټول افغانستان کې د وړو اوبو لګولو بندونو او د اوبو وړو بریښنايي پروژو لپاره احتمالي ساحې وپیژني. مګر، USAID له ارزونو څخه لکه څرنګه چې اړتیا وه کار ندی اخیستی، او په وخت یې د امریکا او افغانستان له نورو ادارو سره ندي شریک کړي. په پایله کې، کیدای شي د ارزونو نیته له ورانډې تیره شوې وي او د ابو د پروژې پراختیا لپاره به کم ارزښت ولري.

سیګار سپارښتنه کوي چې (1) USAID د افغانستان لپاره د اوبو سکتور نوي ستراتیژي جوړه کړي چې لنډمهاله، منځنی، او اوږد مهاله موخې ولري چې د USAID د اوبو سکتور اوسني لمړیتوبونه منعکس کوي؛ (2) د نوي ستراتیژۍ له بشپړیدو سره د فعالیت د اندازه کولو نوی پلان جوړ او تطبیق کړي، ترڅو د نوي ستراتیژۍ د موخو پوره کولو لپاره د USAID فعالیت ارزولو لپاره ورڅخه کار واخیستل شي؛ او (3) وکتل شي چې پدې ستراتیژۍ کې د مسولیت او حساب ورکولو ښکاره لیکې شاملې وي چې په USAID کې د ننه څوک به دا ستراتیژي تطبیقوي. د سیګار د سپارښتنو دریځ لپاره 39 پاڼه وګورۍ.

## په دې ربعه کې نوي اعلان شوي پلټنې

پدې ربع کې، سیګار د پلټنې د هغو سپارښتنو د دریځ پلټنه پیل کړې چې د امریکا بهرنیو چارو وزارت، USAID او د امریکا دفاع وزارت ته یې کړي. سیګار د افغانستان د قانون سکتور، د بې ځایه شویو کسانو او مهاجرینو، او د افغانستان د کانونو، تیلو، او غازو (استخراجي) صنعت لپاره د امریکې مرستو پلټنو بیا کتنه هم پیل کړې. سیګار د افغانستان د ملي اردو د انجنیرانو لیوا په اړه د خپلې پلټنې کچې پراخولو اعلان هم کړی.

### د امریکا بهرنیو چارو وزارت، USAID او د امریکا دفاع وزارت ته د پلټنې سپارښتنې

د مدیریت او بودجې دفتر A-50 مکتوب او د 1978 د عمومي مفتش قانون، لکه څرنګه چې تعدیل شوی، له سیګار څخه غواړي ترڅو د تیرو شپږو میاشتو فعالیتونو لنډیز لپاره شپږ میاشتنی راپور چمتو کړی. قانون غوښتنه کوي چې د راپور ورکولو په وخت کې

### د کړنو نوې پلټنې

- د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو، او USAID ته د سیګار د سپارښتنو دریځ
- د امریکا د قانون حاکمیت پراختیا لپاره د امریکا هڅې
- د امریکا مهاجرینو او کورنیو بې ځای شویو کسانو لپاره د امریکا هڅې
- د امریکا صنعت پراختیا لپاره د امریکا هڅې

د سیګار لخوا په راپور کې د وړاندې شوي سمون عمل لپاره د سپارښتنو تشریح؛ د هرې مهمې سپارښتنې پیژندنه چې د راپور ورکولو په تیره موده کې پیژندل شوی چې د سمون عمل ندی بشپړ شوی؛ د هرې پلټنې، تفتیش، او ارزونې راپور چې د راپور ورکولو په وخت کې د سیګار لخوا خپاره شوي؛ که اړوند وي، تر پوښتنو لاندې د ټولو لګښتونو د ټولو ډالرونو ارزښت او د سپارښتنو د ډالر ارزښت چې له مرستې څخه ښه ګټه واخیستل شي؛ او د هرې مهمې ادارې پریکړې سره چې سیګار موافق ندی بنه او تشریح شامل وي. له پیل څخه، سیګار د هر ربع له خپل راپور څخه کار اخیستی ترڅو د راپور ورکولو دغه اړتیاوې پوره کړي. مګر، سیګار موندلي چې د دغو دریو پلټنو پیلول به ډېر زیات ژور تحلیل او راپور ورکولو ته لار پرانیزي ترڅو د خپلو سپارښتنو د دریځ په اړه کانګرس په ښه توګه خبر کړي.

دغې درې پلټنې به د ټولو هغو سپارښتنو دریځ بیاکتنه وکړي چې د امریکا بهرنیو چارو وزارت، USAID، او د امریکا دفاع وزارت ته په مالي، د تفتیش، یا د پلټنې په راپورونو کې وړاندي شوي. په ځانګړې توګه، سیګار پلان لري ترڅو (1) د ټولو وړاندې شویو سپارښتنو دریځ پیدا کړي او د ترسره شوی ارزونې یا پلان شوي ترڅو د هر پرانیستي سپارښتنې لپاره د حل لار پیدا کړي، او (2) د دغو عملونو راپور کانګرس ته ورکړي لکه څرنګه چې د مدیریت او بودجې د دفتر په A-50 مکتوب او د عمومي مفتش د 1978 قانون، لکه څرنګه چې تعدیل شوی، په اساس اړتیا ده.

## د امریکا د قانون حاکمیت پروګرامونو لپاره د امریکا مرسته

په ټول سکتور کې په یو لړ پلټنو کې، سیګار د افغانستان د قانون حاکمیت د ښه کولو لپاره د امریکا د حکومت هڅو یوه پلټنه پیلوي. دا پلټنه د سیګار د 2014 جنوری میاشتې د پراخې کچې پلټنې راپور (SIGAR 14-26-AR) تعقیبوونکې ده چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د قضا سکتور د روزنې په پروګرامونو باندې کار کړی و. په ځانګړې توګه، سیګار پلان لري چې (1) په افغانستان کې د قانون حاکمیت لپاره د امریکا حکومت پروګرام او نوښتونه وپیژني؛ (2) د دغو پروګرامونو او نوښتونو د پرمختګ ارزونه وکړي چې د امریکا حکومت د قانون حاکمیت ستراتیژۍ موخې یې لاسته راوړي: او (3) که کوم یوه وي، ننګونې وپیژني، چې د امریکا حکومت د قانون حاکمیت د موخو په لاسته راوړنو کې ورسره مخامخ شوی او تر هغې کچې چې یې دغو ننګونو ته د حل لار پیدا کړې.

## د افغانستان د کورنیو بې ځایه شویو کسانو او مهاجرینو لپاره مرسته

د 2012 په می کې، د امریکا د ولسي جرګې د تخصیصونو کمیټې په افغانستان کې د جنګ له کبله د ډېریدونکو بې ځایه شویو په اړه اندیښنې ښودلې. کمیټې د افغانستان او پاکستان لپاره ځانګړی استازی وهڅاوو ترڅو دا وګوري چې د امریکا حکومت ستراتیژۍ د غو مسلو لپاره د حل لار لري، لکه د هیواد د مرستې ستراتیژۍ په اوسنیو نورو سیمه ایزو او پلان شویو نړیوالو پراختیایي پروژو کې شامل شي. دا پلټنه به د امریکا ادارو د هڅو ارزونه وکړي ترڅو له افغان مهاجرینو او کورني بې ځایه شویو کسانو (IDPs) سره مرسته وکړي. په ځانګړې توګه، سیګار پلان لري ترڅو (1) هغه پروګرامونه تشریح کړي چې د افغان مهاجرینو او بې ځایه شویو کسانو لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت او USAID لخوا تطبیق شوي دي، او دا وګوري چې تر کومې کچې دغو هڅو د امریکا موخې لاسته راوړي دي؛ (2) هغه طریقې او وسیلې وپیژني چې ادارې ورڅخه کار اخلي ترڅو د هغو

افغانانو چې بیرته ستانه شوي، هغه مهاجرین چې اوس هم په ګاونډیو هیوادونو کې دي، او کورني بې ځایه شویو کسانو ټوله شمیره معلومه او تایید کړي؛ او (3) د ادارو د هڅو ارزونه وکړي ترڅو د افغان مهاجرینو او کورني بې ځایه شویو کسانو لپاره د بیا یوځای کیدلو اوږد مهاله ستراتیژي جوړه کړي.

## د افغانستان استخراجي صنعت

دا پلټنه به دا وګوري چې ترکومې کچې د امریکا دفاع وزارت د سوداګری او ثبات عملیاتو دندې ځواک (TFBSO) او USAID پروګرامونه تر کومې کچې خپلو موخو ته رسیدلي ترڅو د افغانستان استخراجي صنعت ته پراختیا ورکړي، او که د افغانستان د عوایدو لپاره له استخراجي عوایدو څخه د باثباته او دوامدارې سرچینې جوړولو په وړاندې کومې ننګوني وي. د TFBSO په وینا، د افغانستان د اوسنیو مینرالونو زیرمي نږدې 900 میلیارده امریکایي ډالرو په ارزښت اټکل شوي او په لویه کچه د هایدروکاربن زیرمي هم لري. دا زیرمي کیدای شي د افغانستان حکومت لپاره په هرکال کې 2 میلیاردو امریکایي ډالرو امتیاز او مالي عواید تولید کړي. دا پلټنه د امریکا د هڅو ارزونه وکړي چې د افغانستان استخراجي صنعت او د افغانستان د کانونو او پطرولیم وزارت وړتیا ته پراختیا ورکوي ترڅو استخراجي سکتور تنظیم او ده ورکړي. په ځانګړې توګه سیګار پلان لري ترڅو دا وګوري (1) تر هغې کچې چې د TFBSO او USAID هڅو په افغانستان کې د استخراجي صنعت د پراختیا لپاره خپلو ټاکل شویو موخو ته رسیدلي او (2) که د افغانستان د عوایدو لپاره له استخراجي عوایدو څخه د باثباته او دوامدارې سرچینې جوړولو په وړاندې کومې ننګوني وي.

## د افغانستان ملي اردو د انجنیرانو لیوا

**(د هغو پلټنو چې په تیر ربع کې اعلان شوي د کچې پراخول)**

د 2013 د نومبر په 26، د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي مفتش د امریکا دفاع وزارت د هڅو، ترڅو د افغانستان ملي اردو د انجنیري لیوا (NEB) ته روزنه ورکړي، تجهیز کړي او ساتنه وکړي، د یوې پلټنې اعلان وکړ. په ساحه کې د سیګار د لمړني کار په وخت کې، کارکوونکو وموندل چې NEB د افغانستان ملي اردو د انجنیري وړتیا د جوړولو پراخ پروګرام، پشمول د افغانستان ملي اردو د سیمه ایزو قول اردوګانو د انجنیري د کنډکونو (CEK) یوه برخه ده. د NEB او د CEKs د روزنې، تجهیز کول، ماموریتونه، او ارزونې ورته او یو بل پورې اړوندې دي. څکه نو، سیګار دا اړینه ګڼي ترڅو نه یوازې NEB، مګر د CEKs ارزونه هم ترسره کړي. د دغې پلټنې تعدیل شوې موخې دا دي ترڅو (1) ارزونه وکړي چې تر کومې به د امریکا دفاع وزارت د NEB او CEKs د روزنې، تجهیز، او ساتنې هڅې د افغانستان ملي اردو لپاره د انجنیري عملیاتو یو خپلواکه او باتوانه انجنیري عملیاتونه جوړ کړي؛ او (2) د NEB او CEKs د جوړولو او ساتنې په وړاندې که کومې ننګونې وي، وپیژني.

## مالي پلټنې

سیګار په 2012 کې د مالي پلټنو پروګرام وروسته لدې پیل کړ کله چې کانګرس او د نظارت ټولنې د قراردادونو او نغدو پیسو چې د بهرنیو عملیاتو ملاتړ لپاره ورکول کیږي د نظارت د واټنونو او د تحمیل شوي لګښتونو پلټنې په اړه اندیښنه وښودله. سیګار په سیالی کې د محاسبې خپلواک شرکتونه غوره کړي ترڅو مالي پلټني ترسره کړي او دا وګوري چې

د پلټنې کار د امریکا حکومت ستندردونو په اساس ترسره شوي. مالي پلټنې د عمومي پلټونکي له ټولنې همغږي کیږي ترڅو د مالي پلټنو پوښښ زیات شي او دوه ځلې کار مخنیوی وشي.

پدې ربع کې، سیګار د امریکا د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا لخوا تمویل شوي د دوو اړخیز موافقو دوي مالي پلټنې بشپړې کړې. سیګار د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو، او د USAID د قراردادونو 27 نوي مالي پلټنې هم اعلان کړې دي چې ټول ګډ منځته راغلی لګښت یې له 2.3 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات دی، او لدې سره د ټولو روانو مالي پلټنو شمیره 45 ته رسیږي، او منځ ته راغلی لګښت یې 4.1 میلیارده امریکایي ډالر دي، لکه څرنګه چې پدې جدول 2.1 کې ښودل شوي.

سیګار تطبیق کوونکو ادارو ته د مالي پلټنې راپورونه خپروي، چې تر پوښتنو لاندې د پیسو اندازې په اړه د پای پریکړې کولو مسولیت لري. د پروګرام له پیل څخه، د سیګار مالي پلټنو د نږدې 75.3 میلیونو امریکایي ډالرو تر پوښتنو لاندې لګښتونو او د فیدرال له مخکنیو مرستو څخه د ټکټانې نه تادیه کولو نږدې 141,894 میلیونه امریکایي ډالر پیژندلي دي. کله چې یوه تطبیق کوونکې اداره پریکړه کوي چې تر پوښتنې لاندې پیسې اجازه نلري، اداره د ټولولو لپاره یو بیل وړاندې کوي. تر اوسه، تمویل کوونکو ادارو له 22 بشپړ شویو پلټنو څخه د 12 لپاره د ټولولو بیلونه وړاندې کړې دي ترڅو تر پوښتنو لاندې له 5.1 میلیونه امریکایي ډالرو څخه زیات بیرته لاسته راوړي. تطبیق کوونکې ادارې وخت ته اړتیا لري ترڅو په دقیقه توګه د پلټنې موندنې په پام کې ونیسي، او د سیګار د یو شمیر وړاندې شویو مالي پلټنو لپاره د پای پریکړې باید واخیستل شي.

د سیګار مالي پلټنې څلور ځانګړې موخې لري:

- پدې اړه نظر ورکړي چې آیا د قرارداد لپاره د مرستې حساب ورکولو راپور په مناسبه توګه، ټولو موادو ته په پام سره، ترلاسه شویو عوایدو، ترسره شوي لګښتونو، د امریکا حکومت له لوري په مستقیمه توګه مواد اخیستل شوي، او د پلټل شوي مودې بیلانس د قرارداد له شرطونو او عموماً منل شویو محاسبې اصول یا د محاسبې له هر اړخیزو اساساتو څخه استازیتوب کوي.
- تر پلټنې لاندې بنسټ د قرارداد په اړه د کورنیو کنترولونو ارزونه ترسره شي او په پوره توګه پوهه ترلاسه شي؛ د کنترول خطر ارزونه وشي؛ د مهمو نیمګړتیاوو په اړه پشمول د موادو کورني کنترول نیمګړتیاوي وپیژندل شي او راپور ورکړ شي.
- آزموینې ترسره شي ترڅو دا وکتل شي چې آیا تر پلټنې لاندې بنسټ د موادو په اساس، د قرارداد اړتیاوو او اړوندو قوانینو او مقرراتو اطاعت کړی؛ او د قرارداد له شرطونو او اړوندو قوانینو او مقرراتو سره د موادو نه اطاعت وپیژندل شي او راپور ورکړ شي.
- وکتل شي او راپور ورکړ شي چې آیا تر پلټنې لاندې بنسټ په مناسبه توګه د سمون ګامونه اخیستي ترڅو د تیرو کارونو موندنو او سپارښتنو لپاره د حل لار پیدا شي.

د دې درې میاشتنی راپور په ج ضمیمه کې د بشپړ شوي، نوي، او روانو مالي پلټنو لست موندلی شی.

2.1 جدول

| **د سیګار د مالي پلټنې پوښښ**<br>(په میلیارد ډالر) | |
|---|---|
| 22 بشپړې شوې پلټنې | 1.8 ډالر |
| 45 رواني پلټنې | 4.1 |
| **ټول** | **$5.9** |

یادونې: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي. پدې پوښښ کې د افغانستان د بیارغونې قراردادونو، نغدو پیسو، او همکارۍ قراردادونو اخیستونکو له لوري ترسره شوي لګښتونه شامل دي

سرچینه: د سیګار پلټنو ریاست

**تر پوښتنو لاندې پیسې:** تر پوښتنو لاندې د هغو پیسو اندازې لګښتونه چې کیدای شي اجازه یې نه‌درلوده او د فیدرال له مرستو څخه د مخکنیو مرستو نه تادیه شوي ټکټانه.

**تر پوښتنو لاندې لګښتونه:** لیدل شوي چې احتمالاً دغو لګښتونو اجازه نه‌درلوده. تر پوښتنو لاندې د لګښتونو دوو ډولونو غیر مستحق لګښتونه دي (له قانون، مقرراتو، قرارداد، نغدو پیسو، همکارۍ موافقې، او نورو څخه سرغړونه، یا د مرستو غیر ضروري یا غیر مناسب لګښتونه) او نه ملاتړ کیدونکي لګښتونه (هغه چې د پلټنې په وخت کې د مناسبو سندونو یا مناسبو تاییدونو لخوا یې ملاتړ نه وي شوی).

**د ټولولو لپاره بیل:** پوروړي ته د پور تادیه کولو لپاره، پشمول د ټکټانې، اداري لګښتونو، ځنډنیو جریمو، که اړوند وي، یو مکتوب یا فورمه.

**د مرستې د حساب ورکولو راپور:** د ځانګړې موخې یو مالي راپور چې پدې کې ټولې لاسته راوړل شوي، منځ ته راغلي لګښتونه، او هرې مودې لپاره د هر قرارداد په اساس هر پاتې بیلانس.

## بشپړې شوې مالي پلټنې

- مالي پلټنه 14-34-FA: د USAID د روغتیا خدماتو ملاتړ پروژه: د Jhpiego شرکت لخوا د منځ تر راغلي لګښتونو پلټنه
- مالي پلټنه 14-39-FA: د USAID د ولایتي سړکونو ستراتیژیک پروګرام د هغه لګښتونو پلټنه چې د نړیوال سوکالي او پرمختګ انکارپوریشن (IRD) لخوا مصرف شوې دي

## مالي پلټنې خپرې شوې

پدې ربع کې، سیګار د امریکا د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا لخوا تمویل شوې د دوو اړخیز موافقو دوې مالي پلټنې بشپړې کړي. د داخلي کنترول نیمګړتیاوو او نه اطاعت کولو مسلو له کبله، دغو مالي پلټنو تر پوښتنو لاندې نږدې 14.5 میلیونه امریکایی ډالر پیژندلي دي. د نیمګړتیاو او نه اطاعت په مسلو کې د نور شیانو ترڅنګ، د نغدو پیسو غیر مناسب کنټرولونه د فیدرال د مرستو د غلا سبب شوې، د مهال ویشونو ورکې پاڼې، د مدیریت او اداري لګښتونه چې د افغانستان بیارغونې په غلط قرارداد پورې محاسبه شوې، د قراردادي د تعلیق او بندیز کنټرول نه ترسره کول، د تفریح غیر مستحق لګښتونه، د سندونو کمزورې ساتنه، د ملاتړ کوونکو سندونو نشتون، د تدارکاتو د طرزالعمونو نه مراعات کول، د بیلونو او تادیاتو غوښتنلیکونو غیر مناسب تاییدونه، او د قرارداد د اړتیاوو په اساس د سرک د ساختماني پروژې نه بشپړول شامل دي.

## مالي پلټنه 14-34-FA: د USAID د روغتیا خدماتو ملاتړ پروژه: د Jhpiego شرکت لخوا د منځ تر راغلي لګښتونو پلټنه

USAID د Jhpiego شرکت (Jhpiego) ته یو دوه اړخیزه موافقه ورکړې ترڅو په افغانستان کې د روغتیا خدماتو ملاتړ پروژه (HSSP) تطبیق کړي. د پروژې موخه دا وه ترڅو د افغانستان د امید لرونکو عمر ښځو او تر پنځو کلونو لاندې کوچنیانو لپاره د روغتیا برابر شویو خدماتو کیفیت ښه شي. د سیګار پلټنو د 2006 له جولای 1 څخه د 2012 د اکتوبر تر 31 پورې وخت تر پوښښ لاندې نیولی، او دا کار د ویلیامز ادلي او شرکت – LLP DC (ویلیامز ادلي) په واسطه سرته رسیدلی. دې پلټنې د 60,449,801 امریکایي ډالرو لګښتونه تر پوښښ لاندې نیولي.

ویلیامز ادلي موندلي چې د مرستې حساب ورکولو پاڼې د دوه اړخیزې موافقې پر اساس ټولو مادیاتو ته په پام سره، لاسته راغلي عواید او منځ ته راغلي لګښتونه په عادلانه توګه وړاندې کړي. مګر، ویلیامز ادلي موندلي چې Jphiego په څلورو موندونو کې چې په تیرو پلټنو او ارزونو کې پیژندل شوې په مناسبه توګه د سمون ګامونه ندي اخیستي. پردې برسیره، ویلیامز ادلي د دوو کورنیو کنټرولونو موندنو او دریو نه اطاعت بیلګو په اړه راپور ورکړی. دغو موندنو پلټونکي هڅولي ترڅو د 301,956 امریکایي ډالرو لګښتونو، د 46,025 امریکایي ډالرو غیر مستحق لګښتونو او د 255,931 امریکایي ډالرو نه ملاتړ کیدونکو لګښتونو په اړه پوښتنه وکړي. دې پلټنې دا هم موندلي چې Jhpiego د خپلو بیرنیو اړتیاو نغدو پیسو څخه اضافي له کریډیت څخه د اخیستل شویو پیسو لپاره د نږدې 10,954 امریکایي ډالرو ټکټانه نده ورکړې.

د پلټنې د پایلو په اساس، سیګار سپارښتنه کړې چې په افغانستان کې د USAID ماموریت ریس:

- د اجازې درلودل په پام کې ونیسي او لکه څرنګه چې مناسب دي تر پوښتنې لاندې 301,956 امریکایي ډالر (46,025 امریکایي ډالرو غیر مستحق او 255,931 امریکایي ډالرو نه ملاتړ کیدونکي) چې په راپور کې پیژندل شوي، بیرته لاسته راوړي.
- لکه څرنګه چې مناسب دي، نږدې 10,954 امریکایي ډالرو ټکټانه چې Jhpiego د خپلو بیرنیو نغدو پیسو اړتیاوو څخه اضافي د مرستو له کریډیت څخه اخیستي بیرته لاسته راوړي.
- JPhiego ته مشوره ورکړي ترڅو په راپور کې د دوو کورني کنټرولونو موندنو لپاره د حل لار پیدا کړي.
- د Jhpiego اداري ته مشوره ورکړي چې د نه منښت په اړه هغه درې موارد بررسي کړي چې د رپوټ لخوا په ګوته شوي.

## مالي پلټنه 14-39-FA: د USAID د ولایتي سړکونو ستراتیژیک پروګرام د هغه لګښتونو پلټنه چې د نړیوال سوکالي او پرمختګ انکارپوریشن (IRD) لخوا مصرف شوې دي

USAID د نړیوال سوکالي او پراختیا شرکت (IRD) ته یوه دوه اړخیزه موافقه وړاندي کړې ترڅو د ولایتي سړکونو ستراتیژیک پروګرام لپاره ملاتړ برابر کړي. د دغه پروګرام موخه دا وه ترڅو د ولایتي سړکونو د بیارغونې او جوړولو له لارې او د بنسټیزو وړتیاو زیاتولو او د بیارغول شویو سړکونو د ساتنې له لارې د افغانستان په ختیځ او جنوب کې ثبات او امنیت ښه کړي. دې پروګرام د عامه پوهاوي یوه برخه هم لرله چې بودجه یې 32.4 میلیونه امریکایي ډالر وه او دغه مسلې پکې شاملې وي (1) د قومونو له مشرانو سره د پوهې یوه موافقه ترتیبول، (2) روزنه او د خوندیتوب پوهاوي پروګرام، او (3) د زیربنا بیلابیلې پراختیایي پروژې ترڅو د سړکونو بنه ښه شي. پلټنه د مایر هافمن مکان پې سي لخوا ترسره شوې. (MHM) د 2007 د نومبر له 30 څخه د 2012 د دسمبر تر 31 پورې وخت تر پوښښ لاندې نیولی، او ټول لګښت یې 317,448,948 امریکایي ډالر و.

تر پوښتنو لاندې د 14,179,351 امریکایي ډالرو لګښتونو له کبله، چې د مادیاتو غلط راپور استازیتوب کوي، MHM د ځانګړې موخې مالي راپور د عادلانه وړاندي کولو په اړه یو تخصصي نظر خپور کړی. MHM د پلټنې دوې پخوانی موندنې پیژندلې چې د SPR په پروګرام پورې اړه لري او موندلې یې دي چې IRD د یوې د حلولو لپاره د سمون مناسب ګامونه ندي اخیستي. پخوانی موندنې فرعي قراردادیانو ته د اضافي تادیاتو په کنترولونو پورې اړه لرله. MHM په یوې نوې موندنې که ورته حالت ته اشاره کړې، او دې پایلې ته رسیدلی چې د سمون مناسب ګامونه ندی اخیستل شوي. MHM د 12 کورني کنترولونو کمزورتیاو او د نه اطاعت 10 بیلګو راپور ورکړی، چې پلټونکي یې هڅولي ترڅو د 14,179,351 امریکایي ډالرو د لګښتونو په اړه پوښتنه وکړي. تر پوښتنو لاندې پدغو لګښتونو کې د 2,580,239 امریکایي ډالرو غیر مستحق لګښتونه او د 11,599,112 امریکایي ډالرو نه ملاتړ کیدونکي لګښتونه شامل و.

د پلټنې د پایلو په اساس، سیګار سپارښتنه کړې چې په افغانستان کې د USAID ماموریت ریس:

- په رپوټ کې د 14,179,351 ډالره راغلي مشکوکو پیسو د مصارفو قانونیت معلوم کړي، او که مناسبه وي، یادې پیسې بیرته لاسته راوړي.
- د IRD ادارې ته مشوره ورکړي چې د داخلي کنترول په اړه هغه 12 موارد بررسي کړي چې د رپوټ لخوا په ګوته شوي.
- د IRD ادارې ته مشوره ورکړي چې د نه منښت په اړه هغه 10 موارد بررسي کړي چې د رپوټ لخوا په ګوته شوي.

## تفتیشونه

سیګار پدې ربع کې د تفتیشونو دوه راپورونه خپاره کړل. یو راپور د یوه تفتیش د راپور په اړه د USFOR-A نظرونه و چې په تیر ربع کې د پروان په ولایت کې د سالنګ د روغتون په اړه خپور شوی. د تفتیش بل راپور موندلي چې دا معلومه نده چې د جوزجان په ولایت کې له کمپ نظارت څخه د موخو لپاره کار اخیستل کیږي. سیګار د تفتیش د خبرتیا دوه مکتوبونه خپاره کړي او پنځه نوي تفتیشونه یې پیل کړي.

### بشپړ شوې تفتیشونه

- تفتیش 14-31a-IP: د سالنګ روغتون: د USFOR-A لخوا نظرونه
- تفتیش 14-41-IP: کمپ نظارت: داسې ښکاري چې ډیر یو ساختماني کارونو د قرارداد ستندردونه پوره کړي، مګر دا معلومه نده چې له تاسیساتو څخه د موخې لپاره کار اخیستل کیږي

## د تفتیشاتو رپوټونه خپاره شول

### تفتیش 14-31a-IP: د سالنګ روغتون: د USFOR-A لخوا نظرونه

په تیر ربع کې سیګار د پروان په ولایت کې د سالنګ د 20 بستریز روغتون د تفتیش په اړه راپور ورکړی و. دغه تفتیش د بریښنا او اوبو زیات کموالی موندلی و چې د روغتون خدمات یې ډیر محدود کړي و. څکه چې د USFOR-A رسمي نظرونه د سیګار د تفتیش د راپور په مسوده کې د تیر ربع د خپریدلو په وخت کې نه و وړاندي شوي، سیګار خپل نظرونه او ځواب په جلا توګه پدې ربع کې خپار کړل، د سیګار د لمړنی سپارښتنې په اړه، USFOR-A موافقه کړې ترڅو د قرارداد کولو هغه افسرانو څخه حساب واخلي چې کیدای شي هغوی ندي توانیدلي د قرارداد اړین نظارت برابر کړي. په ځانګړې توګه، USFOR-A به دا تحقیق وکړي چې ولي د سالنګ روغتون د قرارداد د مشخصاتو په اساس نه و جوړ شوی او، که ورته اړتیا وي، د هغو قرارداد کولو افسرانو په وړاندي د سمون ګامونه واخلي چې د روغتون د ساختماني پروژې د نظارت مدیریت کولو مسولیت یې درلود.

USFOR-A د سیګار له سپارښتنې سره هم موافقه کړې ترڅو د روغتون فیزیکي تفتیش ترسره کړي، که ورته اړتیا وي، د سمون ګامونو په اړه پریکړه وکړي ترڅو د ودانی د ساختماني اعتبار تظمین وشي. د سیګار د سپارښتنې په اړه ترڅو دا پریکړه وشي چې ولي اړین سندونه د ګډو معلومات د بانک د تبادلې په شبکه (CIDNE) کې نه و ایښودل شوي او دا چې د قرارداد کولو هغه مسول افسران چې د ستونزې لپاره مسولیت لري وپیژندل شي او ورڅخه حساب واخیستل شي، USFOR-A لدې سره موافقه نده کړې او د مرکزي قوماندانی د ګډې ساحې د ملاتړ قرارداد کولو قوماندانی (C-JTSCC) نظر ته یې اشاره کړې چې د قرارداد کولو افسران دا صلاحیت نلري ترڅو سندونه په CIDNE کې واچوي او دا چې مسولیت د قوماندان د بیړني غبرګون پروګرام پروژې مدیر او/یا د اخیستلو افسر په غاړه دی. د سیګار په نظر، د USFOR-A او C-JTSCC نظرونه د سپارښتنو له روحیې سره موافقه کول ښیي او سیګار هم پدغه اساس سپارښتنه تعدیل کړې ترڅو یې سمو چارواکو ته ولیږي. USFOR-A دا اشاره هم کړې چې ورک شوي سندونه پیدا شوي او د معلوماتو په بانک کې ایښودل شوي دي. سیګار به هغه وخت دا سپارښتنه وتړي کله چې دا تایید کړي چې ټول ورک شوي سندونه په CIDNE کې ایښودل شوي دي.

### تفتیش 14-41-IP: کمپ نظارت: داسې ښکاري چې ډیریو ساختماني کارونو د قرارداد ستندردونه پوره کړي، مګر دا معلومه نده چې له تاسیساتو څخه د موخې لپاره کار اخیستل کیږي

د 2013 تر اپریل پورې، د امریکا دفاع وزارت د افغانستان ملي اردو او ملي پولیسو د زیربنا پروژو لپاره د افغانستان امنیتي ځواکونو له وجهي صندق څخه 9.2 میلیارده امریکایي ډالر مکلف کړي دي. د افغانستان ملي اردو یوه پروژه، کمپ نظارت، د افغانستان په شمال کې د ترکمنستان له سرحد سره د جوزجان په ولایت کې جوړ شوی. د 2010 د دسمبر په 4، د کابل د قراردادکولو سیمه ایز مرکز د کمپ نظارت جوړولو لپاره له پنځو څخه لمړی قرارداد وړاندې کړی. لمړی قرارداد، چې د فعالیت 120 ورځې یې درلودې، د فضل



له کمپ نظارت څخه **د سیګار تفتیش** موندلي چې د طعام خانې ساختماني کار د کانکریټي په پایو پورې محدود و او داسې ښکاریدلې چې کمزوری کیفیت یې درلود، او د کانکریټو سطح یې غیر منظمه وه او خالیګاوې درلودې. (د سیګار انځور)

الله ساختماني او انجنیري شرکت (FCEC) او UI ته د ګډې پروژې په توګه د 830,000 امریکایي ډالرو په ارزښت ورکړ شو ترڅو درې بارکونه جوړ کړي. وروسته، د کابل قرارداد کولو سیمیز مرکز دوه نور قراردادونه د دریو نورو بارکونو، تشنابونو، یو اداري ودانی، او د ځواکونو د خوندیتوب دیوالونو لپاره ورکړل. په شمال کې د قرارداد کولو سیمیزې قوماندانی د پهره دارانو برجونو، د انداخت ساحې؛ د ځواکونو خوندیتوب اضافي دیوالونو؛ طعام خانې؛ د بریښنا فابریکې؛ د اوبو ځاه؛ د فاضله اوبو ساحې؛ د 5,000 ګیلنو تیلو ځای؛ د فاضله اوبو وصلولو، او د بریښنا سیستمونو لپاره دوه نور قراردادونه ورکړي. د دغو پنځو قراردادونو ټول لګښت 3.9 میلیونه امریکایي ډالر و.

سیګار پدې تفتیش کې وارزول چې آیا (1) تعمیر د قرارداد او د عملي کیدو وړ قوانینو سره سم جوړ شوی، او (2) تعمیرات د کومې موخې لپاره چې جوړ شوي کارول کیږي که نه.

دې اداري د کمپ نظارت خپل تفتیش د 2013 د مارچ په 2 ترسره کړی. هغه تاسیسات چې سیګا په هغه وخت کې تفتیش کړي داسې ښکاریدل چې په ښه توګه جوړ شوي وي، مګر د اداري تفتیش کوونکو ونشو کولای د کمپ څراغونو، بخاری، اوبو، فاضله اوبو، او نورو میخانیکي سیستمونه په پوره توګه ارزونه وکړي ځکه چې د 2013 په مارچ کې د سیګار د تفتیش په وخت کې جنراتورونه فعاله نه و. د کمپ تر ټولو لویه ستونزه دا وه چې طعام خانه یې ندرلوده، او لدې کبله د افغانستان ملي اردو ونشو کولای ترڅو لدې تاسیساتو څخه کار واخلي. د افغانستان د امنیت سپارلو ګډې قوماندانی (CSTC-A) د دې ستونزې حلولو لپاره د افغانستان حکومت ته 1.2 میلیونه امریکایي ډالر مستقیمه مرسته ورکړه ترڅو طعام خانه جوړه کړي، د 2014 په جنوری کې یوه افغان کارکوونکي د امریکا چارواکو ته وویل چې طعام خانه د ودانولو په حال کې ده او 60% بشپړه شوې، او د ملي

اردو 700 کارکوونکي لدي پایګاه څخه کار اخلي. مګر سیګار اندیښنه لري چې د CSTC-A چاروکو ونشو کولای چې د طعام خانې د ساختماني کارونو یا دا چې ملي اردو په اوس وخت کې لدي کمپ څخه کار اخلي د سیګار تفتیش کوونکو ته د نظارت کوم معلومات برابر کړي. په پایله کې، د امریکا حکومت یووازې د افغانستان په حکومت باندې تکیه کوي ترڅو د امریکا لخوا برابر شوي مرسته د لګښت، د ساختماني کارونو د پرمختګ، او دا چې له کمپ څخه څرنګه کار اخیستل کیږي، په اړه راپور ورکړي.

کمپ نظارت په هغه ساحه کې موقعیت لري چې د امریکا ملکي کارکوونکي نشي کولای هلته ورشي ځکه چې دا ساحه د "نظارت د امنیت" له ساحې څخه دباندې ده. د نظارت امنیت هغه ساحه ده چې د امریکا حکومت کولای شي ملکي کارکوونکو ته چې دې ساحې ته سفر کوي په مناسبه توګه امنیت او د روغتیا بیړنی ملاتړ برابر کړي. په پایله کې، د سیګار تفتیش کوونکي نشی کولای نور دې ساحې ته ورشي او نشی کولای پخپلواکه توګه دا تایید کړي چې طعام خانه د قرارداد د اړتیاوو په اساس جوړه شوې یا دا چې د کمپ لپاره د موخو لپاره کار اخیستل کیږي.

د سیګار په نظر، د CSTC-A یا په افغانستان کې د ناټو د روزنې ماموریت (NTM-A) لخوا نظارت ته اړتیا ده ترڅو دا وکتل شي چې له مرستو څخه مناسبه ګټه اخیستل کیږي، د طعام خانې ساختماني کارونه د اړتیاوو په اساس بشپړ شوي، او له کمپ څخه د موخو لپاره کار اخیستل کیږي.

## د تفتیش خبرتیا مکتوبونه

پدې ربع کې، د سیګار پلټنې او تفتیش ریاست د خبرتیا دوه مکتوبونه خپاره کړي.

### خبرداری لیک 14-42-AL: د شرنې د FOB سون ځایونه

د 2014 د مارچ په 18، سیګار د امریکا دفاع وزارت ته ولیکل ترڅو دا اعلان وکړي چې دې اداري د USACE د پریکړې په اړه ترڅو د پکتیکا په ولایت کې د شرنې په مخکنی پایګاه کې د سون یوه سیستم د ساختماني کارونو کم ستندرد کار ومني، یو لمړنی تحقیق پیل کړی. سیګار د 2013 په دسمبر کې د سون فابریکې د ارزونې راپور خپور کړ. راپور موندلي چې سیستم نږدې درې کاله له مهال ویش څخه وروسته بشپړ شوی او دا چې د سون فابریکو د ساختماني کارونو نه حل شوي نیمګړتیاوې درلودې. په پایله کې لدغو څخه هیڅ کار اخیستل شوی ندی او 5.4 میلیونه امریکایي ډالر ضایع شوي. وروسته بیا USACE پدغه اړه معلومات وکړل او دا یې وموندل چې د سون فابریکه د قرارداد تخنیکي مشخصاتو په اساس جوړه شوې وه او دا چې د فابریکې د قرارداد د نظارت ترسره کولو لپاره هیڅ یو ګمارل شوي کارکوونک ناکامه شوی ندی ترڅو په مناسب توګه خپله دنده ترسره کړي. د غوښتنې په اساس، USACE سیګار ته نهه سندونه وړاندې کړل چې د USACE په وینا پخپلو معلوماتو کې ورڅخه کار اخیستی و. مګر، له نهو سندونو څخه د سیګار تحلیل اوس هم په هغه اړه اندیښنې راپورته کوي چې ولې قرارداد کوونکی ساختماني کارونو د کمزوری لپاره مسول ندی ګڼل شوی او د USACE د معلوماتو د سموالي په اړه پوښتنه راپورته کوي.

> **د تفتیش خبرتیا مکتوبونه**
> - خبرداری لیک 14-42-AL: د شرنې د FOB سون ځایونه
> - خبرداری لیک 14-45-AL: د بغلان بندیخانې ساختماني کار

## خبرداری لیک AL-45-14: د بغلان بندیخانې ساختماني کار

د 2013 د اپریل په 2، سیګار د امریکا بهرنیو چارو وزارت ته ولیکل ترڅو د بغلان په ولایت کې دا وزارت د بندیخانې د ډیزاین او ساختماني کارونو له خرابوالي څخه خبر کړي چې د دې کارونو قراردادي د امریکا بهرنیو چارو وزارت د نړیوال مخدره توکو او قانون پلې کولو (INL) لخوا د 2013 په دسمبر کې کرایه شوي و. سیګار د 2013 په دسمبر کې د بغلان د بندیخانې ساختماني کار تفتیش اعلان کړ. که څه هم سیګار د امنیت اندیښنو له کبله نده توانیدلي ترڅو د بندیخانې فیزیکي تفتیش ترسره کړي، د دې اداري د قرارداد سندونو بیاکتنې خطرناکې ساختماني ستونزې موندلې. ساختماني ستونزې د دې سبب شوي ترڅو د بندیخانې د هستوګن ځایونو یو واحد بیرته ړنګ شي. ډیزاین ښیي چې د دې واحد او په ساحه کې د نورو ودانیو په جوړولو کې د سمیټي خښتو ترمنځ د ګول له سیخونو څخه کار ندی اخیستل شوی. وروسته بیا هغه معلومات چې د INL لخوا وړاندې شوي دا تاییدوي چې تاسیسات د غیر مناسبې اندازې ګول سیخونو کار اخیستلو سره جوړ شوي. که څه هم د INL چارواکو سیګار ته ویلي چې هره هغه ودانۍ چې بیرته جوړیږي په هغې کې به له ورتو ساختماني موادو او طریقو کار واخیستل شي چې په تیر کې ورڅخه کار اخیستل شوی، سیګار باور لري چې INL باید د امنیت او خوندیتوب له کبله، په پوره اندازه د سیمټو په بلوکونو کې د ګول له سیخونو څخه کار واخلي.



د بغلان د بندیخانې په 17 ودانۍ کې د ځمکې خاورې ناسته د ودانۍ په ساختمان کې د تاوان او بیا **د ړنګولو سبب شوې**. (د بهرنیو چارو وزارت تصویر)

## پدې ربع کې د سیګار نوي اعلان کړي تفتیشونه

پدې ربع کې، سیګار پنځه نوي تفتیشونه پیل کړي. هر تفتیش به دا ارزونه وکړي چې آیا (1) ساختماني کار د قرارداد د اړتیاو او اړوندو ساختماني ستندردونو په اساس بشپړیږي؛ او (2) د تاسیساتو یوه برخه که هره یوه وي، چې ورڅخه کار اخیستل کیږي، د موخو لپاره ورڅخه کار اخیستل کیږي او په مناسبه توګه یې ساتنه کیږي. دا پنځه تفتیشونه به دا ارزونې وکړي:

- د افغانستان دفاع وزارت قرارګاه، د 142 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت دا تاسیسات په کابل کې موقعیت لري
- کابل ته نږدې د ملي اردو د کماندو تاسیسات
- د کابل په څرخې پله کې د ملي اردو د مسلخ تاسیسات
- د بلخ په ولایت کې د ګوریمار صنعتي پارک
- د کندهار په ولایت کې د شوراندام صنعتي پارک

### نوي تفتیشونه

- د افغانستان دفاع وزارت د قرارګاه تفتیش
- د افغانستان ملي اردو د کماندو تاسیساتو تفتیش
- د افغانستان ملي اردو د مسلخ تاسیساتو تفتیش
- د ګوریمار صنعتي پارک تفتیش
- د شوراندام صنعتي پارک تفتیش

## د سیګار سپارښتنو دریځ

د 1978 عمومي پلټونکي قانون، له سیګار څخه غواړي ترڅو د خپلو سپارښتنو دریځ په اړه راپور ورکړي. پدې ربع کې، سیګار د 14 پلټنو او تفتیشاتو په ترځ کې 46 سپارښتنې تړلې دي. دې سپارښتنو د امریکا د مالیه ورکونکو له 22 میلیونه ډالرو څخه زیات خوندي کړې. کوم اصلاحي کارونه چې پدې ربع کې د سیګار د تړل شویو سپارښتنو په ځواب کې ترسره شوي، دا دي:

- د USAID له فسخه شوي قراردادونو څخه د 22 میلیونو امریکایي دالرو له مکلفیت څخه ایستل (پلټنه 9-12)؛
- د هغو غیر مستحقو او/یا نه ملاتړ کیدونکو قرارداد لګښتونو چې د امریکا حکومت لخوا تادیه شوي او نږدې 332,000 امریکایي ډالر دي بیرته لاسته راوړل. (مالي پلټنې 2-13، 4-13، 5-13، 8-13، 9-14، 11-14، 14-14، او 29-14)؛ او

- د بیاکتنې اجراتو تاسیسول ترڅو د USAID د امنیت د مشورې د خدماتو د قرارداد له وړاندي کولو وړاندې د خطر مدیریت شرکت لیسنسونه کنټرول شي.

د یوې پلټنې راپور لپاره، یوه پاتې پرانیستې سپارښتنه وترل شوه ځکه چې د سمون تر ګامونو هغې پیښې وړاندې راغلي چې کله د ولایتي بیارغونې ټیم (PRT) چې د پلان شوي بریښنایي تجهیزاتو کار اخیستنه یې اداره کوله تر هغې وړاندې پریښودل شوي ترڅو پلان شوي ګامونه تطبیق شي. (پلټنه 7-13)

د 2009 کال څخه د 2014 کال تر مارچ پورې، سیګار د 130 پلټنو، خبرداری لیکونو، او تفتیشاتو راپورونه خپاره کړي او د فنډ بیرته اخیستنې، د ادارو د څارنې د ودې، او د پروګرامونو د موثریت زیاتولو لپاره یې 410 سپارښتنې کړي دي. سیګار د دې سپارښتنو 77% ترلې دي. عموماً د سپارښتنو ترل د سیګار په ارزونې دا معنی لري چې پلټل شوې اداره یا سپارښتنه تطبیق کړې یا یې په مناسبه توګه ستونزه حل کړې. په ځینو قضیو کې، یوه ترل شوې سپارښتنه د پلټنې په راتلونکو کارونه کې کتل کیږي.

د 1978 عمومي پلټونکي قانون، لکه څرنګه چې تعدیل شوی، دا غوښتنه هم کوي ترڅو سیګار د تیر راپور مهمو سپارښتنو په اړه راپور ورکړي چې په اړه یې د سمون ګامونه ندي اخیستل شوي. پدې راپور کې، سیګار په 29 پلټنو او تفتیشونو کې د سپارښتنو په اړوند د ادارې کارونو نظارت ته دوام ورکړ. یوه پلټنه له سپارښتنو سره چې له 12 میاشتو زیات وخت پر تیر شوی و چیرته چې اداري د سمون عمل وړاندیز نه و کړی چې سیګار باور لري چې پیژندل شوې ستونزه به حل شوې وای. د دغې راپور ورکړ شوې پلټنې عنوان د افغانستان ملي اردو و: د وسایط پر تیلو، او د بریښنا په فابریکو باندې کنټرولونه باید ټینګ شي ترڅو د تقلب، ضایعاتو او ناوړې ګټې اخیستنې مخه ونیول شي (پلټنه 4-13). دا پلټنه چې د 2013 په جنوری کې خپره شوې، د ملي اردو د فرمایش، اخیستل، او د پطرولي موادو لپاره د تادیاتو، تیلو، او روغنیاتو د اجراتو په اړه پوښتنه کړې. پردې برسیره، درې پلټنې او د تفتیش راپورونه شتون لري چې تر 12 میاشتو زیات وخت پر تیر شوی چیرته چې سیګار له ادارې څخه دا تمه لري ترڅو موافقه شوي د سمون ګامونه تطبیق کړي.

سیګار په اوس وخت کې د امریکا دفاع او بهرنیو چارو په وزارتونو او په USAID کې د ادارې د پریکړې د اجراتو پلټنه ترسره کوي. پلټنې پدغو ادارو کې د پلټنو د دریځ او نظارت د اجراتو لپاره د پریکړو اخیستلو آزموینه کوي.

## ځانګړې پروژې

د عمومي مفتش ځانګړو پروژو ټیم د دې لپاره جوړ شوی ترڅو د راپورته کیدونکو مسلو آزموینه وکړي او د فیدرال ادارو او کانګرس ته چټک او د عملي ګامونو وړ راپورونه وړاندې کړي. دا ډله بیلابیلې ارزونې کوي او د افغانستان د بیارغونې په ټولو برخو کې راپورونه جوړوي. په دې څانګه کې پلټونکي، تحلیل کونکي، محققین، قانونپوهان، د اړوند مسایل ماهرین، او نور متخصصین راټول شوي او کولی شي د رابرسیره کیدونکې مسایلو او پوښتنو په مقابل کې بیړنی او په ګډه سره د حل لارې ومومي.

د راپور ورکولو پدې وخت کې، د سیګار ځانګړو پروژو دفتر د امریکا له دفاع وزارت څخه غوښتنه کړې چې بیړني ګامونه واخلي ترڅو د هلمند په ولایت کې په کمپ لیدرنیک کې د 64,000 فوټ مربعې یوې ودانۍ د پلان کولو او ساختماني کارونو په اړه ټول سندونه

### د ځانګړې پروژې بشپړ شوي محصولات

- ځانګړې پروژه SP-35-14: د معلوماتو مکتوب: د Mi-17 لویدل او له منځه وړل
- ځانګړې پروژه SP-36-14: د معلوماتو مکتوب: د افغانستان ملي پولیسو نامعلومه کارکوونکې او د افغانستان ملي مدیریت لپاره د قانون او نظم وجهي صندق
- ځانګړې پروژه SP-37-14: د معلوماتو مکتوب: مخابراتي پایې
- ځانګړې پروژه SP-38-14: د معلوماتو مکتوب: د 64,000 فوټ مربعې ودانۍ د سندونو ساتنې بیاکتنه
- ځانګړې پروژه SP-40-14: د معلوماتو مکتوب: د کجکي 2 واحد پروژه
- ځانګړې پروژه SP-43-14: د معلوماتو مکتوب: د امریکا دفاع وزارت قرارداد معلوماتو غوښتنه
- ځانګړې پروژه SP-44-14: د معلوماتو مکتوب: د USAID فسخه شوي قراردادونه
- ځانګړې پروژه SP-49-14: د حقیقت پاڼه: افغانستان لپاره د امریکا بهرنیو چارو وزارت مرسته: د 2002 او 2013 ترمنځ 4 میلیارده امریکایي ډالر مکلف کړي دي
- ځانګړې پروژه SP-50-14: د معلوماتو مکتوب: د افغانستان ملي پولیسو لپاره د پیسو امتحاني پروګرام
- ځانګړې پروژه SP-51-14: د معلوماتو مکتوب: د امریکا کرنې وزارت سویا بین پروګرام

راوګرځوي او وساتي. د ځانګړو پروژو دفتر CSTC-A ته لیکلي چې کیدای شي امریکا به له پوهیدلو پرته مرسته کوي او د افغانستان ملي پولیسو د هغو غړو معاشونه ورکوي چې شتون نلري. دې دفتر د امریکا بهرنیو او دفاع وزارتونو ته د مخابراتي پایو په اړه لیکلي چې د بیارغونې په مرستو باندې جوړ شوي او کیدای شي د موخو لپاره ورڅخه هیڅ کار وانخیستل شي، او دې دفتر USAID د 17 فسخه شویو پروژو په اړه پوښتلی. دې دفتر USAID ته د معلوماتو یو مکتوب هم د دغو اندیښنو په اړه لیږلی چې د کجکي په بند کې د بریښنا د تولید لپاره د یوه بل توربین د نصبولو اټکل شوی لګښت ډیر زیات شوی دی. د ځانګړو پروژو دفتر پلان لري چې د انسانانو د قاچاق کولو د ځینو برخو آزموینه وکړي ترڅو دا وګوري چې آیا اصلي او فرعي قراردادیان چې د امریکا د اردو لخوا استخدام شوي په مناسبه توګه د فیدرال له قوانینو او مقرراتو څخه اطاعت کوي چې د زرهاوو بهرني کارکوونکو د روغتیا او خوندیتوب لپاره ډیزاین شوي چې په افغانستان کې په پایګاوو کې کار کوي.

## د معلوماتو مکتوب SP-14-35: د Mi-17 لویدل او له منځه وړل

د 2014 د فبروری په 18، سیګار د افغانستان د ځانګړو عملیاتونو ګډو ځواکونو ته د ننګرهار په ولایت کې د 2013 د نومبر په 25 د کورنیو چارو وزارت د ځانګړي ماموریت وزر د Mi-17 د هلیکوپټر د لویدو په اړه لیکلي. سیګار د اردو هلیکوپټرونو د پیښو د تحقیق لپاره د افغانستان د حکومت د اجراتو په اړه معلوماتو غوښتنه کړې، چې آیا د پیښې راپور بشپړ شوی دی، او آیا د امریکا اردو مشاورینو پدغو تحقیقونو کې برخه اخیستې ده. سیګار لیکلي چې دا مسله د بیاکتنې وړتیا لري ځکه چې د Mi-17 هلیکوپټر د ځانګړي ماموریت وزر په مرستو اخیستل شوي چې دا مرسته د افغانستان د امنیتي ځواکونو د ملاتړ لپاره د امریکا د مالیي ورکوونکو لخوا برابر شوي. سیګار دا هم ویلي چې دا مهمه ده ترڅو افغانان د تجهیزاتو ساتنې او ترمیم لمړیتوبونه وپیژني وړاندې تردې چې هغوی ته اضافي بل هلیکوپټر ورکړ شي.

## د معلوماتو مکتوب SP-14-36: د افغانستان ملي پولیسو ورک کارکوونکي او د افغانستان مالي مدیریت لپاره د قانون او نظم وجهي صندق

د 2014 د فبروری په 19، سیګار CSTC-A ته لیکلي ترڅو پدې اړه اندیښنه وښیي چې کیدای شي امریکا به له پوهیدلو پرته مرسته کوي او د افغانستان ملي پولیسو هغو کارکوونکو ته به معاشونه ورکوي چې شتون نلري.

د سیګار لپاره د "خیالي کارکوونکو" مسله یوه نوي مسله نده. په 2011 کې، د سیګار پلټنې یوه راپور د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام (UNDP) لخوا د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندق، چې د افغانستان ملي پولیسو معاشونو تادیه کولو لپاره ورڅخه کار اخیستل کیږي، د مدیریت په اړه پوښتنې راپورته کړې. د سیګار پلټونکو وموندل چې نه د افغانستان کورنیو چارو وزارت او نه د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام کولای شي د معاشونو معلومات تایید کړي. سیګار دې پایلې ته رسیدلی چې "پدې اړه محدود ډاډ شتون لري چې یوازې د افغانستان ملي پولیسو هغه کارکوونکي چې کار کوي معاش اخلي."

سیګار ویلي چې پدې پروګرام کې د امریکا د مالیي ورکوونکو زیاتې پیسې له خطر سره مخامخ دي. له 2002 څخه، نړیوالې ټولنې په LOTFA کې 3.17 میلیارده امریکایي ډالر برخه اخیستې ده. امریکا د دغو پیسو 38% برابره کړې، چې نږدې 1.21 میلیارده امریکایي ډالر دي.

د اروپا له کمیسیون او د اروپا د تقلب ضد دفتر سره د نظارت مسلو په اړه په ورستیو خبرو کې، سیګار موندلې چې اروپايي ټولنې (EU) 100 میلیونه یورو (په لټفا کې د دې ټولنې د 200 میلیونه یورو برخې اخیستنې نیمی)، د دغو اندیښنو له کبله ساتلې چې لدغو پیسو څخه څرنګه کار اخیستل کیږي، او ورکو کارکوونکو ته معاشونو ورکول او د مالي غلط مدیریت امکاناتو بیلګي شامل دي. سیګار ته ویل شوي چې کمیسیون نه غواړي دا مرسته آزاده کړي ترڅو چې مناسب کنترول پرځای نشي او دا وکتل شي چې د لټفا له مرستو څخه د موخو لپاره کار اخیستل کیږي.

ځانګړي عمومي مفتش ساپکو په نومبر کې افغانستان ته د خپل سفر په وخت یې د ورکو کارکوونکو مسله او داروپا کمیسیون اندیښنې د CSTC-A له لوړ پوړو چارواکو سره شریکه کړه. هیڅ یو چارواکی د ورکو کارکوونکو د کوم تحقیق او د لټفا د مرستو د ساتلو په اړه د اروپايي تولنې د پریکړې په اړه خبر نه و.

سیګار له CSTC-A څخه دا غوښتنه کړې ترڅو د دغې ستونزې په اړه هر هغه شواهد چې لري برابر کړي او هره هغه هڅه وپیژني ترڅو د لټفا له نورو مرستندویانو سره همغږي وشي ترڅو د مرستندویانو د مرستو د غلط مدیریت د امکاناتو په اړه معلومات شریک شي. سیګار د هغو نویو معلوماتو په اړه هیله مند دی چې CSTC-A ځانګړي ګامونه اخلي ترڅو د دغې مسلې لپاره د حل لار پیدا کړي پشمول د CSTC-A د خپلواکې پلټنې وړتیاوو ځواکمن کول او د افغانستان د مالي اجراتو د ارزونې ترسره کول.

## د معلوماتو مکتوب SP-37-14: مخابراتي پایې

د 2014 د فبرورۍ په 25، سیګار د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو ته لیکلي ترڅو د په افغانستان کې د مخابراتي د پایو په اړه د معلوماتو غوښتنه وکړي، چې د خپلوموخو لپاره ورڅخه کار نه اخیستل کیږي او کیدای شي د خپلو موخو لپاره ورڅخه هیڅ کار وا نه اخیستل شي.

د سیګار کارکوونکو موندلي چې له 2011 – 2012 پورې په یوه وخت کې، د امریکا بهرنیو چارو وزارت له MNM مخابراتي شرکت سره د شپږو مخابراتي پایو د ډیزاین او جوړولو یو قرارداد لاسلیک کړی، او کله چې بشپړ شي، په شاوخوا کې تر اوسنیو پایو به درې چنده اوږدې وي. دغو پایو به د ګرځنده تیلفونو لپاره ملاتړ برابرو او د افغانستان د مخابراتي اړیکو برابرونکو د تلویزیو او راډیو د نشراتو کوونکو لپاره به یې شتون درلود، تمه کیده چې نشرات کوونکو به غوښتل دغو پایو ته لاس رسی ولري ترڅو د افغانستان په جنوب لویدیځ کې د نشراتو خپلو ساحو ته پراخوالی ورکړي.

د پایو پروژه د امریکا بهرنیو چارو وزارت د سیاسي چارو د برخې (PAS)، او د کابل په سفارت کې د ستراتیژیکو اړیکو دفتر (STRATCOM) لخوا وړاندیز شوې او تطبیق شوې. د 2011 د جون په 20، STRATCOM د افغانستان په جنوب لویدیځ کې د شپږو مخابراتي پایو د ډیزان او جوړولو چې ټول اټکل شوی لګښت یې د 5 میلیونو او 10 میلیونو امریکایي ډالرو ترمنځ و، د دندې فرمایش وړاندیز غوښتنه کړې. د شپږو مخابراتي پایو د ډیزاین او جوړولو قرارداد د MNM مخابراتي شرکت ته د 7.2 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت وړاندي شو. د دغو ټولو شپږو پایو جوړول په 2012 کې بشپړ شوي. د دغو پایو څلور د هلمند په ولایت کې موقعیت لري، یوه د کندهار په ولایت کې موقعیت لري، او یوه د غزني په ولایت کې موقعیت لري.

د هغو معلوماتو په اساس چې سیګار لاسته راوړي، STRATCOM/PAS تر زیاتې کچې دغو پایو د کاراخیستلو، ساتنې او مارکیټ پیدا کولو لپار ه د قرارداد لګښت کم اټکل کړی. PAS او STRATCOM د قرارداد لګښت په 2 میلیونو امریکایي ډالرو محدود کړی و، مګر د داوطلبي وړاندیز لدغه محدودیت څخه ځلور تر پنځه برابره پورته و. د داوطلبی د لوړو وړاندیزونو له کبله، پریکړه وشوه ترڅو د خدماتو دا قرارداد وړاندي نشي. سیګار ته دا هم ویل شوي چې د امریکا دفاع وزارت د ګرځنده تیلفونونو بیړنی مخابراتي پروژه فسخه کړې، او د لاسته راوړل شویو معلوماتو په اساس، او د امریکا حکومت د پایو لپاره خپل ډیری احتمالي کار اخیستنه له لاسه ورکړه.

د سیګار لخوا تحقیق موندلي چې کیدای شو دغه پروګرام د هغو ځواکونو لپاره چې د افغانستان په لرو پرتو سیمو کې عملیات کوي د ګرځنده تیلفون دوامداره پوښښ برابر کړي. کیدای شي ځینې پایې د امریکا بهرنیو چارو وزارت لخوا د اضافي ملکیت په توګه غوره شوې وي، چې اجازه ورکوي ترڅو د امریکا دفاع وزارت ته ورکړ شي. د 2013 د می په 18، په کمپ لیدرنیک کې یوه پایه د 150,000 امریکایي ډالرو په لګښت د امریکا دفاع وزارت ګارنیزیون ته ورل شوې. سیګار د امریکا دفاع او بهرنیو چارو له وزارتونو څخه د دغو شپږو مخابراتي پایو د جوړولو د پریکړې، د نه کار اخیستلو دلیلونه، د دغو پایو راتلونکې کار اخیستنه، وروسته بیا د پایو پلورل یا سپارل په اړه د نورو معلوماتو غوښتنه کړې. د مارچ 28 په ځواب کې، د امریکا دفاع وزارت منلي چې یوه پایه د امریکا دفاع وزارت ته سپارل شوي او په اوس وخت کې ورڅخه کار نه اخیستل کیږي. د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې نورې پنځه پایې د امریکا بهرنیو چارو وزارت تر کنټرول لاندې دي. د امریکا له بهرنیو چارو وزارت څخه یو هراړخیز ځواب اخیستل شوی او اوس تر ارزونې لاندې دی.

## د معلوماتو مکتوب SP-38-14: د 64,000 فوټ مربعې ودانی د سندونو ساتنې بیاکتنه

د 2014 د فبروری په 27، سیګار د امریکا دفاع وزارت ته لیکلي ترڅو بیړني ګامونو واخلي او په کمپ لیدرنیک کې د 64,000 فوټ مربعې ودانی چې اوس هم ورڅخه کار نه اخیستل کیږي د ټولو اړوندو مسلو لکه پلان کولو او ساختماني کارونو په اړه سندونه را وګرځوي او وساتي. سیګار په جولای او بیا په دسمبر کې لیکلي دي او پدې اړه یې د معلوماتو غوښتنه کړې چې ولې ودانی جوړه شوې، چې په اصل کې د هملند په ولایت کې د قوماندانی د محاربوي ځواکونو د قوماندانی د قرارګاه د کار لپاره وه، او د 2012 په سپتمبر کې ختمه شوې. په وروستي مکتوب کې، ځانګړې عمومي مفتش ساپکو لیکلي چې دی خبر شوی چې کیدای شي د سندونو د ساتنې لپاره د هغه غوښتنې ته احترام نه وي شوی، او د امریکا دفاع وزارت دا منلي. د امریکا دفاع وزارت بیا د ساتنې هدایت ورکړی، او دا وزارت اوس د سیګار ارزونې لپاره غوښتل شوي سندونه برابروي.

## د معلوماتو مکتوب SP-40-14: د کجکي 2 واحد پروژه

د 2014 د مارچ په 11، سیګار د کجکي په بند کې د بریښنا تولید لپاره د توربین د نصبولو د لګښت په اړه USAID ته د معلوماتو یو مکتوب لیږلی.

د 2010 په دسمبر کې، USAID دځانګړو پروژو شرکت بلک او ویتیک (Black & Veatch) ته د کندهار هلمند د بریښنا پروګرام (KHPP) بشپړولو لپاره یو قرارداد ورکړی. KHPP په

افغانستان کې د USAID تر ټولو یو لوی پروګرام دی، چې ټول اټکل شوی لګښت یې نږدې 266 میلیونه امریکایي ډالر دی. دې پروژې شپږ برخې درلودې، پشمول د نصبولو او د کجکي بند لپاره د یوه اضافي توربین اخیستل، چې د کجکي پروژې د 2 واحد په نوم پېژندل کېږي.
د 2013 په جنوری کې، د افغانستان حکومت په غوښتنه، USAID کجکي د 2 واحد نصبولو اړتیا له Black & Veatch سره له خپل قرارداد څخه لرې کړ او مسولیت یې د افغانستان حکومت ته وسپاره. مګر، USAID د پروګرام لپاره د 266 میلیونو امریکایي ډالرو اصلي لګښت ندی کم کړی، او پرځای یې قرارداد تعدیل کړی ترڅو د افغانستان حکومت لپاره تخنیکي ملاتړ برابر کړي. USAID بیا د افغانستان له حکومت سره د اوسني مرستې په اساس اضافي 75 میلیونه امریکایي ډالر مکلف کړي ترڅو د توربین د واحد نصبول تمویل کړي.

د کجکي 2 واحد ته د اضافي مرستې برابرولو سره، په پایله کې د اصلي KHPP د ټولو شپږو برخو لګښت 345 میلیونو امریکایي ډالرو ته زیات شوی. سیګار اندیښنه لري چې د لګښت له زیاتیدلو سره کیدای شي KHPP به نور له اقتصادي پلوه ناممکنه وي. د KHPP په اړه د USAID د 2012 تحلیل په وینا، د پروګرام لګښتونه به یې تر ګټو زیات شي که د 266 میلیونو امریکایي ډالرو اصلي اټکل شوي لګښتونه له 16% څخهزیات شي. په بل عبارت، د KHPP لپاره د 270 میلیونو امریکایي ډالرو د اصلي لګښت اټکل پر اساس، هر لګښت چې له 43 میلیونو امریکایي ډالرو (16%) څخه زیات وي دا به KHPP له اقتصادي نظره ناممکنه کړي. د سیګار تحلیل ښودلي چې د توربین د واحد لپاره د 75 میلیونو امریکایي ډالرو لګښت زیاتوالی د ټول KHPP لپاره د 59 میلیونو امریکایي ډالرو (22%) زیاتوالي استازیتوب کوي.

USAID د 2014 د مارچ 28 پخپل ځواب کې، د سیګار له مکتوب سره موافقه نده کړې. USAID وایي چې د 75 میلیونو امریکایي ډالرو اټکل د USAID د 2012 د لګښت له اټکل سره تړاو درلود. USAID دا هم ویلي چې اداري قرارداد تعدیل کړی او لدې سره د KHPP اخري حد تر 38 میلیونو امریکایي ډالرو کم شوی. USAID له سیګار څخه غوښتنه کړې ترڅو د پروژې په تطبیقولو کې د امریکا حکومت پراخه پالیسي او اقتصادي موخه په پام کې ونیسي. USAID ویلي چې پانګونه یې په ساده توګه د مستقیمو اقتصادي ګټو پر اساس نده، مګر د زیاتو امنیتي او حکومتوالی موخو پر اساس ده.

په یوه بل مکتوب کې، سیګار ویلي چې د دې قدرداني کوي چې د USAID پانګونه یوازې د لګښت په اساس نده او دا چې د قرارداد تعدیل ترسره شوی. مګر، سیګار وایي چې د USAID د خپل تحلیل پر اساس، KHPP ډېر زیاد د خپل اقتصادي وړتیا ساحې ته نږدې شوی.

## د معلوماتو مکتوب 14-43-SP: د امریکا دفاع وزارت قرارداد معلوماتو غوښتنه

د 2014 مارچ په 19، سیګار د امریکا دفاع وزارت ته لیکلي او په پخوانی غوښتنه یې له 2002 مالي کال څخه د 2013 فبروری تر 28 پورې د افغانستان دبیارغونې لپاره د ټولو قراردادونو، دوو اړخیزو موافقو، او نغدو پیسو د معلوماتو جزییاتو غوښتنې باندې ټینګار کړی. د 2013 په اپریل کې د امریکا دفاع وزارت د غوښتل شوي قرارداد، دوه اړخیزې موافقې، او نغدو پیسو معلومات سیګار ته د پخوانی غوښتنې لپاره برابر کړل.

د 2013 په اپریل کې وړاندې شوي معلومات ټول نږدې د 23 میلیاردو امریکایي ډالرو مکلفیتونه و. مګر، د دفاع مالي او محاسبې خدماتو (DFAS) د معلوماتو په بانک کې

د زیاتې کچې مرستې معلومات دا ښيي چې د 2013 د مارچ تر 31 پورې، د افغانستان د امنیتي ځواکونو د وجهي صندق لپاره یوازې ټول مکلفیتونه 44 میلیارده امریکایي ډالر و. د امریکا دفاع وزارت د ټولو قراردادونو معلوماتو ترمنځ زیات توپیرونه او هغه څه چې د DFAS د معلوماتو په بانک کې ښودل شوي یا یې معلومات لاسته ندي راوړي چې اداري ته دا اجازه ورکړي ترڅو دواړه سره همغږي کړي. د سیګار کارکوونکو د امریکا دفاع وزارت د دفتر له استازو (OSD) (پالیسی) او OSD (مالي کنترولر) سره لیدلي. د OSD چارواکو موافقه کړې چې د قرارداد، دوه اړخیزې موافقې، او نغدو پیسو په لمړنیو وړاندي شویو معلوماتو کې ډیر زیات واټن شتون درلود او موافقه یې کړې ترڅو هرڅومره معلومات چې شتون لري بیرته یې وآزمويي او د هغو معلوماتو لپاره چې شتون نلري یوه لیکلي توضیح وړاندي کړي.

## د معلوماتو مکتوب 14-44-SP: د USAID فسخه شوي قراردادونه

د 2014 د مارچ په 25، سیګار USAID ته لیکلي او په افغانستان کې د 17 پروژو د معلوماتو غوښتنه کړې، چې USAID له 2008 څخه د فسخه شوي په توګه پیژندلي دي. سیګار ویلي چې داسي ښکاري چې دا یو شمیر پروګرامونه وروسته لدې فسخه کړي چې نږدې 212 میلیونه امریکایي ډالر توزیع شوي و. د سیګار مکتوب دوې عمومي پوښتنې هم راپورته کړي: ولي USAID عملي ګام ندی اخیستی ترڅو د دغو ځینې قراردادونه وړاندي ختم یا فسخه کړي، او دا چې یو شمیر پروګرامونه لدې کبله فسخه شوي چې قراردادي د ملګري بنسټ د قرارداد اړتیا نده پوره کړې، یا د ملګري بنسټ لخوا د همکارۍ نشتون و، دغو مسلو تر کومې کچې په افغانستان کې د USAID هڅې له خنډ سره مخامخ کوي؟ USAID بیا ته د دغو فسخه شویو قراردادونو په اړه هر اړخیز معلومات برابر کړي، چې سیګار یې اوس بیا کتنه ترسره کوي.

## د حقیقت پاڼه 14-49-SP: د افغانستان لپاره د امریکا بهرنیو چارو وزارت مرسته: له 2002 څخه تر 2013 پورې 4 میلیارده امریکایي ډالر مکلف شوي

د دې لپاره ترڅو په فعاله توګه نظارت ترسره شي او د سیګار د راپور ورکولو اړتیاوي پوره شي او په افغانستان کې د قراردادونو او بیارغونې فعالیتونو نظارت ترسره شي، سیګار د امریکا حکومت له ادارو څخه دا غوښتنه کړې چې چیرته او څرنګه د افغانستان بیارغونې لپاره د امریکا مرستې لګول شوي. دا راپور د امریکا بهرنیو چارو له وزارت څخه د ځواب تحلیل وړاندي کوي.

د سیګار لخوا د امریکا بهرنیو چارو وزارت د معلوماتو تحلیل په اساس، له 2002 مالي کال څخه د 2013 تر مارچ پورې، د امریکا بهرنیو چارو وزارت د افغانستان بیارغونې لپاره نږدې 4 میلیارده امریکایي ډالر مکلف کړي. د امریکا بهرنیو چارو وزارت دا مرستې د قراردادونو، نغدو پیسو،او دوو اړخیزو موافقو له لارې وړاندي کړي. د امریکا بهرنیو چارو وزارت د بیارغونې مرستو په لاسته راوړونکو کې انتفاعي، غیر انتفاعي بنسټونه، غیر حکومتي سازمانونه (NGOs)، او انفرادي کسان شامل دي.

د امریکا بهرنیو چارو وزارت 1,874 قراردادونه، نغدې پیسې، او دوه اړخیزې موافقې 771 سازمانونو او انفرادي کسانو ته وړاندي کړي. د دغو ټولو مرستو نږدې 90% د حکومتوالي او د قانون حاکمیت پروژو سکتور ته ورکړ شوي، چې پدې کې د سولې ساتنې نوښتونه او فعالیتونه شامل دي ترڅو د افغانستان ملي پولیسو او د افغانستان د قضا

سیستم جوړ کړي. د امریکا بهرنیو چارو وزارت د پروژو په نورو سکتورونو کې د ځمکې مینونو لرې کول، د کلتوري او مدني ټولنې فعالیتونو، روزنه، بشري مرسته، بشري حقونه، او اقتصادي پراختیا لپاره ملاتړ شامل دی.

د امریکا بهرنیو چارو وزارت د بیارغونې ټولو مرستو محاسبه شویو قراردادونو ارزښت نږدې 3.5 میلیاردو امریکایي ډالرو ته رسیږي. ټولې نغدې پیسې نږدې 350.7 میلیونه امریکایي ډالر محاسبه شوي. د افغانستان لپاره د امریکا بهرنیو چارو وزارت ټولي محاسبه شوي دوه اړخیزې موافقې 108.8 میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي.

د امریکا بهرنیو چارو وزارت د بیارغونې مرستو د ټولو قراردادون په اساس تر ټولو لوی لاسته راوړنکی د ډاین کور محدود المسولیت نړیوال شرکت (DynCorp) و. ډاین کور د نږدې 2.8 میلیاردو امریکایي ډالرو قراردادونه لاسته راوړي، چې دا د امریکا بهرنیو چارو وزات د ټولو قراردادونو 69% سره محاسبه کیږي. د ډاین کور ډیری قراردادونه د حکومتوالي او د قانون حاکمیت فعالیتونو لکه د افغانستان ملي پولیسو د روزنې او تجهیز کولو لپاره و. د ډاین کور په قراردادونو کې د پولیس روزنکي، د پولیسو د زیربنا ساختماني کارونه، د پولیسو تجهیزاتو او وسایطو برابرول شامل و. د PAE د حکومت خدماتو شرکت (PAE) د امریکا بهرنیو چارو وزارت د بیارغونې له ټولو قراردادونو څخه د قراردادونو دویمه زیاته شمیره لاسته راوړي، او د 598 میلیونو امریکایي ډالرو قراردادونه یې لاسته راوړي. د PAE په قراردادونو کې د قانون حاکمیت، پشمول د پولیسو روزنې، مخدره توکو په وړاندې مبارزې مشورې، او د قضا سکتور پراختیا شامل وې.

د 2002 مالي کال له پیل څخه د 2013 تر مارچ پورې له ټولو راپور ورکړ شویو قراردادونو څخه، ټاکل شوې د ټول ارزښت په اساس 98% ټول قراردادونه د 2013 کال په پای کې بشپړ شي. د 2014 د اپریل په 14، سیګار په افغانستان کې د بیارغونې د ادارې د لګښتونو په اړه د هغو معلوماتو چې د امریکا بهرنیو چارو وزارت لخوا برابرشوي د حقیقت پاڼې یو لنډ خپور کړی. راپور د حقوقي وسیلو، د پروژې ډول، اود پروژې د بشپړیدو دریځ په اساس معلومات تحلیل کړي.

## د معلوماتو مکتوب SP-50-14: د افغانستان ملي پولیسو لپاره د پیسو امتحاني پروګرام

د 2014 د اپریل په 16، سیګار په افغانستان کې د امریکا اردو قوماندان ته لیکلي ترڅو د افغانستان د کورنیو چارو وزارت د امتحاني پروګرام چې د ملي پولیسو د معاشونو تادیه کولو لپاره د ګرځنده پیسو له تیکنالوجي څخه کار اخلي، په اړه معلومات لاسته راوړي. د دغو معاشونو د تادیاتو یوه برخه د لتفا د وجهي صندق د مستقیمو مرستو له لارې د امریکا د مالیي ورکوونکو لخوا تمویلیږي. د اداري فساد د کمولو په ژمنو برسیره، له هغه وخت څخه دا امتحاني پروګرام توپیر لرونکې پایلې لري.

په 2009 کې تاسیس شوی، دا امتحاني پروګرام د اداري فساد په کمولو کې لمړنی بریاوې لري. په وروستیو کې د 2013 تر مارچ پورې، رسنیو راپور ورکړی چې د افغانستان پولیسو هغو افسرانو چې پدې امتحاني پروګرام کې برخه اخیستې فکر کوي چې هغوی 30% اضافي معاش لاسته راوړی دی ځکه چې منځګړو کسانو نشو کولای له مشروع معاشونو څخه نغدې پیسې ځانته واخلي. مګر، سیګار داسې معلومات بربنډ کړي چې د افغان پولیسو قوماندانانو د خپلو مادونانو پر ځای د تیلفون خپلې شمیرې ثبت کړي، او بیرته یې خپل پخواني کارونه پیل کړي او د انفرادي پولیس افسرانو له معاشونو څخه یوه برخه اخلي.

## د معلوماتو مکتوب SP-51-14: د امریکا کرنې وزارت سویا بین پروګرام

د 2014 د اپریل په 17، سیګار د امریکا د کرنې وزیر ته د امریکا د کرنې وزارت (USDA) لخوا په افغانستان کې د سویابین د کرنې او کټې اخیستنې د تمویل پروګرام د معلوماتو غوښتنې په اړه لیکلي. وروسته لدې چې د سیګار یوه کارکوونکي له مزارشریف څخه دباندې د USAD لخوا د سویابین د پروسس کولو له فابریکې څخه لیدنه وکړه، سیګار سره اندیښنه پیدا شوه چې د پروګرام مهمه برخه د دوام له زیاتو ننګونو سره مخاخه ده ځکه چې د پروسس کولو لپاره خام مواد نشته، تخنیکي مرسته اغیزمنه نده، او په افغانستان کې د سویابین محصولاتو لپاره سیمیزه غوښتنه نشته. سیګار د مشروعیت او دوې اړخیزې موافقې سندونو غوښتنه کړې، او د هغو پلانونو غوښتنه کړې چې USDA د پروګرام د بریا د ننګونو د حلولو لپاره تطبیق کړې دي.

## تحقیقونه

د راپور پدې دوره کې، د سیګار د روانو تحقیقاتو په نتیجه کې د امریکا شاوخوا 2.7 میلیونه ډالر خوندي شو. د سیګار تحقیقونه په امریکا کې د یوه نیولو، د یوه جرمي معلوماتو، د دوو اعترافونو موافقو، او د شپږو بندي کولو سبب شوي. په افغانستان کې، دوه وګړي په بند محکوم شوي او اته انفرادي کسان د اردو تاسیساتو له لاس رسي څخه منع شوي. جرمي جریمې، بیرته تادیات، او جریمې نږدې 4 میلیونو امریکایي ډالرو ته رسیږي. سیګار 60 نوي تحقیقونه پیل کړي او 40 یې تړلي، چې لدغو سره د ټولو روانو تحقیقونو شمیره 338 ته رسیږي، لکه څرنګه چې په 2.1 عکس کې ښودل شوي. پردې برسیره، د سیګار د تعلیق او بندیز پروګرام 16 انفرادي کسان او 15 شرکتونه د تعلیق او بندیز لپاره د هغو تورونو په اساس راجع کړي چې هغوی د یوه قرارداد دیوې برخې چې ارزښت یې نږدې 61 میلیونه امریکایي ډالرو، په تقلب او نه فعالیت کې لاس درلود.

## د تحقیق د پایلو له کبله د امریکا حکومت ته 2.5 میلیونه امریکایي ډالر سپمیدلي

سیګار د هغو تورونو په اړه تحقیق پیل کړی چې یوه افغان ترانسپورتي شرکت د کندهار محلي ترانزیت او فارورډینګ شرکت (KMT) د ترانسپورتي حرکت 51 غلطې غوښتنې (TMRs) د امریکا مرکزي قوماندانی ګډې ساحې قرارداد کولو ملاتړ قوماندانی (C-JTSCC) ته د افغانستان په کابل کې کمپ فینیکس ته وړاندې کړې. دې تحقیق دا پریکړه وکړه چې له 51 TMRs څخه 43 تقلبي و. د تحقیق په بهیر کې، C-JTSCC هغه 305 تر پوښتنې لاندې اضافي TMRs پیژندلي چې KMT وړاندې کړي. اضافي تحقیقي هڅو دا ښودلې چې لدغو څخه 262 هم تقلبي و.

د 2014 د فبروری په 17، د C-JTSCC قرارداد کولو عمومي مرکز (GSCC) کې د قرارداد کولو افسر د هغه مکتوب کاپي سیګار ته وړاندې کړې چې KTM یې له دریو اونیو تعلیق څخه خبر کړی. د ټولو تقلبي TMRs ارزښت چې له تادیاتو څخه ساتل شوي له 2.5 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات و، چې دا د امریکا حکومت لپاره ډیره سپما ده.

**جرمي معلومات:** یو لیکلی تور چې د عامه څارنوال لخوا کیږي، او پدې کې د قاضیانو ډله برخه نلري. د دې معلوماتو موخه دا ده چې مدعي علیه ته د وارد شوي تور په اړه او داچې کومې کړنې یا د تور ته لاره هواروي معلومات ورکوي، تر څو راتلونکې محکمې ته خپل ځان چمتو او بیا په ورته اتهام د تورن کیدو څخه ځان وژغوري.

سرچینه: د Black قانوني سیند ډکشنري.

شکل 2.1

**د SIGAR څېړنې: د پرانستو څېړنو شمېر 31 مارچ تر 2014**




سرچینه: د SIGAR د څېړنو ریاست، 4/9/2014.



د سیګار او د **USAID د عمومي مفتش څانګړو استازو**، د افغانستان ملي پولیسو په مرسته، په مزارشریف کې د تقلب په تورونو د USAID د قراردادي یو افغان کارکوونکي نیسي. (د سیګار انځور)

## د امریکا دوه پخواني عسکر د رشوت او د توطیې لپاره بندي شوي

د 2014 د فبرورۍ په 3، د امریکا د کالورادو د حوزې په محکمه کې، ستیفاني شاربانو په 87 میاشتو بند، دریو کلونو تر مدیریت لاندې آزادۍ، او د 1,225,000 امریکایي ډالرو جریمې باندې محکوم شو. سیګار هغه وخت دا تحقیق پیل کړ کله چې معلومات لاسته راغلل چې شاربانو، پرکمشر کرستوفر ویور، او جانسن هایټاور، یوه پخواني قراردادي، باندې تور و چې له یوه افغان وګړي سره یې توطیه کړې ترڅو د نغدو پیسو په بدل کې له پایګاه څخه تیل غلا کړي.

د سیګار استازو، د فیدرال د تحقیق بیرو (FBI)، د امریکا د اردو جرمي تحقیق قوماندانی (CID)، او د دفاع د جرمي تحقیق خدماتو (DCIS) د تلاشی یو حکم په کالوراردو کې د ویور او شاربانو په کورنو کې او په تکزاس کې د هایټاور په کور کې پلې کړ. د تلاشیو په وختونو کې، ویور، شاربانو او هایټاور ټولو منلي چې د افغان امریکن آرمي سرویسز له یوه افغان استازي سره یې د فینتي مخکنی عملیاتي پایګاه څخه د تیلو غلا کولو آسانتیا لپاره توطیه جوړه کړې.

ویور او هایټاور ویلې چې سرپرک مشر بلال عبدالله هم پدې توطیې کې لاس درلود. کله چې سیګار استازو د 2012 په جون کې ورسره مرکه وکړه، عبدالله منلي چې له افغان قراردادیانو څخه یې 50,000 امریکایي ډالر اخیستي. په پایله کې د عبدالله په وړاندې یو جرمي معلومات وړاندې شو او د 2014 د مارچ په 13، هغه د 12 میاشتو او یوه ورځ بند، دوو کلونو تر مدیریت لاندې آزادۍ، او د 466,250 امریکایي ډالرو جریمې باندې محکوم شو.

ویور او هایټاور له پخوا پدې توطیې کې د خپلې ونډې لپاره محاکمه شوي دي.

## د غزني د مخکنیو عملیاتو له پایګاه څخه دوه محاکمه شوي

د 2014 د مارچ په 4، د افغانستان د غزني په ولایت کې د لوی څارنوال له دفتر څخه، څارنوال رشید، سیګار ته خبر ورکړ چې د 2014 د فبروری په 3، د غزني عامه امنیت څانګې دوه افغان لاری ډریوران، خیرالله او یار محمد د غلا په تور محاکمه کړل او دواړه یې د وو کلونو لپاره بندي کړل او 500 امریکایي ډالر یې جریمه کړل.

د سیګار تحقیق د 2013 د دسمبر په 9 پل شو. د امریکا یو عسکر چې په پایګاه کې د تیلو خالي کولو لپاره ګمارل شوی و د سیګار استازي ته خبر ورکړی چې یوه افغان ډریور چې د دینز لوژستیک او ترانسپورت شرکت استازیتوب کوي ده ته یې د هغه په ټانکر کې د تیلو پریښودلو په وړاندې د نغدو پیسو وړاندیز کړی دی. سیګار فوراً د غزني له څارنوال سره اړیکه ونیوله او وړاندیز یې وکړ چې یو بیړنی عملیات باید ترسره شي. څارنوال او عکسر پدې موافقه وکړه ترڅو په هغه عملیات کې برخه واخیستله چې د ټانکر د ډریور نیولو سبب شو.

## سیګار د کندهار په هوایي ډګر کې د انسانانو قاچاق کولو مخه نیولې

پدې ربع کې سیګار د کندهار په هوایي ډګر (KAF) کې د انسانانو قاچاق کولو طریقې مخه نیولې. تحقیق هغه وخت پیل شو کله چې د سیګار ځانګړې استازي د 2014 په جنوری کې د RONCO په دفتر کې، په یوې غونډې کې برخه واخیستله، دا هغه شرکت دی چې د کندهار په هوایي ډګر کې د ټولو قراردادیانو د ننوتلو او وتلو مرکې ترسره کولو لپاره استخدام شوی. پدغه غونډه کې، یوه سریلانکایي چې د کندهار په هوایي ډګر کې یې د یوه کاناډایي شرکت چې په افغانستان کې د مسافرینو او کارګو ترانسپورت کولو کې تخصص درلود، کار کاوو، RONCO ته وویل چې د هغه آمر له هغه څخه د کار د مرکې په وخت کې د 600 امریکایي ډالرو غوښتنه کړې. آمر سریلانکایي ته خبر ورکړ چې دې پیسو ته اړتیا ده ترڅو افغانستان ته د هغه د سفر لپاره شرکت ته بیرته پیسې ورکړ شي.

د 2014 د مارچ په 1، سیګار له سریلانکایي کارکوونکي سره مرکه وکړه، هغه دا منلي چې خپل امر ته یې 600 امریکایي ډالر ورکړي. د مرکې په وخت کې، هغه نور سریلانکایي کارکوونکي هم ښودلي چې کاناډایي شرکت لخوا استخدام شوي و او هغو هم ورته پیسې ورکړي، لکه څنګه چې د اداري غوښتنه وه. د 2014 د مارچ په 20، سیګار له شپږو نورو سریلانکایایی نارینوو سره چې د شرکت لخوا استخدام شوي و مرکې وکړې او دایې تایید کړل چې له شپږو څخه څلورو خپل آمر ته له خپلو لمړنیو معاشونو څخه پیسې ورکړې.

د سیګار استازو بیا له آمر سره مرکه وکړه، او هغه ومنل چې خپل کارکوونکي یې اړ کړي ترڅو هغه ته پیسې ورکړي. سیګار دغه معلومات د شرکت ریس ته ورکړل، هغه وویل چې هغه په ډیر ژر د دې کارکوونکي دنده ختمه کړي او هغه به خپل هیواد ته ولیږي. پردې برسیره، شرکت موافقه وکړه ترڅو کارکوونکو هغه پیسې بیرته ورکړي چې هغوی آمر ته ورکړي وي. آمر د 2014 د مارچ په 31، اردو ته د بندیز لپاره راجع شو.



**د 2014 په مارچ کې، افغانستان ته د یوه سفر** په ترڅ کې، ځانګړي عمومي مفتش ساپکو ځانګړي استازي داني مین ته د تقاعد اعتبار لیک وړاندې کړ. (د الیزابیت فولکنر لخوا د سیگار عکس)

## د تینسي یوه جوړه د تقلب ترسره کولو لپاره د یوې توطیې لپاره بندی شول

د 2014 د مارچ په 14، د امریکا د ویرجینیا د ختیځې حوزې په محکمه کې، کیت او انجیلا جانسن د بریښنایي تقلب ترسره کولو د توطیې لپاره بندی شول، هغوی غوښتل ترڅو د اردو له فرعي قراردادونو څخه له 10 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات د رشوتونو او نورو نومونو کار اخیستلو له لارې واخلي. کیت جانسن د 30 میاشتو په بند، دوو کلونو مدیرت شوي آزادی، او د 2 میلیونو امریکایي ډالرو په جریمې محکوم شو، چې له خپلې میرمنې سره یې باید په ګډه تادیه کړي، میرمنه یې د شپږو میاشتو په بند او دوو کلونو په مدیریت شوي آزادی محکوم شوه.

سیگار، DCIS، FBI، او د اردو CID وروسته لدې تحقیق پیل کړ کله چې د اردو CID دا تور پورې کړ چې کیت جانسن، د امریکا یوه قراردادي لپاره د پروګرام مدیر، او د هغه د کورنی غړو د قراردادونو مواد ګرځول او د قراردادونو په داوطلبیو کې یې د یوه شرکت په ګټه لاسوهنه کوله چې ملکیت او اداره یې انجیلا جانسن او د کورنی بل غړي درلوده. کیت جانسن او د هغه میرمن یو جلا شرکت تاسیس کړ او بیایې خپله میرمن د پلورلو مدیر په توګه وټاکله. د جانسن کورنۍ خپلوانو نور شرکتونه جوړ کړ تر څو په داوطلبۍ کې برخه واخلي او کیت جانسن ته دا موقه برابره شي چې قرارداد خپل شرکت ته ورکړي. دا شرکتونه بیا د قرارداد په بدل کې د یو شیل کمپنۍ له لارې چې د جانسن د خپلوانو په نوم و، ده ته رشوتونه لیږل. د تینسي جوړې بیا د دغو پیسو له یوې برخې څخه د قیمتي شیانو اخیستلو لپاره پشمول د قیمتي موټرونو او ګینو کار اخیستی.

جان آیزنر او جیري کیفر، د توطیې ده شریکان چې پدې توطیې کې یې لاس درلود، په خپل جرم اعتراف کړی او په 2013 په بند محکوم شول.

کیت جانسن، انجیلاجانسن، او د هغوی دوه شرکتونه د 2014 د جنوری په 8، د تعلیق لپاره راجع شول، او د 2014 د فبروری په 24، په ټولو باندې د اتو کلونو لپاره بندیز وضع شو. کیفر د 2014 د جنوری په 8، د بندیز لپاره راجع شو، او د 2014 د فبروری په 20، په هغه باندې د شپږو کلونو بندیز وضع شو. آیزنر او د هغه شرکت د 2014 د جنوری په 8 د بندیز لپاره راجع شول، او د 2014 د مارچ په 6، په هغوی باندې د شپږو کلونو بندیز وضع شو.

## د امریکا اردو یو پرکمشر د توطیې او غلا لپاره بندي شوی

د 2014 د مارچ په 7، د شمالي کارولینا په ختیځې حوزه کې د امریکا اردو، یو پخوانی سرپرکمشر، موریسیو ایسپینوزا، ته امر وشو ترڅو د فیدرال په بندي خانه کې 51 میاشتي بند تیر کړي، او بیا وروسته دریو کلونو تر مدیریت لاندې په ضمانت وخت تیری کړي، او 114,034 امریکایي ډالر جریمه تادیه کړي. د اسپینوزا د نیولو لپاره د فیدرال محکمې حکم صادر شو وو ځکه چې هغه ونشو کولای د 2014 د جنوری د بند په محاکمه کولو کې د شمالي کارولینا د ختیځې حوزې به محکمه کې حاضر شي.

د سیگار یو نوښت ترڅو په افغانستان کې د میشتو ځواکونو لخوا د پوستې له لارې د پیسو لیږلو بیاکتنه او تحلیل ترسره کړي، موندلي دي چې ایسپینوزا او سرپرکمشر فیلیت ووتن د پیسو په شکمنو معاملو کې لاس لري. دواړو کسان د شمالي کارولینا، د فورت برګ د 7 ډلې ځانګړو ځواکونو ته ګمارل شوي و، کله چې هغوی نږدې 225,000 امریکایي ډالر د امریکا مرستې چې د بیارغونې هڅو لپاره ټاکل شوې وې، غلا کړې. اسپینوزا د پیسو تادیاتو استازې په توګه

افغانستان ته لیږل شوی و، پداسې حال کې چې ووتن له سیمیزو قراردادیانو سره د قرارداد کولو مسولیت درلود. د 2009 د جولای او 2010 د اپریل ترمنځ، دواړو توطیه جوړه کړه ترڅو د افغانستان قراردادیانو لپاره مرستې غلا کړي، او د تادیاتو رسیدونو کې لاسوهنه کړي وه ترڅو توطیه پټه کړي. په ځینو بیلګو کې، د مالي دفتر تایید لپاره هغوی د ملکي کارونو پروژو لپاره لوړې داوطلبی وړاندې کړې وې، بیا یې قراردادیانو ته تر تایید شویو پیسو کم تادیه کړې او پاته یې پخپلو جیبونو کې اچولې. هغوی پیسې په امریکایي ډالرو بدلې کړې او ځینې پیسې یې بیرته د پوستې له لارې امریکا ته لیږلې. ووتن په بند محکوم شوی او اوس د خپل بند موده تیروي.

## د امریکا اردو یوه پرکمشر په جرم اعتراف کړی

د 2014 دفبروری په 19، پرکمشر البرت کیلي III د کنتکي له فورت ناکس څخه، د حکومت د ملکیت د غلا او د سلیرنو په مخکنی پایګاه کې د تیلو په غلا کې د مرستې او هڅولو د تورونو په جرم باندې اعتراف کړی. د 2013 د نومبر په 11، د کیلي په وړاندې جرمي معلومات وړاندې شوي.

د 2011 له نومبر څخه د 2012 تر جنورۍ پورې، کیلي د سلیرنو له مخکنی پایګاه څخه بله موقعیت ته د تیلو د ټانکرونو وړلو ته اجازه ورکړې، چیرته چې ټانکرونه خالي کیدل او تیل یې غلا کیدل. د ټانکرونو بل ځای وړلو د پټولو لپاره، کیلي په غلطه توګه تایید کړې چې هغه تیل چې بل ځای ته وړل شوي په حقیقت کې د سلیرنو مخکنی پایګاه ته وړل شوي او خالي شوي. د تیلو د غلا د مرستې او د نږدې 25,000 ګیلنو تیلو بل ځای ته وړلو په بدل کې، کیلي د افغانستان له یوه ترانسپورتي شرکت څخه نږدې 57,000 امریکایي ډالر لاسته راوړي. د حکومت لپاره ټولې ورکې پیسې نږدې 100,000 امریکایي ډالرو وو.

## تحقیق د امریکا حکومت لپاره له 150,000 امریکایي ډالرو څخه زیات سپمولي

سیګار یو تحقیق پیل کړ چې د امریکا حکومت لپاره یې 156,669 امریکایی ډالرو وروسته لدې سپمولي چې په افغانستان کې په کمپ فینیکس کې د قرارداد کولو یوه افسر لیدلي چې 45 TMRs تقلبي ښکاري. CSCC ،C-JTSCC قضیه سیګار ته راجع کړې. د TMRs بیاکتنې ثابته کړه چې هغه ټول تولید شوي او د رحمت صدیقي ترانسپورتي شرکت (RSTC) لخوا وړاندې شوي او هر یوه TMRs ته له پاملرنې وړاندې پیسې تادیه شوي دي. کله چې د تحقیق د موندونو په اړه خبر ورکړ شو، CSCC د زیاتو پیسو د بیرته تادیه کولو غوښتنې یو مکتوب RSTC ته وړاندې کړ. د 2014 د جنوری په 14، DFAS دا تایید کړه چې د RSTC د قرارداد په اساس د اضافي تادیاتو بیرته غوښتنې مکتوب وړاندې شوی ترڅو له شرکت څخه د 156,669 امریکایي ډالره پور واخیستل شي.

## تحقیق غلط TMRs پیدا کړي

سیګار یو تحقیق وروسته لدې پیل کړ کله چې د قرارداد کولو یوه افسر تور پورې کړ چې د ترانسپورت یوه شرکت، سپید لاین هنډلینګ او لوژستیک (SHL) د افغانستان په کابل کې، په کمپ فینیکس کې C-JSCC ته غلط TMRs وړاندې کړي دي. د تحقیق هڅو ثابته کړه چې د SHL پنځه TMRs تقلبي و. سیګار د قرارداد کولو افسر ته خبر ورکړ، هغه په یوه مکتوب کې اشاره کړې چې د ټولو TMRs لپاره یې د پیسو تادیات ځنډولي. د تحقیق په پایله کې د لګښت 30,887 امریکایي ډالر سپمیدلي.

## د امریکا بهرنیو چارو وزارت قراردادي بندي شو

د 2014 د جنورۍ په 14، د امریکا د دیلاویر د حوزې په محکمه کې کینیت بروفي د یوه کال لپاره د غیر مدیریت د ضمانت په بند محکوم شو، 3,000 امریکایی ډالر جریمه شو، او 30,000 امریکایي ډالر ضبط شو. د 2013 په سپتمبر کې، محکمې د عامه چارواکې لخوا د غیر قانوني پیسو اخیستلو په تور، په جرم باندې د بروفي اعتراف منلی. د 2014 د مارچ په 25، د امریکا بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش (OIG) د تحقیق دفتر، سیګار ته د بهرنیو چارو وزارت مکتوب یوه کاپي ورکړي چې نیته یې د 2014 د مارچ 24 وه، چې بروفي یې د قراردادي یا فرعي قراردادي په توګه د امریکا حکومت سره له قرارداد کولو یا مرسته کولو څخه د درېو کلونو لپاره د 2014 د جنورۍ په 27 منع کړی.

وروسته لدې چې د بروفي، په 2009 کې د امریکا د کابل په سفارت کې د INL لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د قرارداد یوه کارکوونکي په اړه یې تورونه لاسته رواړل، سیګار له FBI او د امریکا بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش له دفتر سره یو تحقیق پیل کړ، بروفي رشوت منلی او د خپل کار په اړوند یې په اداري فساد کې برخه اخیستې ده. د 2013 په اپریل 2، په بروفي باندې درې تورونه لګول شوي، په هغه باندې دا تورونه، د توطبې، د عامه چارواکي په توګه د غیر قانوني پیسو اخیستلو، او په قصدي توګه د USACE په وړاندې د یوې دعوا د محاکمې د مرستې غور لپاره د یوه لوړ پوړي چارواکي لخوا د غیر قانوني پیسو لاسته راوړلو په اړه و. په INL کې، بروفي د افغانستان د پولیسو د تاسیساتو د ساختماني کارونو، پشمول د یوه افغان قراردادي لخوا د څرخې پله د زندان د بیارغونې د قراردادونو مدیریت کړی دی. قراردادي بروفي ته 30,000 امریکایي ډالر ورکړي ترڅو له قراردادي څخه ملاتړ وکړي او USACE د دغه افغان شرکت قرارداد بیرته ورکړي چې پخوا د ښه فعالیت نه کولو له کبله فسخه شوی و. بروفي د یاد افغاني شرکت سره USACE ته د سپارلو څخه وړاندې د اسنادو په جوړولو کې مرسته وکړه، افغان شرکت ته یې د USACE سره د غږیدو لپاره ځینې مشورې ورکړې، او په شخصي توګه یې د USACE یو چارواکي سره خبرې وکړې تر څو دغه قرارداد بیاپرانیزي.

## په افغانستان کې د امریکا د اردو له تاسیساتو څخه یو قراردادي منع شوی

د سیګار یوې پلټنې وموندل چې جیمز ادریج، د فرنیج ستراتیژیک پارټنرز (FSP) د معاون ریس، له خپل فرعي قراردادي، اتحاد حمیدي ګروپ شرکتونو (اتحاد) څخه 100,000 امریکایي ډالرو پور منلی. فرعي قراردادي د پور لمړی برخه 30,000 امریکایي ډالر نغدې پیسې ایدریج ته ورکړي. اتحاد پاتې 70,000 امریکایي ډالر پور د FSP لپاره د شرکت د فرعي کار له کبله وګرځولي. اتحاد بیا وروسته وړاندیز کړی ترڅو د FSP 40,000 امریکایي ډالرو پور وبښي او د دې بدل کې اتحاد د هیواد د پنځه دریمې ملي نشانونو غوښتنه کړې چې دا به د اتحاد کارکوونکو ته اجازه ورکړي ترڅو د کندهار هوایي ډګر ته ننوځي ترڅو د FSP او اتحاد ترمنځ د فرعي قرارداد له ساحې څخه دباندې د اتحاد لپاره کار پیدا کړي. سیګار د دغې قضیې په اړه د کندهار هوایي ډګر ګارنیزیون د قوماندان معاون ته معلومات ورکړل. هغه بیا ادریج په افغانستان کې د امریکا د عملیاتو د ګډو ساحو د ټولو تاسیساتو لاس رسي څخه منع کړ ځکه چې له غیرمناسبو نشانونو سره د انفرادي کسانو شتون به د امریکا ځواکونه له خطر سره مخامخ کړي و.

## په افغانستان کې د امريکا اردو له تاسيساتو د اردو له تاسيساتو څخه يو قراردادي منع شوی

د 2014 د فبروری په 5، 831 ترانسپورتي کنډک د بګرام په هوايي ډګر کې د سيګار دفتر ته خبر ورکړ چې د ATC لوژستيک ترانسپورتي شرکت څلور پيکپونه د بګرام هوايي ډګر په دروازه کې د ننوتلو د کنترول په ساحه کې د اجازې لپاره ولاړ دي. د ننوتلو د کنترول په ساحه کې عسکرانو په سندونو کې د نومونو او د څلورو پيکپونو د ډريورانو د نومونو ترمنځ توپيرونه موندلي و.

وروسته بيا، د سيګار ځانګړي استازي له څلورو ډريورانو سره مرکه وکړه. هر ډريور وويل چې هغوی د تيرو ډريوران پر ځای استخدام شوي ځکه چې اصلي ډريور په تور لست کې نيول شوی و او پايګاه ته له ننوتلو څخه منع و. د مرکې په بشپړيدو سره، ځانګړي استازي يوه غوښتنه وړاندې کړه ترڅو څلور ډريوران په افغانستان کې د امريکا له هر يوه تاسيساتو څخه منع شي. تورن سيفن برايدي، د CJTF-10 د ادارِي قانون رييس، غوښتنه ومنله.

## تعليق او بنديز

پدې ربع کې د سيګار تعليقونو او بنديز پروګرام 16 انفرادي کسان او 15 شرکتونه تعليق يا بنديز ته د هغو شواهدو په اساس راجع کړي چې سيګار په افغانستان او امريکا کې د تحقيقونو ترسره کولو برخې په ترڅ کې ټول کړي دي. د دغه 31 قرارداد کونکو څخه، 14 کسان او 15 شرکتونه د چل ول او بد چلندۍ د تورونو په اساس چې د 60,512,177 ډالرو په ارزښت يې په قراردادونو کې د ځان څخه ښودلي، مخنيونې ته راجع شوي دي. له 2008 څخه لدغو راجع کيدلو سره د ټولو راجع شويو انفرادي کسانو او شرکتونو شميره 433 ته رسيږي، چې تر اوسه 230 انفرادي کسان او 203 شرکتونه دي، لکه څرنګه چې په شکل 2.2 راتلونکې پاڼه کې ښودل شوي.

د 2014 کال د مارچ تر پايه پورې، د سيګار د تعليق او مخنيونې هڅې په افغانستان کې د درغلۍ، اداري فساد او کمزورى کارکولو په بررسي کې د 72 کسانو او شرکتونو د تعليق او د 154 کسانو او شرکتونو د نهايي مخنيونې لامل شوي دي. البته دا هغه کسان او شرکتونه دي چې د امريکا په مرسته بيارغونيزو پروژو په کارونو کې بوخت دي. اوو اضافي انفرادي کسانو او شرکتونو له قرارداد کولو څخه د منع کيدلو لپاره د امريکا له حکومت سره د اداري اطاعت موافقې کړي دي.

يوزاي بامسوليته اداراتو د قراردادو د ورکولو په هدف د دندو څخه ممانعت او د هغه تعليق يو مهم اصل دي. د سيګار پروګرام په افغانستان کې د امريکا د پاليسی او بيړني قرارداد کولو د چاپيريال په وړاندې د ننګونو لپاره د حل لار پيدا کوي: د ډير ژر عمل کولو لپاره اړتيا، په افغان وګړو او افغان شرکتونو باندې د امريکا محدود قانوني صلاحيت، او هغه ننګونې چې له ډيرو زياتو فرعي قراردادیانو څخه د کار اخيستنې د ارزونې په اړه دي. سيګار په افغانستان او متحده ايالاتو کې د معلوماتي سرچينو او څيړنيزو شتمنيو ابتکاري کارونې له لارې هڅه کوي څو د دې ننګونو په وړاندې د حکومت غبرګونونو ته وده ورکړي.

سيګار د خپلو بشپړو څيړنو په اساس د متحده ايالاتو ادارو ته د شرکتونو يا انفرادي کسانو د تعليق يا مخنيونې — هغه اقدامات چې د امريکايي ادارو لخوا ترسره کيږي تر

2.2 شکل

**د SIGAR څېړنې: د شک او خنډ په خاطر ټولې لېږل شوې، مالي کال 3 2011 مه درې میاشتنی – مالي کال 2 2014 له درې میاشتنی**




سرچینه: د SIGAR د څېړنو ریاست، 4/9/2014.

څو هغه افراد او شرکتونه فیدرالي قراردادونه ترلاسه نکړي چې په بدچلندۍ پیژندل شویدي — وړاندیز کوي. په اکثرو پیښو کې، سیګار خپله مراجعه هغه وخت وړاندې کوي چې قرارداد کونکی دفتر د تور د څارنوالي تعقیب یا اصلاحي ګام لپاره کوم اقدام ونکړي، بناء د سیګار دغه کار د قرارداد کونکی د بدچلندۍ د بررسي لپاره لومړی غبرګون دی. سیګار د مراجعې پرمهال، ادارو ته د تعلیق او مخنیونې د پریکړې اساس چمتو کوي او همدارنګه ټول هغه مرستندویه اسناد ادارې ته سپاري چې کیدای شي د قرارداد کونکي لخوا د پریکړې نه منلو په صورت کې وښودل شي. په افغانستان کې د قرارداد کولو د چاپیریال بدلیدونکی ماهیت او د قراردادي خراب چلند شواهد، او/یا کمزوري فعالیت شتون په اساس، ځینې وختونه سیګار دا ضروري ګڼلې ترڅو انفرادي کسان یا شرکتونه ډیری وختونه د ادارو د تعلیق او بندیز چارواکو غور لپاره راجع کړي.

په تعلیق او بندیز باندې د سیګار ټینګار د هغې بیلګې حقیقت دی چې دې ادارې تر اوسه د تعلیق او بندیز 433 راجع کیدل ترسره کړي، او 406 د 2011 له دویم ربع څخه شوي دي. د 2014 له اپریل څخه د وړاندې 12 میاشتو په ترڅ کې، د سیګار د تعلیق او بندیز هڅې د ادارې د تعلیق او بندیز د چارواکو د عملي ګامونو سبب شوي ترڅو 125 انفرادي کسان او شرکتونه د امریکا له حکومت سره له قرارداد کولو څخه منع کړي. پدغه موده کې د سیګار راجع کول د 563,621,648 میلیونو امریکایي ډالرو بیارغونې قرارداد کولو برخې څخه د غلا، تقلب، کمزوري فعالیت، یاغیانو ته مالي ملاتړ او خرابې ادارې تورونو استازیتوب کوي.

### د میسوپټومیا ډلې بندیز

د امریکا د ا ردو د قرارداد له برخې څخه ترڅو د افغانستان ملي اردو د روغتونونو لپاره د روغتیایي تجهیزاتو لپاره ساتنه برابره کړي، د نږدې 5,000,000 امریکایي ډالرو د غلطې ادعا له کبله، د سیګار د تعلیق او بندیز د هڅو په پایله کې د میسوپټومیا د ډلې، جان دوکینز، کندیس بولویر، او جیفري نوردلو باندې بندیز وضع شو. د سیګار تحقیق موندلې چې د میسوپټومیا ډلې غیر مناسب روزل شوي کارکوونکي، تر ستندرد ټیټ د تجهیزاتو ترمیم، او د سندونو د ساتنې بشپړ نه پاملرنه وړاندې کړې، چې دا ټول د قرارداد له شرطونو سره څخه سرغړونې وې. د فعالیت دغه نه ترسره کول د داود خان د اردو په روغتون کې لیدل شوي چې کارکوونکو نشو کولای ترڅو په کابل کې په یوه سرویس کې د 2007 د اکتوبر د ځانمرګي حملې له کبله په روغتون کې له قربانیانو سره مرسته وکړي او د ساورکولو له ماشین څخه کار واخلي، چې د دې حملې په پایله کې 13 افغان شهیدان شول او دویمه پېښه د ملي اردو د هرات په ولایتي روغتون کې وه چیرته چې د سایستلو ماشین به غیر مناسبه توګه نصب شوي یوه تنظیم کوونکې د ماشین کار له خنډ سره مخامخ کړ، او دا کار د یوه افغان عسکر د شهادت سبب شو. د میسوپټومیا ګروپ په ورته پېښو کې، خپل کار کونکو ته د داسې امکاناتو د چمتو کولو څخه انکار وکړ چې په مرسته یې د منځته شوي ستونزو بررسي ترسره کړي. همدارنګه یاد شرکت پرته له دې چې پېښ شوې ستونزې او داچې آیا کار دقرارداد د شرایطو سره سم وړاندې شوي که نه، په پام کې ونیسي، د بشپړ قرارداد د لګښت غوښتنه یې وکړه. د سیګار د راجع کولو د تورونو په اساس، د 2013 د می په 7، اردو د میسوپټومیا د ډلې، جان دوکینز، کندیس بولویر، او جیفري نوردلو د بندیز وړاندیز وکړ. د دغه بندیز د وړاندیز په ځواب کې د معلوماتو له وړاندې کولو وروسته، اردو د 2014 د فبروری په 20 پریکړه وکړه، چې د پای بندیز د حکومت په ښه ګټه دی. په پایله کې، ټول کسان د دریو کلونو لپاره له حکومت سره له قرارداد کولو منع شول، چې د 2016 د می په 7 به پای ته ورسیږي.

## د سیګار نور فعالیتونه

### سیګار د عامه پالیسي ډلې او تخصصي ټولنو په وړاندې خبرې کوي

د راپور ورکولو پدغه وخت کې، ځانګړي عمومي مفتش ساپکو له اتلانتیک شورا سره د سیګار د کار په اړه خبرې وکړي، دا د امریکا او اروپايي ملګرو؛ د تخصصي خدماتو شورا، د حکومت د تخصصی او تخنیکي خدماتو صنعت د ملي سوداګرۍ ټولنې، او د ملي پولیسو قوماندانانو ټولنې د خبرو لپاره یوه خپلواکه ټولنه ده.

د 2014 د مارچ په 20، ساپکو د اتلانتیک شورا ته وویل چې په افغانستان کې له کمولو پرته اداري فساد دوام ته اجازه ورکول کیدای شي هغه څه چې امریکا په 12 کالو بیارغونه کې لاسته راوړي له خنډ سره مخامخ کړي. عمومي مفتش وویل چې سیګار د اداري فساد لپاره د حل لارې د اړتیا لپاره د یوې اوږدې لپاره د خطر زنګ وهي. هغه وویل چې د سیګار پلټنو په اساس د امریکا اردو مطالعې درې نظرونه وړاندې کړي. لمړی، په افغانستان کې د امریکا لمړنی ستراتیژي نه یوازې ناکامه شوې ترڅو د اداري فساد

اهميت وپېژني، بلکه کيدای شی داسي يوه سياسي چاپيريال ته يې وده ورکړې وي چې له اداري فساد سره مرسته وکړي. دويم، د اردو او مرستو ډېرو زياتو پيسو لګښت د افغانستان حکومت وړتيا تر اغيز لاندي راوړي ترڅو دا مرسته جذب کړي. دريم، د اداري فساد په وړاندي د يوې هر اړخيزي او همغږې شوې ستراتيژي نشتون د امريکا د فساد پر وړاندې هڅو اغيز يې کم کړی.

ساپکو اضافه کړي او وايي چې په افغانستان کې د نوي حکومت له راتلو سره، نړيواله ټولنه دا فرصت لري ترڅو له اداري فساد سره مبارزه وکړي. که امريکا او ملګرې يې سم کار ترسره کړي، هغوی کولای شي د راتلونکو بېړنيو عملياتو لپاره يو ماډل جوړ کړي او د افغانستان له خلکو سره مرسته وکړي يو هيواد جوړ کړي ترڅو په يوه بل ناکامه جرمي او د تروريستانو لپاره د خوندي ځای په هيواد بدل نشي.

د 2014 د فبروری په 18، ساپکو د تخصصي خدماتو د شورا د غرمې په ميلمستيا کې خبري وکړي. هغه دې ډلې ته وويل چې وروسته لدې چې د قرارداد کولو ټولنې په افغانستان کې د امريکا له قرارداديانو څخه د غير قانوني مالي اخيستلو انديښنې راپورته کړې، سيګار يوه پلټنه ترسره کړه او سپارښتنه يې وکړه ترڅو د امريکا حکومت د هغو قراردادیانو لپاره چې په افغانستان کې د امريکا له هڅو څخه ملاتړ کوي د مناسبې مالي لپاره يو دوامداره وضعيت غوره کړي. سيګار کانګرس هم هڅولی ترڅو د امريکا له ادارو سره د خپلو موافقو د سرغړونو له کبله د افغانستان له حکومت څخه اخيستل شوي مالي بيرته تاديات لاسته راوړي. کانګرس بيا يو قانون تاييد کړی چې د امريکا له دفاع وزارت څخه غواړي ترڅو د افغانستان لپاره مرسته په هغه اندازه وساتي چې د امريکا دفاع وزارت له مرستو څخه ماليه اخيستل شوې. ساپکو د قرارداد کولو له ټولنې څخه غوښتنه کړې ترڅو د بيارغونې د برياوو، په هيواد کې د ننګونو، او د راتلونکو بيارغونې هڅو لپاره د احتمالي پرمختګونو په اړه سيګار ته خبر ورکړي.

د 2014 د جنوری په 23، د پوليسو قوماندانانو په ملي ټولنه کې، ساپکو د سيګار د تحقيقونو رياست په اړه توضيحات ورکړل او له قوماندانانو څخه يې غوښتنه وکړه ترڅو له سيګار سره ملګرتيا تاسيس کړي. هغه وويل چې د قانون پلې کولو ډېری افسران اوس په ملي ګارډ يا احتياط کې دي يا پخوا په اردو کې و. ډېريو په افغانستان کې خدمت کړی، او بعضې شيان يې ليدلی يا کيدای شي معلومات ولري چې کيدای شي د امريکا د ماليه ورکونوکو دمرستو د تقلب، ضايعاتو، او ناوړې ګټې اخيستلو سره د سيګار په مبارزه کې مرسته وکړي. "دلته نن زما هيله،" ساپکو وويل "دا ده چې مونږ وکولای شو ملګرتياوو ته وده ورکړو چې پخوا تاسيس شوي، او نوي جوړي کړو، په ځانګړې توګه ستاسو له غيرتي همکارانو سره هغو کسانو چې خپل هيواد ته يې خدمت کړی، او هغوی کولای شي د امريکا او زمونږ د بيارغونې د هڅو په وړاندي له جرمونو سره مبارزه وکړي."

## سيګار د ناټو کنفرانس ته بيانيه ورکوي

د 2014 د فبروری په 25 او 26، د شمالي اتلانتيک تړون سازمان (NATO) په غوښتنه، د مانز په بلجيم، د اروپا د متحدينو هيوادونو په عالي قرارګاه کې، سيګار د ودانی د اعتبار روزنې او روزنې دسپلين په کنفرانس کې برخه واخيستله. دغه کنفرانس، چې کوربتوب يې د ناټو سياسي چارو او سياسي پاليسي ځانګې درلود، پدې اړه و ترڅو د شفافيت، حساب

ورکولو، او اعتبار ځواکمن کولو لپاره د ناټو لوست او روزنې اړتیاوې زیاتې کړې، ترڅو د دفاع او امنیت په سکتور کې د اداري فساد خطر کم کړي. د کنفرانس برخه اخیستونکو له 20 هیوادونو څخه د زیاتو، پشمول د ناټو غړو ملکې او اردو کارکوونکو؛ د ګرجستان، مالدووا، سربیا، سویډن، او یوکراین؛ له یوځای کیدلو څخه د ناټو نړیوالو کارکوونکو، ملګرتیاوو، او همکاریو ریاستونو؛ نړیوالو استازو لکه د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو دفتر (UNODC) او د اروپا د امنیت او همکاری سازمان (OSCE)؛ او دریمګړو سازمانونو لکه د انګلستان د دفاع اکادمي، د امریکا د بهري لوړو زده کړو مکتب، او د افغانستان او کولمبیا د دفاع وزارتونو استازیتوب کاوو.

د ځانګړې عمومي مفتش معاون، جین الویس د افغانستان په بیارغونه کې د "زده شویو لوستونو" په اړه یوه موضوع کنفرانس ته وړاندې کړه. ناټو او غړي یې په ځانګړې توګه د سیګار د لید په اړه لیواله دي چې د یوواړې هغه برخه اخیستونکي سازمان په توګه چې د یوې کاري ډلې د اعتبار د جوړولو لپاره کار کوي، او ځانګړی ماموریت لري ترڅو په افغانستان کې د ناټو لخوا ملاتړ شوي د بیارغونې عملیاتو شفافیت او حساب ورکولو ته وده ورکړي. پداسې حال کې د سیګار هڅې روانې دي، الویس ځینې پراخو مسلو ته اشاره وکړه. لمړی، هغه وویل چې زیاتې پیسې پدې معنی نده چې ښې پایلې ولري. د مرستندویانو په نړیوالې ټولنې کې ډیریو سیګار ته ویلي دي چې ډیره زیاته بهرنی مرسته ډیر ژر افغانستان ته راغلي، په حقیقت کې، ځینو متخصصینو نظر ورکړی دی چې



**د سیګار برخه اخیستونکي** د کنفرانس له نورو برخه اخیستونکو سره د 20 هیوادونو د ناټو د فبروری په کنفرانس کی یوځای شوي. (د سیګار انځور)

افغانستان ته د نړیوالو مرستندویانو ډېرې زیاتې مرستې لېږل، د اداري فساد په ډېریدو کې برخه اخیستې ده. دویم، نظارت باید د پالیسي لمړیتوب وي د حکومت د لوړ پوړو چارواکو لخوا ملاتړ اړین دی ترڅو دا وکتل شي چې نړیواله ټولنه له پیل څخه د بیارغونې په هڅو کې شفافیت او حساب ورکولو ته دوام ورکړي، او نه دا چې پیسې د پیسو له لګولو وروسته دا کار وشي. دریم، نړیوال مرستندویان اړتیا لري ترڅو په ښه توګه پدې پوه شي چې په یوه کوربه هیواد کې د اداري فساد او ملاتړ شبکې په څه ډول کار کوي، او دننه او دباندې د پیسو په بهیر پوه شي، ترڅو مرستندویان وکولای د بهرنی مرستو غلا او ناوړه ګټه اخیستنه وپیژني.

الویس دا هم تشریح کړل چې څرنګه د ناټو غړي هیوادونه کولای شي د راتلونکې بیارغونې هڅو لپاره د قرارداد مدیریت کارونه ښه کړي. هغه وویل چې د قرارداد مدیران او تطبیق کوونکي باید دا وساطت ولري لکه څنګه چې په ساحه کې امنیتي او لوژستیکي اوضاع بدلون مومي، وکولای شي د قرارداد کچه او اړتیاوې یوبل سره برابر کړي. هغه دا وړاندیز وکړ چې د قرارداد مدیران او اداره کوونکي باید د سندونو په ساتنه باندې زیات کار وکړي، او نه یوازې پدې پوه شي چې اوس کار ترسره کیږي، مګر د کارکوونکو د زیاتو بدلیدو د ننګونو د پوره کولو لپاره د اړتیا وړ بنسټیزه پوهه هم برابره کړي. هغه وویل چې هغه کارکوونکي چې د قرارداد مدیریت مسولیت لري باید د اړتیا وړ هغه روزنه او تجربه ولري ترڅو وکولای شي خپله دنده ترسره کړي. په پایله کې، هغه د قراردادونو تمویل کوونکي اداري وهڅولي ترڅو د کمزوري فعالیت لپاره له خپلو قراردادیانو څخه حساب واخلي.

ناټو غواړي ترڅو هغه معلومات چې سیګار وړاندي کړي د روزنې او روزنې نصاب په اړتیاوو کې شامل کړي ترڅو د راتلونکو بیارغونې فعالیتونو د مالي مدیریت او نظارت لپاره د ناټو کارکوونکي په ښه توګه چمتو کړي. ناټو هلیه لري ترڅو د سیګار له نظرونو او لیدونو څخه هم کار واخلي ترڅو د "ښو کارونو یو لارښود" چمتو کړي چې د ناټو ملکي او اردو کارکوونکي وکولای شي په ساحه کې ورڅخه کار واخلي. له کنفرانس سره به د سیګار او ناټو همکاري ختمه نشي. سیګار پلان لري ترڅو دغه بریالی ملګرتیا ته دوام ورکړي او له ناټو سره د خپل بیلګې وړ له ماموریت څخه خپل نظرونه شریک کړي ترڅو د افغانستان بیارغونې لپاره نظارت برابر کړي.

## سیګار په نا امنه چاپیریال کې د دریم ګړې د نظارت په اړه یو سمپوزیم جوړوي

د 2014 د فبروری په 12، سیګار د امریکا د سولې له انستیتوت (USIP) سره یوځای په ناامنه چاپیریال کې د "نظارت او مدیریت په اړه یو نړیوال سمپوزیم جوړ کړ: په افغانستان کې له ښو کارونو څخه کار اخیستل." ځانګړي عمومي مفتش ساپکو دا سمپوزیم د امریکا حکومت ادارو، نړیوالو مرستندویانو، تحقیقاتي سازمانونو، او نور لپاره یوه وسیله ګڼلې ترڅو د پروژو د فعاله مدیریت کولو او په ناامنه چاپیریال کې د نظارت کولو لپاره په ښو کارونو، تخنیکونو، او تیکنالوجیو باندې خبرې وکړي. لکه څنګه چې د ایتلاف ځواکونه کمیږي، دا سمپوزیم په افغانستان کې د بیارغونې ساحو ته د چټکې لاس رسی محدود کیدلو له کبله د سیګار له اندیښنو څخه راپورته شوی. د سمپوزیم په اړه به راپور ډېر ژر خپور شي.




**ځانګړی عمومي مفتش جان اف ساپکو** د سيګار او USIP په سيمپوزيم کې د لرو پرتو سيمو نظارت په اړه خبري کوي. (د بروس کيو لخوا د سيګار عکس)

## سيګار نوی ستراتيژيک پلان بشپړ کړی

پدې ربع کې سيګار يو نوي ستراتيژيک پلان بشپړ کړ ترڅو له 2014 څخه تر 2016 پورې د سيګار د پروګرام او مديريت پريکړو لارښوونه وکړي. په افغانستان کې د امريکا لخوا د بيارغونې هڅه، چې اوس په 12ام کال کې ده، داسې ډيزاين شوې ترڅو د افغانستان ملاتړ وکړي چې د خپل امنيت، حکومتوالی، او پراختيا کنترول په لاس کې ونيسي.
د ټولو بيارغونيزو هڅو بريا په لويه کچه د ليږد له څرنګوالې سره تړلې ده. د سيګار نوی ستراتيژيک پلان به لدې اداري سره مرسته وکړي ترڅو د نظارت خپل کارونه په افغانستان کې د چاپيريال له بدليدو سره برابر کړي، او دا وګوري چې خپلې هڅې يې د اجراييه ځانګې او د کانګرس سره مرسته کوي ترڅو د امريکا د ماليه ورکوونکو ګټې خوندي کړي.

## د سنا د بودجې کميټه له سيګار څخه مننه کوي

د سنا د بودجې کميټه د 2015 د مالي کال په پريکړه کې له سيګار څخه مننه وکړه او د بيارغونې د تمويل د ضايعاتو بيلابيلو بيلګو ته، پشمول د څو ميليونو امريکايي ډالرو زيربنا پروژو ته يې اشاره کړې، چې هيڅ ورڅخه کار ندی اخيستل شوی، او کيدای شي د خپلو موخو لپاره هيڅ ورڅخه کار وانخيستل شي. کميټه وويل چې دا به په بهر کې له بيړنيو عملياتونو/په ترور باندې نړيوال جنګ (GWOT/OCO) له مرستو څخه کار اخيستل له نږدې نظارت وکړي ترڅو دا وګوري چې د امريکا د بهرني ستراتيژيکو موخو لاسته راوړلو لپاره د مالي ورکوونکو ډالرونه په اغيزمنه او فعاله توګه ولګول شي.
کميټې ويلي چې د ضايعاتو، تقلب،او ناوړې ګټې اخيستنې دوامداره راپورونه به د GWOT/OCO مرستو د کچې د پريکړو په وخت کې په پام کې ونيول شي.

## د سيګار بوديجه

د 2014 مالي کال لپاره له کانګرس څخه د ګډو تخصيصونو په قانون کې سيګار د 49.65 ميليونو امريکايي ډالرو بودجه لاسته راوړي. بودجه د سيګار د نظارت فعاليتونو او د سيګار د پنځو رياستونو کارونو ملاتړ کوي: (1) پلټنې او تفتيشات، (2) ځانګړې پروژې، (3) تحقيقات، (4) مديريت او ملاتړ، او (5) څېړنې او تحليل.

## د سيګار کارکوونکي

سيګار کانګرس ته د وروستی رپوټ څخه تر اوسه پورې خپل کارکونکي زيات کړي چې پدې سره د فيدرالي کارکونکو مجموعي شمير په 2014 مالي کال کې 203 تنو ته رسيږي. د دې ربع په پای کې، سيګار د امريکا د کابل په سفارت کې 37 تاييد شوي کارکوونکي او د امريکا د کابل له سفارت څخه دباندې د افغانستان په نورو موقعيتونو کې 10 تاييد شوي کارکوونکي لرل. د سيګار د کارکوونکو غړي په ټول هيواد کې په پنځو ستيشنونو کې پشمول د کندهار او بګرام هوايي ډګرونو، مزارشريف، کمپ ليدرنيک (د 2014 په مارچ کې وتړل شو، او بيا د سيګار استازي کابل ته ولاړل)، او په کابل کې د USFOR-A په قرارګاه کې ځای پر ځای شوي و. سيګار په کابل کې د خپل پلټنو او څېړنو سره د مرستې لپاره يو ځايي افغان استخدام کړی دی. برسيره پردې سيګار د لنډ وخت لپاره د نيمه ورځې کارکوونکو سره چه په افغانستان کې ځای پر ځای شوي دي خپلو مرستو ته دوام ورکوي.

پدې ربع کې، سيګار په افغانستان کې 14 اجير کارکوونکي د 252 ورځو لپاره درلودل.



**بې جې جان ميشل،** په افغانستان کې د ناټو د هوايي روزنې قوماندانی عمومي قوماندان د کابل په هوايي ډګر کې د سيګار له پلټونکو او NATC-A له نورو کارکوونکو سره. (د سيګار انځور)

# ویکتوریا بتلر



ویکتوریا اې بتلر، له 2009 څخه د تحقیق او تحلیل رییسه، وروسته لدې چې د کانګرس لپاره د سیګار د 20 ربعونو راپور ورکول مدیریت کړی، به د 2014 په مې کې خپله دنده پریږدي. د بتلر تر مشرۍ لاندې، د امریکا لخوا تمویل شوې د افغانستان بیارغونې په اړه، د هر ربع راپور د امریکا هیواد لپاره د معلوماتو تر ټولو با اعتباره سرچینه ګرځیدلې. له سیګار سره تر کار کولو وړاندې، بتلر د عراق د بیارغونې لپاره د ځانګړي عمومي مفتش د اساسي زده شویو لوستونو، سخت لوستونه د راپور لیکواله وه: د عراق بیارغونې تجربه. پخوا هغې په آسیا او افریقا کې د ټایم، ان بې سي خبرونو، امریکا غږ، او اسوشیتید پریس لپاره د بهرني ژورنالست په توګه کار کړی. هغه د سودان لیکواله ده. خلک او ځکمه (مارکواند کتابونه، 2005). بتلر په واشنګټن ډي سي کې د ملګرو ملتونو د مهاجرینو لپاره د عالي کمیشنرۍ د ویندویې په توګه هم کار کړی، او په کمبودیا کې یې د ملګرو ملتونو د انتقالي ادارې لپاره د یوه ټیم مشري کړې، ترڅو چاپي، تلویزیون، او راډیو رسنیو ته وده ورکړي او د ټولټاکنو په اړه چې د ملګرو ملتونو لخوا اداره کیږي د کمبودیا خلک خبر کړي. وروسته لدې چې یې د تحقیق او تحلیل ریاست پریښود، بتلر به د سیګار د ستراتیژیک سلاکارې په توګه نوې دنده واخلي.

”نن په افغانستان کې د لمانځنې لپاره دلیل
شتون لري. میلیونونهونه وګړي د رایی
ورکولو لپاره راوتل، د افغان ملي امنیتي
ځواکونو سره د رایی ورکونکو افغان وګړو
او له 6,000 څخه ډیر د رایی ورکولو ټاکنیز
مرکزونو خوندیتوب لپاره. واضحا، دا د افغانستان
په تاریخ کې د واک لومړني دیموکراتیک
لیږد یو مهم ګام دی.“

— د اردو ستر درستیز جنرال مارټین ډیمپسي

سرچینه: د امریکا د بهرنیو مطبوعاتو د خدماتو مقاله، د 2014 د اپریل 5.

# 3 د بیارغونې نوي خبرونه



# د بیارغونې تازه حالت منځپانګې


| | |
|---|---|
| عمومي کتنه | 65 |
| د افغانستان بیارغونې لپاره مرسته | 68 |
| د مرستو دریځ | 70 |
| امنیت | 84 |
| حکومتداري | 118 |
| اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا | 156 |


**تصویر په تیره پاڼه کې**
افغان ښځې د اپریل 5 په ملي ټاکنو کې د رایی ورکولو وروسته
د رایی ورکولو کارتونه او د رایی تاییدولو رنګ شوي ګوتې ښیې
(په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت، عکس
د شمس الدین حامدي په واسطه)

## عمومي کتنه

لاندې برخه د امریکا د مرستو او پراختیایي پروژو دریځ په اړه لنډیز وړاندې کوي چې سیګار پدې ربع کې د افغانستان د امنیت، حکومتوالي، او اقتصادي بیارغونې برخو کې لیدلي.

د یوکړی شوي تخصیصونو 2014 قانون د افغانستان هوساینې او بیارغونې کې د 2014 مالي کال لپاره اضافي 6.6 میلیاردو ډالرو چمتو کړي، چې د مجموعي تخصیصاتو ټولټال شاوخوا 103.2 میلیاردو ډالرو ته رسوي. د 2014 په مارچ 4، ولسمشر د 2015 مالي کال لپاره خپل د بودیجې پروپوزل وسپاره. د خورا لوی بیارغونو ډیری فنډونو لپاره غوښتل شوی مقدارونه، لکه د افغانستان امنیتي ځواکونو فنډ، تر هغې پورې مشخص کیدو ته پاتې دی چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو شتون سکوپ په اړه پریکړه وشي.

د دې راپور ورکوونې دورې پرمهال، افغانستان د امنیت په اړه روانو اندیښنو پرته د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو ټاکنې پرمخ ویوړې پداسې حال کې چې متحده ایالاتو او ایتلافي ملګرو یې د خپلو سرتیرو ایستل پرمخ ویوړل. ولسمشر کرزي د متحده ایالاتو سره دوه اړخیز امنیتي تړون لاسلیک کولو څخه ډډه وکړه، چې د متحده ایالاتو راتلونکې مرسته تر پوښتنې لاندې راولي. په هرصورت، نړیوالې ټولنې پایله کړې چې افغان حکومت له 2014 وروسته د ډونر ملاتړ باوري کولو لپاره د اړین اصلاحاتو پرځای کولو ته ځینې پرمختګونه کړي. په ورته وخت کې، افغان عایدات خپلو موخو ته نه رسیدو ته دوام ورکړی، چې بودیجې اړتیاو او د عایداتو راټولولو کې دمخه موجود د پام وړ تشه ډیریږي.

لږترلږه اووه میلیونونه افغانانو (چې 35% یې ښځې وې) د 2014 اپریل په 5 ټاکنو کې رایې ورکړې. د ټاکنو خپلواک کمیسیون رییس، یوسف نورستاني د اپریل په 20 اعلان وکړ چې قسمي پایلې د رایی ورکولو مرکزونو 49.67% جوړوي، چې د ولسمشرۍ نوماند عبدالله یې د 44.47% او محمد اشرف غني د 33.18% رایو سره وښودل. د افغان قانون پراساس، که د ولسمشرۍ هیڅ یو نوماند له 50% څخه ډیرې رایی لاسته رانه وړي، نو د دوه مخکښ نوماندانو ترمنځ به دویم ځل سیالي کیږي.

د مخالفت وروستیو راپورونو سره، د ټاکنیزو شکایاتو کمیسیون (ECC) د اپریل په 13 اعلان وکړ چې د 2009 پرمهال ټاکنو څخه ډیر د درغلیو جدي پیښو راپورونه و. ECC ویلي و چې د دې تورونو جدیت ټاکلو ته لا وختي دی. که چیرې ولسمشر کرزی د اپریل 5 ټاکنو کې یوه نوماند ته پدې کال کې واک وسپاري، نو دا به د افغانستان په تاریخ کې د واک لومړی دیموکراتیک لیږد وي.

د امنیت عمومي وضعیت په روان حالت کې پاتې دی. افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) د ټاکنو لپاره امنیت چمتو کړ. د تاوتریخوالي مقدمې پرته چې په کابل کې پر بهرنیانو یو شمیر بریدونه پکې شامل و، ټاکنې د 2009 په پرتله د تاوتریخوالي لږو بریدونو سره مخ شوې، او بریدونه په لویه کچه شمال، ختیځ او لویدیځ ته متمرکز شوي، په تیرو ټاکنو کې د سویل پرخلاف.

ولسمشر کرزي له امریکا سره د دوه اړخیزې امنیتي موافقې له لاسلیک کولو څخه ډډه کړې، چې د دې سبب شو چې امریکایي چارواکي خبرداری ورکړي چې کیدای شي له 2014 وروسته امریکا له هیواد څخه خپل ټول ځواکونه وباسي او مرسته ډېره کمه کړي. په هرصورت، د ولسمشرۍ لپاره دواړه مخکښ نوماندانو والسټریټ ژورنال ته ویلیچې دوی به ژر تړون لاسلیک کړي.

په مارچ کې، جنرال جوزف ایف. ډانفورډ، د نړیوال امنیت مرستندویه ځواک او متحده ایالاتو ځواکونو-افغانستان قوماندان، د سنا مسلح خدماتو کمیټې ته ویلي چې افغان امنیتي ځواکونه به د مداوم مرستې پرته تخریب شي. ډانفورډ په فبروري کې خپور شوی پر فساد یو راپور هم پیل کړی. راپور پایله کړې چې "فساد په مستقیم ډول د افغان دولت وړتیا او مشروعیت ګواښي."

په مارچ کې، د افغانستان د کورنیو چارو وزارت د افغان عامه محافظت ځواک (APPF) منحل کولو په اړه غړیدو لپاره یو ناسته سرته ورسوله. په 2009 کې رامنځته کړی شوی، APPF د خصوصي امنیتي کمپنیو څخه د وګړو، ودانیو، زیربنا او بیارغونې ساحو محافظت مسؤلیت واخیست. که څه هم تمه کیږي چې افغان ملي پولیس د APPF ځینې امنیتي مسؤلیتونه په غاړه واخلي، پلان د دې په اړه پوښتنې راپورته کړې چې څوک به په راتلونکي کې د بیارغونې ډېری پروژې ساتي یا خوندي کوي. په 2009 کې د APPF رامنځته کولو څخه تر 2012 مالي کال اوږدو پورې، متحده ایالاتو د نوموړي ځواک جوړولو لپاره له 51 میلیونونه ډالرو څخه ډېر چمتو کړي.

د ګډې همغږۍ او نظارت کولو هییت د افغانستان او نړیوالې ټولنې ترمنځ د ستراتیژیک همغږۍ لپاره مسؤل د لوړو پریکړو کونکی نهاد په جنوري کې سره ولیدل ترڅو په جولای 2012 ټوکیو کنفرانس کې پرې موافقه شوي د ټوکیو دوه اړخیز کاري چوکاټ اړتیاو پوره کولو باندې د افغان او ډونر پرمختګ وسنجوي. په یوه بیان کې، هییت پایله کړې چې دواړه خواو "پرمختګ کړی" پداسې حال کې چې خبر یې ورکاوه لاهم ډېر څه پاتې دي چې باید سرته ورسي.

په ورته وخت کې، د مالي کړنې کاري ځواک (FATF)، یو بین الدولتي نهاد چې معیارونه برابروي او د پیسو مینځلو او تروریست مالي چارو سره مبارزې اقدامات هڅوي، افغانستان خپل "تیاره-خړ لیست" ته راښکته کړی. FATF وویل چې افغانستان د پیسو مینځلو ضد خپلو تشو په نښه کولو او قانون پاس کولو کې پاتې راغلی چې دغه تشې یې ښودلي وی. که چیرې افغانستان کافي وده ونه ښیې، دا په جون 2014 کې "تور لیست" ته ښکته کیدی شي، چې د نړۍ په کچه د دې بانکي اړیکې او ارتباطات تخریبوي او بانکي سیکتور یې په راتلونکي کې کمزوری کوي.

د افغانستان کورني عایداتو د 1392 افغان مالي کال لپاره (2012 دسمبر 21 – 2013 دسمبر 20) د مالیې وزارت د بودیجې موخه تر 11.9% پورې له لاسه ورکړه. کورني عایداتو په 1392 مالي کال کې د افغانستان لګښتونو ټولټال بودیجې (5.4 میلیاردو ډالرو) یوازې 37% (2 میلیاردو ډالرو) ورکړې؛ د ډونر بلاعوضه مرستو باقي برخه پوښلې.

DOD راپور ورکړی چې د کلي ثبات عملیاتونه، له ښکته پورته د ترهګرۍ ضد ستراتیژي چې هدف یې سیمه ایز حکومتداري د افغان ولسوالۍ او مرکزي حکومت سره نښلول و، په لویه کچه پای ته رسیدلی، د افغان سیمه ایز پولیسو د برخو په استثنا سره.

د DOD په وینا، فقط دوه د کلي ثبات پلیټفارمونه او 16 د ولسوالۍ ثبات پلیټفارمونه (DSP) د متحده ایالاتو ځانګړي عملیاتو ځواکونو په کوربه توب پاتې دي. DSPs د خپل ماموریت بشپړولو لپاره د 2014 تر اکتوبر 31 مهالویش شوي.

امریکا د افغانستان لپاره د مستقیمو تادیاتو له لارې د بودجې په اساس مرسته برابروي یا د څو هیوادونو په وجهي صندقونو کې د برخې اخیستنې له لارې د افغانستان بنسټونو لپاره مرسته برابروي. له 2002 څخه راهیسې متحده ایالاتو په مستقیم بودیجې مرسته کې نږدې 9 میلیاردو ډالرو چمتو کړي. پدې کې د افغانستان وزارتونو او بنسټونه لپاره شاوخوا 5.4 میلیاردو امریکایي ډالرو، او له 3.6 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه ډېر د څو هیوادونو وجهي صندق لپاره، چې د نړیوال بانک افغانستان بیارغونې وجهي صندق (ARTF)، د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام د افغانستان د قانون او نظم وجهي صندق (LOTFA)، او د آسیا پراختیایي بانک د افغانستان د زیربنا وجهي صندق (AIFT) دي، شامل دي. جدول 3.1 د افغانستان حکومتي نهادونو لپاره د مستقیم بودجې په اساس د امریکا مرسته ښیي.

3.1 جدول

**افغانستان ته د متحده ایالاتو د مستقیم بودجې مرسته، له 2002 راهیسې** (میلیونونه ډالرو)

| **له حکومت څخه حکومت ته** | |
| --- | --- |
| DOD | $4,274 |
| State | 92 |
| USAID | 1,060 |
| **څو اړخیزه باوري پانګې** | |
| LOTFA | $1,210 |
| ARTF | 1,977 |
| AITF | 412 |

سرچینې: د سیګار پلټنې راپور 14-32-AR: مستقیمه مرسته: USAID مثبت ګامونه اخیستي ترڅو د ډونرانو د مرستو اداره کولو توان په اړوند د افغانستان وزارتونو ظرفیتونو ارزونه وکړي، مګر کمزوریانې پاتې دي، 1/2014؛ د سیګار ځانګړې پروژې راپور 14-12-SP: د افغانستان دفاع او کورنیو چارو وزارتونو مالي چارو اداري ظرفیتونو خطر ارزونه کیدای شي د 4 میلیاردو امریکایي ډالرو مستقیمې مرستې نظارت ښه کړي، 12/2013؛ نړیوال بانک، ”ARTF: تر 2013 دسمبر 21 پورې (د 1392 مالي کال د 12 مې میاشتې پای) په مالي دریځ د اداره کونکي راپور،“ مخ 5؛ UNDP، ”د LOTFA فیز شپږ درې میاشتني پرمختګ راپور Q3/2013،“ 12/31/2013، 80-81 مخونه؛ د UNDP د LOTFA درې میاشتني او کلني راپورونو د سیګار خیړنې، 1/22/2014؛ DOD، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 3/2014؛ USAID، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/20/14.

## د افغانستان بیارغونې لپاره مرسته

له 2002 راهیسې، کانګریس د افغانستان هوساینې او بیارغونې لپاره نږدې 103.2 میلیاردو ډالرو مختص کړي. لدې مقدار څخه، له 87.9 میلیاردو ډالرو څخه ډیر (85%) د بیارغونې اووه لوي فنډونو ته مختص شوي وي، لکه څنګه چې په جدول 3.2 کې ښودل شوي.

د بیارغونې فنډ ورکولو د پام وړ مقدار پاتې دی چې باید د متحده ایالاتو او ناټو ځواکونو څخه وروسته کلونو کې ولګول شي. تر 2014 کال د مارچ 31 پورې، د تخصیص شوي فنډونو شاوخوا 17.9 میلیاردو ډالرو د ممکن مصرف کولو لپاره پاتې دي، لکه څنګه چې په شکل 3.1 کې ښودل شوي. دا فنډونه به د لوی زیربنا روانو پروژو بشپړولو لپاره وکارول شي، لکه د AIF او ESF په واسطه فنډ روکړل شوي؛ د ANSF روزنه، مجهز کول، او پایښت؛ د تاریاکو تولید او قاچاق سره مبارزه؛ او، د قانون حاکمیت ته وده ورکول، د قضا سیکتور پیاوړي کول، او د بشځو حقونو ته وده ورکول. په لیکه کې ډیری فنډ ورکول لا د مکلف کیدو لپاره پاتې دي. د 17.9 میلیاردو ډالرو پاتې څخه فقط 6.7 میلیاردو ډالرو مکلف شوي دي.

| | |
|---|---|
| DOD | **ASFF:** د افغانستان د امنیتي ځواکونو فنډ |
| | **CERP:** د قوماندان د بیړني غبرګون پروګرام |
| | **AIF:** د افغانستان د زیربنا فنډ |
| | **TFBSO:** د ثبات او سوداګریزو عملیاتو لپاره کاري ځواک |
| | **DOD CN:** د DOD د مخدره توکو سره مبارزې او د مخدره توکو د مخنیوي فعالیتونه |
| USAID | **ESF:** د اقتصادي ملاتړ فنډ |
| State | **INCLE:** نړیوال مخدره توکو کنترول او د قانون حاکمیت |

جدول 3.2

**له 2002–2014 مالي کلونو مجموعي تخصیص شوې، مکلف شوې، او توزیع شوې مقدارونه** (میلیاردو ډالرو)

| | اختصاص شوي | منل شوې | لګول شوې | پاتې |
|---|---|---|---|---|
| ASFF | $57.33 | $48.92 | $46.65 | $9.59 |
| CERP | 3.67 | 2.29 | 2.26 | 0.06 |
| AIF | 1.22 | 0.89 | 0.23 | 0.92 |
| TFBSO | 0.80 | 0.73 | 0.55 | 0.22 |
| DOD CN | 2.93 | 2.61 | 2.61 | 0.32 |
| ESF | 17.53 | 14.66 | 11.71 | 5.43 |
| INCLE | 4.42 | 3.55 | 2.95 | 1.38 |
| **ټول 7 لوی فنډونه** | **$87.90** | **$73.64** | **$66.95** | **$17.91** |
| د بیا رغونې نور فنډونه | 7.23 | | | |
| ملکي عملیات | 8.05 | | | |
| **ټول** | **$103.17** | | | |

یادونې: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي. پاتې مقدار د اووه لوی بیارغونې فنډونو ټولټال احتمالي مصرف کول منعکس کوي وروسته د شاوخوا 3 میلیاردو ډالرو د کمولو څخه چې د مکلف کیدو مخکې یې نیټه تیره شوه. د DOD CN مکلف شوي او مصرف شوي فنډونه هغه مقدارونه ښیې چې نظامي خدماتو او د دفاع ادارو ته په افغانستان کې د لګولو لپاره لیږدول شوي.

سرچینه: د DOD، بهرنیو چارو وزارت او USAID په واسطه چمتو کړی شوي د تخصیص کولو قانون او دري میاشتني مکلفیت او مصرف معلوماتو د سیګار خیړنې.

شکل 3.1

**د مصرف کولو لپاره پاتې مجموعي مقدار**

(ملیارد ډالر)




پداسې حال کې چې د بیارغونې تخصیصونه له 2010 مالي کال راهیسې مخ په کمیدو دي، د USAID او بهرنیو چارو وزارت تر ټولو لوی حسابونو لپاره د 2015 مالي کال بودیجې غوښتنه په 2014 مالي کال کې دغه حسابونو ته مختص شوي مقدار څخه لوړه ده. ولسمشر د افغانستان لپاره په 2015 مالي کال کې د ESF لپاره 1.2 میلیاردو ډالرو او د INCLE لپاره 325 میلیونونه ډالرو غوښتلي دي. په ګډه، دا مقدارونه د 2014 مالي کال غوښتنې څخه 28% ټیټ دي مګر 44% د هغه مقدار څخه لوړ دي چې په نهایت کې د 2014 مالي کال لپاره مختص شول په P.L 113-76 کې.

کانګریس د 2013 مالي کال لپاره د بیارغونې اووه لوي فنډونو ته نږدې 8.1 میلیاردو ډالرو مختص کړي و. لدې مقدار څخه، تر 2014 کال د مارچ 31 پورې 5.6 میلیاردو ډالرو د ممکن مصرف کولو لپاره پاتې شول، لکه څنګه چې په جدول 3.3 او شکل 3.2 کې ښودل شوي.

جدول 3.3

**د 2013 مالي کال لپاره هغه اندازه پیسې چې تخصیص شوي، مکلف شوي، او توزیع شوي** (میلیونونه ډالرو)

| | اختصاص شوي | منل شوې | لګول شوې | پاتې |
|---|---|---|---|---|
| ASFF | $4,946 | $2,360 | $1,890 | $3,056 |
| CERP | 200 | 43 | 33 | 10 |
| AIF | 325 | 261 | 9 | 316 |
| TFBSO | 137 | 135 | 91 | 47 |
| DOD CN | 295 | 295 | 295 | 0 |
| ESF | 1,623 | 0 | 0 | 1,623 |
| INCLE | 569 | 13 | 9 | 560 |
| **ټول 7 لوی فنډونه** | **$8,096** | **$3,108** | **$2,327** | **$5,611** |

یادونې: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي. پاتې مقدار د اووه لوی بیارغونې فنډونو ټولټال احتمالي مصرف کول منعکس کوي وروسته د شاوخوا 157 میلیونونه ډالرو د کمولو څخه چې د مکلف کیدو مخکې یې نیټه تیره شوه. د DOD CN مکلف شوي او مصرف شوي فنډونه هغه مقدارونه ښیې چې نظامي خدماتو او د دفاع ادارو ته په افغانستان کې د لګولو لپاره لیږدول شوي.

سرچینه: د DOD، بهرنیو چارو وزارت او USAID په واسطه چمتو کړی شوي د تخصیص کولو قانون او دري میاشتني مکلفیت او مصرف معلوماتو د سیګار خیړنې.

شکل 3.2

**د مصرف کولو لپاره د 2013 مالي کال پاتې مجموعي مقدار** (ملیون ډالر)




کانګریس د 2014 مالي کال لپاره د بیارغونې اووه لوي فنډونو ته نږدې 6.5 میلیاردو ډالرو مختص کړي و. لدې مقدار څخه، تر 2014 کال د مارچ 31 پورې 6.4 میلیاردو ډالرو د ممکن مصرف کولو لپاره پاتې دي، لکه څنګه چې په جدول 3.4 او شکل 3.3 کې ښودل شوي.

جدول 3.4

**د 2014 مالي کال لپاره هغه اندازه پیسې چې تخصیص شوي، مکلف شوي، او توزیع شوي** (میلیونونه ډالرو)

| | اختصاص شوي | منل شوې | لګول شوې | پاتې |
|---|---|---|---|---|
| ASFF | $4,727 | $0 | $0 | $4,727 |
| CERP | 30 | 1 | 0 | 30 |
| AIF | 199 | 0 | 0 | 199 |
| TFBSO | 112 | 68 | 11 | 10 |
| DOD CN | 321 | 0 | 0 | 321 |
| ESF | 852 | 0 | 0 | 852 |
| INCLE | 225 | 0 | 0 | 225 |
| **ټول 7 لوی فنډونه** | **$6,466** | **$69** | **$11** | **$6,455** |

یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي. پاتې مقدار د اووه لوی بیارغونې فنډونو ټولټال مصرف احتمال منعکس کوي. د DOD CN مکلف شوي او مصرف شوي فنډونه هغه مقدارونه ښیې چې نظامي خدماتو او د دفاع ادارو ته په افغانستان کې د لګولو لپاره لیږدول شوي.

سرچینه: د DOD، بهرنیو چارو وزارت او USAID په واسطه چمتو کړی شوي د تخصیص کولو قانون او دري میاشتني مکلفیت او مصرف معلوماتو د سیګار خیړنې.

شکل 3.3

**د مصرف کولو لپاره د 2014 مالي کال پاتې مجموعي مقدار** (ملیون ډالر)



# د فنډونو د وضعیت منځپانګې


د افغانستان بیا رغونې لپاره
د متحده ایالاتو مرستې 72

د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجه 74

د افغان امنیتي ځواکونو فنډ
د فعالیتونو لګښت 75

د قوماندان بیړني غبرګون پروګرام 76

د افغانستان د زیربنا تمویلول 77

د سوداګریزو عملیاتو د ثبات
او پایښت لپاره کاري ځواک 78

د امریکا د دفاع وزارت د مخدره توکو
د مخنیوی او مخدره توکو سره
د مبارزې فعالیتونه 79

د اقتصادي ملاتړ بودیجه 80

د مخدره توکو نړیوال کنترول
او د قانون پلې کول 81

د افغانستان لپاره د بیا رغونې
نړیواله مرسته 82

# د پانګونې حالت

د سيګار د قانون جوړونې ماموريت د تر سره کولو لپاره، دا برخه د افغانستان د بیا رغونې فعالیتونو لپاره د امریکا د تخصیص شویو، ژمنه شویو، او تادیه شویو فنډونو په اړه توضیحات ورکوي. د 2014 کال د مارچ تر 31 پورې، له 2002 مالي کال څخه امریکا د افغانستان سره د مرستې او بیا رغونې لپاره نږدې 103.17 میلیاردو امریکايي ډالرو تخصیص ورکړی دی. دا ټولې پیسې په لاندې توګه ټاکل شوې دي:

- 58.84 میلیاردو ډالرو د امنیت لپاره
- 25.96 میلیاردو ډالرو د حکومتداری او انکشاف لپاره
- 7.55 میلیاردو ډالرو د مخدره توکو سره د مبارزې د هڅو لپاره
- 2.78 میلیاردو ډالرو د بشري مرستو لپاره
- 8.05 میلیاردو ډالرو د ملکي عملیاتو لپاره

شکل 3.4 د امریکا هغه مهم فنډونه ښیې چې پدغو هڅو کې برخه اخلي.

**ASFF:** د افغانستان د امنیتي ځواکونو فنډ
**CERP:** د قوماندان د بیړني غبرګون پروګرام
**AIF:** د افغانستان د زیر بنا فنډ
**TFBSO:** د ثبات د عملیاتو او سوداګرۍ لپاره عملیاتي ځواک
**DOD CN:** د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو سره مبارزې او د مخدره توکو د مخنیوي فعالیتونه
**ESF:** د اقتصادي ملاتړ وجهي صندوق
**INCLE:** نړیوال مخدره توکو کنټرول او د قانون حاکمیت
**نور:** نور مالي تمویل

شکل 3.4

**متحده ایالات د افغانستان د بیارغونې د هڅو د ملاتړ بودیجې** (ملیاردونه ډالر)




یادونې: ارقام برابر کړای شوي دي.

[a] په بېلابېلو ادارو کې شاملې دي د عدلیې، بهرنیو چارو، دفاع وزارتونه، یو ایس آیي ډي، د خزانې محکمه، USDA، DEA، BBG، او SIGAR.

سرچینې: دفاع وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 4/17/2014، 4/16/2014، 4/15/2014، 4/2/2013، 1/22/2012، 10/22/2012، 10/14/2009، او 10/1/2009؛ د بهرنیو چارو وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 4/15/2014، 4/11/2014، 4/9/2014، 6/27/2013، 10/5/2012، او 6/27/2012؛ خزانه، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 4/3/2014؛ OMB، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 7/19/2013 او 1/4/2013؛ یو ایس آیي ډي، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 4/7/2014، 10/15/2010، 1/15/2010 او 10/9/2009، عدلیه، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 7/7/2009؛ USDA، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 4/2009؛ CRS، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 1/8/2014؛ DFAS، "AR(M) 1002 د دسمبر 2014 د مالي کال د پروګرام او ضمني حسابونو د اختصاص حالت،" 4/16/2014؛ P.L. 113-76، 1/17/2014؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011؛ P.L. 111-212، 10/29/2010؛ P.L. 111-118، 12/19/2009؛ مالي کال 2010 د دفاع وضاحتي بیان.




**د امریکا لخوا د مالي ملاتړ کیدونکو 7 سترې پروژې نږدې 85.2% (تر 87.90 میلیاردو ډالرو) هغه برخه جوړوي چې د 2002 مالي کال راپدیخوا د امریکا متحده ایالاتو د افغانستان د بیارغونې سره ترسره کړې دي. لدغو پیسو څخه، نږدې 83.8% (نږدې 73.64 میلیاردو امریکایي ډالرو) ژمنه شوې ده، او نږدې 76.2% (66.95 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه ډېر) تادیه شوې دي. لدې څخه فنډونو ته د اټکل شوي 2.88 میلیاردو ډالرو مقدار تاریخ تېر شوی.**

## د افغانستان بیا رغونې لپاره د متحده ایالاتو مرستې

د 2014 کال د مارچ تر 31 پورې، د افغانستان د سوکالی او بیارغونې سره د مجموعي ترسره شوو مرستو مجموعه تقریبا هغه ډول چې په شکل 3.5 کې ښودل شوې 103.17 میلیاردو ډالرو ته رسیږي. دا مجموعه د بیارغونې فنډ ورکولو پنځه لوی برخو باندې ویشل کیدی شي: امنیت، حکومتداري او پراختیا، د تریاکو ضد، بشر دوستانه، او ملکي عملیات. د متحده ایالاتو د ځانګړو شویو مرستو په اړه د بشپړو معلوماتو لپاره د ب ضمیمه وګورئ.

د یو کړی شوي تخصیصونو قانون، 2014، د 2014 مالي کال لپاره اضافي 6.62 میلیاردو ډالرو برابر کړي، لکه څنګه چې په شکل 3.6 کې ښودل شوي لدې مقدار څخه، نږدې 4.73 میلیاردو ډالرو د افغانستان امنیتي ځواکونو فنډ (ASFF) ته تخصیص شوي و، چې د ASFF مجموعي فنډ ورکول نږدې 57.33 میلیاردو ډالرو ته رسوي، د ټول بیارغونې شاوخوا 55.6% فنډ ورکول.[43]

شکل 3.5

**له 31 مارچ 2014 سره سم د بودیجو د کټګوریو په حسابټول اختصاصونه** (په ملیاردونو ډالرو)




یادونې: ارقام برابر کړای شوي دي. د 2014 کال د بهرنیو چارو وزارت او USAID لپاره شمیرې فقط دمخه ټاکل شوی مقدار منعکس کوي او د کانګریس تصویب ته په تمه دي. دفاع وزارت د مالي کال 2011 د ASFF یو ملیارد ډالر بیا پروګرام کړل. دفاع وزارت د مالي کال 2012 د ASFF یو ملیارد ډالر بیا پروګرام کړل. P.L. 113-6 د مالي کال 2012 د ASFF یو ملیارد ډالر لغوه کړل. DOD د 2013 مالي کال ASFF څخه 178 میلیارد ډالر بیا پروګرام کړې دي.دفاع وزارت د مالي کال 2011 د AIF 101 ملیونه ډالر مالي کال 2011 لپاره ESF ته انتقال کړل تر څو یوه د یو ایس آیي ډي لخوا پلي کېدونکې د بېخ بناو پروژې ته بودیجه ورکړل شي.

سرچینې: دفاع وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 4/17/2014، 4/16/2014، 4/15/2014 ،4/2/2013، 1/22/2012، 10/22/2012، 10/14/2009، او 10/1/2009؛ د بهرنیو چارو وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 4/15/2014، 4/11/2014، 4/9/2014، 6/27/2013، 10/5/2012، او 6/27/2012؛ خزانه، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 4/3/2014؛ OMB، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 7/19/2013 او 1/4/2013؛ یو ایس آیي ډي، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 4/7/2014، 10/15/2010، 1/15/2010 او 10/9/2009، عدلیه، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 7/7/2009، USDA، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 4/2009؛ CRS، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 1/8/2014؛ DFAS، "AR(M) 1002" د دسمبر 2014 د مالي کال د پروګرام او ضمني حسابونو د اختصاص حالت،" 4/16/2014؛ P.L. 113-76، 1/17/2014؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011؛ P.L. 111-118، 12/19/2009؛ مالي کال 2010 د دفاع وضاحتي بیان.

د 2014 په مارچ 4، ولسمشر د 2015 مالي کال لپاره خپل د بودیجې پروپوزل وسپاره؛ په هرصورت، نوموړی پروپوزل د DOD د پولو هاخوا احتمالي عملیاتو فنډ ورکولو لپاره یو ځای لرونکی لري ترکوم وخت پورې چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو شتون پای ته رسولو سکوپ په اړه اوضاع د پریکړې اجازه ورکړي.[44] لکه څنګه چې په تیرو ربعو کې راپور ورکړ شوی، په تیر مالي کال کې د بیارغونې مختص شوي فنډونو د پام وړ مقدار پاتې دی چې باید مکلف شي. له 7.46 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات چې د 2013 مالي کال د امریکا د څلورو سترو بیا رغونو فنډونو لپاره تخصیص شوي، نږدې 4.83 میلیاردو امریکایي ډالرو د مکلف کیدلو لپاره پاتې دي، لکه څنګه چې پدې جدول 3.5 کې ښودل شوي.

جدول 3.5

**د 2013 مالي کال تخصیصونه او ژمنې، د 2014 د مارچ تر 31 پورې** (میلیونونه ډالرو)

| | **اختصاص شوي** | **منل شوې** |
|---|---|---|
| ASFF | $4,946 | $2,360 |
| AIF | 325 | 261 |
| ESF | 1,623 | 0 |
| INCLE | 569 | 13 |
| **ټولټال** | **$7,463** | **$2,635** |
| **چې باید تعهد کړل شي** | | **$4,829** |

یادونې: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي. DOD د 2013 مالي کال ASFF څخه 178 میلیونه ډالرو بیا پروګرام کړې دي.

سرچینې: DOD، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/15/2014؛ USAID، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/7/2014؛ State، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/11/2014 او 6/27/2013؛ DFAS، "AR(M) 1002 تخصیص دریځ د مالي کال پروګرام او فرعي حسابونو مارچ 2014 په واسطه،" 4/16/2014؛ P.L. 113-6، 3/26/2013.

شکل 3.6

**اختصاصونه د مالي کال، رقم، او کټګورۍ په حساب** (په ملیاردونو ډالرو)




یادونې: ارقام برابر کړای شوي دي. د 2014 کال د بهرنیو چارو وزارت او USAID لپاره شمیرې فقط دمخه ټاکل شوی مقدار منعکس کوي او د کانګریس تصویب ته په تمه دي. دفاع وزارت د مالي کال 2011 د ASFF یو ملیارد ډالر بیا پروګرام کړل. دفاع وزارت د مالي کال 2012 د ASFF یو ملیارد ډالر بیا پروګرام کړل. P.L. 113-6 د مالي کال 2012 د ASFF یو ملیارد ډالر لغوه کړل. DOD د 2013 مالي کال ASFF څخه 178 میلیارده ډالر بیا پروګرام کړې دي. دفاع وزارت د مالي کال 2011 د AIF 101 ملیونه ډالر مالي کال 2011 لپاره ESF ته انتقال کړل تر څو یوه د یو ایس آیي ډي لخوا پلي کېدونکې د بېخ بناو پروژې ته بودیجه ورکړل شي.

سرچینې: دفاع وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 4/17/2014، 4/16/2014، 4/15/2014، 4/2/2013، 1/22/2012، 10/22/2012، 10/14/2009، او 10/1/2009؛ د بهرنیو چارو وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 4/15/2014، 4/11/2014، 4/9/2014، 6/27/2013، 10/5/2012، او 6/27/2012؛ خزانه، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 4/3/2014؛ OMB، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 7/19/2013 او 1/4/2013؛ یو ایس آیي ډي، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 4/7/2014، 10/15/2010، 1/15/2010 او 10/9/2009، عدلیه، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 7/7/2009، USDA، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 4/2009؛ CRS، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 1/8/2014؛ DFAS، "AR(M) 1002 د دسمبر 2014 د مالي کال د پروګرام او ضمني حسابونو د اختصاص حالت،" 4/16/2014؛ P.L. 113-76، 1/17/2014؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011؛ P.L. 111-212، 10/29/2010؛ P.L. 111-118، 12/19/2009؛ مالي کال 2010 د دفاع وضاحتي بیان.




**د ASFF وجهي صندوق ترمینالوژي**
د امریکا دفاع وزارت د ASFF وجهي صندوق لپاره د تخصیص، منل او مصرف کړل شوو راپور ورکړی

**تخصیصات:** د تعهداتو لپاره موجوده پیسې

**تعهد کړل شوې مرستې:** د پیسو د ورکولو تعهدات

**مصارفات:** هغه پیسې چې لګېدلې دي

سرچینه: DOD، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2010.

## د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجه

کانګریس د افغانستان امنیتي ځواکونو فنډ (ASFF) رامنځته کړ ترڅو ANSF ته تجهیزات، تحویلی، روزنه او فنډ ورکول چمتو کړي، په بیله بیا د ودانیو او زیربنا ترمیم، بیا نوي کول او ودانول.[45] د ANSF جوړولو لپاره بنسټیز مسؤل نهاد د شمالي اتلانتیک تړون سازمان د روزنې ماموریت – افغانستان/ د ګډ امنیتي لیږد قومانده – افغانستان دی.[46] مخکې لدې چې د ASFF فنډونه مکلف شي یو مالي او د فعالیت پلان باید د افغانستان سرچینو د څار شورا (AROC) لخوا تصویب شي.[47]

د یو کړی شوي تخصیصونو قانون، 2014، په 2014 مالي کال کې د ASFF لپاره نږدې 4.73 میلیاردو امریکایي ډالرو تخصیص ورکړي، چې د فنډ ورکولو مجموعه نږدې 57.33 میلیاردو امریکایي ډالرو ته زیاته شوې.[48] د 2014 د مارچ تر 31 پورې، د ASFF له ټول فنډ څخه نږدې 48.92 میلیاردو امریکایي ډالرو ژمنه شوې ده، چې لدې څخه 46.65 میلیاردو امریکایي ډالرو تادیه شوي دي.[49] شکل 3.7 په هر مالي کال کې د ASFF لپاره ورکړ شوي پیسې ښیي.

DOD راپور ورکړی چې مجموعي مکلفیتونه په ربع کې له 1.04 میلیاردو ډالرو څخه ډیر شوي، او مجموعي تادیات یا مصرف کول نږدې 1.27 میلیاردو ډالرو ډیر شوي.[50] شکل 3.8 د ASFF لپاره چمتو کړی شوي، مکلف شوي او مصرف شوي مقدار مجموعي پرتله کول ښیي.

شکل 3.7

**د مالي کال په حساب د ASFF اختصاص شوې بودیجې** (په ملیاردونو ډالرو)




شکل 3.8

**د ASFF بودیجې، مجموعي پرتله** (په ملیاردونو ډالرو)




یادونې: ارقام برابر کړای شوي دي. تازه شوي معلوماتو د 2013 مالي کال لپاره د تیټ مقدار مختصاتو پایله درلوده.
[a] دفاع وزارت مالي کال 2011 لپاره د ASFF یو ملیارد ډالر بیا پروګرام کړل.
[b] دفاع وزارت مالي کال 2012 لپاره د ASFF یو ملیارد ډالر بیا پروګرام کړل؛ نور یو ملیارد ډالر په P.L. 113-6 کې لغوه کړای شول.
[c] DOD د ASFF د 2013 مالي کال لپاره 178 ملیون ډالر بیاپروګرام کړی.
سرچینې: دفاع وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 4/15/2014 او 1/23/2014؛ P.L. 113-76، 1/17/2014؛ P.L. 113-6، 3/26/2013.

## د افغان امنيتي ځواکونو فنډ د فعاليتونو لګښت

د امريکا دفاع وزارت په ASFF کې د بودجې د فعاليتونو دريو ډلو ته فنډونه ورکوي:

- دفاعي ځواک (د افغانستان ملی اردو)
- کورنيو چارو ځواک ( د افغانستان ملی پوليس)
- اړوند فعاليتونه(ابتدايي زنداني عمليات

د هربودیجه فعالیتي ګروپ لپاره بودیجه بیا په خپل وار سره په څلورو فرعي فعاليتي ګروپونو باندي ویشل شوي ده. زيربنا، تجهيزات او ټرانسپورټيشن، روزنه او عمليات، او ثبات.[51] AROC بايد په کلني ډول له 50 میلیونه ډالرو څخه ډیر د اړتیاو خدمت او 100 میلیونه ډالرو څخه ډیر د غیر - معیاري تجهیزاتو اړتیا لپاره د ارتیا او لاسته راوړلو پلان تصويب کړي.[52]

د 2014 د مارچ تر 31 پورې، د امريکا دفاع وزارت نږدې 46.65 ميلياردو امريکايي ډالرو د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو نوښتونو لپاره تاديه کړي دي. لدې مقدار څخه، د 30.90 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه ډير ANA لپاره تاديه شوي، او له 15.39 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه ډير ANP لپاره تاديه شوي؛ او پاتي نږدې 353.76 ميليونه امريکايي ډالرو اړوندو فعاليتونو ته تللي دي.[53]

لکه څنګه چې په شکل 3.9 کې ښودل شوي، د فنډونو ډيره برخه د ANA لپاره تاديه شوې له 11.54 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه ډير د ANA سرتيرو پايښت ملاتړ لپاره. ANP ته له تاديه شوي فنډ څخه، تر ټولو ډيره برخه نږدې 5.70 ميلياردو امريکايي ډالرو هم د ANP ځواکونو پايښت ملاتړ کړی، لکه څنګه چې په شکل 3.10 کې ښودل شوي.[54]

**د بودجوي فعاليتونو ګروپ:** کټګورياني هر تخصيص دننه او يا هم د هغه مالي حساب چې د اړونده موخه، پروژه، او يا هم د تخصيص فعاليت په ګوته کوي

**فرعي فعاليتي ګروپ:** حسابي ګروپونو ويش په مالي سيمو باندي د تعهد کړل شوو مرستو مصارف په ډاګه کوي

سرچينې: د امريکا دفاع وزارت، "7110.1-M منول د دفاع وزارت د بودجوي لاربښود منول،" چې په 9/28/2009 لاس رسی ورته شوی دی؛ د هوايې ځواکونو رياست، "د روغتيايی اسانتيا مدير لاسی کتاب،" 5 پاڼه، چې په 10/2/2009 باندي لاس رسی ورته شوی دي.

شکل 3.9

**د ضمني-فعاليت د ډلې له لارې ملي اردو لپاره د ASFF مصارف، مالي کال 2005 - 31 مارچ تر 2014** (په مليااردونو ډالرو)




شکل 3.10

**د ضمني-فعاليت د ډلې له لارې ملي اردو لپاره د ASFF مصارف، مالي کال 2005 - 31 مارچ تر 2014** (په مليااردونو ډالرو)




يادونه: ارقام برابر کړای شوي دي.

سرچينه: د سيګار معلوماتو غوښتني ته، د امريکا د دفاع وزارت ځواب، 4/15/2014.




**د CERP د وجهي صندوق ترمينالوژي**

د امریکا دفاع وزارت د CERP وجهي صندوق تخصيصات، منل شوي او مصرف کړل شوي مرستې راپور ورکړي

**تخصیصات:** د تعهداتو لپاره موجوده پیسې

**تعهد کړل شوې مرستې:** د پیسو د ورکولو تعهدات

**مصارفات:** پیسې چې باید مصرف کړل شي

سرچینه: DOD، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/14/2010.

## د قوماندان بیړني غبرګون پروګرام

د قوماندان بیړني غبرګون پروګرام (CERP) په افغانستان کې د متحده ایالاتو قوماندانان په دې توانوي چې د هغو پروګرامونو په ملاتړ کولو سره چې د سیمه ایزې ابادۍ سمدستي مرسته وکړي، د خپل مسوولیت په برخو کې بیړنیو بشري مرستو او د بیا رغونې غوښتنو ته ځواب ووايي. تر دې پروګرام لاندې پانګونه ورو پروژو ته ځانګړې شوې ده، چې لګښت یې تر 500,000 ډالرو کم دی.[55] پروژو ته، چې لګښت یې تر 1 میلیونه ډالرو تېرې نه کوي، اجازه ورکړل شوې ده؛ خو دا د متحده ایالتونو د مرکزي قوماندې د قوماندان تصویب غواړي؛ له 5 میلیونه ډالرو څخه زیاتې پروژې د AROC لخوا تایید ته اړتیا لري. د CERP تمویل کړل شوي پروژې ممکن تر 20 میلیونه ډالرو تجاوز ونکړي.[56]

د یوکړی شوي تخصیصاتو قانون 2014، د CERP لپاره 30 میلیونه ډالرو تخصیص کړي چې پدې سره د ټولو مرسته شوو مجموعه 3.67 میلیاردو ډالرو ته رسیږي.[57] چې د دغه مقدار څخه د امریکا د دفاع وزارت د راپور پر اساس نږدې 2.29 میلیاردو ډالرو مکلف شوي، چې د 2014 کال د مارچ تر 31مه پورې یې نږدې 2.26 میلیاردو ډالرو مصرف کړل شوي دي.[58] شکل 3.11 د مالي کال په اساس د CERP لپاره تخصیصات ښيځ او شکل 3.12 په مقایسوي ډول د CERP پروژو لپاره د تخصیص، منل شوو او مصرف شوو ارقامو ښکارندوی کوي.

شکل 3.11

**د مالي کال په حساب د CERP اختصاصونه**

(په ملیونونو ډالرو)




شکل 3.12

**د CERP بودیجې، مجموعي پرتلنه**

(په ملیاردونو ډالرو)




یادونې: ارقام برابر کړای شوي دي. په ډاټا کښنیايي بین الاداري لېږدونې شاملې وي.

سرچینې: دفاع وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 4/17/2014 او 1/22/2014؛ OMB، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 1/4/2013؛ P.L. 113-76، 1/17/2014؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011.

## د افغانستان د زیربنا تمویلول

د افغانستان زیربنا فنډ (AIF) په 2011 مالي کال کې د لوړ اهمیت لرونکو-سترو زیربنایی پروژو لپاره رامنځته شوی چې د امریکا ملکي-نظامي هڅې ملاتړ کوي. د کانګرس غوښتنه ده چې د AIF لخوا تمویل شوي پروژې به د امریکا د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو لخوا په ګډه غوره او اداره کیږي. AROC باید د AIF – ټول فنډ شوي پروژې او د اجرا پلان تصویب کړي.[59] له دیرشو ورځو څخه وړاندې چې د AIF یوې پروژې ته د فنډ ژمنه او تادیه کیږي، د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزیران باید کانګرس د وړاندیز شوي پروژې له جزییاتو څخه خبر کړي، پشمول د ساتنې پلان او دا چې دا پروژه څنګه په افغانستان کې د یاغیانو سره د مبارزې د ستراتیژۍ ملاتړ کوي.[60]

د یوکړی شو یتخصیصاتو قانون 2014، د AIF لپاره 199 میلیونه ډالرو تخصیص کړي چې پدې سره د ټولو مرسته شوو مجموعه 1.22 میلیاردو ډالرو څخه ډیریږي.[61] پدغه ارقامو کې د 2011 مالي کال لپاره د AIF هغه 101 میلیونه ډالرو نه دي شامل کوم چې د 2011 مالي کال د اقتصادي ملاتړ وجهي صندوق ته چې د USAID لخوا د زیربنایي پروژو د پرمختګ لپاره کارول کیږي، لیږدول شوي وې. د 2014 د مارچ تر 31 پورې، نږدې 885.58 میلیونه امریکایي ډالرو د AIF د ټولې مرستې ژمنه شوې، چې لدغو څخه نږدې 228.99 میلیونه امریکایي ډالرو تادیه شوي دي.[62] شکل 3.13 د مالي کال پر اساس د AIF تخصیص ښیې، او دا شکل 3.14 د AIF د پروژو د تخصیص شوې، ژمنه شوې، او تادیه شوې پیسو پرتله کول ښیې.

شکل 3.13

**د مالي کال په حساب د AIF اختصاصونه**

(په ملیونونو ډالرو)




شکل 3.14

**د AIF بودیجې، مجموعي پرتلنه**

(په ملیونونو ډالرو)




یادونې: ارقام برابر کړای شوي دي. تازه کړی شوي معلوماتو په تیرې ربع کې راپور ورکړ شوي مقدار څخه ټیټ مکلفیت پایله درلوده.

[a] د مالي کال 2011 په شکل کې هغه 101 میلیونه ډالر نه دي شامل چېیو ایس آیي ډي ته د AIF د یوې پروژېلپاره لیږدل شوي وو.

سرچینې: DFAS، "AR(M) 1002 د دسمبر 2013 د مالي کال د پروګرام او ضمني حسابونو د اختصاص حالت،" 4/16/2014؛ دفاع وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 1/18/2014؛ P.L. 113-76، 1/17/2014؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011.




**د AIF وجهي صندوق ترمینالوژي**

د دفاع وزارت AIF وجهي صندوق لپاره د تخصیصاتو، منل شوو او مصرف شوو مرستو راپور ورکړ

**تخصیصات:** د تعهداتو لپاره موجوده پیسې

**تعهد کړل شوې مرستې:** د پیسو د ورکولو تعهدات

**مصارفات:** هغه پیسې چې لګېدلې دي

سرچینه: DOD، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2012.

## د سوداګریزو عملیاتو د ثبات او پایښت لپاره کاري ځواک

په 2010 کال کې د سوداګریزو عملیاتو د ثبات او پایښت لپاره کاري ځواک (TFBSO) په افغانستان کې د بې کارۍ د کچې د کمولو، افغانانو لپاره د اقتصادي فرصتونو د رامنځته کولو او همدا ډول د اقتصادي لاملونو د رامنځته شوي تاوتریخوالي سره د مبارزې له لارې د افغانستان د ثبات په موخه خپل فعالیت پدې هیواد کې پیل کړ. د TFBSO پروژو کې خصوصي پانګونه، صنعتي پرمختګ، بانک داري او د مالي سیستم وده، کرهنیزه تنوع او بیا راپیدا کول، او د بریښنا پرمختګ شامل دي.[63]

TFBSO د فنډ ورکولو دوه جلا جریانونه لري، د ملي دفاع واکمني قانون (NDAA) او د عملیاتو او ساتنې، اردو (OMA) حساب.

د 2014 د مارچ تر 31 پورې، د 2014 مالي کال لپاره TFBSO ته له 112.24 میلیونه امریکایي ډالرو څخه ډیر تخصیص ورکړ شوی دی، دا ډیریدونکې تخصیصونه نږدې 804.39 میلیونه امریکایي ډالرو ته رسوي.[64] لدغو پیسو څخه، له 726.01 میلیونه امریکایي ډالرو څخه ډیرو ژمنه شوې او 550.13 میلیونه امریکایي ډالرو تادیه شوي.[65] دا شکل 3.15 د هر مالي کال پر اساس د TFBSO د پروژو لپاره تخصیص شوي پیسې ښیي، او دا شکل 3.16 د TFBSO د پروژو لپاره د شته و، ژمنه شویو، او تادیه شویو پیسو مجموعي پرتله کول ښیي.

3.15 شکل

**د مالي کال په حساب د TFBSO اختصاصونه**

(په میلیونونو ډالرو)




3.16 شکل

**د TFBSO بودیجې، مجموعي پرتله**

(په میلیونونو ډالرو)




یادونه: ارقام برابر کړای شوي دي.

سرچینې: دفاع وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 4/4/2014، 1/2/2014 او 10/4/2011؛ P.L. 113-76، 1/17/2014؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011.




**د TFBSO وجهي صندوق ترمینالوژي**

د دفاع وزارت TFBSO وجهي صندوق لپاره د تخصیصاتو، منل شوو او مصرف شوو مرستو راپور ورکړ

**تخصیصات:** د تعهداتو لپاره موجوده پیسې

**تعهد کړل شوي مرستې:** د پیسو د ورکولو تعهدات

**مصارفات:** هغه پیسې چې لګېدلې دي

سرچینه: DOD، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2010.

**د ملي دفاع د واکمنۍ قانون (NDAA):** په NDAA کې د TFBSO لپاره مجوز شوي فنډونه د افغانستان بیارغونې پورې په مستقیم ډول تړلې فعالیتونو کې کارول شوي.

**عملیات او ساتنه، اردو (OMA):** هغه مرسته چې TFBSO یې د OMA څخه ترلاسه کوي د امریکا د متحده ایالاتو د اجناسو، ملکي کارکوونکو، سفر، امنیت او نورو عملیاتي او اوپراتیفي لګښتونو لپاره کارول کیږي.

## د امریکا د دفاع وزارت د مخدره توکو د مخنیوی او مخدره توکو سره د مبارزې فعالیتونه

د امریکا د دفاع وزارت د مخدره توکو د مخنیوی او مخدره توکو سره د مبارزې فعالیتونو فنډ (DOD CN) د مخدره توکو د سوداګرۍ او اړوندو فعالیتونو سره د مبارزې له لارې د افغانستان د ثبات د هڅو ملاتړ کوي. د امریکا د دفاع وزارت له DOD CN څخه کار اخلې ترڅو د مخدره توکو د قاچاق پر وړاندې د اردو د عملیاتو ملاتړ وکړي؛ د افغانستان د مخنیوی عملیات پراخ کړي؛ او د افغانستان د قانون پلي کوونکو ادارو ظرفیت زیات کړي، او پدې کې د افغانستان سرحدي پولیسو لپاره د تخصیصي روزنې، تجهیزات، او تاسیسات برابرول شامل دي.[66]

د DOD CN فنډونه د اردو ټولو خدماتو ته د یوې بودجې په توګه د کانګرس لخوا تخصیص ورکول کیږي. د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو سره د مبارزې د سپارلو له مرکزي حساب (CTA) څخه د اردو د خدماتو او د دفاع ادارو ته فنډونه بیرته پروګراموي چې د فنډونو ژمنې او سپارل تعقیبوي. د هر مالي کال لپاره د امریکا دفاع وزارت د افغانستان لپاره د DOD CN د حسابونو په اړه د یو لګښت په توګه راپور ورکړي.[67]

DOD راپور ورکړی چې DOD CN د 2014 مالي کال لپاره د افغانستان لپاره نږدې 320.79 میلیونه امریکایي ډالرو لاسته راوړي، چې له 2004 مالي کال څخه د DOD CN زیاتیدونکي مرستې 2.93 میلیاردو امریکایي ډالرو ته رسیږي. لدې مقدار څخه، نږدې 2.61 میلیاردو ډالرو تر 2014 د مارچ 31 پورې د DOD CN پروژو لپاره نظامي خدماتو او دفاع ادارو ته لیږدول شوي.[68] شکل 3.17 د مالي کال پراساس د DOD CN تخصیصات ښیې، او شکل 3.18 له DOD CN CTA څخه لیږدول شوي او تخصیص شوي مقدار مجموعي پرتله کول وړاندې کوي.




**د DOD CN وجهي صندوق ترمینالوژي**

د دفاع وزارت د DOD CN وجهي صندوق لپاره د تخصیصاتو، منل شوو او مصرف شوو مرستو راپور ورکړ

**تخصیصات:** د تعهداتو لپاره موجوده پیسې

**تعهد کړل شوې مرستې:** د پیسو د ورکولو تعهدات

**مصارفات:** هغه پیسې چې لګېدلې دي

سرچینه: DOD، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2010.

شکل 3.17

**د مالي کال په حساب د DOD CN اختصاصونه** (په ملیونونو ډالرو)




شکل 3.18

**د DOD CN بودیجې، مجموعي پرتلنه**

(په ملیاردونو ډالرو)




یادونې: ارقام برابر کړای شوي دي. تازه کړی شوي معلوماتو د 2013 مالي کال لپاره د ټیټ تخصیصاتو پایله درلوده.

[a] DOD د نظامي خدمتونو او دفاعي ادارو ته د ټولو بودیجو د منلو او مصرف لپاره له سره پروګرام جوړوي.

سرچینې: دفاع وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 4/16/2014، 3/28/2014، 1/22/2014، او 12/30/2013.

## د اقتصادي ملاتړ بوديجه

د اقتصادي مرستو فنډ(ESF) پروګرام بېلابېلو هېوادونو ته د اقتصادي، سياسي او امنيتي غوښتنو له مخې د اوږمهالو او لنډمهالو سفرونو د برابرولو په موخه د متحده ايالتو له ګټو سره مرسته وکړه. د ESF پروګرامونه د تروريزم پر وړاندې د پروګرامونو ملاتړ کوي؛ ملي اقتصادونه ځوکمن کوي؛ او د لا ډېر شفاف او حساب ورکوونکي حکومت لپاره د اغېزمن، د لاس رسي وړ، او خپلواک قانوني سيستم د پراختيا لپاره مرسته کوي.[69]

د ESF لپاره 852 ميليونه ډالرو د 2014 کال لپاره تخصيص شوې و، چې پدې سره د ESF سره د ترسره شوو مرستو کچه په مجموعي ډول تر 17.53 ميلياردو ډالرو زياتيږي. لدې پيسو څخه، نږدې 14.66 ميلياردو امريکايي ډالرو ژمنه شوې، چې لدې څخه 11.71 ميلياردو امريکايي ډالرو تاديه شوې.[70] شکل 3.19 د هر مالي کال لپاره د ESF تخصيص ښيې.

USAID راپور ورکړی چې تر 2014 مارچ 31 پورې مجموعي مکلفيتونه شاوخوا 3.1 ميليونه ډالرو په تير ربع کې راپور ورکړ شوې څخه کم شوې. د 2014 د مارچ تر 31 پورې، د ډېريدونکي تاداياتو، د 2013 د دسمبر تر 31 پورې پر ډېريدونکو تادياتو له نږدې 538.83 ميليونه امريکايي ډالرو څخه ډېر زيات شوې.[71] دا شکل 3.20 د ESF د پروګرامونو د تخصيص شوې، ژمنو شويو او تاديه شوی مقدار مجموعي پرتله کولو اندازه ښيې.




**د ESF وجهي صندوق ترمينالوژي**
د دفاع وزارت ESF وجهي صندوق لپاره د تخصيصاتو، منل شوو او مصرف شوو مرستو راپور ورکړ

**تخصيصات:** د تعهداتو لپاره موجوده پيسې

**تعهد کړل شوې مرستې:** د پيسو د ورکولو تعهدات

**مصارفات:** هغه پيسې چې لګبدلې دي

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/15/2010.

شکل 3.19

**د مالي کال په حساب د ESF اختصاصونه**
(په مليونونو ډالرو)




شکل 3.20

**د ESF بوديجې، مجموعي پرتله**
(په ميلياردونو ډالر)




يادونې: ارقام برابر کړای شوي دي. د 2014 مالي کال شميره د افغانستان لپاره دمخه ټاکل شوی مقدار ښيې او د کانګريس نهايي تصويب سره مخ دي. په مالي کال 2011 کې هغه 101 مليون ډالر شامل دي چې ESF ته د افغانستان د ببڼ بناو د بوديجې لخوا ليږدول شوي وو. تازه کړی شوي معلوماتو په تيرې ربع کې راپور ورکړ شوي مقدار څخه د ټيټ مکلفيت پايله درلوده.

سرچيني: يو ايس آيي ډي، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 4/7/2014 او 1/7/2014؛ بهرنيو چارو وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 4/15/2014 او 6/27/2013.

## د مخدره توکو نړیوال کنترول او د قانون پلي کول

د متحده ایالاتو د نړیوال مخدره موادو او د قانون د تنفیذ چارو(INL) دفتر یو داسې حساب سمبالوي چې د قانون حاکمیت پیاوړی کړي او د مخدره موادو د تولید او قاچاق پر وړاندې مبارزه وکړي — د نړیوال مخدره موادو د کنترول او د قانون د تنفیذ (INCLE) حساب. INCLE د INL د څو پروګرامونو، پشمول د پولیسو، مخدره توکو سره مبارزې، او د قانون حاکمیت او عدالت ملاتړ کوي.[72]

د بهرنیو چارو وزارت راپور ورکړی چې INCLE ته د 2014 مالي کال لپاره 225 میلیونه ډالرو تخصیص شوي، چې د INCLE لپاره مجموعي فنډ ورکول 4.42 میلیاردو ډالرو ته رسوي. لدې پیسو څخه، نږدې 3.55 میلیاردو امریکایي ډالرو ژمنه شوې ده، چې لدې څخه نږدې 2.95 میلیاردو امریکایي ډالرو تادیه شوې دي.[73] اد شکل 3.21 د مالي کال لپاره د INCLE تخصیص ښیي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت راپور ورکړی چې د 2014 د مارچ تر 31 پورې، ډېریدونکي ژمنې د 2013 د دسمبر تر 31 پر ډېریدونکو ژمنو باندې نږدې 9.65 میلیونه ډالرو زیات شوې. د 2014 د مارچ تر 31، مجموعي تادیات، د 2013 د دسمبر تر 31 پر مجموعي تادیاتو نږدې 103.45 میلیونه امریکایي ډالرو زیات شوي.[74] اد شکل 3.22 د INCLE لپاره د تخصیص شویو، ژمنه شویو، او تادیه شویو مجموعي مقدارونو پرتله کول ښیي.

شکل 3.21

**د مالي کال په حساب د INCLE اختصاصونه**

(په ملیونونو ډالرو)




شکل 3.22

**د INCLE بودیجې، مجموعي پرتلنه**

(په ملیاردونو ډالرو)




یادونې: ارقام برابر کړای شوي دي. د 2014 مالي کال شمیره د افغانستان لپاره دمخه ټاکل شوی مقدار ښیې او د کانګریس نهایی تصویب سره مخ دي. په ډاټا کښبایي بین الاداري لېږدونې شاملې وي.

سرچینې: د بهرنیو چارو وزارت، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځواب، 4/15/2014، 4/11/2014 او 1/13/2014.




**د INL وجهي صندوق ترمینالوژي**

INL د INCLE او نور INL فنډونو لپاره د تخصیصاتو، منل شوو او مصرف شوو مرستو راپور ورکړ

**تخصیصات:** د تعهداتو لپاره موجوده پیسې

**تعهد کړل شوې مرستې:** د پیسو د ورکولو تعهدات

**مصارفات:** هغه پیسې چې لګېدلې دي

سرچینه: د سیګار د 4/9/2010 معلوماتي غوښتنې ته د بهرنیو چارو وزارت ځواب.

## د افغانستان لپاره د بیا رغونې نړیواله مرسته

د امریکا د متحده ایالاتو د مرستو برسېره، نړیواله ټولنه د افغانستان د بیارغونې او هوساینې په برخه کې په پراخه کچه د پام وړ مرستې ترسره کړي دي. لکه څرنګه چې د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي په تیرو راپورونو کې هم راغلي وو، د افغانستان سره د ترسره کیدونکي ډېرى نړیوالې مرستې د باوري فنډونو له لارې سمبال او اداره کیږي. د باوري پانګو له لیارې چمتو شوي اعانې یوځای شوي او وروسته د بیارغونې کړنو باندې لګول شوي. د باوري فنډ د ډلې څخه دوه لوی فنډونه د افغانستان د بیارغونې باوري فنډ (ARTF) او د افغانستان لپاره د قانون او نظم باوري فنډ (LOTFA) دي.[75]

## د افغانستان بیارغونې وجهي صندوق ته مشارکت

د افغانستان عملیاتي او پرمختګ بودیجو ته د نړیوالو مرستو خورا لوی سهم د ARTF له لیارې راځي. له 2002 څخه د 2014 تر مارچ 20 پورې، نړیوال بانک راپور ورکړی چې 33 مرسته کوونکو هیوادونو نږدې 7.81 میلیاردو امریکایي ډالرو ژمنه کړې، لدغو څخه نږدې 7.03 میلیاردو امریکایي ډالرو ورکړل شوي دي.[76] د نړیوال بانک په وینا، مرسته کوونکو هیوادونو د افغانستان د 1393 مالي کال لپاره نږدې 902.04 میلیونه امریکایي ډالرو ARTF ته ژمنه کړې ده، چې د 2013 د دسمبر له 21 څخه د 2014 د دسمبر تر 20 مودې لپاره دي.[77] شکل 3.23 ARTF ته 11 خورا لوی ډونران د 1393 مالي کال لپاره ښيي.

شکل 3.23

**له 20 مارچ تر 2014 سره سم، مالي کال 1392 لپاره ډونر لخوا ARTF ته ورکړې** (په ملیونونو ډالرو)




یادونې: ارقام برابر کړای شوي دي. مالي کال 1393 = 12/21/2013–12/20/2014.

سرچینه: نړیوال بانک، "ARTF: له 20 مارچ تر 2014 سره سم (د مالي کال 1393 د دولسمې میاشتې پای) د مالي حالت په اړه راپور،" مخ 1.

د 2014 د مارچ تر 20 پورې، امریکا له 2.26 ميلياردو ډالرو څخه ډېره ژمنه کړې وه او له 2002 څخه يې نږدې 1.98 ميلياردو امريکايي ډالرو ورکړي.[78] امريکا او انګلستان د ARTF دوه لوی مرسته کوونکي هیوادونه دي، لکه څنګه چې پدې شکل 3.24 کې ښودل شوي، هغوی يو ځای د ټول فنډ 46% ورکړي.

د ARTF سره مالي تعهدات په دوو مالي چينلونو باندې ويشل شوي دي — بیرته راګرځیدونکي لګښتونو کړکۍ (RC) او د پانګونې کړکۍ.[79] د 2014 کال د مارچ 20 سره سم، د نړيوال بانک په وينا، د ARTF له 2.97 ميلياردو ډالروڅخه ډېره مرسته د افغانستان حکومت لخوا د RC کړکۍ لخوا د بیرته راګرځيدونکو لګښتونو لکه د ملکي کارکوونکو د معاشاتو د ورکړې په برخه کې لګول شوي.[80] د RCد افغان حکومت عملیاتي مصارفو لپاره کارول کيږی ځکه د دولت عايدات لا تراوسه د دغه مصارفو د پوره کولو لپاره کافی نه دي. ترڅو دا وکتل شي چې د روانو لګښتونو کړکی په پوره اندازه مرستې ترلاسه کوي، کیدای شي ARTF ته مرسته کوونکي هیوادونه له نيمې څخه ډېره برخه اخيستنه د پام وړ پروژو لپاره و نه "غواړي" (په نښه نکړي).[81]

د پانګونې وینډو د پرمختيايي پروګرامونو بيې ورکوي. د 2014 د مارچ تر 20 پورې، د نړيوال بانک په وينا، د پانګې اچونې د کړکی له لارې پروژو ته له 3.26 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه ډېرو ژمنه شوې ده، لدغه څخه 2.34 ميلياردو امريکايي ډالرو تاديه شوې دي. نړيوال بانک د 19 روانو پروژو راپور ورکړی چې ټول ژمنه شوی ارزښت يې نږدې 2.03 ميلياردو امريکايي ډالرو دي، لدغه څخه نږدې 1.11 ميلياردو امريکايي ډالرو تاديه شوې دي.[82]

شکل 3.24

**د 2014 د مارچ تر 20 پورې، له 2002 راهیسې د ډونرانو په واسطه ورکړ شوي د ARTF اعانې** (اوسنی)

**ټولې ورکړل شوي پيسې:** $7.0 ملیارده




يادونې: ارقام برابر کړای شوي دي. په "نورو" کې 29 ډونران شامل دي.

سرچينه: نړيوال بانک، "ARTF: له 20 مارچ تر 2013 سره سم (د مالي کال 1393 د دولسمې مياشتې پای) د مالي حالت په اړه راپور،" مخ 4.

## د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندوق ته مرستې

د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام (UNDP) د افغان ملي پولیسو د معاشاتو د ورکړې چارې د پرمخ بيولو LOTFA چارې پرمخ وړي او همدا ډول د افغان کورنيو چارو وزارت د ظرفيتونو د ارتقا په برخه کې فعاليت کوي.[83] د 2002 کال راپديخوا مرسته کوونکو د LOTFA سره نږدې 3.18 ميلياردو ډالرو مرستو تعهد کړی، او د تازه ارقامو په اساس د دغه جمع څخه يې 3.17 ميلياردو ډالرو ورکړل شوي دي،[84] د LOTFA شپږم فاز په جنورې 1 کال 2011 کې پيل شوو. فيز شپږ په لومړنۍ توګه د 2013 کال د مارچ په 31 پای ته رسیدو لپاره پلان شوی و، مګر وروسته د دوه غزونو څخه، د پای پلان شوې نيټه دا مهال 2014 د دسمبر 31 ده. د 6 فاز د شروع څخه پدې 33 مياشتو کې، UNDP د LOTFA څخه افغان حکومت ته افغان ملي پولیسو او د مرکزي زندانونو رياست کارکوونکو ته له 1.39 ميلياردو ډالرو څخه ډير ليردولي او اضافي 33.44 ميليونه ډالرو يې د LOTFA اړوند د ظرفيتونو د ارتقا فعاليتونو ته ورکړي دي.[85] د 2013 د سپتمر تر 30 پورې، مرسته کوونکو هیوادونو د LOTFA د شپږمې دورې لپاره له 1.65 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه ډېره ژمنه کړې ده. لدغو پيسو څخه، امریکا د 659.11 ميليونه امريکايي ډالرو ژمنه کړې ده، او جاپان له 614.76 ميليونه امريکايي ډالرو څخه ډېره ژمنه کړې ده. د هغوی ګډې ژمنې د LOTFA د VI دورې له 77% څخه د زياتو ژمنو استازيتوب کوي. د امريکا متحده ايالاتو د LOTFA د تاسیس څخه راپديخوا د هغه سره نږدې 1.21 ميلياردو ډالرو مرسته کړې ده[86] شکل3.25 د 2002 کال راپديخوا د ترلاسه شوو معلوماتو په اساس د څلور سترو مرسته کوونکو ښکارندوی کوي.

شکل 3.25

**راهیسې LOTFA ته د ډونرانو ورکړې له 30 سپتمبر 2013 سره سم، له 2002** (اوسنی)

**ټولې ورکړل شوي پيسې:** $3.1 ملیارده




يادونې: ارقام برابر کړای شوي دي. EU/EC = اروپايي کميسيون/اروپايي اتحاديه په "نورو" کې 18 ډونران شامل دي.

سرچينې: سرچينې، "LOTFA پنځم پړاو د دريو مياشتو د پرمختګ راپور 3 مه درې مياشتنۍ/2013،" 12/31/2013، مخونه 80-81؛ د UNDP د درې مياشتنيو او د LOTFA کلنيو راپورونو د SIGAR تحليل، 1/22/2014.

# د امنیت منځپانګې


| | |
|---|---|
| د دې ربعې کلیدي مسایل او پیښې | 85 |
| د امنیت چاپیریال | 89 |
| د متحده ایالاتو ځواکونه په افغانستان کې | 89 |
| د موجوده قرارداد کولومقرراتو سره اجابت اوس هم مسله ده | 89 |
| د ANSF ځواک | 90 |
| د دفاع او کورنیو چارو وزاتونو ارزونې | 94 |
| افغانستان سیمه ایز پولیس | 95 |
| د افغانستان عامه خوندیتوب ځواک | 96 |
| افغان ملي اردو | 96 |
| د افغانستان هوایي ځواک | 102 |
| افغان ملي پولیس | 103 |
| د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) روغتیا/روغتیایي پاملرنه | 107 |
| د ناچاودېدلو موادو لیرې کول | 108 |
| د مخدره توکو په وړاندي مبارزه | 109 |

# امنیت

تر د 31 مارچ 2014 پورې د متحده ایالات کانګرس د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) د ملاتړ لپاره له 58.8 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه ډېر تخصیص ورکړی دی. د دې مرستو ډېره برخه (57.3 میلیارده امریکایي ډالر) د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د وجهي صندوق (ASFF) له لارې مجرا شوي او د افغانستان د امنیت سپارلو ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) ته ورکړ شوي. کانګریس ASFF د دې موخې لپاره رامنځته کړ چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه جوړ، روزنه، او دوام ورکړي، چې د افغانستان له ملي اردو (ANA) او د افغانستان له ملي پولیسو (ANP) څخه ترکیب شوي. ASFF ته د ځانګړې شویو 57.3 میلیارد ډالرو لهجملې د شاوخوا 48.9 میلیارد ډالرو ژمنه شویده او له هغې جملې د 2014 کال د مارچ تر 31 پورې 46.6 میلیارده ډالر لګول شویدي.[87]

دا برخه د ANSF او د دفاع او کورنیو چارو د وزارتونو په ارزونې باندې خبرې کوي؛ او د امریکا له مرستو څخه د ANSF د جوړولو، تجهیز کولو، روزلو، او دوام لپاره د کار اخیستلو لنډیز وړاندې کوي؛ او په افغانستان کې د غیر قانوني مخدره توکو د کرهنې او تجارت په وړاندې د مبارزې د هڅو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي. دا برخه د 2014 په پای کې د افغانستان په مشرۍ د امنیت سپارلو ننګونو باندې هم خبرې کوي.

## د دې ربعې کلیدي مسایل او پیښې

پدې ربع کې کلیدي مسایل او پیښې د سنا او پارلمان د مسلح خدماتو کمیټو پروړاندې د جنرال جوزف ایف. ډانفورډ شهادت، د متحده ایالاتو او افغان دوه اړخیز امنیتي تړون نه لاسلیک کیدو په اړه د متحده ایالاتو مداوم اندیښنې، د بحري ځیرنو لپاره د مرکز د ANSF د خپلواک ارزونې خپرول، د افغان عامه محافظت ځواک منحل کول، او د افغان سیمه ایز پولیس عامه لید سنجش په اړه د تمرکز ډلې موندنو خپرول شامل دي.

> ”که چیرې موږ د 2014 پای کې ووځو، افغان امنیتي ځواکونه به په زوال پیل کړي.“
>
> — جنرال جوزف ایف. ډانفورډ

سرچینه: واشینګټن پوسټ، ”په افغانستان کې د متحده ایالاتو قوماندان خبرداری ورکوي چې بشپړ وتل به القاعدې ته لاره هواره کړي چې بیا سره راټول شي،“ 3/12/2014.

### جنرال ډانفورډ کانګریس ته خبرداری ورکوي: ANSF د متحده ایالاتو دوامداره ملاتړ ته اړتیا لري

په مارچ 12، جنرال جوزف ایف. ډانفورډ د نړیوال امنیت مرستندویه ځواک (ISAF) او د متحده ایالاتو ځواکونه – افغانستان (USFOR-A) قوماندان قانون جوړونکو ته خبرداری ورکړ چې ANSF به روان ملاتړ ته اړتیا ولري که غواړي چې د افغانستان په خوندي ساتلو کې په خپل رول کې بریالي شي. هغه د سنا مسلح خدماتو کمیټې ته وویل، ”که چیرې موږ د 2014 پای کې راوځو، نو افغان امنیتي ځواکونو زوال به پیل شي. امنیتي چاپیریال به په زوال پیل وکړي، او زما په آند یوازینی بحث د نوموړي زوال راتګ دی.“[88]

جنرال ډانفورډ د مارچ په 13 د پارلمان مسلح خدماتو کمیټې ته وویل چې ANSF د طالبانو ګواښونو پروړاندې مقابله کې پرمختګ کړی، مګر پېژندل شوې برخې دي چیرې چې به دوی رواني مرستې ته اړتیا ولري. هغه قانون جوړونکو ته وویل، "په جون کې د مشرۍ په غاړه اخیستو راهیسې بیلابیل چالشونو ته د افغان ځواکونو د غبرګون له کتو وروسته، زه باور نه لرم چې د طالبانو بلواګري دوی یا د افغانستان حکومت ته یو موجودي ګواښ وړاندې کړي." هغه دا هم وویل، "که څه هم افغانان د امنیتي عملیاتو پرمخ وړو کې لږ ملاتړ ته اړتیا لري، دوی اوس هم د سیستمونو بشپړتیا په برخه کې مرستې ته اړتیا لري، چې د مدرن ملي اردو او پولیس ځواک ملاتړ ته ضروري پروسې او نهادونه دي. دوی په هوایي، اطلاعاتو یا استخباراتو او ځانګړي عملیاتو کې د وړتیا تشو په نښه کولو کې مداوم ملاتړ ته هم اړتیا لري. د نوموړي تشو په نښه کولو لپاره به له دې کال وروسته یو د ،روزنې، مشورې او مرستې، وظیفه ضروري وي ترڅو د افغان ځپل-استحکام لانور وده وکړي."[89]

## دوه اړخیزه امنیتي موافقه

په افغانستان کې د 2014 کال وروسته د متحده ایالاتو ځواکونو قانوني دریځ ټاکلو لپاره د متحده ایالاتو او افغانستان ترمنځ دوه اړخیزه امنیتي موافقه (BSA) بې لاسلیک پاتې ده. د BSA نهایی دریځ به له 2014 وروسته په افغانستان کې د متحده ایالاتو نظامي شتون باندې ژور اغیز ولري، د بیا رغونې پروګرامونو مالي حمایت ته د دوام لپاره د متحده ایالاتو او نړیوالې ټولنې لیوالتیا، او د امنیت، حکومتدارۍ، او اقتصادي سیکتورونو کې د ودې ساتلو لپاره د افغانستان وړتیا. په تیره ربع کې، د امریکا او افغانستان حکومتونو د دوه اړخیزې امنیتي موافقې د مسودې په متن باندې موافقه وکړه او لویه جرګې دا سند تایید کړ. ولسمشر کرزي د دې سند له لاسلیک کولو ډډه وکړه. په هرصورت، د والسټریټ ژورنال په وینا، د افغانستان د اپریل 2014 ولسمشریزو ټاکنو کې دوه مخکښ نوماندانو ویلي چې BSA به لاسلیک کړي که چیرې وټاکل شو.[90]

BSA به د متحده ایالاتو نظامي روزونکو او د تروریزم ضد ځواکونو ته اجازه ورکړي چې له دې کال وروسته په افغانستان کې پاتې شي.[91] د متحده ایالاتو د ځواکونو پاتې شونی مشروط حد لاتر اوسه ندی ټاکل شوی. د مطبوعاتي راپورونو په وینا، د نړیوال معاونت امنیتي ځواک (ISAF) قوماندان، جنرال جوزیف دنفورد، له 2014 کال وروسته د 12,000 ځواکونو سپارښتنه کړې ده: 8,000 د امریکا او 4,000 د نړیوالې ټولنې ځواکونه. پداسې حال کې چې د نوموړي سرتیرو ډیری برخه به ANSF ملاتړ کوي، روزي، او مشوره به ورته ورکوي، شاوخوا 2,000 به د تروریزم ضد عملیات پرمخ وړي.[92]

## د ANSF خپلواک ارزونه

پدې ربع کې، د بحري څیړنو لپاره مرکز (CNA)، د څیړنې یو غیر-انتفاعي سازمان، د ANSF په اړه خپله خپلواک ارزونه خپره کړه. د دفاع وزارت (DOD) د 2013 د ملي دفاع واکمنۍ قانون اړتیا په ځواب کې CNA د "شمیر، ځواک جوړښت، ځواک حالت، او د [ANSF] خپل هیواد لپاره امنیت چمتو کولو جوګه کیدو پاره اړین وړتیاو د خپلواکې ارزونې لپاره انتخاب کړی و."[93]

د CNA مطالعه وړاندوینه کوي چې د متحده ایالاتو او ناټو ځواکونو د کمښت او په پاکستان کې د ترهګرۍ پټنځاینو مداوم شتون له امله به د اوس په پرتله په 2015–2018 کلونو کې په افغانستان کې ترهګري لا لوی ګواښ وي.[94] د CNA راپور وړاندوینه کوي چې طالبان به په ANSF خپل فشار وساتي، له ایتلافي ځواکونو خالي شوي سیمو کې به خپل اغیز پراخه کړي، کلیدي ښارونه به محاصره کړي، او په کابل او نورو ښارونو کې به لوی بریدونه په لاره واچوي. نوموړی راپور دا هم وايي چې طالبان به د لږې مودې لپاره منابع خوندي کړي څکه چې د "خورا لوی او لا نور قوي نظامي هڅې" په لاره اچولو دمخه له کلونو راهیسې ایتلافي عملیاتو څخه بیرته روغ شي.[95]

د CNA ارزونه نتیجه ګیري کوي که چیرې د 2018 کلونو په اوږدو کې ANSF بریالی وي، نو په 2019–2023 کې سیاسي استقرار ډیر احتمال لري.[96] د دې کولو لپاره، ANSF د 373,400 پرسونل ځواک ته، د اوسني ځواک جوړښت کې ځینو بدلونونو سره د 2018 په اوږدو کې اړتیا لري.[97] د CNA په وینا، د ANSF اوسنی ځواک شمیر 382,000 دی.[98] دا شمیر د سیګار د 336,388 مجموعې څخه توپیر لري څکه چې دا د ګمارل شوي پرځای د مجوز ځواک کچو پر بنسټ دی او افغان سیمه ایز پولیس (ALP) پکې شمال دي، کوم چې د سیګار په مجموعه کې ندي شامل؛ ALP پدې راپور کې جلا حساب شوي. سربیره پردې، CNA پایله کړې چې ANSF او هغه وزارتونه چې ANA او ANP ملاتړ کوي به "په افغانستان کې د نن ورځې ماموریت ته ورته چاراکو" سره د "لږترلږه 2018 په اوږدو" کې نړیوالې مرستې او مشورو ته اړتیا ولري.[99] دا به د نړیوالې ټولنې مداوم ژمنتیا ته هم اړتیا ولري. د CNA په وینا، "د نړیوالې ټولنې ملاتړ وتلو کې دا احتمال شتون لري چې ناخوښې پایلې ولري په شمول د افغانستان کې نوي ملکي جنګ او سیمه کې ډیره بې ثباتي."[100]

## د افغان عامه محافظت ځواک منحل کول

د DOD په وینا، د فبروري په 17 ولسمشر کرزي امر کړی چې د افغان عامه محافظت ځواک (APPF) اداره کونکی دولتي شرکت باید منحل شي او د APPF پرسونل او دندې دې د کورنیو چارو وزارت (MOI) کې مدغم کړی شي.[101] د 2014 کال مارچ په 8 د کورنیو چارو وزیر یوه ناسته سرته ورسوله ترڅو پکې د افغان عامه محافظت ځواک (APPF) منحل کیدو او د قطارونو او ایتلاف ودانیو لپاره د امنیت چمتو کولو دوام لپاره بدیلونو په اړه وغږیږي.[102]

د DOD په وینا، د APPF لیږد په واسطه به څلور امنیتي برخې اغیزمنې شي: ملي پروژې، خصوصي سیکتور، د قطار او سړک امنیت، او نړیوالې پروژې.[103]

د ملي پروژو امنیت به له APPF څخه ANP ته وسپارل شي. د خصوصي سیکتور ساحو د محافظت لپاره، د مالیې وزارت د امنیتي خدماتو لپاره د پرداخت یا ورکړې ته د خصوصي پیرودونکو لپاره د پروسس قانوني توضیحاتو باندې کار کوي. د قطار او سړک امنیت به له APPF څخه ANP ته د ولایتي پولیس لپاره لا لوی مسؤلیت او د لوی لارو ګزمې نوي واحد ته واړول شي. د DOD په وینا، د قطار کافي امنیت اطمیناني کولو لپاره به د چټک غبرګون ځواک او MOI ټرانسپورټیشن لیوا هم مرسته کوي. د نړیوالو پروژو لپاره، د MOI او نړیوالو پلاوي یو ګډ کمیسیون کار کوي ترڅو یوه لاره رامنځته کړي، ورکړل شوي پروسیژرې او قانوني محدودیتونه د هیوادونو او نهادونو ترمنځ توپیر لري.[104]

> "د نړیوالې ټولنې ملاتړ وتل احتمالا تر یوحده ناخوښې پایلې ولري په شمول د افغانستان کې نوې کورنۍ جګړې او سیمه کې د بې ثباتۍ ډیروالی."
>
> — د بحري څېړنو لپاره مرکز

سرچینه: د بحري څیرنو لپاره مرکز، "د افغان ملي امنیتي ځواکونو خپلواک ارزونې لنډیز،" 1/24/2014، 40–41 مخونه.

د DOD په وينا، د APPF نوی نهاد توضيحاتو باندې به د ناټاکل شوې مودې د ليږد دورې پرمهال کار وشي. د ليږد وروسته، MOI فکر کوي چې د نړيوالو نهادونو لپاره امنيت به د "ANP ځانګړي پوليس" په واسطه چمتو کړی شي کوم چې د ANP "ځانګړي ضميمه" ده. دا نهاد به د ماليې وزارت کې خپل شخصي بانکي حساب او د پرداخت خپل سکيم ولري. MOI وويل چې که څه هم د ANP دې پرسونل ته "ګارد،" نه ويل کيږي دوی ممکن د قانون پلي کول فقط محدود واکونه ولري او د ګارد په حيث به دنده ترسره کوي. له دې کبله چې د لوی لارو امنيت لادمخه د ANP دنده ده، ANP نشي کولی د قطار امنيت چمتو کولو لپاره پاداش لاسته راوړي. د DOD په وينا، MOI وويل چې د قطار امنيت لپاره به هيڅ فيس نه اوسي.[105]

په 2009 کې د APPF رامنځته کولو څخه تر د 2012 مالي کال پورې، متحده ايالاتو د نوموړې ځواک پر پښو دريدو لپاره له 51 مليون امريکايي ډالرو څخه ډير چمتو کړي.[106] نوموړې دولتي شرکت د متحده ايالاتو او نړيوالو ادارو ته د قرارداد امنيتي خدماتو وړاندې کولو په واسطه خپل عايدات رامنځته کړي.

په APPF د لاډيرو معلوماتو لپاره، د دې برخې په 96 مخ کې "افغان عامه محافظت ځواک" وګورئ.

## د افغان سيمه ايز پوليسو عامه محافظت

پدې ربع کې، د ځانګړي عملياتو ګډ کاري ځواک افغانستان (SOJTF-A) د ALP د عامه محافظت سنجش په اړه د يوه تمرکز دلې سروی موندنې خپرې کړې. د سروی په جريان کې، د ALP په اړه د 28 تمرکز ډلو څخه د ټولنې له لس څخه شپږ غړو او کلي مشرانو په درلودو سره ترې يولړ پوښتنې پوښتل شوې وې. پداسې حال کې چې په شمالي او سويلي ولسواليو کې د تمرکز ډلو د ALP په اړه خورا منفي حس درلود، د تمرکز ټولې ډلې پدې موافق دي چې ALP د ټولنې امنيت ته وده ورکوي. د سيمه ايزو جرايمو سره جګړې لپاره ALP مکس يا ګډې نومرې لاسته راوړې او په ډيری ولسواليو کې د ټولنې شخړې حلولو کې برخه اخيستو لپاره پرې انتقاد شوی. د SOJTF-A په وينا، ډيری برخه اخيستونکو په نښه کړې چې له کوم وخت څخه چې ALP د ANP تر واک لاندې راغلی، دوی فساد او جرايمو ته مخه کړې ترڅو هغه معاشات جبران کړې چې تل په خپل وخت سره نه ورکول کيږي.[107]

د تمرکز ډلې سروی په ALP کې دواړه پياوړتيا او ضعفونه پيژندلي دي. د ALP د پياوړتيا په برخه کې د ALP د غړو سيمه ايزه پوهه يا معلومات، په کليو کې د هغوی ثابت شتون، او د کار ګمارنې له لارې ځايی ځوانانو ته د دوی د فرصت چمتو کول دي. په ضعفونو کې يې نا کافي روزنه او د مناسب تجهيزاتو نه شتون شامل دي په بيله بيا "په هغه ګاونډې ټولنو کې د ALP ځينې غړو د لوټ مار کړنې چيرې چې هغوی د ALP خپل واحدونه ونه لري." ځواب ورکوونکو د ALP د کار ګمارنې پروسه کې ډلبازي او قومي تعصب هم په نښه کړی.[108]

په ALP پروګرام د تازه معلوماتو لپاره، په شمول د ځواک پياوړتيا په 95 مخ "افغان سيمه ايز پوليس" وګورئ.

## د امنیت چاپیریال

د ملګرو ملتونو (UN) سرمنشي په وینا، په افغانستان کې امنیتي وضعیت بې ثبات پاتی دی. د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د مارچ 7 په خپل راپور کې، سرمنشي وویل چې د طالبانو د رژیم له رنګیدو راهیسې 2013 کال د تاوتریخوالي دویمه لوی کچه درلوده؛ 2011 ترټولو لوړ و. مسلح نښتې او د سړک غاړې ماینونو (IED) پیښې د ټول امنیتي حوادثو 75% محاسبه شوي. د مسلح نښتو شمیر په 2012 کې د شمیر په پرتله تر 51% و. افغان ځواکونو له خاورې د دفاع وړتیا ثابت کړه، خو دوی د ډیری تلفاتو سره هم مخ شول.[109] د 2013 کال نومبر 16 او 2014 کال فبروري 15 ترمنځ د امنیتي پیښو شمیر د تیر کال ورته دوره کې ثبت شوي شمیر څخه تر 24% ډیر شوی. د دې ډیروالي برخې په حیث، د تیر کال 17 په پرتله ملګرو ملتونو 35 ځانمرګي بریدونه ثبت کړي.[110]

## د متحده ایالاتو ځواکونه په افغانستان کې

د DOD په وینا، تر د فبروري 1، 2014 پورې په افغانستان کې د متحده ایالاتو په خدمت بوخت ځواکونو شمیر 33,200 دی.[111] په 2001 کې له کله څخه چې عملیات پیل شوي، په افغانستان کې د متحده ایالاتو ټولټال 2,178 نظامي پرسونل وژل شوي دي د دغو 83% په جګړه کې وژل شوي او تر د 2014 کال د اپریل 4 پورې 19,523 ټپي شوي.[112]



**USFOR-A د ساتلو ساحو** ډیپوګانو کې مهمات ساتي لکه د دې یو په څیر په شینډنډ کې.
(د سیګار تصویر د ران ریاچ لخوا)

## د موجوده قرارداد کولو مقرراتو سره اجابت اوس هم مسله ده

د DOD قرارداد کول له 1992 راهیسې د دولت حساب ورکوونې دفتر (GAO) په لوړ خطر کې و د یوې پیړۍ نږدې یوه ربع.[113] په کابل کې د قرارداد کولو شورا جنوري 2012 په افغانستان کې د متحده ایالاتو نظامي قوماندو ترمنځ پراخه تړون معرفي کړ چې د موجوده مقرراتو او لارښود سره هراړخیز مطابقت نشتون مداوم ستونزه وه. کانګریس ته د DOD د جون 2012 راپور د شورا او 26 موافق باندې د تعقیب اقداماتو یادونه کړې.[114]

کانګریس ته د هغې په اپریل سپتمبر 2013 شپږمیاشتني راپور کې، که څه هم، د DOD د عمومي پلټونکي دفتر (OIG) په نښه کړي چې "وزارت د خپل موجوده قرارداد کولو هڅو موثره نظارت نامتناقص چمتو کولو لپاره مبارزې ته دوام ورکوي." [115] کانګریس ته د خپل اکتوبر 2013 او وروسته د 2014 جنوري او اپریل راپوروںو چمتو کولو کې، سیګار له DOD څخه غوښتلي چې د موجوده مقرراتو سره د تطابق پرمختګ لپاره اخیستل شوي ګامونه وروپیژني. سیګار دا هم غوښتلي که چیرې د تطابق نه شتون دوام درلود، که چیرې د تطابق نه شتون لپاره د پام وړ انفرادي پایلو تحمیل ته د حساب ورکوونې کوم اقدامات منل شوي وي، او که چیرې کوم یو یې په حقیقت کې د پایلو سره مخ شوي وي. تر نن نیټې پورې، DOD هیڅ ځواب ندی وړاندې کړی. د شورا توافق څخه له دوه کالو څخه ډیر وروسته او د معلوماتو لپاره درې غوښتنو وروسته، سیګار د بې ځوابۍ دا الګو ستونزمنه مومي.

## د ANSF ځواک

د CSTC-A په واسطه وړاندې کړی شوي معلوماتو مطابق، پدې ربع کې، د ANSF ټاکل شوي ځواک شمیر 342,809 و.[116] دا د ANSF د نهایی ځواک 352,000 پرسونل 97% جوړوي. د DOD تر 2014 پورې د ANSF 352,000 (تر 2012 دسمبر پورې ANA 187,000، تر 2013 فبروري پورې ANP 157,000، او تر 2014 دسمبر پورې 8,000 هوایی ځواکونه) ته رسولو هدف تقریبا سرته رسیدلی.[117] ANA او ANP د خپل نهایی ځواک څخه 2% او هوایی ځواک (تمه کیږي چې د کال پای پورې خپل هدف ته ورسي) د نهایی هدف 15% شاته دی، لکه څنګه چې په جدول 3.6 کې ښودل شوي. په هرصورت، لکه څنګه چې لاندې یادښت شوي، د ANA اوسني شمیر کې ملکي پرسونل شامل دي.

3.6 جدول

**د ANSF ګمارل شوی شمیر، مارچ 2013**

| د ANSF برخه | اوسنی هدف | د 3/2014 پورې دریځ | د اوسنی شمیر او د پای په نښه شوي شمیر تر منځ توپیر |
|---|---|---|---|
| افغان ملي اردو | 187,000 پرسونل په 12/2012 | 182,777 (98%) | -4,223 (2%) |
| افغان ملي پولیس | 157,000 پرسونل په 2/2013 | 153,269 (98%) | -3,731 (2%) |
| د افغانستان هوایي ځواک | 8,000 پرسونل په 12/2014 | 6,763 (85%) | -1,237 (15%) |
| **د ANSF ټوله شمیره** | **352,000** | **342,809 (97%)** | **-9,191 (3%)** |

سرچینې: DOD، "په افغانستان کې د امنیت او ثبات پرورانډي وده باندې راپور،" 12/2012، 56 مخ؛ CSTC-A د سیګار 3/31/2014، معلوماتو غوښتنې ته ځواب؛ DCOM MAG، د سیګار 4/10/2014 ارزونې ته ځواب.

## د ANA ملکي پرسونل اوس هم د ANSF شمیر کې شمیرل کیږي

سیګار د افغانستان اردو یوې برخې په حیث د ملکیانو ترکیب مسلې په اړه له ډیرې مودې راهیسې اندیښنه لري. په جولای 2012 کې، CSTC-A سیګار ته وویل چې ملکیان د ANA ګمارل شوي شمیر کې شامل کړی شوي و.[118] په اکتوبر 2012 کې، CSTC-A وویل چې ملکیان د افغان ملي اردو لپاره حساب شوي او د ANA "نهایی ځواک شمیر" څخه حذف شوي.[119] CSTC-A دا هم ویلي چې ملکیان د 2013 جنوري او اپریل کې د ANA نهایی شمیر کې ندي شامل کړی شوي.[120] په هرصورت، په جولای او اکتوبر 2013 کې، CSTC-A راپور ورکړی چې د ANA "نظامي شمیر" کې بیا ملکیان شامل کړی شوي.[121]

## د سیګار پلټنه

د سیګار یوه روانه پلټنه د ANSF مجاز، ګمارل شوي، او روزل شوي پرسونل شمیر لپاره د معلوماتو اعتبار او ګټورتوب ارزوي.

په جنوري 2014 کې، CSTC-A سیګار ته وویل چې 9,336 ملکیان د ANA او افغان هوایي ځواک برخې په حیث شمیرل شوي و.[122] پدې ربع کې، CSTC-A په ANA او افغان هوایي ځواک کې د 9,486 ملکیانو راپور ورکړی.[123]

د CSTC-A په وینا، په ANA کې 187,000 مجوز پوستونو کې ملکیان شامل دي او دا "ملکیان باید د ANA نهایي شمیر پروړاندې منعکس شي که چیرې د 352K هدف [352,000] د پرتله ټکی وي."[124]

په فبروري 2012 کې، د DOD OIG یوه راپور د ملکیانو مسله او د ANA برخې په حیث د ملکیانو حسابولو پورې اړوند خطرات پیژندلي. په دغه راپور کې، DOD OIG موندلي چې د ANA مالي افسرانو ملکي پرسونل د نظامي یا مسلح ځواکونو پرسونل په توګه "کوډ کړي" او د CSTC-A په واسطه د تادیې لپاره یې شامل کړي، د CSTC-A/NTM-A او دفاع وزارت (MOD) ترمنځ د یوه تړون سربیره چې فقط نظامي پرسونل ته به جبران یا مصرف ورکول کیږي. پدغه وخت کې، د CSTC-A مالي پرسونل خبر نه و چې ملکیان د نظامي تادیې لپاره شامل کړی شوي و.[125]

پدې ربع کې خپور شوي د CNA خپلواک ارزونې په وینا، "په MOD او MOI کې د ANSF یونیفارم شوي پوستونه باید ملکي شي. که چیرې د دغه پوستونو لپاره ملکیان د مناسب تجربې سره نشي استخدام کیدی یا روزل کیدی نشي یا که چیرې د ANSF فعال-دندې پرسونل ملکي خدمت ته نشي لیږدول کیدی نو بیا به د ANSF ځواک جوړښت ډیروالي ته اړتیا وي چې دغه میشته کړي."[126]

## د افغان ملي امنیتي پوځ ارزونه

د ملي اردو او ملي پولیسو ارزونې د امریکا او د ایتلاف د هڅو د اغیزمنتیا نښې دي ترڅو ANSF ته وده ورکړي، وروزي، تجهیز کړي، او دوام ورکړي. دا ارزونې د دواړو امریکایانو او اړوندو افغان ادارو لپاره لکه څنګه چې سپارل دوام مومي او افغانستان د خپل امنیت مسؤلیت اخلي، د دغو ځواکونو د دریځ په اړه نوي معلومات وړاندې کوي. له 15 اګست 2013 راهیسې، ایساف د ANSF درجه بندۍ لپاره د سیمه ایز قوماندې ANSF ارزونې راپور (RASR) کارولی دی.[127]

سیګار په فعال توګه د ANSF ارزونې راپور ورکول نظارت کړي او د ANSF وړتیا د درجه بندۍ لپاره کارول شوي سیستمونو او پروسو باندې دوه د پلټنې راپورونه خپاره کړي یو په 2010 او بل فبروري 2014 کې. د سیګار فبروري 2014 راپور موندلي چې د ایساف ګډې قوماندې (IJC) RASR څکه رامنځته کړ چې پخوانی د قوماندان واحد د ارزونې اسباب (CUAT) لوستلو ته ډیر ستونزمن، په متناقص ډول پلي، او ناکاره و.[128] RASR له 2005 راهیسې د ANSF درجه بندۍ ته کارول شوی د ارزونې دریم مختلف وسیله ده.[129]

د IJC په وینا، RASR د ANSF "کلي اطلاعاتو، عملیاتي، او پیاوړتیا ارزونې او راپور ورکوونې میکانیزم" دی.[130] RASR د ANSF وړتیاو پر اساس د درجه بندۍ تعریف کچې (RDLs) کاروي، ترڅو د ANSF واحدونه د لیوا په کچه وارزوي.[131] RDLs د ارزونې ساده شوي میټریکس کاروي چې د واحد ځانګړي نوع لپاره مناسب شوي (لکه پلي یا پیاده، استخبارات، سیګنالونه) او هغه وړتیاوې پیژني چې یو واحد یې باید ولري ترڅو د "بشپړ وړ" په توګه و ارزول شي. د IJC مطابق، "دا ساده کړی شوی سیستم په اسانۍ سره د مشاهدې

وړ دی، نه د لیبر متمرکز یا پیچلی [ANA ځانګړي ځواکونه]، او کولی شي د افغان پخپله راپور ورکووني اساس رامنځته کي لکه څنګه چې ایساف وتلو ته دوام ورکړي."[132]

د سیګار راپور موندلي چې د ایتلاف ځواکونو وتلو سره، به IJC د ANSF وړتیاو ته لږ لید ولري او د ارزونې معلوماتو لپاره به په ANSF ډیره تکیه کوي. په هرصورت، راپور په نښه کړي چې "ISAF یو داسې پلان ندی رامنځته کړی چې توضیح کړي دا به (1) د ایتلاف ځواکونو وتلو سره د ANSF وړتیا ارزولو مداوم راټولول، څیړل، معتبریت او راپور ورکولو څخه اطمینان ورکړي او (2) د ارزونو پرمخ وړو لپاره موجود څو مشاور ډلو درلودو سره او د خپل داخلي ارزونو پرمخ وړو لپاره د ANSF پروسو باندې تکیه کولو پورې اړوند چالشونه په نښه کړي."[133]

RASR د ANA لیواګانې په شپږ برخو کې درجه بندي کوي:[134]

- RASR په شپږو ساحو کې د افغانستان ملي اردو لیواو توان ارزونه کوي:
- رهبریت
- سوق او اداره
- ثبات
- روزنه (روزنې ترسره کول)
- د کارکوونکو کمیدل

د افغانستان ملي اردو لپاره، د RASR وروستی راپور د 24 لیواو ارزونې برابروي (د قول اردو 22 لیواوې او د 111 مرکزې فرقې 2 لیواوې). لدغو څخه، 83% د پلان کولو او د ګډو وسلوالو عملیاتو ترسره کولو "پوره توان" یا "توان" درلود. دا په تیره ربع کې پدغه کچو ارزول شوې 88% څخه کموالی دی؛ په هرصورت دا پدې ربع کې د یوې لیوا د نه ارزول کیدو له امله و. په تیرې ربع کې، نومورې لیوا د "وړ یا توان" په حیث ارزول شوې وه. د ارزونې ډیری کټګوریو کې، د ANA وړتیا یا خو عین پاتې ده یا یې یوڅه پرمختګ ښودلی دی.[135] ډیر کمښت پدې ربع کې د یوې لیوا د نه ارزول کیدو له امله و، لکه څنګه چې په جدول 3.7 کې ښودل شوي.

د RASR خورا اخرني راپور مطابق، د "موجود" لوړ-تحرک څو مقصده ټایر لرونکي وسایط (HMMWV) ګن ټرکونه تر 400 وسایط راټیت شوي. IJC په نښه کړي چې د پام

جدول 3.7

**د RASR ANA ارزونې، ربع ای بدلون**

| | بشپړ ور | | | ور | | | تر یوې کچې ور | | | پرمختګ په حال کې: | | | نا ارزول شوي | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | Q1 | Q2 | + – | Q1 | Q2 | + – | Q1 | Q2 | + – | Q1 | Q2 | + – | Q1 | Q2 | + – |
| د ګډو وسلو عملیات | 9 | 8 | -1 | 12 | 12 | | 3 | 3 | | 0 | 0 | | 0 | 1 | 1 |
| رهبریت | 16 | 15 | -1 | 7 | 6 | -1 | 1 | 2 | 1 | 0 | 0 | | 0 | 1 | 1 |
| سوق او اداره | 11 | 9 | -2 | 13 | 14 | 1 | 0 | 0 | | 0 | 0 | | 0 | 1 | 1 |
| ثبات | 7 | 6 | -1 | 13 | 11 | -2 | 4 | 6 | 2 | 0 | 0 | | 0 | 1 | 1 |
| روزني | 6 | 6 | | 13 | 13 | | 4 | 3 | -1 | 1 | 1 | | 0 | 1 | 1 |
| د کارکوونکو کمیدل | 0 | 1 | 1 | 7 | 9 | 2 | 0 | 0 | | 17 | 14 | -3 | 0 | 0 | |

یادونه: د کمیدو ارزونه د لاندې میاشتني کمیدو درجه بندی پر بنسټ دي: 0–1.99% = بشپړ ور؛ 2–2.99% = ور؛ 3%+ د پرمختګ په حال کي

سرچینې: IJC، 2013 دسمبر RASR، 12/30/2013؛ IJC، د 2014 مارچ RASR درېځ راپور، اجرایوي لنډیز، 4/9/2014.

ور کمښتونو سره د دوه لیواو راپور شوي کمښت د "تجهیزاتو افراط او خرابي ته اړولو هڅې" پایله وه.[136] په ډېری کټګوریو کې، ANA د خپل ماموریت سرته رسولو لپاره مجوز تجهیزات لري یا ترې ډېر دي. په هرصورت، ټول تجهیزات یې د "ماموریت ور" ندي. د مثال په توګه، د HMMWV ګن ټرکونو له پلوه، ANA د خپلې اړتیا 158% ټرکونه لري؛ په هرصورت، لدې چې د دغه ټرکونو ټول یې د "ماموریت ور" ندي، د دغه وسایطو لپاره د موادو چمتووالی یې 101% دی لا هم د ماموریت بشپړولو ته اړ حد څخه پورته.[137] په هرصورت، IJC په نښه کړې چې پیاوړتیا د ANA د پرمختګ لپاره مانع توب ته دوام ورکوي، اساسا د تحویلۍ او بیا تامینولو مسالو د پایلې په حیث.[138]

کمیدل اوس هم د ملي اردو لپاره یوه مهمه ننګونه ده څکه چې د لیواو 61% داسې ګڼل کیږي (هغه یوه لیوا پکې شامل نده چې ارزول شوې نده) چې د "پرمختګ" په حال کې دي او دا پدې معنی چې په دغو لیواو کې کمیدلو اندازه 3% یا ډېره ده. په هرصورت، دا له دسمبر 2013 څخه د پام وړ پرمختګ دی کله چې 71% د "پرمختګ" په حال کې درجه بندي شوي و. په نورو ساحو کې، د ملي اردو ډېری لیواوې "پوره توان" یا "توان" لرل یې ارزول شوي، پشمول د مشرۍ (91%)، سوق او اداره (100%)، ساتنه (74%)، او روزنه (83%).[139]

RASR د ANP اجزاوې په شپږ برخو کې درجه بندي کوي:[140]

- د قانون پلې کولو عملیاتونه (نیول او د دغو نیولو محاکمه کول)
- رهبریت
- سوق او اداره
- ثبات
- روزنه (روزنې ترسره کول)
- د کارکوونکو کمیدل

د سیګار پلټنه

پدې ربع کې خپور شوي د پلټنې یو راپور کې، سیګار موندلې چې د ANSF وړتیا ته درجه ورکولو لپاره د ایساف ګډې قوماندې سیستم د قوماندان واحد ارزونې اسباب (CUAT) د لوستلو لپاره ډېر مشکل، متناقض پلې شوی، او ناکاره و. لکه څنګه چې پدې برخه کې په نښه شوي، CUAT اوس د RASR په واسطه بدل کړی شوی. د لازیاتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 22 وګورئ.

د ANP لپاره، د RASR خورا اخرنی راپور د ANP له 21 سیمه ایزو اجزاو څخه د 18 ارزونې وړاندې کوي افغان یونیفارم پولیس (AUP)، افغان د پولو پولیس (ABP)، او افغان د عامه نظم ملي پولیس (ANCOP) په اووه مختلف زونونو کې.[141] له دغه 18 څخه چې ارزول شوي، 83% یې د قانون پلې کولو عملیاتو (د نیولو سرته رسول او د دغه نیول شویو محاکمه کول) پرمخ وړو "بشپړ ور" یا "ور" و، لکه څنګه چې په جدول 3.8 کې ښودل شوي.

جدول 3.8

**د RASR ANP ارزونې، ربع ایی بدلون**

| | بشپړ ور | | | ور | | | تر یوې کچې ور | | | پرمختګ په حال کې | | | نا ارزول شوي | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | Q1 | Q2 | + – | Q1 | Q2 | + – | Q1 | Q2 | + – | Q1 | Q2 | + – | Q1 | Q2 | + – |
| د قانون پلي کولو عملیات | 8 | 5 | -3 | 7 | 10 | 3 | 1 | 3 | 2 | 0 | 0 | | 5 | 3 | -2 |
| رهبریت | 10 | 10 | | 4 | 6 | 2 | 1 | 2 | 1 | 0 | 0 | | 5 | 3 | -2 |
| سوق او اداره | 4 | 5 | 1 | 11 | 9 | -2 | 1 | 4 | 3 | 0 | 0 | | 5 | 3 | -2 |
| ثبات | 5 | 4 | -1 | 10 | 12 | 2 | 1 | 2 | 1 | 0 | 0 | | 5 | 3 | -2 |
| روزنې | 4 | 5 | 1 | 10 | 9 | -1 | 1 | 3 | 2 | 1 | 1 | | 5 | 3 | -2 |
| د کارکوونکو کمیدل | 7 | 7 | | 3 | 4 | 1 | 0 | 0 | | 10 | 9 | -1 | 1 | 1 | |

یادونه: د کمیدو ارزونه د لاندې میاشتنې کمیدو درجه بندی پر بنسټ دي: 0–1.99% = بشپړ ور؛ 2–2.99% = ور؛ 3%+ د پرمختګ په حال کې

سرچینې: IJC، RASR دسمبر 2013، 12/30/2013: IJC، د 2014 مارچ RASR درېځ راپور، اجرایوي لنډیز، 4/9/2014.

IJC په نښه کړې چې د ANP موادو چمتووالی (د تجهیزاتو کچه) درجه بندي په ځینو برخو کې پرمختګ ښودلی او ځینو نورو کې کمښت. سربیره پردې، د ANP پرسونل لپاره د MOI - سپانسر شوي روزنې ته لاسرسی د "MOI روزنې ناترتیب شوي پیښو" له امله ټیټ دی.[142] د کارکوونکو کمیدل هم د ANP لپاره ننګونه پاتې ده ځکه چې د سیمه ایزو اجزاوو 50% اوس هم د "پرمختګ" په حال کې ملاحظه شوي چې مفهوم یې دی پدغه واحدونو کې کمیدل 3% یا ډیر دي. په نورو ساحو کې، د افغانستان ملي پولیسو سیمه ایزو قوماندانیو برخې تر ډیرې کچې "پوره توان" یا "توان" لري: مشری (89%)، سوق او اداره (78%)، ساتنه (89%)، او روزنه (78%).[143]

## د دفاع او کورنیو چارو وزاتونو ارزونې

DOD راپور ورکړی چې پدې ربع کې MOD او MOI د حساس فعالیتونو سرته رسولو لپاره خپل ظرفیت ډیرولو ته دوام ورکړی. د دې وزارتونو د عملیاتي ځواک د درجه بندی لپاره، NTM-A د توانمندی موخې (CM) څخه کار اخلي. دا سیستم د کارکوونکو د برخو ارزونه کوي (لکه هغه دفترونه چې د سکرتر یا معاون وزیر له لورې اداره کیږي) او د کارونو دوه اړخیزې ساحې (لکه د لوی درستیز دفترونه) له څلورو لوړو او دوو ثانوي درجه بندی څخه کار اخلي:[144]

- CM-1A: د خپلواکو عملیاتونو وړتیا لري
- CM-1B: د ایتلاف ترڅارنې لاندې کارونه ترسره کولی شي
- CM-2A: د ایتلاف په لږه مرسته کولی شي کارونه ترسره کړي
- CM-2B: خپل کارونه سرته رسولی شي خو د ایتلاف لږې مرستې ته اړتیا لري
- CM-3: د ایتلاف د پام وړ مرستې څخه پرته خپل ماموریت سرته نشي رسولی
- CM-4: شتون لري خو خپل ماموریت سرته نشي رسولی

د تیرې ربع په څیر، سیګار ته د افغانستان دفاع وزارت د یووازې 37 کارکوونکو برخو او ګډو کاري ساحو د CM اندازه کول وړاندې شوې، په تیر ربع کې له 46 څخه کم. د CENTCOM په وینا، له تیرې ربعې راهیسې د MOD وړتیا کې هیڅ بدلون نه و، لکه څنګه چې په شکل 3.26 کې ښودل شوي. دا لومړی ځل دی چې د MOD وړتیا کې هیڅ ربع ایی بدلون سیګار ته ندی راپور ورکړ شوی.[145]

د CENTCOM په وینا، د افغانستان کورنیو چارو په وزارت کې د کارکوونکو ټولې 32 برخې ارزول شوې؛ له تیرې ربع راهیسې پنځه و پرمختګ کړی او هیڅ یوه برخه را ټیټ شوې ندي. هغه دفترونه چې پدې ربع کې یې درجه پورته شوې:[146]

- د امنیت لپاره معین د ځواک چمتووالی (CM-1A)
- د حقوقي چارو د دفتر رییس (CM-1B)
- اداري معین د روزنې مدیریت (CM-1B)
- د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې معین (CM-2A)
- د افغان عامه محافظت ځواک لپاره معین (CM-2B)

د MOI کارمندانو درې برخو ته داماهال د CM-1A درجه ورکړ شوې (د خپلواک عملیاتو وړ): د عامه چارو دفتر رییس، د افغان عامه نظم ملي پولیس لپاره معین، او د ځواک چمتووالي لپاره د امنیت معین.[147]

### د سیګار ځانګړې پروژه

د سیګار د ځانګړې پروژې په یوه راپور کې چې په تیر ربع کې خپور شوې، سیګار موندلې چې CSTC-A د افغانستان د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د ظرفیتونو د خطر هر اړخیزې ارزونې ترسره کړې ندي ترڅو وکولای شي د امریکا د مستقیمو مرستو ډالر اداره او حساب ورکړي، لدغو څخه 4.2 میلیارده امریکایي ډالرو ژمنه شوې او 3 میلیارده امریکایي ډالر توزیع شوې دي.

3.26 شکل

**د دفاع او کورنیو چارو د وزارتونو د ظرفیت د درجه بندۍ مقیاس، درې میاشتنی بدلون**




سرچینې: CSTC-A، د SIGAR ډاټا غوښتنې ته ځوابونه، 12/30/2013 او 3/31/2014.

## افغان سیمه ایز پولیس

د ناټو ځانګړي عملیاتونو برخې قومانده - افغانستان (NSOCC-A) په وینا، تر 2014 د مارچ 15 پورې، ALP د 26,647 پرسونل درلودونکی و، چې ټول يې په خاصه توګه 887 يې بشپړ روزل شوي و. اوسنی موخه د 2014 تر دسمبر پورې 30,000 پرسونل درلودل دي.[148]

د 2014 د مارچ تر 31 پورې، د ALP ملاتړ لپاره د ASFF څخه له 196 میلیون امریکایي ډالر څخه زیات مکلف شوي دي او توزیع شوي دي. د NSOCC-A په وینا، د ALP ساتنې لګښت به په هر کال کې 121 میلیون امریکایي ډالر وي کله چې د موخې شمیرې ته ورسیدل. تر اوسه، ALP ته د روس ډیزاین شوي 23,246 کلاشینکوف (AK-47) او 4,045 پیکا ماشیندارې (PKM) ورکړل شوي دي.[149]

د NSOCC-A په وینا، د 2013 د مارچ 1 او 2014 فبروري 28 ترمنځ د ALP د ساتنې درجه 84.9% وه. د دې دورې په جریان کې، د ALP 572 پرسونل خپله دنده پرېښې، 226 له دندې ګوښه شوي، 1,165 ناتعریف شوي اداري زیانونه و، او 1,623 نور زیانونه و (دا هم ناتعریف شوي). NSOCC-A راپور ورکړی چې 1,144 یا د ځواک شاوخوا 4.8% د جګړې پرمهال وژل شوي (KIA).[150]

پدې ربع کې خپور شوي د CNA خپلواک ارزونې په وینا، د CNA "په تیاتر کې مرکه کیدونکو موږ ته ویلي چې د ANA لوی درستیز نه غواړي د [ ANA ځانګړي ځواکونه] رسما د ALP سره تړاو ولري، تر یو حده د ALP په تیر کې د بشري حقونو څخه ناوړه

ګټه اخیستنې له امله.“ [151] CNA په نښه کړې چې ”نه برېښي د افغانستان حکومت د [ANA ځانګړي ځواکونه] له 2014 کال وروسته د ALP مداوم راپورته کیدو لپاره ونوموي.“ [152]

## د افغانستان عامه محافظت ځواک

د افغانستان عامه محافظت ځواک (APPF)، د دولت په ملکیت یوه تصدي ده چې د MOI تر صلاحیت لاندې ده او په افغانستان کې د کاروانونو لپاره اسانتیاوې او امنیتي خدمات برابروي. د ولسمشر کرزي د 2010 فرمان څخه وروسته چې شخصي امنیتي کمپنۍ لغوه شوې او د خوندیتوب مسولیتونه د افغانستان عامه خوندیتوب ځواک ته وسپارل شول، د افغانستان حکومت د عامه امنیتي شرکت ته په پړاونو کې د سپارلو لپاره د وصلولو یوه ستراتیژي تطبیق کړه.[153]

د دې ستراتیژۍ په اساس، ټاکل شوې وو ترڅو د اردو تاسیساتو امنیت د 2013 په مارچ کې د افغانستان عامه خوندیتوب ځواک ته وسپارل شي. په اکتوبر 2012 کې، په هرصورت، IJC سیګار ته وویل چې د ټاکل شوې نیټې سره سمون ”په کلکه بعید“ و.[154] تر مارچ 31، 2014 پورې فقط پنځه نظامي مخکښ عملیاتي مراکز (FOBs) د APPF پرسونل په واسطه خوندي شوي و؛ 43 FOBs لاتراوسه هم د PSCs په واسطه ساتل کیدل. د CSTC-A په وینا، پدې ربع کې، APPF په 22,727 پرسونل مشتمل و. پدې ربع کې APPF د خپلو خدماتو لپاره 480 فعال قراردادونه درلودل.[155]

د APPF ملاتړ کولو لپاره متحده ایالاتو له 51 ملیون امریکایي ډالرو څخه ډیر چمتو کړي، چې 34 ملیون ډالر یې په 2012 مالي کال کې وړاندې کړی شوي؛ په APPF 2013 مالي کال کې هیڅ فنډ ندی لګولی. په 2012 مالي کال کې ورکړل شوي 34 ملیون ډالرو څخه، ډیر فنډ د APPF وسایطو لپاره و (17 ملیون ډالر). پاتې برخه یې د APPF ودانۍ جوړولو، وسلو، مخابرو، روزنې، او نورو تجهیزاتو او خدماتو لپاره و.[156]

د CSTC-A په وینا، د APPF خورا اخرنۍ ارزونه ښیې چې APPF د ”مشورې ملاتړ سره د بشپړ امنیتي خدماتو پلانولو، پلي کولو او ساتلو“ وړتیا لري.[157]

## افغان ملي اردو

د 2014 کال مارچ تر 31 پورې، متحده ایالاتو د ASFF له بسپنو څخه د ANA د جوړولو، روزلو، او پایښت لپاره 32.4 ملیارده ډالر مقید کړي و چې 30.9 ملیارده ډالر یې مصرف شو.[158]

### د افغان ملي اردو توان

د CSTC-A په وینا، د 2014 کال مارچ تر 31 پورې، د ANA ټول نهایي شمیر 189,540 پرسونل و (182,777 اردو او 6,763 هوایي ځواک).[159] په هرصورت، لکه څنګه چې مخکې په نښه شوې، پدې شمیرو کې 9,236 د ANA ملکیان او 250 د هوایي ځواک ملکیان شامل دي. مجموعي شمیر یې د ANA پرسونل 195,000 نهایي شمیر هدف 97% جوړوي. پداسې حال کې چې د ANA شپږ محاربوي قول اردوګانو، 111 مې مرکزي فرقې، او ځانګړې عملیاتو ځواک کې ګمارل شوي پرسونل شمیر کم شوی، په روزنه کې د ګمارل کیدو په تمه پرسونل شمیر زیات شوی، لکه څنګه چې په جدول 3.9 کې ښودل شوي. له اجازې پرته غیرحاضر پرسونل (AWOL) نیمایي ته رسیدلي، د تیرې ربعې 10,251 څخه 5,141 ته.[160]

### د سیګار د اندیښنې ساحه

د مسلکي خدماتو شورا سره په خبرو کې د سوداګرۍ وړاندې کونکی د سوداګرۍ ملي نهاد چې فدرالي حکومت ته خدمات وړاندې کوي سیګار د امنیتي خدماتو وړاندې کولو ته د APPF وړتیا په اړه او د بیارغونې پروژو پلي کولو باندې د دې وړتیا اغیز څرنګوالي په اړه خپله اندیښنه بیان کړې.

### د سیګار پلټنه

د تیرې ربعې پای کې خپور شوي د سیګار پلټنې یوه راپور موندلي چې د APPF چمتو کړی شوي امنیت ته لیږد په پروژو خورا لږ اغیز درلود، مګر فقط ځکه چې پلي کونکو ملګرو د خطر مدیریت شرکتونه د APPF ظرفیت خلا ډکولو لپاره ګمارل شوي او حیاتي فعالیتونه سرته رسوي. د لا نورو معلوماتو لپاره، د سیګار 13-15 پلټنه وګورئ.

جدول 3.9

**د ملي اردو ځواک، د هر ربع بدلون**

| د ملي اردو برخه | تایید شوي Q4 2013 | تایید شوي Q1 2014 | تایید شوي دريمیاشتني تغيرات | ګمارل شوي Q4 2013 | ګمارل شوي Q1 2014 | ګمارل شوي دريمیاشتني تغيرات |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 201 قل اردو | 18,130 | 18,130 | هیڅ | 18,749 | 17,489 | -1,260 |
| 203 قل اردو | 20,798 | 20,798 | هیڅ | 21,098 | 20,029 | -1,069 |
| 205 قل اردو | 19,097 | 19,097 | هیڅ | 18,963 | 17,891 | -1,072 |
| 207 قل اردو | 14,879 | 14,879 | هیڅ | 14,320 | 13,806 | -514 |
| 209 قل اردو | 15,004 | 15,004 | هیڅ | 15,364 | 14,554 | -810 |
| 215 قل اردو | 17,555 | 17,555 | هیڅ | 18,132 | 16,310 | -1,822 |
| 111 مه مرکزي فرقه | 9,174 | 9,174 | هیڅ | 9,276 | 8,921 | -355 |
| د ځانګړو عملیاتو ځواک | 11,013 | 12,149 | +1,136 | 10,756 | 10,458 | -298 |
| له قول اردو څخه پورته مقام[a] | 36,002 | 34,866 | -1,136 | 25,992 | 29,727 | +3,735 |
| TTHS[b] | - | - | - | [c]15,915 | [d]24,356 | +8,441 |
| ملکیان | - | - | - | 9,113 | 9,236 | +123 |
| **د افغانستان ملي اردو ټولټال** | **161,652** | **161,652** | **هیڅ** | **[e]178,816** | **182,777** | **+3,961** |
| د افغانستان هوايي ځواک (AAF) | 7,370 | 7,097 | -273 | 6,529 | 6,513 | -16 |
| د AAF ملکیان | - | - | - | 223 | 250 | +27 |
| **افغان ملي اردو + افغان هوايي ځواک ټولټال** | **169,022** | **168,749** | **-273** | **185,386** | **189,540** | **+4,154** |

يادوني: د Q4 2013 معلومات تر 12/30/2013 پورې دي؛ د Q1 2014 معلومات تر 3/31/2014 پورې دي.
[a] کې دفاع وزارت، لوی درستیز، او لنډ مهاله قوماندانی شامل دي
[b] روزني لاندې، لنډ مهاله، ساتل شوي، او زده کوونکي؛ دا د کارکوونکو په تایید شوي حساب کې شامل ندي
[c] 5,010 محصلين شامل دي
[d] 4,701 محصلين شامل دي
[e] Q4 2013 ګمارل شويو ټولټال کې AWOL 10,251 پرسونل شامل دي

سرچينې: CSTC-A، د سيګار معلوماتو غوښتني ته ځواب، 1/6/2014، 3/31/2014.

پدې ربع کې خپور شوي د CNA خپلواک ارزونې په وینا، "افغانستان د ځانګړي عملياتو ځواکونو [SOF] ته د پام وړ ارتيا لري، مګر ANSF نشي کولی نور SOF حمایه کړي."[161] CNA دا هم وويل چې د "SOF ANA داموال د لوژستيک، اطلاعاتو او هوايي خوځښت لپاره متحده ایالاتو او ایساف پورې تړلی دی. د ملاتړ دغه اړتیاو په نښه کولو پرته فقط د ANA SOF پرسونل شمیر ډیرول به د ترهګرۍ او تروريست شبکو له منځه وړلو لپاره د SOF وړتیا ډیره نکړي."[162]

## د افغانستان ملي اردو د کارکوونکو کمیدل

د افغانستان ملي اردو د کارکوونکو کمیدل اوس هم يوه لويه ننګونه ده. د 2013 فبروري او 2014 فبروري ترمنځ د ANA 43,887 پرسونل د ANA رولونو څخه حذف کړی شوي. د افغانستان ملي اردو په جنګ کې هم ډيري قرباني ورکړي دي. د 2012 مارچ او 2014 فبروري ترمنځ، د ANA 2,166 پرسونل په جګړه کې وژل شوي (KIA) او 11,804 يې په جګړه کې ټپي شوي.[163]

## د افغان ملي اردو ثبات او پایداري

د 2014 کال مارچ تر 31 پورې، متحده ایالاتو د ANA پایښت لپاره د ASFF فنډونو 12 ملیارد ډالر مقید شوي او 11.5 ملیارد ډالر مصرف شوي.[164]

## د ملي اردو معاشونه، خواړه، او مکافات

تر 31 مارچ 2014 پورې، CSTC-A راپور ورکړی چې له 2008 مالي کال راهیسې متحده ایالاتو د ASFF له لارې 2.2 ملیارد ډالر چمتو کړي ترڅو د ANA معاشات او اعاشه او اباته ورکړي. CSTC-A د ANA لومړني معاشاتو، امتیازاتو، او مکافاتو لپاره د فنډ ورکولو کلنی اړین مقدار هم 693.9 ملیون ډالر اټکل کړی.[165] دا په تیر ربع کې وړاندې کړی شوی د في کال 542 ملیون ډالر اټکل څخه ډیروالی دی.[166] CSTC-A په نښه کړې چې فنډ ورکول د ANA 100% مجوز شمیر ګمارنې ګڼل کیدو پراساس چمتو کړی شوي.[167]

## د ملي اردو تجهیزات، ترانسپورت، او ساتنه

ANA ته چمتو کړی شوي تجهیزاتو مقدار او لګښت ټاکل د یوې ننګونې په توګه پاتې دي. د ANA لپاره پیرودل شوي وسلو د ټولټال لګښت راکمیدو یو کال وروسته، پدې ربع کې CSTC-A ډیروالی راپور کړی. د 2013 اپریل او 2013 دسمبر ترمنځ، د ANA لپاره پیرودل شوي وسلو ټولټال راپور ورکړ شوی لګښت له 878 ملیون ډالر څخه 439 ملیون ډالر ته راټیټ شوی. په هرصورت مارچ 2014 کې، CSTC-A د 461 ملیون ډالرو ټولټال لګښت راپور ورکړ.[168] د ANA وسلو، وسایطو، او مخابرو تجهیزاتو ټولټال لګښت کې تمایل په جدول 3.10 کې ښودل شوی.

جدول 3.10

**د متحده ایالاتو هراړخیز لګښتونه د ANA وسلو، وسایطو، او مخابرې تجهیزاتو پیرودلو لپاره** (ملیون ډالر)

| | وسلې | ټرانسپورټي وسایل | مخابرات | ټول |
|---|---|---|---|---|
| اپریل 2013 | 878.0 ډالر | 5,556.5 ډالر | 580.5 ډالر | **7,015.0 ډالر** |
| جولای 2013 | 622.8 | 5,558.6 | 599.5 | **6,780.9** |
| اکتوبر 2013 | 447.2 | 3,955.0 | 609.3 | **5,011.5** |
| جنوري 2014 | 439.2 | 4,385.8 | 612.2 | **5,437.2** |
| اپریل 2014 | 461.2 | 4,385.7 | 670.3 | **5,517.3** |

یادونې: سیګار وضاحت غوښتلی چې ولې دغه هراړخیز یا یوځای شوي مجموعې په څینې ربعو کې کمې شوې. متن وګورئ.

سرچینې: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د CSTC-A ځواب، 4/1/2013، 7/2/2013، 10/1/2013 او 3/31/2014.

په تیر کې، CSTC-A د لګښت کمیدو لپاره ډیری توضیحات وړاندې کړي: د څینې تجهیزاتو ټولټال لګښت کې د 153 ملیون ډالرو سمون او په اهدایی تجهیزاتو کې نږدې 102 ملیون ډالرو لپاره محاسبه چې د متحده ایالاتو فنډ ورکړشوي نه و،[169] یوه پراخه داخلي پلټنه چې د تجهیزاتو دوه ځل حسابیدل یې رابرسیره کړل،[170] او د یوې داخلي پلټنې پرمهال د ناسم قیمت موندل.[171] لدې پرته، CSTC-A په نښه کړې چې که څه هم د اهدایی وسلو لپاره لګښت نه و شامل کړی شوی، "د اهدایی وسلو پاکوونې او ټرانسپورټیشن لګښت پکې شامل کړی شوی و ځکه چې د /[بیارغونې] فنډونه پکې کارول شوي و."[172]

د اخیستل شویو تجهیزاتو لګښت سموالی، د زیاتیدونکو ټوله کچه باید زیاته شي پرته لدې په هر ربع کې کمه شي، د امریکا د مرستو حساب ورکولو په اړه د افغانستان ملي اردو لپاره کارول شوي پوښتنې راپورته کوي. سیګار د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د وسلو حساب ورکولو په اړه اوس یوه پلټنه ترسره کوي.

برسیره پردې، د ANA لپاره پاتې تجهیزاتو لګښت چې باید وپیرودل شي، CSTC-A په تیر ربع کې 99 ملیون ډالرو څخه پدې ربع کې 89 ملیون ډالرو ته کمښت سره راپور ورکړی.[173]

د 2014 کال مارچ 31 پورې، متحده ایالاتو د ANA تجهیزاتو او ټرانسپورټیشن لپاره د ASFF 11.4 ملیارد ډالر مقید او 11.3 ملیارد ډالر مصرف کړي.[174] لدې فنډونو څخه، 5.4 ملیارد ډالر د وسایطو، وسلو او مربوطه تجهیزاتو، او مخابرې تجهیزاتو لپاره کارول شوي و. د دې 5.4 ملیارد ډالرو نږدې 81% د وسایطو او ټرانسپورټیشن اړوند تجهیزاتو لپاره و، لکه څنګه چې په جدول 3.11 کې ښودل شوي دي.

3.11 جدول

| د متحده ایالاتو لخوا فنډ ورکړل شوي ANA تجهیزاتو لګښت په کتګوری | | |
|---|---|---|
| **د تجهیزاتو ډول** | **اخیستل شوي** | **باید واخیستل شي** |
| وسلې | 439,229,147 ډالر | 32,390,974 ډالر |
| ټرانسپورټې وسایل | 4,385,763,395 | 14,784,960 |
| د مخابرې تجهیزات | 612,205,922 | 51,610,799 |
| **ټول** | **5,437,198,464 ډالر** | **98,786,733 ډالر** |

سرچینه: CSTC-A، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 12/30/2013.

متحده ایالاتو د ANA مجهز کولو کې نور 1.3 ملیارد ډالرو پیرودل هم کړي او د ANA ثبات ته د 7 ملیارد ډالرو په ارزښت نور تجهیزات او تحویلې. د CSTC-A مطابق، وروستی مقدار د ټولو تجهیزاتو او پایښت لګښتونو څخه د وسلو، وسایطو، مخابرې تجهیزاتو او وسایلو فرعي قرارداد کولو په واسطه ټاکل شوی و.[175]

## د افغان ملي اردو زیربنا

د 2014 کال مارچ 31 پورې، متحده ایالاتو د ANA زیربنا لپاره د ASFF 6 ملیارد ډالر مقید او 5 ملیارد ډالر مصرف کړي دي.[176] د CSTC-A په وینا، پدغه وخت کې، متحده ایالاتو 328 زیربنایي پروژې بشپړې کړي (4 ملیارد ډالر ارزښت)، د نورو 71 روانو پروژو (1.5 ملیارد ډالر) او 12 پلان شوي (232 ملیون ډالر) سره.[177]

پدې ربع کې، د ANA د زیربنا تر ټولو لوی پروژې په کنړ کې د 201 قول اردو/2م لیوا لپاره (د 116 ملیون ډالرو په لګښت)، په کندهار کې د 205 قول اردو/3مې لیوا لپاره (91 ملیون ډالر)، او په هلمند کې د 215 قل اردو/1 لیوا لپاره (87 ملیون ډالر) د لیواګانو ګارنیزونونه و.[178] په تیر ربع کې، تر ټولو لوی جاري پروژه په کابل کې د MOD قوماندانۍ د فیز یو ودانول و (108 ملیون ډالر).[179] سیګار د دغه پروژې تحقیق پیل کړی دی. برسیره پردې، پدې ربع کې د 176 ملیون ډالرو په ارزښت 12 پروژې بشپړې شوي او د 20 ملیون ډالرو څخه ډیر ارزښت دوه قراردادونه پای ته رسیدلې.[180]

د CSTC-A په وینا، د ANA زیربنا لپاره د 2015 مالي کال څخه تر 2019 مالي کال پورې د عملیاتو او ساتنې (O&M)، پایښت، بیانصبول، او کوچنې ودانولو اټکل شوی لګښت 953 ملیون ډالر دی:[181]

- 2015 مالي کال: 209 میلیونه امریکایي ډالر
- 2016 مالي کال: 186 میلیونه امریکایي ډالر
- 2017 مالي کال: 186 میلیونه امریکایي ډالر
- 2018 مالي کال: 186 میلیونه امریکایي ډالر
- 2019 مالي کال: 186 میلیونه امریکایي ډالر



د مارچ 2014 **پرمهال په افغانستان کې**، ځانګړي پلټونکي یا مفتش د افغان دفاع وزارت قوماندانیو د ودانۍ څخه لیدنه وکړه، کومه چې دا مهال د جوړونې لاندې ده. (د سیګار تصویر د سمیت انډرسن لخوا)

## د سیګار خارنه

سیګار د متحده ایالاتو فنډ ورکړ شوي MOD قوماندانیو جوړونې یو تحقیق پیل کړی ترڅو معلوم کړي چې جوړونه د قرارداد اړتیاو سره سم بشپړه کیږي او ایا د قوماندانیو کومې اشغال شوې برخې په سمه ساتل کیږي او لکه څنګه چې نومول شوي هماغسې کارول کیږي. د لازیاتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 39 وګورئ.

CSTC-A په نښه کړي چې د لیږد وروسته کوم اټکل شوی لګښتونه د اوسني ظرفیت کچو پر بنسټ دي او کوم راتلونکي پالیسي پریکړو حساب ته نه ورځي چې وکولی شي د راتلونکي لګښت اټکلونو باندې اغیز وکړي.[182]

## د ANA او دفاع وزارت روزنه او عملیاتونه

د 2014 کال مارچ 31 پورې، متحده ایالاتو د ANA او MOD روزنې او عملیاتو لپاره د ASFF 3 ملیارد ډالر مقید او مصرف کړي.[183] پدې ربع کې، د ANA روزنې باندې د معلوماتو لپاره سیګار غوښتنې ته د NTM-A ځواب د متحده ایالاتو فنډ ورکړل شوي روزنې پروګرامونو دریځ په اړه ځینې پوښتنې راولاړې کړې. د NTM-A په وینا، تر مارچ 18 پورې په روزنه کې داخل د ANA زده کونکو شمیر 4,363 و.[184] دا دریمه ربع ده چې د داخل شوي و شمیر راټیټیږي. په تیره ربع کې، د ANA 17,706 پرسونل د روزنې ځینې ډولونو کې داخل و، کوم چې د سپتمبر 2013 د 43,942 شمیر څخه ټیټ و.[185] NTM-A په روزنه کې داخل ربع ایې بدلونونو لپاره کوم توضیحات نه وړاندې کوي. سیګار ته په یوه جلا ځواب کې، CSTC-A په نښه کړې چې د ANA 19,655 پرسونل په روزنه کې و یا د ګمارنې به تمه و. 4,701 اضافي پرسونل د ANA محصلین یا زده کونکي و.[186]

## د افغان ملي اردو د سواد کچه

تر 2014 دسمبر پورې د ANSF 100,000 پرسونل (دواړه ANA او ANP) د کاري سواد درلودو هدف پرته، NTM-A نه پوهیږي چې په ANSF کې اوس هم څومره روزل شوي پرسونل دي. پداسې حال کې چې NTM-A د ANSF هغه پرسونل تعقیبوي چې روزنه یې لاسته راوړې، نه پوهیږي چې په کمیدو کې یې څومره له لاسه ورکړي.[187] NTM-A سیګار ته وویل چې فقط ANSF د خپل پرسونل تعقیب کولو لپاره مسؤل دی.[188] NTM-A اټکل کوي چې د "کمیدو په نتیجه کې به د ANSF فقط 20% تر 2014 دسمبر پورې کاري سواد ولري."[189]

تر دې ربع پورې، د ANSF 85,535 پرسونل په شمول د ANA 47,731 پرسونل د 3 کچې سواد روزنه بشپړه کړې. NTM-A تمه لري چې د 2014 تر دسمبر پورې خپل د 100,000 کاري سواد هدف ته ورسي. د ANA پرسونل شمیر په اړه د سیګار یوې بوښتنې به ځواب کې چې چا د 3 کچې روزنه بشپړه کړې او تراوسه ANA کې دي، NTM-A وویل چې ځوابونه د "ANA پرسونل د تعقیب او مهارت/زده کړې تعقیب ناکافي سیستمونو له امله لاسته راتلونکي ندي." [190]

له 2009 راهیسې، وړ، مسلکي، او پایداره ANSF رامنځته کولو ته د حیاتي په توګه NTM-A د سواد زده کړې کچه ډیریدونکې لیدلې. د NTM-A یوه قوماندان اټکل کړی چې ANSF ټول سواد کچه په 2010 کې 14% وه.[191] په ورته وخت کې NTM-A یو هدف ټاکلی چې د 2014 تر پای پورې د ANSF 1 کچې 100% وړتیا او د 3 کچې 50% وړتیا لاسته راوړي.[192]

1 درجه سواد زده کړه د انفرادي کلمو د لوستلو او لیکلو، تر 1,000 پورې د شمیرلو، او د نمرو د جمع کولو او منفي کولو توان دی. په 2 درجه کې، یو انفرادي کس کولای شی کلمې ولولي او ولیکي، ساده ضرب او تقسیم وکړي، او د اندازه کولو واحدونه وپیژني. په 3 کچه کې، یو فرد کاري سواد لاسته راوړي او کولی شي چې "چاپي او لیکلي مواد وپیژني، پوهه پرې شي، مفهوم ترې واخلي، رامنځته یې کړي، پرې وغږیږي، محاسبه وکړي

او وي کاروي.“[193] په هر صورت، په تېره ربع کې خپور شوي يوي پلټنې راپور کې، سيګار موندلي چې د متحده ايالاتو فنډ ورکړی شوي د سواد زده کړې قراردادونه ”CSTC-A/NTM-A ته اړتيا نلري په خپلواک توګه د سواد درې کچو کې د زده کونکو وړتيا تاييد کړي.“[194]

د NTM-A هدف د ANSF اوسني مجوز شمير 352,000 باندې نه بلکه د 2009 مجوز 148,000 پرسونل شمير پر بنسټ و. د سيګار پلټنې دا هم موندلي چې د سواد پروګرام موثريت اندازه کولو لپاره د NTM-A وړتيا محدود ده ځکه چې هيڅ يو قرارداد د وړتيا ازمولو خپلواک تاييد ته اړتيا نلري يا د مستخديمينو پيژندل له داسې لارې چې درست تعقيب ته اجازه ورکړي کله چې اردو يا د پوليس واحدونو ته راځي.[195]

د 2014 تر فبروري 28 پورې، NTM-A راپور ورکړی چې د ANA هغه پرسونل چې د سواد پروګرام يې بشپړ کړی، دي:[196]

- 162,268 د 1 درجې فارغ شوي
- 48,988 د 2 درجې فارغ شوي
- 47,731 د 3 درجې فارغ شوي

له 2010 راهيسې، متحده ايالاتو د ANSF لپاره درې د سواد زده کړې قراردادونه بسپنه کړي. هر يو يې يو اساسي کال او د پنځه کلونو حد لري يو کلن اختيارونه ممکن د هرکال اګست کې ترسره شي او د 200 مليون ډالرو اعظمي لګښت.[197] د NTM-A په وينا، دې قراردادکونکو دواړه ANA او ANP ته د سواد روزونکي برابرول. دوی ANA ته 736 د سواد روزونکي ګمارلي دي:[198]

- د امريکا د OT ټريننګ سلوشن په نوم يو شرکت 297 روزونکي برابروي.
- د انسايټ ګروپ په نوم يو افغاني شرکت، 202 روزونکي برابروي.
- د کاروان د لوړو زده کړو انسټيټيوټ، يو افغاني شرکت، 237 روزونکي برابروي.

په 2014 کې د دغو قراردادونو اټکل شوی لګښت، پشمول د ملي پوليسو سواد زده کړې، 25 ميليونه امرکايي ډالر دي.[199]

## د سيګار پلټنه

د پلټنې په يوه راپور کې چې په تيرې ربع کې خپور شوی، سيګار موندلي چې د افغانستان امنيتي ځواکونو سواد لپاره د CSTC-A/NTM-A موخې د افغانستان د امنيتي ځواکونو د تيرو اټکلونو په اساس وو، ځکه نو کيدای شي دا د امکان وړ نه وي. پردې برسيره، د سواد زده کړې روزنې د پروګرام اغيزمنتيا اندازه کولو په اړه د CSTC-A توان محدود وو. او د سواد زده کړې روزنې ټول درې قراردادونه د مهارت آزموينې لپاره خپلواک تاييد ته اړتيا نلري يا دا چې لکه څنګه چې استخدام شوي خپلو قطعو ته ځي هغوی وپيژندل او تعقيب شي. پردې برسيره، قراردادونه دا په مناسبه توګه نه تعريفوي چې د سواد زده کړې کورس څه ته وايي. يو قراردادي حکومت ته د هغو کورسونو لپاره بيل ليری چې په يوه مياشت کې دوه ساعته وو.

## په ANA او افغان هوايي ځواک کې ښځې

پدې ربع کې، ANA، CSTC-A ته راپور ورکړی چې 723 ښځې په ANA کې دنده ترسره کوي 672 په اردو او 51 په هوايي ځواک کې. لدغو څخه، 244 افسراني، 260 بريدملانې (NCOs)، 46 ليست شوي، او 173 زده کونکې وي. په هرصورت، د CSTC-A په وينا، ايتلافي مشاورين باور لري چې دا شميرې ډيرې ښودل شوي او ملکيان پکې شامل دي. CSTC-A په نښه کړي چې، راتلونکي ربع کې له MOD څخه تمه کيږي د پرسونل شميرنې طريقه اصلاح کړي ترڅو فقط د فعال دندې نظامي پرسونل منعکس کړي نه ملکيان.[200]

په وروستي ځل په 2013 سپتمبر کې خپور شوي د استخدام او ساتنې دامهال هدف، په ANA کې د 10% ښځو درلودل دي. د دې هدف ترلاسه کولو لپاره، ANA استخدام مستثنی کړی چې د ښځو ګمارنه دې د افغانستان مختلف قومي ډلو ترمنځ بيلانس شي. د ښوونځې ټولګي خورا اخرني ښځينه افسر نوماندان 29 زده کونکې لري: 18 هزاره، نهه تاجک، او دوه سادات. برسيره پردې، ANA د ښځو ګمارنې ډيرولو لپاره له تلويزيونې تبليغاتو کار اخلي. د افغان ملي اردو افسرانو اکاډمۍ کې د متحده ايالاتو مشاورين لدې

نظر څخه حمایت ته دوام ورکوي چې "په افغانستان کې ښځې د استعداد پانګه ده چې ANA يې له پامه نشي غورځولی." د ANA 12-اونيو اساسي جنګجو روزنې کورس کې د نارينه سرتيرو چلند او توقعاتو بانديې يو صنف شامل دی کوم چې د ANA ښځينه و سره کار کوي.[201]

د پرمختګ پرته، د ANA د 10% ښځينه پرسونل هدف لا لرې پاتې دی. میرمنې د ځواکونو له 1% څخه کم جوړوي. CSTC-A پيژندلي چې "په ANA کې د ښځو پرورانديې ژور کلتوري او د مذهب پر بنسټ چلند بدلون لپاره روزنې يوازې کافي ندي. دا روزنه يو لومړنی حياتي ګام دی، خو چلند به نږدې تر هغه پورې د پام وړ بدلون ونه مومي ترڅو چې د ANA نارينه پرسونل د ښه روزل شوي، وړ ښځينه و ترڅنګه کاري تجربه ونلري."[202]

د 2014 مالي کال لپاره د ملي دفاع واکمنی لايحه، عامه قانون 66–113، په ANSF کې د ښځو ګمارنې، يوکولو، ساتنې، روزنې او چلند ملاتړ ته د پروګرامونو او فعاليتونو کې کارولو لپاره 25 مليون ډالر چمتو کړي.[203]

## د افغانستان هوايي ځواک

پدې ربع کې، د ناټو هوايي روزنې قومانده – افغانستان (NATC-A) راپور ورکړی چې افغان هوايي ځواک 88 الوتکې لري، "له کاره وتلي (راوليدلي)" الوتکو او نهه Mi-17 هليکوپترونو پرته چې د افغانستان ځانګړي ماموريت وزر (SMW) ته په پور ورکول شوي.[204]

امريکا د افغانستان په هوايي ځواک کې ډيره پانګونه کړې ده. يووازې د 2010 مالي کال او 2012 مالي کال ترمنځ، امريکا د 6,513 کسانو د افغانستان د هوايي ځواک ملاتړ او پراختيا لپاره 5 ميلياره امريکايي ډالر پشمول د تجهيزاتو او الوتکو لپاره له 3 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه زيات برابر کړي. پردې برسيره، لکه څنګه چې پدغه جدول 3.12 کې ښودل شوي، د امريکا دفاع وزارت د 2.9 ميلياردو اضافي امريکايي ډالرو غوښتنه کړې، چې په 2013 او 2014 مالي کلونو کې د تجهيزاتو او الوتکو لپاره $1.24 ميلیارده امريکايي ډالرو غوښتنه شامل ده.

د CENTCOM په وينا، د افغان هوايي ځواک ليست 97 الوتکې لري:[205]

- 58 Mi-17 ټرانسپورټ هليکوپترونه (په شمول د SMW ته نهه په پور)
- 26 C-208 سپکې ټرانسبورتي الوتکې
- 6 C-182 د ثابت وزر روزنې الوتکې
- پنځه MD-530F څرخي وزر لرونکي هليکوپترونه
- دوه C-130H منځني ټرانسپورټ الوتکې

### د سيګار پلټنه

په يوې رواني پلټنه کې سيګار افغان هوايي ځواک ته د متحده اياالاتو ملاتړ ارزوي چې د اضافي تجهيزاتو جذب کولو لپاره د افغان هوايي ځواک ظرفيت وڅاکې.

### د سيګار پوښتنه

په 2008 کې، DOD افغان هوايي ځواک ته د له 486 مليون ډالرو څخه ډير په ارزښت د ايټاليا جوړ 20 G-222، غبرګ پروپيلر نظامي ټرانسپورټ الوتکو چمتو کولو يو پروګرام پيل کړ. په جنوري 2013 کې، د DOD عمومي پلټونکي راپور ورکړ چې د G-222 پروژې مديريت دفتر او CSTC-A/NTM-A په درستۍ سره هغه هڅې نه اداره کوي چې له مخې يې د الوتکو پراخه پرواز ساتلو ته اړ سپيرپارټ لاسته راوړي. سيګار د G-222 قرارداد بياګوري ترڅو اطمينان لاسته راوړي چې متحده اياالاتو حکومت بيا تيرونته نه تکراروي چې د دې نږدې نيم مليارد ډالرو پروګرام په اوردو کې رامنځته شوې.

3.12 جدول

**د متحده ايالاتو مرستې ترڅو د افغانستان هوايي ځواک جوړ او ملاتړ شي، 2010–2014** (زرګونو ډالر)

| د فنډ ورکولو کټګوري | مالي کال 2010 | مالي کال 2011 | مالي کال 2012 | 2013 مالي کال (غوښتنه) | 2014 مالي کال (غوښتنه) |
|---|---|---|---|---|---|
| تجهيزات او الوتکې | 461,877 ډالر | 778,604 ډالر | 1,805,343 ډالر | 169,779 ډالر | 1,068,329 ډالر |
| روزنې | 62,438 | 187,396 | 130,555 | 188,262 | 192,354 |
| ثبات | 143,784 | 537,650 | 571,639 | 473,946 | 777,748 |
| زيربنا | 92,200 | 179,600 | 113,700 | 0 | 0 |
| **ټول** | **760,299 ډالر** | **1,683,250 ډالر** | **2,621,237 ډالر** | **831,987 ډالر** | **2,038,431 ډالر** |

سرچينې: DOD، د بوديجې مالي کال (FY) 2012، د 2012 مالي کال د پولو هاخوا احتمالي عملياتو افغانستان امنيتي ځواکونو فنډ لپاره تصديق، 2/2011، 8، 19، 30 او 44 مخونه؛ DOD، د بوديجې مالي کال (FY) 2013، د 2013 مالي کال د پولو هاخوا احتمالي عملياتو افغانستان امنيتي ځواکونو فنډ لپاره تصديق، 2/2012، 5، 13، 19 او 32 مخونه؛ DOD، د بوديجې مالي کال (FY) 2014، د 2014 مالي کال د پولو هاخوا احتمالي عملياتو افغانستان امنيتي ځواکونو فنډ لپاره تصديق، 5/2013، 5، 11، 20 او 37 مخونه.



**د ناټو هوايي روزنې قومانده** – افغانستان پرسونل هرات، افغانستان کې د افغان هوايي ځواک نوي فارغ شوي محافظت کونکو د تقدير کولو لپاره يو محفل په لاره اچولی. (د سيګار تصوير د مارټين ويلسن لخوا)

تر تيرې ربع پورې ټول د Mi-35 بريد هليکوپټرونه (د ټولټال شپږ څخه چې پنځه يې عملياتي و) د افغان هوايي ځواک ليست څخه حذف کړی شوي و.[206] NATC-A د نومړي الوتکو حذف کولو لپاره کوم دليل نه وړاندې کوی.

په نومبر 2013 کې پيل شوی د سيګار يوه پلټنه افغان هوايي ځواک لپاره د متحده ايالاتو ملاتړ ارزوي.

پدې ربع کې خپور شوې د CNA خپلواک ارزونې په وينا، "افغانستان هوايي ملاتړ ته د پام وړ اړتيا لري، مګر [افغان هوايي ځواک] دا مهال پلان شوي هوايي واک څخه ډير نشي حمايه کولی." CNA دا هم په نښه کوي چې افغان هوايي ځواک "د خپل پلان شوي اندازې ته رسيدو لپاره د مسلکي مستخديمنو کافي شمير موندلو لپاره مبارزه کوي" او "حتی که چيرې اضافي مستخديمين وموندل شي، يوازې کوچنی شمير به يې تر 2018 پورې بشپړ روزل شوي وي."[207]

## افغان ملي پوليس

د 2014 کال د مارچ تر 31 پورې، متحده ايالاتو د ASFF له بوديجې څخه 16.2 ميليارده ډالر د افغان ملي پوليسو د جوړولو، روزنې، او پايښت لپاره مقيد او 15.4 مليارد ډالر مصرف کړي دي.[208]

## د افغان ملي پوليسو توان

پدې ربع کې، د ANP ټولټال شمير 153,269 پرسونل شميرل شوی، په شمول د 109,184 افغان يونيفارم پوليس (AUP)، 21,616 افغان د پولو پوليس (ABP)، 14,477 افغان د عامه نظم ملي پوليس (ANCOP)، 5,916 زده کونکي په روزنه کې، او 2,076 پرسونل د ګمارنې لپاره "په تمه" دي. په AUP کې د 109,184 پرسونل څخه، 22,562 يې د MOI قوماندانيو کارمندان يا نهادي ملاتړ کارمندان و. برسيره پردې، د افغانستان د مخدره توکو پروړاندې مبارزې پوليس (CNPA) هم AUP کې شامل کړی شوي و، کوم چې ممکن له تيرې ربع راهيسې د AUP د 2,400 ډيروالي لپاره حساب کړی شوي وي.[209] مجموعا له تيرې ربع راهيسې د ANP شمير 3,803 ډير شوی، لکه څنګه چې په راتلونکي مخ، جدول 3.13 کې ښودل شوي.

د CSTC-A په وينا، د افغانستان کورنيو چارو وزارت د افغانستان ملي اردو په څير د هغو کارکوونکو په اړه چې رخصت دي، له رخصتی پرته غير حاضر دي، ناروغه دي،

3.13 جدول

**د افغانستان د ملي پوليسو ځواک، د هر ربع بدلون**

| | تاييد شوي | | | ګمارل شوي | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ملي پوليسو برخه | Q4 2013 | Q1 2014 | درې مياشتني تغيرات | Q4 2013 | Q1 2014 | درې مياشتني تغيرات |
| AUP[a] | 110,369 | 115,527 | +5,158 | 106,784 | 109,184[b] | +2,400 |
| ABP | 23,090 | 22,955 | -135 | 20,902 | 21,616 | +714 |
| ANCOP | 14,541 | 14,518 | -23 | 13,597 | 14,477 | +880 |
| NISTA[c] | 6,000 | 6,000 | هيڅ | 5,333 | 5,916 | +583 |
| په تمه يا Standby[e] | - | - | هيڅ | - | 2,076 | +2,076 |
| **ټولټال ANP** | **154,000** | **159,000** | **5,000** | **146,616** | **153,269** | **+6,653** |
| CNPA | 2,243 | [d] | [d] | 2,850 | [d] | [d] |
| **ټولټال ANP+CNPA** | **156,243** | **159,000** | **2,757** | **149,466** | **153,269** | **+3,803** |

يادونې: د Q4 2013 معلومات د 11/2013 پورې دي؛ د Q1 2014 معلومات د 2/2014 پورې دي؛ AUP = د افغانستان يونيفورم پوليس؛ ABP = د افغانستان سرحدي پوليس؛ ANCOP = د افغانستان ملي عامه نظم پوليس؛ CNPA = د افغانستان د ترياکو سره مبارزې پوليس.

[a] کې د MOI قوماندانۍ او نهادي ملاتړ پرسونل شامل دي

[b] کې د MOI قوماندانۍ او نهادي ملاتړ 22,562 پرسونل شامل دي

[c] NISTA = د روزنې لپاره په خدمت کې ندي

[d] CNPA پرسونل په Q1 2014 کې د AUP مجموعه کې شامل کړی شوي

[e] پرسونل چې د ګمارنې په تمه دي

سرچينې: CENTCOM، د سيګار ارزونې ته ځواب، 1/15/2014؛ CSTC-A، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 3/31/2014؛ DCOM MAG، د سيګار ارزونې ته ځواب، 4/10/2014 او 4/11/2014.

يا په لنډ مهالو دندو ګمارل شوي راپور نه ورکوي. د همدې دليل لپاره، د ANP ريښتونی عملياتي ظرفيت ناپيژندل شوی دی.[210]

## د افغان ملي پوليسو ثبات او پايداري

تر 2014 د مارچ 31 پورې، متحده ايالاتو د ANP پايښت لپاره د ASFF فنډونو 5.9 مليارد ډالر مقيد او 5.7 مليارد ډالر مصرف کړي.[211] پدې کې د متحده ايالاتو نږدې 1.27 مليارد ډالر شامل دي چې د ANP ملاتړ ته يې د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهی صندوق (LOTFA) ته اعانه کړې.[212]

## د ANP معاشات

CSTC-A راپور ورکړی چې له 2008 څخه تر د مارچ 31، 2014 اوږدو پورې، د متحده ايالاتو حکومت د ANP معاشاتو، اعاشې او اباتې ورکړې لپاره د ASFF له لارې 1.09 مليارد ډالر چمتو کړي (د هغه پرسونل لپاره چې جګړه کې ښکيل دي يا ځانګړو ساحو کې دنده لري، اضافي ورکړه).[213]

د CSTC-A په وينا، کله چې ANP د خپلې پای شميرې 157,000 کارکوونکو ته ورسيد، په هر کال کې به نږدې 510.7 ميليونو امريکايي ډالرو ته اړتيا ولري ترڅو معاشونه (268.4 ميليونه امريکايي ډالر) او مکافات (242.3 ميليونه امريکايي ډالر) تمويل شي. دا په تيرې ربع کې راپور ورکړ شوي اټکل 628.1 مليون ډالرو څخه کموالی دی اساسا ځکه چې خواړه به نور د CSTC-A په واسطه نه پوښل کيږي.[214]

## د افغانستان ملي پوليس تجهيزات، ترانسپورت، او ساتنه

د 2014 د مارچ تر 31 پورې، امريکا د ملي پوليسو د تجهيزاتو او ترانسپورت لپاره د ASFF د 3.6 ميليارده امريکايي ډالر مکلف او توزيع کړي دي.[215] د دې مرستو ډيره برخه د وسلو د

اخيستلو او اړوندو تجهيزاتو، وسايطو، او د مخابرې تجهيزاتو لپاره لګول شوي.[216] پدې برخه کې د امريکا له 83% مرستو څخه زيات د وسايطو او د ترانسپورت اړوندو تجهيزاتو لپاره وې، لکه څنګه چې پدې جدول 3.14 کې ښودل شوي.

3.14 جدول

| د متحده ايالاتو په واسطه فنډ ورکړی شوي د ANP تجهيزاتو لګښت | | |
|---|---|---|
| **د تجهيزاتو ډول** | **اخيستل شوي** | **باید واخيستل شي** |
| وسلې | 187,251,477 ډالر | 4,825,066 ډالر |
| ترانسپورتي وسايل | 1,966,075,183 | 3,744,582 |
| د مخابرې تجهيزات | 211,062,672 | 544,573 |
| **ټول** | **2,364,389,332 ډالر** | **9,114,221 ډالر** |

سرچينه: CSTC-A، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 3/31/2014.

پدې ربع کې، CSTC-A د ANP لپاره اخيستل شوي وسلو، وسايطو، مخابرې تجهيزاتو او وسايلو کلي لګښت کې د بدلون راپور ندی ورکړی. لکه د ANA په څير، ANP ته چمتو کړی شوي تجهيزاتو لګښت ټاکل يوه ننګونه پاتې ده. پدې برخه کې د CSTC-A راپور ورکول متناقض دي، چې د ANP لپاره د تجهيزاتو پيرودلو ته د متحده ايالاتو کارول شوي فنډونو ليد او حساب ورکوونې په اړه پوښتنې راولاړوي. د مثال په توګه، د ANP پيرودل شوي وسلو د متحده ايالاتو فنډ ورکووني ټولټال لګښت CSTC-A اټکل په جولای 2013 کې د 369 مليون ډالر څخه په اکتوبر 2013 کې 137 مليون ډالر ته راوليدلی.[217] په ورته وخت کې، CSTC-A ويلي چې په کلي لګښت کې کمښت کې د اټکل شوي لګښت څخه د تجهيزاتو قرارداد شوی واقعيي قيمت ټيت والی له امله و.[218] بيا په 2013 دسمبر کې CSTC-A ويل، ډيروالی "د بديل فنډ ورکووني وسايطو له لارې پيرودل شوي وسلو شمول له امله و."[219] که څه هم د تجهيزاتو هرارخيز لګښت داسې يو مقدار چې بايد فقط لوړ لاړشي يا عين پاتې شي له جولای 2013 راهيسې کم شوی، پدې ربع کې کلي لګښت له تير ربع څخه ندی بدل شوی، لکه څنګه چې په جدول 3.15 کې ښودل شوی.

د ANP لپاره اخيستل شوي وسايطو د CSTC-A کلي لګښت اټکل تر دې ربعې پورې کميږي. په جولای 2013 کې، CSTC-A ښودلي چې د وسايطو کلي لګښت 2.65 مليارد ډالر و.[220] پدې ربعه کې، CSTC-A وايی چې د پيرودل شوي وسايطو واقعيي کلي لګښت 2.03 مليارد ډالر و. د CSTC-A په وينا، "له تيرې ربع (جولای 2013) څخه پيرودل شوي کلي شمير کې کمښت د پراښه داخلي پلټنې پايله ده چې د ځينې تجهيزاتو دوه ځل محاسبه کيدل يې رابرسيره کړې."[221] په دسمبر 2013 کې، د ANP د اخيستل شويو وسايطو ټول لګښت بيا راټيټ شو، او دا ځلې 1.97 ميلیارده امريکايي ډالر وو. د CSTC-A په وينا، د تير ربع څخه کمښت لپاره دليل "د تجهيزاتو واقعيي مکلفيت، قرارداد شوي قيمت لوړوالی و."[222] دا روښانه نده چې ولې لوړ قيمت تر اوسه پورې د پيرودل شوي وسايطو لګښت کې عموما د کمښت پايله ولري. کلي لګښت پدې ربع کې له تير ربع څخه ندی بدل شوی.

امريکا د افغانستان ملي پوليسو لپاره د 312 ميليونو امريکايي ډالرو مهمات هم اخيستي او د افغانستان ملي پوليسو د ساتنې لپاره د 1.5 ميلياردو امريکايي ډالرو نور تجهيزات او مواد هم اخيستي دي. د CSTC-A په وينا، دا وروستی مقدار د تجهيزاتو او پايښت ټولو لګښتونو څخه د وسلو، وسايطو، مخابرې تجهيزاتو، او مهماتو د لګښت منفي کولو په واسطه مشخص شوی دی.[223]

## د سيګار ځانګړې پروژه

پدې ربع کې، سيګار CSTC-A او NTM-A ته يو ليک واستاوو چې دا اندیښنه يې پکې بيان کړې چې متحده ايالات ممکن په ناپوهۍ سره د ANP ناموجود ځړو يا "خيالي کارکوونکو" معاشاتو ورکړه کې مرسته کوي. د لازياتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 41 وګورئ.

3.15 جدول

| د متحده ايالاتو فنډ ورکړل شوي ANP وسايطو پيرودلو ټوليز لګښت کميږي | |
|---|---|
| **نيټه** | **ټوليز لګښت** |
| جولای 2013 | $2,646.3 |
| اکتوبر 2013 | 2,029.4 |
| جنورې 2014 | 1,966.1 |
| اپريل 2014 | 1,966.1 |

سرچيني: د سيګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د CSTC-A ځواب، 7/2/2013، 10/1/2013، 12/30/2013 او 3/31/2014.

# امنیت

## د افغان ملي پولیسو زیربنا

د 2014 د مارچ تر 31 پورې، امریکا د ANP د زیربنا لپاره د ASFF له مرستو څخه 3.3 میلیارده امریکایي ډالر مکلف کړي او2.7 میلیارده امریکایي ډالر توزیع کړي دي.[224] د CSTC-A په وینا، په هغه وخت کې، امریکا د زیربنا 636 پروژې بشپړې کړي دي (چې ارزښت یې 3 میلیارده امریکایي ډالر وو)، 97 نورې پروژې تر کار لاندې دي (544 ملیون امریکایي ډالر) او 11 پلان شوي (55 میلیونه امریکایي ډالر).[225]

پدې ربع کې، د 116 ملیون ډالرو په ارزښت 25 پروژې بشپړې او د 73 ملیون ډالرو په ارزښت څلور پروژې پای ته رسیدلې. د ANP زیربنایي پروژو ترټولو لوی یې اداري تاسیسات (59.5 ملیون ډالر) او ودانۍ او ګټې (34.3 ملیون ډالر) د کورنیو چارو وزارت قوماندانیو او ANCOP ګزمې مرکز په هلمند (28.5 ملیون ډالر) کې دي.[226]

د CSTC-A په وینا، د ANP زیربنا لپاره له 2015 مالي کال څخه تر 2019 مالي کال اوږدو پورې د O&M، پایښت، بیانصبولو، او کوچني ودانولو لګښت 485 اټکل شوی دی:[227]

- 2015 مالي کال: 102 ملیون ډالر
- 2016 مالي کال: 98 ملیون ډالر
- 2017 مالي کال: 95 ملیون ډالر
- 2018 مالي کال: 95 ملیون ډالر
- 2019 مالي کال: 95 ملیون ډالر

CSTC-A په نښه کړي چې د لیږد وروسته کوم اټکل شوی لګښتونه د اوسني ظرفیت کچو پر بنسټ دي او کوم راتلونکي پالیسي پریکړو حساب ته نه ورځي چې وکولی شي د راتلونکي لګښت اټکلونو باندې اغیز وکړي.[228]

## د افغان ملي پولیسو روزنه او عملیات

د 2014 د مارچ تر 31 پورې، امریکا د ANP او MOI د روزنې او عملیاتو لپاره د ASFF فنډونو 3.4 میلیارده امریکایي ډالر مکلف او توزیع کړي دي.[229] پدې ربع کې، د NTM-A په وینا، متحده ایالات نور د ANP کومو کورسونو ته فنډ نه ورکوي. د 2014 پیل راهیسې، له مخکې په ترکیه کې میشت د ANP روزنې کورس چې د متحده ایالاتو لخوا یې فنډ ورکول کیده اوس ورته ناټو فنډ ورکوي. NTM-A، ANP ته د مشاورت ملاتړ وړاندې کولو ته دوام ورکوي.[230] د NTM-A په وینا، تیره ربع، ANP 9,513 پرسونل د متحده ایالاتو فنډ ورکړی شوي ځینو روزنو کې داخل و.[231]

## د افغان ملي پولیسو سواد

د ANP لپاره د NTM-A سواد زده کړې پروګرام په دې برخه کې مخکې شرح شوي د ANA سواد زده کړې په څیر ورته درې قراردادیان کاروي، عین نصاب تعقیب کوي، او عین معیارونه کاروي.[232] د ANA په څیر، NTM-A د ANP پرسونل شمیر تعقیبوي چې روزنه یې لاسته راوړې، مګر NTM-A نه پوهیږي چې څومره روزل شوي پرسونل اوس هم ANP کې دي.[233] NTM-A سیګار ته ویلي چې فقط ANSF د خپلو پرسونل تعقیب کولو لپاره مسؤل دی.[234]

تر فبروري 28، 2014 پورې د ANP هغه پرسونل چې د سواد زده کړې پروګرام یې بشپړ کړی پکې شامل دي:[235]

- 92,740 د 1 درجې فارغ شوي
- 57,395 د 2 درجې فارغ شوي
- 37,804 د 3 درجې فارغ شوي

### د سیګار پلټنه

د پلټنې په یوه راپور کې چې په تیرې ربع کې خپور شوی، سیګار موندلې چې د افغانستان امنیتي ځواکونو سواد لپاره د CSTC-A/NTM-A موخې د افغانستان د امنیتي ځواکونو د تیرو اټکلونو په اساس وو، څکه نو کیدای شي دا د امکان وړ نه وي.

په هرصورت، په تیر ربع کې خپور شوي د پلټنې یوه راپور کې، سیګار موندلي چې د متحده ایالاتو لخوا فنډ ورکړ شوي د سواد زده کړې قراردادونه "CSTC-A/NTM-A ته اړتیا نلري په درې کچو کې د زده کونکو وړتیا په خپلواک توګه تایید کړي." [236]

د NTM-A په وینا، دې قراردادیانو د ANP لپاره د سواد زده کړې 454 روزونکي برابر کړي:[237]

- د امریکا د OT ټریننګ سلوشن په نوم یو شرکت 263 روزونکي برابروي.
- د انسایټ ګروپ په نوم یو افغاني شرکت، 61 روزونکي برابروي.
- د کاروان د لوړو زده کړو انسټیټیوټ، یو افغاني شرکت، 130 روزونکي برابروي.

## په افغان ملي پولیسو کې د ښځو ونډه

لکه څنګه چې په تیرو ربعو کې و، په ANP کې د ښځو شمیر په ډېریدو دی، مګر د 2014 پای کې په ANP کې د 5,000 ښځو هدف لاسته راوړلو پروړاندې وده سسته ده. د CSTC-A په وینا، پدې ربع کې، د ANP پرسونل کې 1,743 ښځې شامل وې 226 افسرانې، 728 بریدملانې او 789 داوطلب پرسونل.[238] دا له اګست 22، 2011 راهیسې د 539 ښځو ډېروالی دی.[239]

CSTC-A وویل چې "ANP اوس د دې پرځای چې هدف ته رسیدو لپاره ګمارنه وکړي دا مهال یې پدې تمرکز کړی چې د ګمارنې لپاره (لکه د ښځو لپاره مناسب ودانیو سره پوستونه) خورا خوندي ساحې ومومي." [240] پدې ربعه کې د ډېروالي برسیره، ښځې د ځواک یوازې 1% جوړوي.

په هرصورت، د CSTC-A په وینا، د کورنیو چارو وزیر پدې وروستیو کې یو پلان لاسلیک کړ چې د مخې به یې د 1393 لمریز کال (مارچ 20، 2015) تر پایه پورې په ANP کې د 5,000 ښځو هدف لاسته راوړو باندې تاکید کاوه. CSTC-A د ښځو ګمارنې او روزنې باندې مشورو چمتو کولو په واسطه د MOI هڅو ملاتړ کوي. دا مشوره "په خوندي واحدونو" کې د ښځو ګمارنې او داخلولو باندې متمرکز ده "ترڅو د نړیوالو ادارو په واسطه راپور ورکړی شوي ځورونې او ناوړه ګټه اخیستنې مخه ونیول شي." [241] برسیره پردې، ایتلافي مشاورینو په بشري، جندر، او ماشوم حقوقو د ANP روزنې نصاب رامنځته کړی. تر دې ربعې پورې، ANP 25,059 پرسونل دا روزنه لاسته راوړې. نوموړی کورس موضوعات پوښي لکه د ښځو پروړاندې تاوتریخوالي له منځه وړل، د بشري حقونو لپاره نړیوال معیار، په قانون پلي کولو کې د ښځو لپاره د ځان دفاع.[242]

د 2014 مالي کال ملي دفاع واکمنۍ لایحې، عامه قانون 66–113، په ANSF کې د ښځو ګمارنې، یوکولو، ساتنې، روزنې او چلند ملاتړ ته د پروګرامونو او فعالیتونو کې کاروونې لپاره 25 ملیون ډالر برابروي.[243]

## د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) روغتیا/روغتیایي پاملرنه

د 2014 د مارچ تر 31 پورې، امریکا د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د 176 روغتیایي تاسیساتو ساختماني چارې تمویل کړې دي چې ارزښت یې 155 میلیونه امریکایي ډالر وو، او 11 اضافي رواني پروژې د 15 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت دي. د CSTC-A په وینا، پردې برسیره، د ایتلاف ځواکونو 11.7 میلیونه امریکایي ډالر د قراردادونو لپاره مکلف کړي ترڅو د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو لپاره د روغتیا روزنه برابره کړي. له 2006 څخه، د ایتلاف ځواکونو د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو لپاره د 48 میلیونو امریکایي ډالر روغتیایي تجهیزات اخیستي اوو سپارلي دي.[244]

پدې ربعه کې، CSTC-A راپور ورکړی چې د ANSF روغتيايي پاملرنې سيسټم له 1,203 چارواکو څخه 966 ډاکټران و. له دغو څخه، 611 د ANA او 355 د ANP لپاره ګمارل شوي و. ANSF د 2,234 مجوز پرسونلو څخه 1,889 نرس، د ډاکټرانو معاونين او نور طبي پرسونل درلودل. برسيره پردې، ANSF د 2010 راهيسې 4,828 ډاکټران روزلي، مګر روښانه نه وه چې آيا له دغه روزل شوي ډاکترانو څخه ټول په خدمت کې و که نه. د NTM-A مطابق، 5,022 طبي پوستونه مجوز دي. NTM-A دا هم په نښه کړي چې 1,288 د ټپ درمل کونکي DynCorp په واسطه روزل شوي او دامهال مجهز شوي او په ساحه کې کار کوي.[245]

## د ناچاوديدلو موادو ليرې کول

له 2002 مالي کال راهيسې، د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت د وسلو له منځه وړلو او افغانستان ته د ماينونو خنثی کولو لپاره بسپنه ورکوونه کې نږدې 283 مليون ډالر چمتو کړي، د بهرنيو چارو د وسلو لرې کولو او کمولو د هغې سياسي - نظامي چارو دفتر (WRA/PM) په وينا.[246] د هغې کنوانسيوني وسلو له منځه وړلو پروګرام له لارې، د بهرنيو چارو وزارت پنځه افغان غيردولتي نهادونو (NGOs)، پنځه نړيوال NGOs او د متحده ايالاتو حکومت قراردادکونکي ته بسپنه ورکړې. دا بسپنې د هغه ساحو پاکول وړ کوي چې له جګړې پاتې چاوديدونکي توکو باندې ککړه ده او د منع وسلو لرې کول او له منځه وړل حمايه کوي چې ممکن بلواګر يې د سړک غاړې ماينونو په جوړولو کې وکاروي.[247]

د WRA/PM څخه خورا اخرني معلوماتو مطابق، له جنوري 1، څخه تر دسمبر 31، 2013 پورې د بهرنيو چارو وزارت بسپنه شوي پلي کونکو ملګرو نږدې 24 مليون ميتر مربع (شاو خوا نهه ميل مربع څخه ډيره) په ماينونو ککړه ځمکه پاکه کړې.[248] تخمين شوې 518 مليون ميتر مربع ځمکه (له 200 ميل مربع څخه ډيره) لا ککړه پاتې ده چې بايد پاکه شي، لکه څنګه چې په 3.16 جدول کې ښودل شوې. WRA/PM د "مينونو ساحه" هغه ساحه ګڼې چې د ځمکې په مينونو ککړه وي، او يوه ککړه ساحه هغه ساحه ده چې په دواړو مينونو او د جنګ په "چاوديدونکو توکو" ککړه وي.[249]

په اپريل 9، واشينګټن پوسټ راپور ورکړی چې د ناچاوديدل شوي توکو — ګرنيډونو، راکټونو، او هاوان مرميو د متحده ايالاتو نظامي مهماتو پاتې برخو سره مخ کيدو وروسته "لسګونه ماشومان وژل شوي يا ټپي شوي دي."[250] د مقالې په وينا، اردو شاوخوا 800 ميل

3.16 جدول

**د کنوانسيوني وسلو له منځه وړلو پروګرام ميتريکونه، د 2013 د جنوري 1 څخه تر دسمبر 31 پورې**

| د نيټې رينج يا لړۍ | د منځه وړل شوي AP/AT | د منځه وړل شوي UXO | د منځه وړل شوي SAA | پاکې کړل شوې پارچې | له مينونو څخه پاکه شوې ساحه (m²) | تخميني پاتې ککړه ساحه (m²) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 3/31/2013–1/1 | 1,984 | 100,648 | 105,553 | 3,722,289 | 7,978,836 | 552,000,000 |
| 6/30/2013–4/1 | 1,058 | 18,735 | 49,465 | 1,079,807 | 5,586,198 | 537,000,000 |
| 9/30/2013–7/1 | 1,243 | 21,192 | 98,306 | 1,673,926 | 4,229,143 | 521,000,000 |
| 12/31/2014–10/1 | 8,211 | 2,460 | 54,240 | 3,064,570 | 5,729,023 | 518,000,000 |
| **ټول ټال** | **12,496** | **143,035** | **307,564** | **9,540,592** | **23,523,200** | **518,000,000** |

يادونې: AP/AT = د ټانک –ضد / د پرسونل –ضد مهمات. UXO = نا چاوديدلي مهمات. SAA = د وړو وسلو مهمات. د مهماتو د ټوټو راپور ورکړ شوی څکه چې پاکول يې لکه نور ورته شيان پاملرنې ته اړتيا لري ترڅو چې د هغوي د ماهيت په اړه معلومات ترلاسه شي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته د DOS، WRA/PM ځواب، 3/31/2014.

مربع څمکه پرېښې چې يوځل يې د ډز کولو اندازې په حيث کارولې. تر اوسه، د متحده ايالاتو اردو د ککړې ځمکې يوازې شاوخوا 3% پاکه کړې. د ځمکې پاتې برخه له دوه څخه تر پنځه کلونو پورې موده کې د 250 مليون ډالرو اټکل شوي لګښت باندې پاکيدی شي. په هرصورت، د پلان جوړولو نه شتون له امله، فنډ ورکول تراوسه ندي تصويب شوي.[251]

## د مخدره توکو په وړاندې مبارزه

د 2014 د مارچ تر 31 پورې، امريکا له 2002 مالي کال څخه د افغانستان مرستې او بيا رغونې لپاره نږدې 7.5 ميليارده امريکايي ډالر چمتو کړې دي. کانګريس د دې بسپنو ډيری د دوه کانالونو له لارې مختص کړې دي: د بهرنيو چارو وزارت د نړيوال کوکنارو کنټرول او قانون پلي کولو (INCLE) حساب (4.4 مليارد ډالر)، او د دفاع وزارت د مخدره توکو له منځه وړو او د مخدره توکو فعاليتونو ضد (DOD CN) بسپنه (2.9 مليارد ډالر).[252]

د متحده ايالاتو د مخدره توکو کنټرول پاليسي پدې وروستيو کلونو کې د له منځه وړو څخه مخنيوي او کرهنيزې پراختيا مرستې ته اړول شوې چې بزګرانو ته بديل معيشت برابرولو هدف لري.[253] د مخدره توکو پروړاندې مبارزې وزارت (MCN) د ترياکو ضد پاليسي جوړولو، د نورو حکومتي او نړيوالو ادارو سره د فعاليتونو همغږې کولو په بيله بيا د مخدره توکو مخنيوي او کمولو ډيری پروګرامونو پلي کولو لپاره د حکومت مشرې کونکې اداره ده. MCN پدې هم کار کوي چې نور موجوده ملي ستراتيژيو او پروګرامونو ته د ترياکو ضد هڅو "جاري کولو" په واسطه د ترياکو ضد فعاليتونه د ټول حکومت فعاليتونو ته دننه کړي.[254]

د ترياکو ضد قضايي مرکز (CNJC)، په کوم کې چې د ترياکو ضد محکمه او جنايي قضا کاري ځواک (CJTF) شامل دي، د ترياکو لوی او ترياکو پورې اړوند فساد قضيو څيړنه، تعقيب او محکمه کوي. CJTF ارزول شوی، خپل لرونکی واحد لري چې د تعقيب کونکو، څيړونکو او ابتدايي او استيناف محکمې قاضيان لري.[255] د افغانستان مخدره توکو پروړاندې مبارزې پوليس (CNPA) د DOD او آيساف عناصرو سره چې روزنه او ملاتړ چمتو کوي، په ګډه د مخنيوي عمليات ترسره کوي.[256] USAID د کرهنې او بديل معيشت پروګرامونو ته فنډونه ورکوي، کوم چې د دې راپور اقتصادي او ټولنيزه پراختيا برخې 179 مخ کې ويل شوي.

د مخدره توکو په استعمال د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرايمو دفتر (UNODC) د اپريل 2014 يوه راپور په وينا، "افغانستان د نړۍ تر ټولو لوی د اپيوم توليد کونکی او کښت کونکی دی،" چې "د نړۍ غيرقانوني اپيوم نږدې درې پر څلور" لپاره محاسبه کيږي.[257] د UNODC خورا اخرنۍ د اپيوم سروی اټکل کوي چې 209,000 هيکتاره ځمکه د اپيوم کښت لاندې ده، له هر وخت څخه ډير او له 2012 څخه 36% ډيروالی.[258] دا پراخوالی په افغانستان کې د 2012–2016 لپاره د مخدره توکو کنټرول ستراتيژۍ کې په نښه شوي هدف پرته پيښ شوی چې د دې په 2011 کې 131,000 هيکتاره څخه 50% د اپيوم کښت کمول و.[259] په اپيوم کرل شوي ځمکو نهه اتيا سلنه يې د هيواد سويلي او لويديز سيمو نهه ولايتونو کې موقعيت لري، لکه څنګه چې د راتلونکې مخ شکل 3.27 کې ښودل شوي.[260]

## د سيګار بيان

د سنا کميټې په وړاندې د ترياکو د نړيوال کنټرول باندې خپل د جنورې 15 شهادت کې، ځانګړې عمومي پلټونکي جان ايف. ساپکو قانون جوړونکو ته وويل چې په افغانستان کې د ترياکو وضعيت "وخيم دی په 2014 کې يا وروسته د پرمختګ لپاره يو څه ورانوونې سره." هغه دا هم وويل، "د کوکنارو د کرهنې او قاچاق وده د ډيرو مهمو فکتورونو څخه يوه ده چې د افغانستان د بيارغونې په برخه کې د امريکا او نړيوالو پانګونې له خطر سره مخ کوي." د دې په نښه کولو سره چې متحده ايالاتو د ترياکو ضد هڅو ته لومړيتوب ندی ورکړی، هغه ډيری ګامونه په نښه کړل چې سيګار يې د ترياکو ضد هڅو بشپړولو لپاره اخلي. د لانورو معلوماتو لپاره، د سيګار ويب پاڼه وګورئ .www.sigar.mil

## د سيګار پلټنه

په يوې روانه پلټنه کې، سيګار د CNPA ولايتي واحدونو ظرفيت او پايښت پرمختګ او پياوړې کولو لپاره د متحده ايالاتو هڅې ارزوي.

3.27 شکل

**په افغانستان کې د ولايت په کچه، په هکتارونو د اپيوم کښت، 2013**




يادونه: يو هيکتار (ha) شاوخوا 2.5 ايکړ کيږي.

سرچينه: UNODC، د افغانستان د ترياکو سروې 2013، 12/2013، 13 مخ.

د اپيوم کښت د هيواد او سيمې لپاره د پام وړ تولنيز، سياسي، او اقتصادي دفع لري. د مخدره توکو سوداګري افغان حکومت ته زيان رسوي څکه چې دا ترهګرۍ، د سونګ توکو فساد ته فنډ برابروي او اقتصاد منحرف کوي. لدې علاوه، د داخلي اعتياد يا روږدي کيدو شمير په لوړيدو دی. په همدې کال کې مخکې د UNODC اجرايوي رييس په ګوته کړه چې "[د] مخدره توکو تجارت [او د] داخلي اعتياد سره مخ کيدو ته بايد ډير څه وشي." [261] داخلي اعتياد عامه روغتيا، ښه حکومتدارۍ، او پياوړي پرمختګ ته ډيرې ګواښونه ايښي.

## په افغانستان کې د مخدره توکو استعمال

د بهرنيو چارو نړيوال ترياکو او قانون پلي کولو چارو بيورو (INL) په واسطه په لاره اچول شوي د افغانستان ملي کچه باندې ښاري مخدره توکو استعمال خورا اخرنۍ سروې، په 2012 کې د بالغ مخدره توکو کاروونکو شمير (15 کلن يا لوی) له 1.3 مليون څخه پورته اټکل کړی، يا د نفوس له 7.5% څخه ډير.[262] د 2009 UNODC اخرنۍ سروې ښيې چې نوموړې ستونزه څنګه مخ به زياتيدو ده. د 2009 سروې ښيې چې يو مليون افغانان مخدره توکو پورې تړلي و.[263] د UNODC سروې په 2005 کې د 150,000 کاروونکو څخه تقريبا 230,000 په 2009 کې (53% ډيروالی) د اپيوم استعمال منظم ډيروالی ښيې. په عين وخت

کې، د پوډرو یا هیروین منظم کاروونکي په 2005 کې له 50,000 څخه تقریبا 120,000 ته په 2009 کې رسیدلي یا 140% ډیروالی. د UNODC 2009 سروی دا هم رابرسیره کړې چې د والدین لوی شمیر د هیواد شمال او سویل کې له 50% څخه ډیر خپلو ماشومانو ته اپیوم ورکوي.[264]

INL د یوشمیر مخدره توکو ممانعت او درملنې نوښتونو ته فنډ ورکوي په بیله بیا له منځه وړل، مخنیوی، او د قانون پلي کولو نورې هڅې.[265] په هرصورت، د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د متحده ایالاتو او افغان هڅې د هیواد محدود شوي، لرې پرتو، او په پراخه کچه ناامنه سیمو کې د اپیوم کښت باندې تمرکز کولو ته اعانه شوي.[266]

## د والي په رهبرۍ د له منځه وړلو پروګرام

INL د افغانستان حکومت د والي په مشرۍ د کوکنارو له منځه وړلو (GLE) پروګرام ملاتړ کوي. MCN، د UNODC سره په شراکت، د کوکنارو کښت او مخنیوی تاییدولو لپاره مسؤل دی.[267] د INL مطابق، د افغان حکومت مخنیوی هدف د 2014 لپاره 22,500 هیکتاره دی. په 2013 کې، والیانو 7,348 هیکتاره له منځه وړې، په 2012 کې د 9,672 هیکتاره له منځه وړل شوي څخه کمښت، مګر بیا هم د 2010 د 2,316 کچې او 2011 د 3,810 هیکتاره کچې څخه پورته دي.[268] که څه هم د کوکنارو کښت په 2013 کې ډیر شوی، INL سیګار ته ویلي چې MCN خپل تمرکز له کوکنارو خلاص دریځ ته نږدې ولایتونو په له منځه وړو ډیر کړی ترڅو له کوکنارو خلاص ولایتونو شمیر نور ډیر شي.[269] له 2008 راهیسې، د له منځه وړلو هڅو د کوکنارو په ملي کچه کلني محصول له 4% څخه لږ باندې اوسط اغیز کړی، لکه څنګه چې په شکل 3.28 کې ښودل شوي.

3.28 شکل

**کښت شوي او له منځه وړل شوي تارياک په هکتارونو، 2008–2013** (زرګونه)




یادونه: یو هیکتار 10,000 میتر مربع، یا 2.5 ایکړه کیږي.

سرچینې: UNODC، د مخدره توکو نړیوال رپوټ 2012، 6/2012، 27-28 مخ ; UNODC، د افغانستان د ترياکو سروې 2012 د لنډیز موندنې، 11/2012، مخ 3؛ UNODC، د افغانستان د اپیوم سروی 2013، 12/2013، مخونه 17-18، 32، 35.

د INL په وینا، د والي په مشرى د کوکنارو له منځه وړل د کال په بیلابیلو وختونو کې ترسره کیږي او د ولایت په هوا پورې اړه لري. پایلې د MCN لخوا د زیاتوالي په اساس تعقیبیږي، او د توپیر په اساس د UNODC سیټلایټ تایید سره مخ کیږي.[270]

د 2014 کال له منځه وړو فصل په چمتووالي کې، MCN د والیانو لپاره د دسمبر یوه کنفرانس کوربه توب کاوه چې پکې ولایتي مشرانو د له منځه وړو اهداف وټاکل. بل کانفرانس د GLE کمپاین ملاتړ ته د هڅو همغږي کولو ته د افغان وزارتونو لپاره په جنوري کې په لاره اچول شوی و. په جنوري 26، 2014، د INL او MCN ترمنځ نوی تفاهم لیک (MOU) لاسلیک شو ترڅو د GLE پروګرام یو بل کال لپاره نوی کړي. MOU د پروګرام ځینې اړخونه اصلاح هم کړل، په شمول د نوي پرمختللي تادیې مقررات او د MCN-INL نوي ګډ بانکي حساب پرانیستل.[271]

د 2014 له منځو وړو فصل د 2014 مارچ په 3 په هلمند کې پیل شو. په کندهار، فراه، او نیمروز کې د له منځه وړو کمپاین د اپریل په نیمایی کې پیلیدو ته مهالویش شوی.[272] دا حقیقت چې د دې کال د کوکنارو-وده دورې او له منځه وړو هڅې د افغان ټاکنو سره مصادف دي، احتمالا په 2014 کې به د له منځه وړو کچو باندې منفي اغیز ولري، ځکه چې د له منځه وړو فعالیتونو ملاتړ لپاره لږ امنیتي ځواکونه موجود و.[273]

## د غوره فعالیت نوښت

INL د MCN د ښه فعالیت نوښت (GPI) له لارې له کوکنارو پاک ولایتونو لاسته راوړنې او ساتنې هڅو ملاتړ هم کوي. د INL په وینا، د GPI پروګرام اوسني مواردو پراساس، هغه ولایت په هرکال کې د GPI پرمختګ پروژو کې د 1 ملیون ډالرو لپاره وړ دی چې له کوکنارو پاک دریځ لاسته راوړي. INL سیګار ته وویل چې په ورکړل شوي ولایت کې د GPI پروژو بشپړول په راتلونکي کال کې د تریاکو ضد مداوم فعالیت هڅوي، ولایتي رهبري او ښاریان ښیې چې دوی د تریاکو کښت پروړاندې ګټو ته ملموس دي، او په ولایت، ولسوالۍ او ټولنه کې د حکومت حکم پلي کوي.[274] په 2007 کې د GPI له پروګرام پیل راهیسې، له 200 څخه ډیرې د پرمختګ پروژې د افغانستان ټولو 34 ولایتونو کې یا خو بشپړې شوي یا په وده کې دي، په شمول د: ښوونځي جوړول، د سړک او پل پروژې، د اوبو لګوونې جوړښتونه، د ځمکې مشینري پروژې، او د روغتون او کلینیک ودانول.[275]

د 2014 فبروري 28 پورې، ټولټال د 209 GPI پروژې د 106.7 ملیون ډالرو په ارزښت تصویب شوي. لدغو څخه، 108 بشپړې شوي، 95 په جریان کې وې، او شپږ د بشپړیدو په حال کې وې.[276] INL د MCN سره همکاري کوي چې د GPI پروګرام بیا ډیزاین کړي ترڅو د تریاکو ضد مسلو باندې عمل وهڅوي او د کلیوال بدیل معیشت لپاره ملاتړ باندې تمرکز وکړي.[277]

## د کمولو غوښتنه

د INL ملاتړ سره، افغان حکومت د هیواد په اوږدو کې مخدره توکو پورې داخلي تړاو په نښه کولو سره مرستې لپاره د مخدره توکو درملنې مراکز جوړ کړي. پدې سره، لکه څنګه چې د افغان حکومت د مخدره توکو کمولو غوښتنې خورا اخرنۍ پالیسۍ کې شرح شوي، د افغانستان په مخدره توکو روږدي 99% د مخدره توکو درملنې 50 مراکزو کې درملنه لاسته نه راوړي چې دا مهال د خدماتو په وړاندې کولو بوخت دی.[278] د دې ربع په جریان

کې، د INL او UNODC او Colombo Plan سره په افغانستان کې د درملنې مراکزو او نارینه، ښځو او ماشومانو بیاراسمیدو ملاتړ لپاره کار ته دوام ورکړ. INL په هیواد کې د درملنې له 113 پروګرامونو څخه 76 پروګرامونه حمایه کوي.[279] پدې ربع کې دی د کلینیک کارمندانو روزنې، درملنې خدماتو، او نابستر ناروغ او د کلي - میشته کمولو غوښتنې لپاره ملاتړ چمتو کړ، پداسې حال کې چې افغان چارواکو ته د 13 درملنې پروګرامونو لیږد د لیږد پلان پلي کولو ته یې دوام ورکړی و. د لیږد پلان کې د کارمندانو ظرفیت جوړول او د MCN او MOPH ترمنځ مداوم همکارۍ ته وده ورکول شامل دي. د INL د لیږد پلان به د 2017 اوږدو پورې دوام وکړي، په هرکال کې افغان کنټرول ته د اضافي پروګرامونو لیږد سره.[280] INL وايي چې د هیواد په کچه درملنې مراکزو کې د ورته والي رامنځته کول غواړي او مرسته کوي چې موجوده افغان درملنې مسلکیان د افغان حکومت ملکي خدمت جوړښت سره یوځای کړي. د پلان پراساس، د درملنې پروګرامونه به افغان حکومت ته لیږدول کیږي څکه چې راتلونکو کلونو کې به انفرادي پروګرامونو څخه د INL ملاتړ ورو کم شي.[281]

## د مخدره توکو په وړاندې مبارزې له ټولنو سره کار

INL د تریاکو ضد ټولنې بوختیا (CNCE) پروګرام ته هم فنډ ورکوي چې هدف یې د ولایاتو لپاره له کوکنارو پاک دریځ ته وده ورکول دي. CNCE، د سیارا میډیا کمونیکیشن له لارې پلي کیږي، چې د اپیوم کښت کیدونکي ساحو کې د ملي او ځايي عامه پوهاوي او میډیا کمپاینونو له لارې بزګران هدف ګرځوي. د INL په وینا، له ټولنو سره د کار پروګرام د مخدره توکو سره د مبارزې له وزارت سره په نږدې همغږۍ تطبیقیږي، او دا کتل کیږي ترڅو پیامونه د مطبوعاتو، ولایتي کنفرانسونو، شوراګانو، اکادمیکو غونډو، او ځوانانو پوهاوی غونډو له لارو ورسول شي. CNCE کې د ظرفیت جوړونې یوه برخه شامل ده چې اطمینان ورکوي د MCN د CN میډیا اړیکو، عامه پوهاوي، او چلند بدلون فعالیتونو لپاره د مستقیم مسؤلیت اخیستنې وړتیا رامنځته کوي، د باوري هدف سره چې د پروګرام پای هاخوا په بریا پایله کیږي.[282]

## د آغاخان بنسټ مرسته

INL د آغاخان بنسټ یوه مرسته اداره کوي ترڅو په شپږو مهمو ولایتونو کې د کوکنارو له کرنې وتلو ساتنې ملاتړ ته دوام ورکړي: بامیان، تخار، بدخشان، دایکندي، سمنګان، او بغلان. دغه مرسته نوموړي بنسټ ته اجازه ورکوي د کوکنارو کښت پورې تړاو څخه لیرې لیږد پایښت لپاره د یوه دریځ په حیث د قانوني معیشت فرصتونو ډیرولو ته د ولسوالۍ-او کلي پراختیا شوراګانو، محلي NGOs او د ولایت په کچه ریاستونو سره کار وکړي. دغه مرسته د مخدره توکو د کنټرول ملي ستراتیژۍ او افغان ملي انشکافي ستراتیژۍ کې د ټولنې-کچې د ونډې اخیستلو په موخه رامنځ ته شوې ده.[283]

## نړیوال تعاون

متحده ایالات هغه 127 هیوادونو کې و چې په 13–21 مارچ، 2014 یې د آستریا په ویانا کې د تریاکو مخدره توکو باندې کمیسیون (CND) ناسته کې برخه واخیسته.[284] CND، د ملګرو ملتونو یو غړی چې د مخدره توکو کنټرول موضوعاتو مسؤل دی، وده دندې لري. دا د نړیوال مخدره توکو کنټرول تړونونو څار کوي او د UNODC لپاره

**کولمبو پلان:** په اسیا او پاسفیک کې د کوپراتیف اقتصادي او ټولنیز پرمختګ لپاره کولمبو پلان د سیمې ملتونو اقتصادي او ټولنیز پرمختګ ودې لپاره د سیمه ایز بین الحکومتي سازمان په حیث رامنځته کړی شوی و. دا د سریلنکا کولمبو ښار کې په 1950 کې سرته رسیدلي یوه کنفرانس کې طرح شوی و، د اووه فنډ ورکوونکو غړي هیوادونو سره چې تر 26 غړو هیوادونو ته رسیدلی دی. INL د اعتیاد مسلکیانو تصدیق او تعلیم لپاره د کولمبو پلان اسیایی مرکز ملاتړ ته دوام ورکوي، د درملنې ماهرینو روزنې یو واحد چې په اسیا او افریقا کې د اعتیاد مسلکیانو لپاره د مسلکي تصدیق پروسې رامنځته کولو پروسه کې حکومتونو سره مرسته کوي.

سرچینې: د کولمبو پلان سیکرتریټ ویب پاڼه، تاریخچه، www.colombo-plan.org؛ INL، د نړیوال تریاکو کنټرول ستراتیژۍ راپور: 1 جلد د مخدره توکو او کیمیکل کنټرول، 3/2013، 20 مخ.

د اداره کونکي غړي په حيث عمل کوي، په شمول د ملګرو ملتونو د نړيوال مخدره توکو کنټرول پروګرام د بوديجې تصويب.[285] د دې مسؤليتونو برخې په حيث، CND د نړۍ مخدره توکو وضعيت نظارت کوي، د نړيوال مخدره توکو کنټرول باندې ستراتيژيانې رامنځته کوي، او د نړۍ مخدره توکو ستونزې سره مبارزې لپاره اقدامات وړانديز کوي، په شمول د مخدره توکو لپاره غوښتنې کمولو، د بديل پرمختګ نوښتونو ودې، او د تحويلۍ کمولو اقدماتو د منلو له لارې. CND متحده ايالاتو ته يو فاريوم چمتو کوي چې له مخې يې د مخدره توکو نړيوالو مسلو همغږي او غړيدو ته د څو اړخيز ملګرو سره کار وکړي، په شمول د افغانستان کې غيرقانوني ترياکو.[286]

د 2014 CND ناستې په افغانستان کې د ترياکو مخ پر ودې ستونزې پورې اړوند يو شمير مسلې په ګوته کړې، په شمول د: د تحويلۍ او غوښتنې کمول، نړيوال تعاون، او د UNODC فعاليتونه. برسيره پردې، د ځانګړي اړخ پيښو کې افغان او پاکستاني ګمرکاتو او د افغان اوپياټ يا مخدراتو قاچاق باندې خبرې شامل کړی شوې. د CND غړو په 2016 کې رامنځته کيدونکې په مخدره توکو د ملګرو ملتونو عمومی شورا ځانګړې ناستې لپاره پلان جوړول پيل کړل.[287]

## د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې وزارت ظرفيت لوړولو پروګرام

پدې ربع کې، MCN او INL د MCN ظرفيت جوړونې پروګرام/مشاور ملاتړ MOU لاسليک کړ. نوموړی پروګرام، کوم چې د 18 مياشتو لپاره نوی کړی شوی و، د 24 ځايی او ملي مشاورينو لپاره فنډ ورکول چمتو کوي او د MCN ظرفيت جوړولو کې مرسته کوي. INL د فعاليت اندازه کولو يو پلان په کارولو سره د پروګرام مؤثريت تعقيب او ارزوي چې د مشاورينو مؤثريت تعقيب او ارزولو لپاره پلي کيږي.[288] د INL په وينا، دا پروسه نه يوازې دې سره مرسته کوي چې شارکين د مشاور ملاتړ پروګرام بريا نظارت کړي، بلکه د MCN بشري سرچينو رياست د کارمند ارزولو ته هم وده ورکوي. برسيره پردې، پدې ربع کې INL د MCN قوماندانيو لپاره د معلوماتي ټيکنالوژۍ تجهيزاتو نصبولو کې مرسته وکړه.[289]

## د ترياکو ضد عملياتو باندې د ايتلاف وتلو اغيز

د DOD په وينا، د ايتلاف ځواکونو وتلو CNPA او نور افغان د ترياکو ضد ادارې زيان منې کړې دي. د اغيز ډيره کچه يې هلمند او کندهار کې وه د ايتلاف څېړې او بعدي وتلو تمرکز. د ترياکو ضد ارزول شوي واحدونه لکه د اطلاعاتو او تحقيق واحد، حساس تحقيقي واحد (SIU)، تخنيکي تحقيقاتي واحد، او د له منځه وړو ملي واحد (NIU) هم د وتلو څخه رنځيږي، په لويه کچه د ايساف چمتو کړی شوي وړ کونکو ته لاسرسي له لاسه ورکولو سره.[290]

دا فاکتورونه تر يوحد پورې د عملياتو او ضبط کمښت لامل شوي. د يو کړی شوي ترياکو ضد ډيټابيس مطابق، پدې کمښتونو کې لاندې برخې شامل دي:[291]

- د ترياکو ضد عمليات 17% راټيت شوي (624 په 2011 مالي کال کې د ايساف لوی شتون کې 518 ته په 2013 مالي کال کې)
- د هيروين يا پوډرو ضبط 77% کم شوی (10,982 کلوګرام په 2011 مالي کال کې 2,489 کلوګرام ته په 2013 مالي کال کې)
- د اپيوم ضبط 57% کم شوی (98,327 کلوګرام په 2011 مالي کال کې 41,350 کلوګرام ته په 2013 مالي کال کې)

د ترياکو ضد ټولو عملياتو کې کمښت احتمالا د ترياک ضد عملياتو پرمخ وړونکي افغان ځواکونو سره د ايساف کم شوي ملګرتيا پايله وه. د DOD په وينا، د افغان ضبطونو لوی برخه د نفوس مراکزو يا ټرانسپورټيشن برخو کې د پوليسو ورځني عملياتو يوه پايله ده، لکه چيک پواينټونو يا امنيتي پوستو او د پولو عبور او مرور کې. د مخدره توکو لابرتوارونه، خوندي کولو ساحې، او د قاچاق کولو لوی شبکې په کليوالي ساحو کې متمرکز شوي چې د ايساف وتلو او په يادو سيمو کې د امنيت کمښت له امله افغان ځواکونو ته په ډيروالي سره محدوديږي. د مخدره توکو ضبط کې په نښه شوي کموالي پرته، DOD سيګار ته وويل چې افغان د تارياکو ضد واحدونو د تير کال په پرتله ډيره شوي وړتيا ښودلې ترځو په بريا سره د ايتلاف مرستې پرته د مخدره توکو شبکې ضد پيچلي تحقيقات او عمليات پرمخ ويسي.[292]

INL په کندهار هوايي ډګر کې هيليکوپټرونه ساتي ترځو په سويلي افغانستان کې د متحده ايالاتو د مخدره توکو پلي کولو اداري (DEA) ماموريتونه ملاتړ کړي. CNPA دواړه په ملي او ولايتي کچو کار کوي؛ د CNPA څانګې په دواړه هلمند او کندهار کې شتون لري.[293]

## د مخنيوی عمليات

له 2014 جنوري 1 څخه تر 2014 د مارچ تر 14 پورې، افغان امنيتي او قانون پلي کولو ځواکونو د مخدره توکو له منځه وړو 66 عمليات پرمخ وړي چې 71 افرادو د توقيف پايله يې درلوده. پدې عملياتو کې ورځنۍ ګزمې، د کمربند او تلاشۍ عمليات، د وسايطو له منځه وړل، او د توقيف عمليات شامل و. افغان عملياتو د دې دورې په جريان کې د لاندې ممنوع تارياکو د ضبط پايلې درلودې:[294]

- 7,701 kg چرس/مريجوانه
- 2,873 kg ترياک
- 269 kg هيروئين
- 4,654 کيلو ګرامه کيمياوي توکي

مناديي کميکل: هغه ماده چې ممکن د تارياکو مخدره توکو او سايکوټراپيک مادو توليد، رامنځته کولو او/يا چمتو کولو لپاره وکارول شي.

سرچينه: UNODC، "د منادي او کيميکلز څو ژبې قاموس،" 2009, p. viii.

د متحده ايالاتو اردو عمومي لوژستيک او استخباراتي ملاتړ چمتو کړی، پداسې حال کې چې DEA تخصص لرونکي افغان تحقيقاتي واحدونو ته ښوونه او ملاتړ چمتو کړی. د متحده ايالاتو اطلاعاتي ټولنې ايتلافي همکارانو ته تکميلي هدف او څيړنيز ملاتړ چمتو کړی.[295]

د DOD په وينا، د له منځه وړو ډيری فعاليتونه ختيځ افغانستان او کابل ولايت کې رامنځته شوي. مخکې، له منځه وړل په سويلي او سويل لويديز افغانستان کې متمرکز و،

چیرې چې د هیواد د مخدره توکو اکثریت کښت کیږي، پروسس کیږي، او له هیواد بهر قاچاق کیږي. دا اوښتون احتمالا د ایتلاف وتلو یوه پایله وي ځکه چې د له منځه وړو ځواکونو ته ګواښ په ختیځ افغانستان او کابل ولایت کې عموما سویل او سویل لویدیز کې ګواښ څخه کم دی. د دې راپور ورکوونې دورې پرمهال د متحده ایالاتو ځواکونو فقط یو طرفه د مخدره توکو عملیات پرمخ وړي، د یو فرد توقیف او د 200 kg مریجوانه ضبط. د متحده ایالاتو د له منځه وړو نورې ټولې هڅې افغان ځواکونو سره مل کړی شوی وې ځکه چې ایساف خپل وتلو ته دوام ورکاو.[296]

د څو ادارو برخې، پشمول د څو ادارو د ګډو دندې ځواک اړیکي (CJITF-N) او د څو ادارو عملیاتونو د همغږی مرکز (IOCC)، د افغانستان او آیساف د مخنیوی د هڅو ملاتړ ته یې دوام ورکړی. دواړو CJITF-N او IOCC له اردو او قانون پلي کولو سرچینو څخه خپل معلومات سره یوځای کړي ترڅو د مفسدو او مخدره توکو یاغي عناصرو په وړاندې عملیاتونه ترسره شي. ټول عملیات په سیمه کې د امریکایی او ایتلافي پوځي قومندانانو سره په هغمږی او د هغوی د سلامشورو په پام کې ترسره شوې دي.[297]

INL او DOD د افغانستان تارياکو ضد پولیس ارزول شوي واحدونو وده کې شریک دي. د مثال په توګه، DOD او INL دواړه د CNPA's NIU لپاره فنډ وړاندې کوي. د DOD فنډ ورکوونې مرسته کړې چې د قانون پلي کولو درې سیمه ایز مراکز (RLECs) جوړ شي، پداسې حال کې چې د INL فنډ ورکولو د کندز RLEC، چې په 2013 کې افغانانو ته وسپارل شو، او هرات RLEC، چې اوس هم د INL لخوا ورته فنډ ورکول کیږي، لپاره د پاینښت لګښتونو ورکولو سره مرسته کړې. DOD د ولایتي CNPA لپاره روزنې ته هم فنډ ورکړی او هغه روزنکو ته فنډ ورکوي څوک چې د CNPA قوماندانیو کې میشت دي. په عملیاتي کچه، DEA او د CNPA متخصص واحدونه لکه NIU په نوعي توګه د Airwing/INL او افغان SMW الوتکې د عملیاتو پرمهال مکس کاروي.[298]

## د مخنیوی پایلې

له 2008 کال راهیسې، د افغان او ایتلاف د مخنیوي مجموعا 2,649 عملیاتونو د 2,712 توقیفونو او د لاندې کچې قاچاق شوي مخدره توکو د ضبط کیدو پایله درلوده:[299]

- 736,810 kg چرس
- 368,398 kg ترياک
- 47,214 کیلوګرامه مورفین
- 27,359 kg هیروئین
- 416,591 کلوګرام منادي کیمیکلز

په هرصورت، لکه څنګه چې په شکل 3.29 کې ښودل شوي، ضبطونو د اپیوم په کلني مجموعي تولید کې فقط 1% اوسط اغیز کړی.

## هوايي ملاتړ

د دې راپور ورکوونې دورې په جریان کې، د بهرنیو چارو وزارت الوتکو ټولټال د پرواز 223.7 ساعتونه چمتو کړي، 123 پروازونه یې کړي، 642 مسافر یې وړي، او 35,437 پاونډ بار یا کارګو یې ټرانسپورټ کړي.[300] د INL په وینا، د بهرنیو چارو وزارت د "سفارت هوا"

3.29 شکل

**افغان توليد شوي او ضبط شوي اپيوم (2008–2013)** (زرګونه کلوګرام)




سرچينې: UNODC، د مخدره توکو نړيوال رپوټ 2012، 6/2012، 28 مخ ; UNODC، د افغانستان د ترياکو سروې 2012 د لنډيز موندنې، 11/2012، مخ 3؛ UNODC، د افغانستان د اپيوم سروی 2013، 12/2013، مخ 12؛ DOD، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 3/28/2014.

به د INL د کوکنارو پيژندنې پروازونه د مارچ په اخر کې ملاتړ کړي. DEA ته د ترياکو ضد ملاتړ د پروازونو 10.3 ساعتونه درلودل چې د اطلاعاتو، نظارت او پيژندنې ماموريت ملاتړ يې کاوه؛ د پرواز 34.4 ساعتونو د له منځه وړو هڅې ملاتړ کولې؛ او د پرواز 146 ساعتونو د افغان NIU او DEA مسافرو تګ راتګ ملاتړ کاوه. اضافتا، د DEA ملاتړ کې د روزنې پرمهال د پرواز 17.9 ساعتونه شامل و. د فبروري مياشت په جريان کې، د DEA، DOD ځانګړي عملياتو ځواکونو، او کوربه – ملت پرسونل څخه جوړ شوي کاري ځواک له کندهار هوايي ډګر څخه پيل شوی يو ماموريت حمايه کړ چې د 1,120 kg مريجوانه او چرسو ضبط او له منځه وړو سربيره زندان ته د دوه افرادو راوړلو پايله درلوده. د سفارت هوا له مارچ 9 څخه تر 12 پورې د سيګار پلاوی هم ملاتړ کړي.[301]

# د حکومتدارۍ منځپانګې


| | |
|---|---|
| کليدي حوادث | 119 |
| ټاکنې | 120 |
| ملي حکومتداري | 127 |
| سيمه ايزه حکومتداري | 132 |
| بياپخلاينه او يوځای کيدنه | 140 |
| د فساد ضد او قانون حاکميت | 143 |
| بشری حقوق | 151 |
| د افغانستان د خلکو د سروې د معلوماتو د کيفيت ارزونه | 154 |

# حکومتداري

د 2014 کال د مارچ تر 31، متحده ایالاتو په افغانستان کې د حکومتداري او اقتصادي ودې د ملاتړ په موخه 26 میلیارد ډالر چمتو کړيدي. د مرستو ډیرې برخه، تر 17.5 میلیارد ډیر ډالر د اقتصادي ملاتړ د صندوق (ESF) لپاره ځانګړي شویدي چې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت او د نړیوالې پراختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې (USAID) له لورې اداره کیدې.[302]

## کلیدي حوادث

د اپریل په 5 په افغانستان کې د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو لپاره ټاکنې وشوې. شاوخوا اوه میلیونه افغانانو ( چې 35% پکې ښځې وې) رایه ورکړه.[303] د ولسمشرۍ لپاره اتو او د ولایتي شوراګانو لپاره 2,595 نوماندانو (چې 299 پکې ښځې وې) په ټاکنو کې ځانونه نوماند کړي وو.[304] د ولایتي شوراګانو په نوماندانو کې 70% داسې کسان وو چې له 25 تر 35 پورې عمر درلود.[305] په دې ټاکنو کې د 2009 کال د هغې په پرتله د تاوتریخوالې لړې پیښې ولیدل شوې او د حملو ډیری تمرکز په شمال، ختیځ، او لویدیځ کې وو چې د تیرو ټاکنو برعکس تر سویل په دې سیمو کې حملې زیاتې وې.[306]

د اپریل په 7 د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون (ECC) مشر ژورنالستانو ته وویل چې داسې ښکارې چې د 2014 د اپریل په دې ټاکنو کې د ولسمشرۍ د 2009 کال د ټاکنو په نسبت درغلۍ کمې شوې وې، خو هغه په ډاګه کړه چې تر اوسه لا تر وخت مخکې ده چې د شکایتونو جدیت تعیین کړي.[307] د اپریل په 13 بیا ECC وویل چې داسې ډیر شواهد یې تر لاسه کړیدي چې ورسره روښانه کیږي چې په دې ټاکنو کې د 2009 کال د ټاکنو په پرتله د تقلب د جدي بیلګو په اړه ډیرې راپورنه تر لاسه شویدي.[308]

د ټاکنو خپلواک کمیسیون (IEC) مشر یوسف نورستاني، د اپریل په 20 د قسمي پایلو 49.67% اعلان کړه (3,451,982 رایې له 34 ولایتونو څخه) چې د ولسمشرۍ نوماند عبدالله د 44.47% رایو په ګټلو لومړی مقام تر لاسه کړ او محمد اشرف غني احمدزي 33.18% رایې تر لاسه کړې.[309] ویل کیږي چې بشپړ لومړني نتایج به د اپریل په 24 اعلان شي.[310] د لومړنیو نتایجو د قسمي پایلې لنډیز په جدول 3.17 کې ښودل شوی.

د نورو خبرونو له مخې د 2014 کال د مارچ په 9 د ولسمشر لومړی مرستیال محمد قسیم فهیم په خپل مرګ مړ شو. ښاغلی فهیم تر دې مخکې د شمالي ټلوالې قوماندان وو او د تاجکو له مشرانو څخه ګڼل کیده.[311] ولسمشر کرزي یونس قانوني چې هغه هم تاجک توکمه دی د ولسمشرۍ د لومړي مرستیال په توګه د فهیم ځای ناستی وټاکه. دی هم د شمالي ټلوالې غړی وو او دا کار د افغانستان د شمال له سیاستوالو او د شورورې ضد قوماندانو سره له مشورې وروسته تر سره شو.[312] ښاغلي قانوني د مارچ په 25 له پارلمان څخه د تایید رایه تر لاسه کړه.[313]

3.17 جدول

**د اپریل د 5 د ولسمشریزو ټاکنو قسمي پایلې د 2014 کال د اپریل په 20 اعلان شوې**

| د نوماند نوم | د رایو شمیر | سلنه |
|---|---|---|
| ډاکټر عبدالله | 1,535,212 | 44.47 |
| ډاکټر اشرف غني احمدزی | 1,145,400 | 33.18 |
| ډاکټر زلمی رسول | 354,921 | 10.28 |
| عبدالرب رسول سیاف | 240,963 | 6.98 |
| قطب الدین هلال | 94,488 | 2.74 |
| ګل آغا شیرزی | 55,744 | 1.61 |
| محمد داوود سلطانزوی | 16,890 | 0.49 |
| هدایت امین ارسلا | 8,364 | 0.24 |
| **ټولې رایې** | **3,451,982** | |

یادونې: د 49.67% شمیرل شویو رایو قسمي پایله چې له 34 ولایتونو څخه تر لاسه شوې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په وینا، پایلې د هغو رایو پر بنسټ اعلانې شویدي چې سوچه توب یې تصدیق شوی دی.

سرچینې: د ټاکنو خپلواک کمیسیون، "د ولسمشریزو ټاکنو قسمي پایلې،" 4/20/2014؛ طلوع نیوز، "د رایو د پایلو د قسمي اعلان په دوهم پړاو کې ډاکټر عبدالله په سر کې دی،" 4/20/2014.

## ټاکنې

د یاغیانو د تهدیداتو برسیره، افغانستان په بریالۍ توګه د اپریل په 5 د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو ټاکنې تر سره کړې. د ملي ډیموکراټیک انسټیټیوټ (NDI) د غیر دولتي موسسې په وینا، چې د افغانستان د ټاکنو د پروسې د ملاتړ لپاره د USAID په تمویل کار کوي، د اوو میلیونو رایه ورکونکو ګډون تر تمې لوړ بلل کیږي، له دې سره په ځینو رای مرکزونو کې د رایو پاڼې خلاصې شوې او په ځینو کې یې د رای ورکولو وخت وغځول شو. د NDI په وینا، د اپریل 7 د دې لپاره چې د تقلب په وړاندې د اخستیل شویو ګامونو موثریت وارزول شي ډیر وختي دی او د ټاکنیزې پروسې د وروستني ارزونې لپاره وخت په کار دی.[314]

د IEC مشر څرګنده کړه چې د اړتیا په صورت کې به د ټاکنو دوهم پړاو د مې په وروستیو او یا د جون په لومړیو کې تر سره شي.[315]

د ولسمشرۍ دهغو 11 نوماندانو له جملې چې د ECC له خوا یې د نومبر په میاشت کې ټاکنو ته لار ومونده دری تنه تر ټاکنو مخکې په شاشول. د مارچ په 6 او 26 دوه نوماندان په ترتیب عبدالقیوم کرزي او سردار محمد نادر نعیم له ټاکنیزو مبارزو په شا شول او د بهرنیو چارو له پخواني وزیر زلمي رسول څخه یې خپل ملاتړ اعلان کړ. د مارچ په 16 د دفاع پخوانی وزیر عبدالرحیم وردګ له ټاکنیزې سیالۍ په شا شو خو له چا یې ملاتړ اعلان نه کړ.[316] پاتې نوماندان عبارت دي له عبدالله، محمد اشرف غني احمدزی، زلمی رسول، قطب الدین هلال، محمد شفیق ګل آغا شیرزی، عبدرب رسول سیاف او هدایت امین ارسلا.[317]

ECC د مارچ په 19 د ولایتي شوراګانو د 2,713 نوماندانو له ډلې 116 له سیالۍ وایستل او علت یې د زده کړې او عمر د معیاراتو نه بشپړول وبلل شول او یا یې هم علت دا وو چې ECC ته د ځان په وړاندې د تر سره شویو شکایتونو د سپیناوي لپاره حاضر نه شول.[318] دا اعلان د ECC له خوا د 2,212 هغو شکایتونو د ارزونو په پایله کې رامنځ ته شوه چې د ولایتي شوراګانو د نوماندانو په وړاندې تر سره شول.[319] د NDI په وینا، ECC د 2013 کال د نومبر راهیسې د ولایتي شوراګانو 205 نوماندان سلب صلاحیت کړل.[320] ECC همداشان 200 شکایتونه لوی څارنوالي ته لیږلي دي (لوی څارنوالي (AGO) د ممکنه جرایمو تعقیب کوي).[321]

د راپور ورکولو د دې دورې په اوږدو کې، ECC همداشان د ولسمشرۍ هغو نوماندانو ته چې د ټاکنو قانون به یې نقص کړ خبرداری ورکړ او په یوه قضیه کې یې جریمه هم کړل. د نقص په دې تورونو کې له دولتي شتمنیو څخه ناقانونه استفاده هم شامله ده. د ولسمشرۍ نوماند اشرف غني 50,000 افغانۍ (AFN) جریمه شو چې شاوخوا 871 امریکایي ډالرکیږي — علت یې دا وه چې ده لا هم له هغو زره موټرو څخه کار اخیست چې ده ته د دولتي دندې پرمهال ورکړل شوي وو. ECC همداشان نورو نوماندانو ته له دولتي منابعو د کاراخیستنې له کبله خبرداري ورکړل، خو ښودل شوي شواهد دې ته کافي نه وو چې تر یوه مکتوب دې زیات حکم ورکړل شي. ولسمشري ته نوماند سلطانزوی د یوه ریپورټر په تهدید تورن شو، ECC د هغه دوسیه AGO ته محول کړه.[322] د اپریل په 1، ECC زلمی رسول 300,000 افغانۍ چې شاوخوا 5,198 ډالر کیږي جریمه شو — بل نوماند شیرزی 100,000 چې شاوخوا 1,733 ډالرکیږي له دې کبله جریمه شو چې له دولتي سرچینو یې کار اخیستی وو او بل نوماند ته یې سپکاوی کړی وو.[323]

د NDI په وینا، سره له دې چې پراخ تصور موجود دی چې نوماندانو له خپل ټاکل شوي حد څخه ډیر لګښت په کمپاینونو کې وکړ، IEC او ECC تر اوسه تقریباً په دې ناتوانه ده

چې د دې مقرراتو په پلې کولو کې د نوماندانو موافقت وارزوي. په یوه برخه کې دوی په مدني ټولنو او عوامو غږ وکړ چې د نوماندانو زیات لګښت دې راپور کړي.[324]

## د متحده ایالاتو متحده ایالاتو ملاتړ

متحده ایالاتو داسې پروګرامونه تمویل کړل چې د آزادو او عادلانه ټاکنو په برخه کې یې د تخنیکي ملاتړ د چمتو کولو، ساحوي کتنو، رایه ورکولو، او په همدې ترتیب د ملي او نړیوالو ناظرینو د ګمارلو لپاره پکې فعالیت تر سره کیده.

USAID د ملګرو ملتونو له پراختیایي پروګرام (UNDP) سره د 55 میلیونو ډالرو مرسته وکړه تر څو د سبا - II فیز (ELECT II) لپاره قانوني او انتخاباتي ظرفیت رامنځ ته کړي او ورسره افغان حکومت د ټاکنو د تیاري او مدیریت په برخه کې چمتو کړي. انګستان، اروپایي اتحادیې، ایټالیا، جرمني، فرانسې، هالنډ، سویډن، ډینمارک، ناروې او جاپان د ELECT II لپاره 129 میلیون ډالرو اضافي مرسته وکړه دا د ټاکنو د ملاتړ لپاره اړین اټکل شوی وو.[325]

د متحده ایالاتو سفارت د جنوري په پای کې په کابل کې اعلان وکړ چې دوی له دې کبله له هغې نظر پوښتنې سره بسپنه ورکول درولي دي چې غوښتل یې د ټاکنو د پایلو په اړه په لاره واچول شي. د امریکا د کابل د سفارت ویاند خبریالانو ته وویل چې دا تورونه بې بنسټه دي.[326]

USAID د ټاکنیز تفتیش په موخه مرستې د مدني ټولنو او سیاسي بنسټونو (SPECS) د پروګرامونو له لارې چمتو کړیدي. د SPECS مرستې د مدني ټولنو څلورو ادارو سره د 2,200 کورنیو ټاکنیزو ناظرینو د ګمارلو لپاره بسپنه چمتو کړه (1,253 نارینه او 947 ښځینه) چې په 34 ولایتونو او 270 ولسوالیو کې یې دنده تر سره کړه.[327] د NDI په وینا، په دې کال کې د 2009 کال په پرتله درې ځله زیات ټاکنیز ناظرین IEC ته د اعتماد ورکولو په موخه ورپیژندل شول د 2009 کال په ټاکنو کې، IEC د ناظرینو 21 ډلو او 9,228 کورنیو ناظرینو ته اجازه ورکړه. په 2014 کال کې، IEC د ټاکنیز تفتیش 67 کورنیو ډلو په چوکاټ کې 11,357 ناظرینو ته د اعتبار کارتونه ورکړل.[328]

USAID د ټاکنو له نړیوالو ناظرینو څخه له دریو ادارو سره د مرستو په چوکاټ کې ملاتړ وکړ: NDI، ډیموکراسي انترنیشنل (DI)، او په اروپا کې د امنیت او همغږۍ اداره (OSCE). NDI او DI سره د شپږو میاشتو لپاره مرستې وشوې چې د 2014 کال د فبروې له 1څخه د اګست تر 1 پورې به دوام لري، تر څو د بالقوه اضافي کمپاین په صورت کې هم خپل پوښښ ولري. د OSCE د ټاکنو د ملاتړ ټیم وپتیله چې په افغانستان کې به د 2014 له مارچ څخه تر اتو میاشتو پورې وي.[329]

له 17 ادارو څخه تر 417 ډیرو بهرنیو ناظرینو د 2014 کال په اپریل کې د نظارت کولو لپاره نوم لیکنه کړیده. دا د 2009 کال د ولسمشریزو ټاکنو په پرتله چې 1,200 کسانو پکې د نظارت لپاره نوم لیکنه کړې وه د پام وړ کموالی په ګوته کوي. د مارچ په 20، د کابل په سرینا هوټل باندې حمله وشوه او د NDI د نظارت د ډلې یو غړی هم د وژل شویو کسانو په ډله کې وو.[330] وروستي خبرونه وایي چې ډیری نړیوالي نظارتي ګروپونه یا وتلي او یا هم د سرینا هوټل د حملې له کبله د تعداد له پلوه کم شویدي. د OSCE د ماموریت ډله په لومړي سر کې ووته خو بیرته یې د خپلو سلاکارانو د 15 کسیز ټیم نیمایي برخه ولیږله. NDI وروسته له هغه خپل نړیوال ناظرین وایستل چې د سرینا په برید کې یې له ډلې یو کس ووژل شو؛ په داسې حال کې چې NDI راپور ورکړ چې د 26 ولایتونو د رای ورکولو په 327 مرکزونو کې د NDI 101 تنه افغان ناظرینو برخه واخیسته. DI سره له دې چې د خپل 18 کسیز ټیم له منځه څوک ونه ایستل خو د 10 نورو اضافي ناظرینو له لیږلو یې ډډه وکړه.[331]



**په فبروري کې** د SPECS ماسټر ټرینرانو د ولایتي شوراګانو د ښځینه نوماندانو استازې د ټاکنیزو اصولو او مقرراتو، د رای ورکونې د مرکز د کارکونکو او حقونو او مسولیتونو او د رای ورکولو او رای شمیرلو د پروسې په اړه وروزل. (SPECS انځور)

3.18 جدول

**د USAID پروګرامونه د 2014 کال د ولسمشريزو او ولايتي شوراګانو د ټاکنو څخه د ملاتړ نيت لري**

| د پروژې سرليک | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټوليز اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 3/31/2014 پورې ټوليز لګښتونه (په ډالرو) |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان د مدني ښکيلتيا پروګرام يا ACEP | 12/4/2013 | 12/3/2018 | $70,000,000 | $1,341,817 |
| د سبا لپاره د قانوني او ټاکنيز ظرفيت لوړول (ELECT) II | 9/28/2013 | 9/27/2014 | 55,000,000 | - |
| ټاکنيز سمونونه او مدني وکالت (AERCA) | 7/7/2009 | 12/31/2015 | 38,702,682 | 29,122,253 |
| د سياسي ادارو او مدني ټولنې ملاتړ (SPECS) | 7/7/2013 | 7/6/2016 | 18,000,000 | 5,478,876 |
| د ټاکنو نړيوال ناظرين (NDI) | 2/1/2014 | 8/1/2014 | 4,000,000 | 490,000 |
| د ټاکنو نړيوال نظارت (DI) | 2/1/2014 | 8/1/2014 | 3,999,925 | 761,829 |
| د افغانستان لپاره د ټاکنيز ملاتړ ډله (OSCE) | 2/20/2014 | 7/15/2014 | 1,500,000 | 1,500,000 |

سرچينه: د سيګار معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب 4/7/2014.

په فبروري کې د USAID د عمومي پلټونکې دفتر يوه پلټنه تر سره کړه چې پکې د افغانستان له ټاکنو څخه د ملاتړ د پروګرام بياکتنه شوې وه کوم چې د 2011 له جون څخه د 2013 تر جون پورې موده تر نظر لاندې لري. په دې پلټنه کې تر لاسه شو چې:[332]

- د USAID مرستو د افغان بنسټونو هغه وړتياوې زياتې کړيدي چې ورسره ټاکنيز مشروعيت، جامعيت او روڼتوب پياوړی کيدای شي.
- USAID د ټاکنيزو شخړو د حل په تړاو د ملاتړ بنه نهايي کړې نده، او د مدني ليدنو، روزنې، ټاکنيز نظارت او پلټنې او د ښځينه ګډون په برخه کې محدوديتونه موجود وو.
- د USAID په ملاتړ بحثونه او شننې د دې لامل شوې چې دوه قوانين تصويب شي چې له مخې يې د شکايتونو د ارزونې يو نهايي کميسيون رامنځ ته شو او د کميشنرانو د ټاکنو په برخه کې يې واضحه پروسه پکې روښانه کړه تر څو له هغو کسانو چې د انتخاباتو د مديريت مسوليت لري نظارت وکړي او ټاکنيزې شخړې حل کړي.
- د USAID په ملاتړ د ځينو کيدونکو فعاليتونو پايښت لکه د IEC او د مدني ټولنو د ادارو (CSO) د بسپنې ورکول او کارکونکو ګمارل تر اوسه هم له ستونزو سره مخ دي.
- د نظارت او راپور ورکولو په برخه کې کمزوري د ټاکنيز ملاتړ ځينې برخې روښانه کړې.

SIGAR سيګار په تير کې د ټاکنيز ملاتړ د پروګرامونو په تړاو په پراخه توګه راپورونه خپاره کړيدي. د نورو جزيياتو په اړه د 2013 کال د اکتوبر درې مياشتيني راپور کې 110–119 مخونه وګورئ د پروګرامونو يوه خلاصه د 2014 کال د ولسمشريزو او ولايتي شوراګانو د ټاکنو د ملاتړ په برخه کې په جدول 3.18 کې ښودل شوې.

## د ټاکنو لپاره تياری

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومي سرمنشي د ځانګړي استازي په وينا، د 2014 کال د ټاکنو لپاره تخنيکي چمتووالی د تيرو ټاکنو په پرتله په لوړه کچه وو لکه د درغليو د مخنيوي او محدوديت لپاره پلانونه او داسې نور.[333] د USAID په وينا، افغان حکومت له ټاکنو سره تړلې هغه څلور اهداف تر لاسه کړل چې د ټوکيو دوه اړخيز حساب ورکونې په کاري چوکاټ کې د "ستونزمنو لاسته راوړنو" په نوم ياديدل او په دې کار کې د (1) ټاکنو د مهالويش ټاکل او عمل ورباندې کول، (2) د انتخاباتو د باکفايته کميشنرانو ټاکل، (3) د نوې ټاکنيز قانون ګرندي پلې کول (4) او له امنيت سره په تړلو ټاکنيزو مسايلو کې تياری او د رای ورکونکو د راجستر د پلې کولو لپاره هڅې شاملې وې.[334]



**افغان هوايي ځواکونه د پکتيکا** ولايت لرې پرتو ولسواليو ته د رايو صندوقونه رسوي. (د متحده ایالاتو د پوځ انځور)

د پرمختګونو برعکس، د ټاکنې په پروسه کې د ښځو د ګډون یقیني کول لا هم د یوې ننګونې په توګه پاتې دی. د NDI په وینا، د رای ورکونکو د ثبت پروسې دا په ګوته کړه چې په ناامنه سیمو کې ښځو د رای ورکولو د کارتونو د تر لاسه کولو لپاره کمه لیوالتیا لرله. IEC او ECC دواړه د ټول هیواد په کچه د ښځینه کارکونکو د ګمارلو په برخه کې ستونزې لرلې. د مارچ تر نیمایي پورې، IEC راپور ورکړ چې د ولسوالیو د ساحې د کورډیناټورانو د 3,200 تنو له جملې څخه 21% ښځې وې، چې دا له تیرو ټاکنو څخه لوړه کچه وه خو له ټاکل شوي هدف یعنې 50% څخه د پام وړ کموالی په ګوته کوي. IEC همداشان هڅه وکړه چې ښځې د رایه ورکونکو د روزنې او مدني پروګرام په برخه کې هم په کار وګماري. سره له دې چې د 50% ټاکل شوې موخې تر لاسه کول شونی نه شو خو د 1,428 روزونکو له جملې څخه 33% ښځې وې. د سیمو له پلوه لوی توپیر په ګوته کیږي، په شمال او لویدیځ کې ښځینه ونډه اخیستنه له 40% څخه تر 50% پورې وو په داسې حال کې چې په سویل او ختیځ کې دغه ونډه له 8% څخه تر 19% پورې وه. سره له دې چې د ECC موخه دا وه چې د کارکونکو 30% به یې ښځې وي خو د مارچ تر نیمایي روښانه شوه چې د کارکونکو یواځې 10% ښځې وې. د 102 ولایتي کمیشنرانو له ډلې یواځې شپږ تنه ښځې وې چې لوړه یې وکړه.[335]

د USAID په وینا، IEC د 34 ولایتونو په مرکزونو کې د نوم ثبتولو د 41 مرکزونو له لارې د نوم ثبتولو پروسه د رای ورکونې له ورځې څخه تر دوه اونۍ مخکې پورې روانه وساتله. په دې کسانو کې راستانه شوي، هغه کسان چې استوګنه یې بدله شویده او هغه کسان شامل وو چې د رای ورکولو پخواني کارتونه یې یا له منځه تللي دي او یا زیانمن شویدي. د فبرورۍ تر میاشتې پورې، IEC د 3,557,260 اضافي رای ورکونکو نومونه ثبت کړل چې له جملې یې 1,228,578 (34.58%) ښځینه وې.[336]

## د درغلې امکانات

د ټاکنو په اړه هغه راپورونو چې په کم وخت کې خپاره شول په ډاګه کړه چې په دې انتخاباتو کې د 2009 کال د انتخاباتو په پرتله د درغلیو پیښې کمې لیدل شوېدي. د اپریل په 7، د ECC مشر ژورنالسیتانو ته وویل چې سره له دې چې په ټولیزه توګه د ولسمشریزو نوماندانو په تړاو 122 شکایتونه د درغلیو په تړاو ثبت شویدي، خو داسې ښکاري چې د 2014 کال د اپریل ټاکنې به د 2009 کال ولسمشریزو ټاکنو په پرتله د ډیرو درغلیو پیښې ونلري. هغه وویل چې تر اوسه له وخته مخکې ده چې د دې شکایتونو جدیت تعین شي.[337] دوه مخکښ نوماندان عبدالله او غني د راپورونو له مخې په ډاګه کړیده چې د 2014 ټاکنې "ډیرې پاکې" وې او "د تقلب کچه پکې پراخه نه وه."[338] د اپریل په 9 د افغانستان د آزادو او عادلانه ټاکنو بنسټ (FEFA) راپور ورکړ چې د دوی د 9,500 ټاکنیزو ناظرینو د لومړنیو پلټنو پایه دا په ګوته کوي چې ټاکنیزې بینظمۍ او درغلي دا ځل د 2009 کال په پرتله کمې وې. د دې تر څنګ FEFA د بل کس په ځای رایه ورکول (چې خپله شخص موجود نه وي) په 507 مرکزونو کې راپور ورکړی دی او همداشان یې په 141 مرکزونو کې د صندوقونو له ډکولو راپورونه ورکړي دي.[339]

برسیره پر دې د اپریل 13، ECC اعلان وکړ چې په دې وخت کې د 2009 کال د ټاکنو په پرتله د درغلیو د پیښو په تړاو جدي راپورونه موجود دي. ECC په ټولیزه توګه د درغلیو 870 پیښې په "A لومړیتوب کې" شاملې کړیدي، دا شکایتونه په دې پیمانه جدي دي چې د ټاکنو پایلې بدلولای شي، دا پیښې د 2009 کال د ټاکنو په پرتله ډیرې دي چې هلته 815 هغه ثبت شوې وې. ECC په ډاګه کړه چې له ولایتونو څخه د لا زیاتو شکایتونو د ټولو په موخه اړینه ده چې د شکایتونو د بیاکتنې موده وغځول شي.[340]

د اپریل په 16، FEFA او د افغانستان د رڼو ټاکنو بنسټ روښانه کړه چې ټاکنیزو کمېټو کورنیو نظارتي ډلو ته د رایو د حسابولو له پروسې څخه د نظارت موقع نه ده ورکړې او همداشان یې د شکایتونو د ارزونې په وخت کې ورته اجازه نه ده ورکړې. IEC او ECC دواړه دغه نیوکې رد کړې دي. IEC وویل چې ناظرینو د رایو د حسابولو له پروسې څخه نظارت کولای شوای. په داسې حال کې چې ECC په ژوره توګه د رای ورکولو د بینظمیو له 1,400 پیښو څخه څېړنې کوي، ECC په ډاګه کړه چې دوی تر اوسه د درغلیو د پیښو بیاکتنه نده پیل کړې او له دې کبله یې د کورنیو ناظرینو ډلو ته په ناستو کې بلنه نده ورکړې.[341]

خپلواکو ناظرینو د افغانستان د رای ورکولو د نوم ثبتولو په سیستم کې د نیمګړتیا له کبله د بالقوه درغلیو څخه اندیښنې مسله راولاړه کړیده. NDI روښانه کړه چې په افغانستان کې د رای ورکونکو ثبتول، د رای ورکونکو لست او احصایې کې نیمګړتیا د دقیق کنټرول په لاره اچول ناشونې کړیدي چې د رای ورکونکو د ثبت په برخه کې تر سره شي او د رای ورکونکو د ګڼون دقیقه شمیره په ګوته کړي.[342] د افغانستان د شنونکو شبکې (AAN) راپور ورکړ چې د رای ورکونکو د اټکل شوې شمیرې او د رای ورکونکو د کارتونو د شمیر تر منځ لوی توپیر د ټاکنیزو بینظمیو لپاره زمینه مساعدوي. د رای ورکونکو د نوم ثبتونې د قانوني کارتونو ټولیزه شمیره شاوخوا 21 میلیونو ته رسیږي، دا هغه څه دې چې تر دې مخکې AAN ورته د "نه باورکیدونکې" خبره کړې وه.[343]

هیڅوک نه پوهیږي چې څومره افغانان د رای ورکولو لپاره مساعد دي. IEC او NDI دواړو اټکل کړی وو چې شاوخوا 12 میلیونه افغانانو د رای ورکولو شرایط پوره کړیدي، په داسې حال کې چې اروپایي اتحادیې بیا دغه شمیره 13.5 میلیونه بللې ده.[344] د IEC ویاند وویل چې IEC د رای ورکونکو د دقیقې شمیرې په اړه نه پوهیږي ځکه چې د څوځلي نوم ثبتولو له کبله کیدای شي د رای ورکونکو د نوم ثبتونې کارتونه د رای ورکونکو له اصلي شمیرې لوړ وي. برسیره پر دې د IEC ویاند په ډاګه کړه چې د رای ورکونکو د نوم ثبتولو کارتونه د انقضا نیټه نه لري، په کوم ډیټابیز کې داخل کړای شوي ندي او د هرې ټاکنې لپاره کاریدای شي. د رای ورکونکو د لست له شتون پرته د ټاکنې په ورځ د رای ورکونکو د شرایطو د پوره کولو د کنټرول لپاره بله لاره موجوده نه وه.[345]

د NDI په وینا، ښځینه رای ورکونکې مجبوره نه وې چې د نوم ثبتونې د پروسې لپاره خپل عکس ورکړي چې له دې سره د بل کس په ځای رایه ورکونه او د "خیالي" رای ورکونکو امکان شونی کیږي. په ځینو ډیرو دودیزو سیمو کې ارقام د ښځینه رای ورکونکو په نوم ثبتولو کې زیاتوالی په ګوته کوي ( د مثال په توګه په پکتیکا کې 47% چې د کابل په پرتله چې هلته 33% وه لوړه ده). له دې سره د بلقوه درغلیو او ټاکنیزو بینظمیو په اړه سوالونه راولاړیږي. برسیره پر دې، د څوځلي نوم ثبتولو په برخه کې هم ساتونکې اقدامات نه تر سترګو کیږي او یا دا چې په تیرو ټاکنو کې د تر لاسه شویو کارتونو څخه هم د څو ځلي استفادې شونتیا موجوده ده.[346]

د AAN په وینا، IEC هغه شونتیاوې تر غور لاندې نیسي چې ویل کیږي د رای پاڼو د پام وړ کمښت د راپورونو په برخه کې کیدای شي هغه شونتیا سمه وي چې تر رای ورکولو مخکې د رای پاڼو ډیری برخې د رایو د مرکزونو تر پرانیستل کیدو مخکې ډکې شوې وي او یا یې د دې لپاره پټې کړې وې چې په خپله خوښه یې په وروستیو ساعتونو کې ډکې کړي.[347] د NDI په وینا، IEC د رای ورکولو د هر مرکز لپاره 600 رای پاڼې ورکړې وې او داسې تمه یې لرله چې که چیرته هر رایه ورکونکی په یوه دقیقه کې رایه

ورکړې نو دا پاڼې به تر 10 ساعتونو پورې کفایت وکړي.[348] په داسې حال کې چې د رای ورکولو ګڼو مرکزونو د غرمې په مهال د رای پاڼو له خلاصیدو راپورونه ورکړل.[349]

IEC د درغلیو د مخنیوي په موخه بیلابیل بدلونونه په پام کې نیولي دي. چې عبارت دي له:

- د انفرادي رای پاڼو د شمیرې د ثبتولو له لارې د رای پاڼو د تعقیب په برخه کې پرمختګ، د پایلې فورمې او د پایلو د شیټ د پاکټونو یو ځای ترتیبول.
- په رای پاڼو کې د امنیتي نښو اضافه کول
- د یو نه لیدل کیدونکی ماورای بنفش رنګ او بل نه پاکیدونکې رنګ کارول تر څو هغه کسان ورسره وپیژندل شي چې رایه یې ورکړیده.
- د رنګو او د لاسوهنې په وړاندې د مقاومو کڅوړو کارول.[350]

IEC همداشان هغه پلانونه اعلان کړل چې ورسره به ټاکنیز مواد د ټاکنو ورځې ته په ډیر نږدې وخت کې د رای ورکولو مرکزونو ته ولیږدول شي تر څو د لاس وهنې مخه ونیول شي. برسیره پر دې، IEC پریکړه وکړه چې په شخصي کورونو کې به د رایو ورکولو مرکزونه نه پرانیستل کیږي او یواځې به په دولتي ودانیو لکه ښوونځي او کلینکونو کې پرانیستل شي. رایې به د رای په محل کې شمیرل کیږي.[351]

د کورنیو چارو وزارت (MOI) اعلان وکړ چې د ټاکنو د ګډوډلو د هڅو په تړاو یې خلک نیولې او یا یې دندې ځنډولې دي. په یوه پیښه کې، MOI د دریو لوړپوړو پولیس افسرانو دندې وځنډولې چې یو جنرال او دوه ډګروالان د لاسوهنو له کبله لکه د ټاکنې په پروسه کې د یوه ځانګړې نوماند لپاره ملاتړ باندې تورن وبلل شول.[352] تر ټاکنو یوه ورځ مخکې MOI د پنځو کسانو د نیولو خبره وکړه چې یو پکې د IEC کارکونکی وو او د ولسوالۍ د ساحې د تنظیمونکې په توګه یې دنده درلوده او ویل کیدل چې په کابل کې یې د رای ورکولو د 4,000 کارتونو د خرڅلاو هڅه کوله. په کنړ ولایت کې پولسو یو 10 کلن هلک د کنړ ولایت اړوند د 12,000 جعلي کارتونو د لیږدولو پرمهال ونیو.[353]

NDI روښانه کړه چې په تیرو ټاکنو کې، هغه ساحې د یاغیانو تر لوړې اغیزې لاندې وې او د ناظرینو له لاسرسي لرې وې دا مهال هم د درغلیو له کبله ډیرې مشکوکې بلل کیږي.[354]

## د ټاکنو امنیت

افغان چارواکو د 2014 کال د ټاکنو د امنیت لپاره پلان جوړول د تیرو هغو په پرتله ډیر مخکې پیل کړ. NDI د 2009 کال د ولسمشریزو ټاکنو په پرتله د پام وړ پرمختګ په ګوته کوي، کوم چې د رای ورکولو د مرکزونو لیستونه د انتخاباتو تر ورځې یواځې شو ورځې مخکې اعلان شول.[355] MOI د ټاکنو د امنیت لپاره یو ځانګړی کمیسیون رامنځ ته کړ چې له IEC سره نږدې همغږي ولري.[356] په دې پلان کې په افغان ملي پولیسو (ANP) د رای ورکولو د مرکزونو امنیت ساتل سپارل شویدي او افغان ملي اردو (ANA) د دې پلان له مخې دوهمه دفاعي لیکه جوړوي.[357] افغان سیمه ایز پولیس (ALP) د ټاکنو د مرکزونو د امنیت د ساتنې په موخه له دې کبله نه وو ګمارل شوي چې داسې اندیښنې موجودې وې چې دوی د ولایتي شوراګانو له بیلابیلو نوماندانو سره تړلي دي، خو د دریم امنیتي کمربند په توګه وګمارل شول.[358]

د مارچ په 30، د رایو د مرکزونو تازه نهایي لست د IEC له خوا اعلان شو چې له مخې یې د 6,770 وړاندیز شویو مرکزونو له ډلې څخه 748 هغه نه پرانیستل کیږي.تر څو د ممکنه درغلیو مخنیوی ورسره وشي.[359] تر ټولو ډیر اغیزمن شوي ولایتونه عبارت



**د ټاکنو په ورځ** د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د پکتیا ولایت په مرکز کې د سیمه ایزو عملیاتو د همغږي په مرکز کې ستراتیژي توضیح کیږي. (د متحده ایالاتو د پوځ انځور)

دي له غزني (60 تړلې مرکزونه)، هرات (31 مرکزونه)، ننګرهار (115 مرکزونه)، او زابل (32 مرکزونه)[360] زابل او نورستان په ځانګړې توګه اغیزمن بلل کیږي چې په ترتیب سره 58.1% او 82.8% ټاکنیز مرکزونه پکې د ټاکنو په ورځ تړلې پاتې کیږي.[361] د ټاکنو په ورځ، د 6,423 مرکزونو د وروستني اټکل 205 مرکزونه بند پاتې شول چې په لومړنۍ توګه یې علت ناامني وبلل شوه، تر ټولو ډیر مرکزونه له دې ډلې په هرات او ننګرهار کې تړلې پاتې شول. په ټولیزه توګه، د هغو رای مرکزونو شاوخوا 13% تړلې پاتې شول چې د 2014 کال د اپریل د 5 ټاکنو لپاره یې پرانیستل کیدل په پلان کې وو.[362]

د 2009 کال د ولسمشریزو ټاکنو د بیاکتنې په برخه کې DI ومونده چې هغه واقعیت د ځینو کړیو له خوا په غلطه توګه وکارول شو چې ویل کیدل د ناامنو سیمو د رای ورکولو په مرکزونو کې د ناظرینو، استازو او د IEC د کارکونکو کم شمیر حاضریدای شي. DI د UNDP د ELECT پروژې له قوله وایي:

> امنیتي ځواکونو څرګنده کړه چې دوی د ټولو سیمو د امنیت د ټینګولو وړتیا لري او باید په یوه لا واقعبینانه بنه یې ارزونه وشي — سره له دې چې دوی سیاسي دلایلو له کبله دا نه منله چې د هیواد د پام وړ سیمې یې په ولکه کې نه وې، او یا په مستقیمه توګه دا چې دوی د پروسې د درغلۍ په برخه کې ښکیل وو. ... امنیتي ځواکونو د هغو مرکزونو د پرانیستلو په برخه کې تاکید کاوه چې امنیت یې ټینګیدای نشوای او درغلۍ پکې رامنځ ته شوې.[363]

راپور د UNDP ELECT له قوله زیاته کړه، "دوی په پیاوړې توګه د امنیتي وزارتونو په وړاندې د مقاومت ننګه وکړه چې هغه مرکزونه دې نه پرانیستل کیږي چې تقریباً په بشپړه توګه د 'خیالي رای ورکونکو' لپاره به کارول کیږي."[364]

په تیره ربع کې، د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار له افغان ټاکنوسره خپل پریکون پای ته ورساوه او له خپلو ملاتړو څخه یې غوښتنه وکړه چې د 2014 کال د اپریل په ټاکنو کې ګډون وکړي.[365] د حزب اسلامي ویاند بیا وروسته په ډاګه کړه چې دا ملاتړ باید له قطب الدی هلال څخه وشي چې هغه پخپله پخوا د حزب اسلامي د سیاسي کمیسیون مشري په غاړه لرله.[366]

یاغیانو په لوړه کچه ګڼې حملې په لاره واچولې تر څو په انتخاباتو کې د رای ورکونکو د ګډون په برخه کې خنډونه رامنځ ته کړي. په ځانګړې توګه په ختیځو او سویلي کلیوالو سیمو کې طالبانو له خلکو وغوښتل چې که له ټاکنو سره پریکون ونکړي نو له تاوتریخوالې سره به مخ شي.[367] دریو احتمالي مخکښو نوماندانو (عبدالله، غني او رسول) په هغه تلویزیوني مناظره کې له ګډون څخه ډډه وکړه چې د اپریل په لومړیو کې په کابل کې په لاره اچول کیده او علت یې امنیتي ننګونې وبلل شوې.[368] ځینو ولسمشریزو نوماندانو د هیواد په کچه لوړې کمپاینې غونډې په لاره واچولې، خو په لویه پیمانه د ولایتونو په مرکزونو پورې محدودې وې او ډیری ولسوالۍ ورته ناامنه بریښیدلې.[369]

یاغیانو په کابل کې د IEC په مرکزي دفتر باندې یواځې څو ساعته تر هغه مخکې برید وکړ چې کمیسیون غوښتل د هغو مرکزونو جزییات اعلان کړي چې د ټاکنو لپاره به پرانیستې وي.[370] همداشان په سرپل ولایت کې د ولایتي شورا د یوه نوماند د اختطاف او وژنې په اړه هم راپورونه تر لاسه شول.په ننګرهار ولایت کې د IEC پنځه تنه کارکونکې وتښتول شول، په غزني ولایت کې یاغیانو د رای ورکونکو د ویرولو په موخه آوازې خپرې کړې چې دوی په سرکونو کې ماینونه خښ کړیدي. او د کابل په ختیځ کې د IEC په یوه سیمه ایز دفتر باندې د برید له کبله د ولایتي شورا یو نوماند ووژل شو.[371] برسیره پر دې، یاغیانو د ولسمشریزو کمپاینونو په وړاندې حملې تر سره کړې چې پر نوماندانو باندې حمله هم پکې شامله وه.[372]

د افغانستان د ټاکنو مسولینو راپور ورکړ چې د 2013 کال د جون له 1نیټې څخه د 2014 کال د اپریل تر 3 پورې دوی د ټاکنیزو ادارو په وړاندې 160 داسې پیښې ثبت کړیدي چې له امنیت سره تړاو لري، په دې کې ډیری شمیر د هرات له ولایت څخه راپور شویدي. تر ټاکنو یوه اونۍ مخکې په 25 ولایتونو کې د رای ورکولو د مرکزونو او ټاکنیزو فعالیتونو په وړاندې 116 تهدیدونه ثبت شوي وو.[373] د IEC له قوله ویل شویدي چې د کندهار په سویلي ولایت کې هیڅ کوم برید ندی تر سترګو شوی.[374] په داسې حال کې چې په ختیځ کې د متحده ایالاتو د روزنې، سلامشورې او مرستې د سویل ختیځې قوماندانۍ د قوماندان له قوله د ټاکنو په ورځ ویل شویدي چې "دا په افغانستان کې له تاوتریخوالو یوه ډکه ورځ وه." هغه تایید کړه چې د متوقعه بریدونو په وړاندې دفاع آسانه ده لکه د ټاکنو په ورځ چې تر سره شوه خو د افغان امنیتي ځواکونو لپاره ډیره ستونزمنه ده چې دغه دفاعي کچه په دوامداره توګه وساتي.[375]

د امنیت او د ښځو د ګډون د پراختیا په موخه MOI د ښځینه تلاشي اخیستونکو پروګرام په لاره واچول چې د MOI د وینا له مخې دوی 13,000 ښځینه رضاکاران ګمارلې او روزلې دي، تر څو د ښځو د بدني تلاشي په برخه کې د ټول افغانستان په کچه په 6,400 مرکزونو کې کار وکړي. په افغانستان کې د ښځینه تلاشي کونکو ګمارل له دې کبله مهم دي چې نارینه د دود له مخې نشي کولای د پردۍ ښځې سره تماس پیدا کړي. د دې پروژې موخه دا وه چې ښځې له وسلو سره داخلې نشي او یا نارینه د ښځو جامې وانه غوندي — او د رای مرکزونو ته د حملو د ترسره کولو په موخه داخل نشي.[376]

د NDI په وینا له دې کبله چې په افغانستان کې ښځې په دودیزه توګه له خپل نارینه پرته سفر نشي کولای، MOI هغه سرچینې تیارې کړې چې ورسره نارینه خپلوان کولای شي له ښځینه تلاشي کونکو سره یو ملګرتیا وکړي.[377] حکومت د 3.7 میلیون ډالرو دې پروژې کې 1.7 میلیون ډالر ونډه واخیسته (د افغانستان لپاره د UNDP د قانون او نظم د مرستو د صندوق یا LOTFA له لارې). د حکومت په وینا پروسه په سر کې د ګنو قانوني موانعو سره مخ شوه، خو راپور روښانه کړه چې ښځینه تلاشي کونکې په ښاري سیمو کې وګمارل شوې او کار یې وکړ.[378]

## ملي حکومتداري

متحده ایالات د افغان حکومتي بنسټونو لپاره مرسته چمتو کوي تر څو د مدني خدمتونو د چمتوکولو لپاره یې ظرفیتونه لوړ شي او په دې ډول د دوو لارو څخه په عامه افغانانو کې د دوی قانونیت پیاوړی کړای شي؛ د مرستو، قراردادونو او د همکاریو د قراردادونو له لارې، او په زیاتیدونکې توګه د بودیجې د چوکاټ دننه د مرستو له لارې.[379] د امنیتي لیږد په دې وروستي کال کې، د متحده ایالاتو حکومت په ځانګړې توګه د افغان حکومتي بنسټونو د مالي ظرفیت او د پروګرامونو د مدیریت په برخه کې تمرکز لري. هغوی د دې موخې د تر لاسه کولو لپاره د ظرفیت جوړونې او د بودیجې د چوکاټ دننه پروګرامونو د ترکیبولو له لارې کار کوي.[380]

افغانستان ته د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړې استازې په وینا، د ټوکیو دوه اړخیز حساب ورکونې کاري چوکاټ (TMAF) د نړیوالې ښکیلتیا د اساسي برخې په توګه ګڼل کیږي او په افغانستان کې د مدني پرمختیا د مرستو د پلې کولو په برخه کې یوه داسې وسیله ده چې ټول وربانديې توافق ته رسیدلي دي.[381] نړیوالې ټولنې او افغان حکومت له TMAF سره د 2012 په جولای کې په ټوکیو کې د مرسته ورکونکو د کنفرانس په ترڅ کې موافقه وکړه. TMAF د 16 ژمنو ټولګه د افغان حکومت د موافقې لپاره د څرګندونکې په توګه ګڼل کیږي او نهه د نړیوالې ټولنې سره تړاو لري. د دې چوکاټ لاندې د تعقیب

3.19 جدول

| د متحده ایالاتو له حکومتدارۍ سره په تړلو موضوعاتو کې د ټوکیو دوه اړخیز حساب ورکونې کاري چوکاټ ځرګندونکي او ستونزمن لاس ته راوړونکي | | |
|---|---|---|
| **د ټوکیو دوه اړخیز حساب ورکونې کاري چوکاټ شاخص** | **د ټوکیو دوه اړخیز حساب ورکونې کاري چوکاټ شاخص "ستونزمن لاس ته راوړونکي"** | **ایا ستونزمن لاس ته راوړونکي تر لاسه شویدي؟ (هو/نه)*** |
| **واقعي ډیموکراسي او منصفانه ټاکنې** | | |
| د 2013 کال په پیل کې د یوه هراړخیز ټاکنیز مهالویش ته انکشاف ورکول دي چې د 2015 کال ټاکنیزو تیاریو او د رای ورکولو نیټې هم پکې روښان وي. | د 2013 کال په پیل کې د یوه هراړخیز ټاکنیز مهالویش ته انکشاف ورکول دي چې د 2015 کال ټاکنیزو تیاریو او د رای ورکولو نیټې هم پکې روښان وي. | هو |
| ډاډمنه کړي چې یوه پیاوړي ټاکنیزه طرحې ته پراختیا ورکړل شویده او مصؤنه، رڼه او ټولیزه بڼه لري او ورسره په وخت او بریالي ټاکنې عملي کیدای شي. | حکومت په یوه مشورتي او رڼه پروسه کې د ټولو راتلونکو ټاکنو ځان د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د لوړ پوړو چارواکو په ټولو ګمارنو کې ښکیل دی چې په پایله کې یې باکفایته او منل شوي کسان IEC ته وروپیژندل شي او له دې سره به پراخ ملاتړ ورته رامنځته شي. | هو |
| | حکومت د هغه قانوني چوکاټ د پلي کیدو څخه په فعاله توګه ملاتړ کوي چې د افغانستان د ملي شورا له لوري به د 2013 په جون کې تصویب شي. دا چوکاټ د نړیوالو معیاراتو سره د همغږۍ په موخه رامنځته شویدی او یو معتبر، جامع او مستقل میکانیزم د ټاکنیزو شکایتونو د حل لپاره پکې په پام کې نیول شویدی. | هو |
| | حکومتي وزارتونه له IEC سره له نږدې کار کوي او همغږي ورسره لري تر څو د IEC له خوا په وخت او بریالی پلي کیدنې سره مرسته وکړي: (i) د رایو د نوم ثبتولو پلان چې د بریښنایي تذکرې مکملونکې ده؛ (ii) عملیاتي پلان چې پکې د امنیتي پلانونو، ظرفیت جوړونې، د درغلیو مخنیوی او د رای ورکونکو لپار جامع لاسرسی شامل دی. | هو |
| **حکومتداري، د قانون حاکمیت او بشري حقونه** | | |
| د ټولو اتباعو د بشري حقونو لپاره د درناوي ډاډمنول، په ځانګړې توګه د ښځو او ماشومانو لپاره، او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون (AIHRC) او د مدني ټولنو ادارو ته مناسبې کړنې د تر سره کولو په تړاو اجازه ورکول. | د AIHRC کمیشنران د AIHRC د قانون د 11 مادې او د پاریس د اصولو پر بنسټ ګمارل کیږي او د مدني ټولنو د اداراتو سره له سلامشورو وروسته اقدام ورته کیږي. د ګمارنې پروسه به له AIHRC سره مرسته وکړي تر څو 'A' درجه ورته د بشري حقونو د ملي بنسټونو د همغږۍ د نړیوالې کمیټې له خوا ورکړل شي | نه |
| د مدني ټولنو د ښکیلولو سره د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د محو کولو (EVAW) د قانون ښکاره پلي کول، چې زیانمنو شویو ته د خدمتونو او همداشان د قانون پیاوړې کول پکې شامل دي او د ښځو لپاره د عمل ملي پلان (NAPWA) په کلني بنسټ پلي کول. | د ښځو چارو وزارت (MOWA)، د کورنیو چارو وزارت (MOI) او د لوی څارنوالی اداره (AGO) په هر ولایت کې د EVAW قانون د پلي کولو په برخه کې یو تفصیلي راپور په همغږه توګه خپروي. په راپور کې باید: د EVAW د پیښو هغه شمیرې شاملې وي چې پولیسو ته راجع کیږي، د هرې پیښې تنظیم ( چې ایا تعقیب شویدی که نه) او د تعقیب شویو پیښو پایلې. ټول شوي اسناد باید خپاره شي او له دې څخه د EVAW د قانون د پلي کولو په برخه کې د ښتنې لپاره د یوه اساس په توګه کار واخلي. | نه |
| د فساد سره د مبارزې لپاره یو قانوني چوکاټ رامنځ ته کول او عملي کول، د بیلګې په توګه، د لوړ پوړو عامه چارواکو لخه د اجرایي، قضایي او حقوقي برخو د کارکونکو د کلنیو شتمنیو روښانول. | د شتمنیو د روښانولو فورمونه له لوړ پوړو دولتي چارواکو څخه پیلول (د اساسي قانون د 154 مادې پر بنسټ) او په تفتیش د عالي اداري (HOO) په ویبسایټ کې یې خپرول تر څو د عامه او دله ایزو رسنیو لپاره د لاسرسي وړ وګرځي. ښکاره شوي شتمنی باید په دوامداره توګه د افغانستان د قانون او د HOO د ظرفیت په بنسټ تصدیق شي. | نه |
| **حکومتي عواید، د بودیجې اجرا او سیمه ایزه حکومتداري** | | |
| د ګمرکاتو او مالیاتو د لا موثرې، رڼې او حساب ورکونکې سیستمونو له لارې د عوایدو د ټولولو د نسبت د لوړولو له لارې په GDP کې تر 2016 کال پورې د هغو ونډه له 11% څخه تر 15% پورې لوړول او په 2025 کال کې دا فیصدي 19% ته رسول. | موجود نه دی | موجود نه دی |
| تر 2017 کال پورې د بودیجې د اجرا کچه 75% ته رسول. | موجود نه دی | موجود نه دی |
| د یوه قانوني چوکاټ عملي کول تر څو د دولتي ادارو لپاره اصول او مسولیتونه په ملي، ولایتي او د ولسوالیو په کچه روښانه کړي او د 2010 کال د سیمه ایزې حکومتدارۍ د پالیسی سره په مطابقت کې وي. | موجود نه دی | موجود نه دی |
| د ولایتي بودیجې پروسس ته پراختیا ورکول چې له مربوطه وزارتونو سره ولایتي ونډه هم پکې شامله وي او له ولایتي پلان جوړونې پروسې سره د بودیجې د غوښتنو همغږي کول په کومو کې چې ولایتي شوراګانې د سلا ورکولو ونډه لري. | د 1393 مالي کال لپاره د ولایتي بودیجې د پروسس انکشاف چې له مربوطه وزارتونو سره ولایتي ونډه هم پکې شامله وي او له ولایتي پلان جوړونې پروسې سره د بودیجې د غوښتنو همغږي کول په کومو کې چې ولایتي شوراګانې د سلا ورکولو ونډه لري. | هو |

د پرمختګ دا ارزونې د TMAF لپاره د معلوماتو د ورکړې په موخه تر سره شوه تر څو د مرستو د لګولو د ترتیباتو په اړه پریکړې ورسره وشي.

سرچینه: USAID ،ODG د سیګار معلوماتي غوښتني ته ځواب، 3/31/2014.

میکانیزمونه هم د لوړپوړو چارواکو په تړاو د پرمختګونو د څارنې لپاره ځای پر ځای کړای شوي وو. د 2013 کال د جولای په 3 د لومړنۍ ناستې د ترتیبولو لپاره د TMAF څرګندونکو سره داسې منځمهاله موخې هم یوځای کړای شوې چې هم افغان حکومت او هم نړیوالې ټولنې ته د "ستونزمنو لاسته راوړنو" په توګه وپیژندل شول.[382]

د همغږۍ او څارنې د ګډ ځانګړي بورډ (JCMB) لومړۍ ناسته د 2014 د جنوري په 29 تر سره شو تر څو د TMAF پرمختیا وارزوي او تر ټاکنو وروسته د نوي افغان حکومت د وړاندوینو په برخه کې لارښونې چمتو کړي.[383] له حکومتدارۍ سره د TMAF د تړلو څرګندونکو د پرمختیا په برخه کې د ستونزمنو لاسته راوړنو مسله په دې درې میاشتنې راپور کې توضیح شویده. جدول 3.19 د TMAF څرګندونکې او ستونزمنې لاسته راوړنې ښیې چې د پرمختګونو د ارزونې له ورستیو جزییاتو سره یو ځای توضیح کیږي.

## د بودیجې په چوکاټ کې مرسته

د دې لپاره چې حکومتداري پیاوړې شي او له افغان لومړیتوبونو سره پرمختیایي هڅې همغاړې شي، په 2010 کال کې نړیوالو مرسته ورکونکو د لندن په کنفرانس کې ژمنه وکړه چې د هغو پرمختیاي مرستو کچه به لوړه کړي چې د افغان حکومت د بودیجې په چوکاټ کې مصرفیږي او لږ تر لږه به یې 50% ته ورسوي. د متحده ایالاتو په شمول مرسته کونکو هیوادونو د ټوکیو په کنفرانس کې چې د 2012 په جولای کې تر سره شو خپله ژمنه تکرار کړه.[384] په داسې حال کې چې مرسته ورکونکو خپلو ژمنو ته ځینې شرایط کېښودل چې هغه افغان حکومت ته په TMAF کې د ځانګړي کړای شویو ژمنو پوره کول وو. په دې ژمنو کې د نورو شیانو تر څنګ د عامه مرستو پیاوړی مدیریت هم شامل وو.[385]

متحده ایالات د بودیجې په چوکاټ کې مرستې د دوه اړخیز هوکړه لیک له لارې د افغان حکومت اووه ادارو ته ورکوي او همداشان د بیلابیلو مرسته کونکو له خوا د مرستو رامنځ ته شوې صندوق ته ورکول کیږي:د افغانستان د بیارغونې خیریه صندوق (ARTF) او د افغانستان د زیربناو خیریه صندوق (AITF).[386] ARTF د نړیوال بانک له خوا اداره کیږي او افغان حکومت عملیاتي او پراختیاي بودیجو ته مرستې چمتو کوي تر څو د افغان حکومت له عملیاتو، د پالیسیو اصلاحاتو او د ملي لومړیتوبونو له پروګرامونو څخه ملاتړ وکړي.[387] AITF د بیلابیلو مرسته کونکو له خوا رامنځته شوی خیریه صندوق دی چې د آسیا د پرمختیایي بانک له خوا اداره کیږي او د افغانستان د زیربنایي پروژو په برخه کې د مرسته کونکو همکارۍ سره همغږي کوي.[388] د USAID په وینا، د مرستو ډیری برخه له مخکې او اوس هم د بیلابیلو مرسته کونکو له خوا د رامنځته شوې خیریه صندوق له خوا لګول کیږي چې په ځانګړې توګه له ARTF څخه یادونه کولای شو.[389]

لکه څنګه چې د راتلونکې مخ په جدول 3.20 کې ، ښودل شوي، USAID تمه درلوده چې 986 میلیون ډالره به د مستقیمو دوه اړخیزو مرستو له لارې ولګوي. تمه کیږي چې 2.7 میلیارد ډالر مرسته به له ARTF سره وشي او همداشان به تر 180 میلیون ډالرو ډیرې پیسې د افغانستان د زیربناو د خیریه صندوق (AITF) له لارې ولګول شي.[390]

د USAID په وینا، د مرستو واقعي لګول د بودیجې د چوکاټ دننه د دوه اړخیزو پروګرامونو له لارې به تر هغه څه په کم سرعت سره روان وي چې دواړه غاړې یې تمه لري. USAID د بودیجې د لګولو ټیټه کچه د افغان حکومت له محدود ظرفیت سره تړي او همداشان یې د خطر د محدودولو له هغو پریکړو سره تړلې بولي چې USAID یې د بودیجې د چوکاټ دننه مرستو باندې لګوي.[391]

جدول 3.20

**د بودیجې په چوکاټ کې د USAID پروګرامونه**

| د پروژې سرلیک | د بودیجې په چوکاټ کې ملګري | د پیل نیټه | د پای نیټه | اټکل شوی ټولیز لګښت (امریکایی ډالر و په اساس) | تر 3/31/2014 پورې ټولیز لګښت (په ډالرو) |
|---|---|---|---|---|---|
| د افغانستان د بیارغونې خیریه صندوق (ARTF) * | بیلابیل (د نړیوال بانک له طریقه) | 6/20/2002 | 3/31/2017 | $2,684,320,295 | $1,961,820,295 |
| د بریښنا د لیږد پراختیا او نښلول (PTEC) | د افغانستان بریښنا شرکت (DABS) | 1/1/2013 | 12/31/2016 | 342,000,000 | 4,781,000 |
| د روغتیایي پروګرام د مشارکت(PCH) تړون | د عامې روغتیا وزارت | 7/20/2008 | 1/31/2015 | 236,455,840 | 164,648,037 |
| د افغانستان د زیربناګانو لپاره د خیریه مرستو ونډه (AITF) | بیلابیل (د نړیوال بانک له طریقه) | 3/7/2013 | 3/6/2018 | 180,300,000 | 105,000,000 |
| د شبرغان د ګازو پراختیایي پروژه | د کانونو او پطرولیم وزارت | 5/15/2012 | 4/30/2015 | 90,000,000 | – |
| د کجکي بند دوهم واحد | DABS | 4/22/2013 | 12/31/2015 | 75,000,000 | 1,632,194 |
| د کرهنیزې انکشاف مرسته (ADF) | د کرهنې اوبولګولو او خوراکي توکو وزارت | 7/18/2010 | 12/31/2014 | 74,407,662 | 29,000,000 |
| د اساسي زده کړو، سواد، او تخنیکي-حرفوي روزنو (BELT) ټولنې میشته زده کړې | د پوهنې وزارت | 10/29/2013 | 10/28/2017 | 56,000,000 | – |
| د اساسي زده کړې، سواد زده کړې او تخنیکي-حرفوي روزنو لپاره درسي کتابونه | د پوهنې وزارت | 11/16/2011 | 12/31/2014 | 26,996,813 | 21,955,403 |
| د ملکي تخنیکي مرستو د ملاتړ د پلان (CTAP) لپاره د نقدو پیسو په لیږد کې مرسته | د مالیې وزارت | 9/30/2009 | 9/30/2014 | 36,256,560 | 28,810,610 |
| د افغانستان د کاري ځواک پراختیایي پروګرام (AWDP) | د پوهنې وزارت | 9/18/2013 | 4/3/2016 | 30,000,000 | – |
| د مدني خدمتونو د ریفورم د مرستې لپاره د پیسو لیږد | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمت خپلواک کمیسیون | 10/31/2011 | 2/28/2014 | 15,000,000 | 13,000,000 |
| د بریښنایي حکومتدارۍ د سرچینو مرکز | د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژي وزارت | 8/28/2013 | 6/1/2016 | 3,900,000 | – |

یادونه: * په دې کې په ARTF کې د USAID ټوله ونډه شامله ده.

سرچینه: د سیګار معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب 4/7/2014.

د متحده ایالاتو او افغانستان حکومتونه د امریکا هغه پرمختګ ته په بیلابیلو نظرونو ګوري چې له مخې یې د افغان حکومت د بودیجې په چوکاټ کې د مرستو د چمتو کولو په برخه کې ژمنه تر سره شوې وه.[392] USAID وایي چې افغان حکومت یواځې هغه مرستې د "بودیجې په چوکاټ کې" بولي چې ولګول شي (کله چې په عملي توګه پیسې ولګول شي). په داسې حال کې چې USAID خپلې ژمنې او مسولیتونه هغه وخت په حساب کې نیسي چې (مرسته کونکې د یوې ځانګړې موخې لپاره مرستې ساتي خو تر اوسه پیسې لګول شوې نه وي) لکه د بودیجې په چوکاټ کې مرسته.[393]

## د ظرفیت جوړولو پروګرامونه

د USAID د ظرفیت جوړولو پروګرامونه د وزارتونو د اجراتو د پیاوړتیا په موخه کار کوي تر څو د بودیجې په چوکاټ کې مرستې مدیریت کړي او حساب یې ورکړای شي. لکه څنګه چې په جدول 3.21 کې ښودل شوي، دې پروګرام کې د USAID د 31 میلیون ډالرو هغه مرسته هم شامله ده چې د مشرتوب، مدیریت او حکومتدارۍ د پروژو په برخه کې یې کوي او موخه یې د افغانستان د مالي سیستم پیاوړتیا ده او همداشان د عامې روغتیا او معارف وزارت د ظرفیت لوړول دي تر څو د 2010 کال د کابل د کنفرانس په ترځ کې رامنځ ته شوېو غوښتنو ته لاسرسي وموندل شي او د بودیجې په چوکاټ کې مرستې زیاتې شي.[394] USAID همداشان د ښځو چارو وزارت د اداره اي بیارغونې او پیاوړتیا پروژې (MORE) ته 5 میلیون ډالر مرسته

جدول 3.21

**په ملي کچه د USAID د ظرفیت جوړونې پروګرام**

| د پروژې سرلیک | د افغان حکومت ملکرې | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټولیز اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 3/31/2014 پورې ټولیز لګښتونه (په ډالرو) |
|---|---|---|---|---|---|
| د مشرتابه، مدیریت او حکومتداري پروژه | د عامې روغتیا وزارت<br>د معارف وزارت | 9/25/2011 | 9/24/2016 | $32,000,000 | $15,657,888 |
| د افغانستان د قانون جوړونکو بنسټونو مرسته (ALBA) | پارلمان | 3/28/2013 | 3/27/2018 | 23,455,326 | 3,007,595 |
| د ښځو چارو وزارت اداره اي بیارغونه او پیاوړتیا (MORE) | د ښځو چارو وزارت | 12/20/2012 | 12/19/2015 | 5,000,000 | 2,202,306 |

سرچینه: د سیګار معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب 4/7/2014.

کړېده، چې د نورو شیانو تر څنګ یې یوه موخه له وزارت سره مرسته ده ترڅو مالي مدیریت یې پیاوړی شي او په راتلونکې کې د بودیجې د چوکاټ دننه مرستې ولګولای شي.[395]

## ملي شورا

USAID په داګه کړېده چې افغان پارلمان ډېر کم ځواک لري ځکه چې د خپلې بودیجې د تعیین وړتیا نلري او همداشان د قانون جوړونې پروسې په ډېره کمه توګه پرمخ بیایې.[396] ډېرې قوانین په اجراییوي برخې پورې تړلې دي.[397] د USAID په وینا، د پارلمان دواړه برخې د موضوعاتو په تړاو ماهرینو ته اړتیا لري ترڅو قانون جوړونه وشني او مسودې ورته چمتو کړي.[398]

د دې ربع په اوږدو کې، ټاکنو او پارلماني رخصتیو د پارلمان کارونه محدود کړي وو. د جنورۍ په پیل کې پارلمان ملي بودیجه مخکې له دې چې د جنورۍ له 21 د مارچ تر 6 رخصتۍ 2014 پیل کړي، تصویب کړه.[399] د حکومت په وینا، د پارلمان بیا کار پیلېدل یو څو ورځې له دې کبله وځنډېده چې د ولسمشر لومړی مرستیال مارشال فهیم ومړ. د مارچ په 25 ولسي جرګې یونس قانوني ته د فهیم د ځای د نیولو په تړاو د باور رایه ورکړه.[400]

د مارچ په میاشت کې له دې کبله چې ډېری استازي غیرحاضره وو د پارلمان هیڅ برخې هم کار ونه کړ. د بېلګې په توګه، د مارچ په 18 د مشرانو جرګې د 102 غړو له جملې یواځې 24 تنه حاضر وو د نصاب د پوره کیدلو لپاره 52 غړې باید شتون ولري. پنځوس سناتوران د ولایتي شوراګانو د ټاکنو په مبارزو بوخت دي او ډېری نور یې د ولسمشرۍ نوماندانو ته کمپاینونه کوي.[401] د مارچ په 31 په ولسي جرګې کې د 246 غړو له جملې یواځې 12 تنه حاضر وو چې د نصاب لپاره 125 تنه په کار دي.[402]

USAID د افغانستان د قانون جوړونې د بنسټونو پروژې (ALBA) ته 23.5 میلیون ډالر مرسته ورکوي تر څو له افغان پارلمان سره مرسته وشي چې د یوه مستقل او اغیزمن قانون جوړونکې، استازي کونکې او نظارت کونکې ادارې په توګه کار وکړي.[403] په تیرې ربع کې، ALBA د پارلمان د غړو او کارکونکو په لومړیتونو تمرکز کاوه چې ظرفیت ته یې وده ورکړل شي. د USAID په وینا، په دې ربع کې تر ټولو مهم لومړیتوب د پارلمان د رخصتیو پرمهال د سکرتریت کارکونکو ته د کورسونو په لاره اچول وو. ALBA همداشان خپلو مرستو ته د پارلمان د فساد ضد ډلې د پرمختیا په برخه کې دوام ورکړ، تر څو د دې ډلې او د فساد پر ضد د نظارت او ارزونې له کمیټې (MEC) تر منځ اړیکې رامنځ ته کړي. برسیره پر دې ALBA له دې ډلې سره مرسته وکړه تر څو خپله داخلي اداره رامنځ ته کړي، منشور جوړ کړي او نور بنیادي اسناد چمتو کړي. په پای کې، د 2014 په جنورۍ

کې ALBA له نږدې د 1393 کال د بیا اصلاح شوې بودیجې په تړاو له ملاحظاتو او مراحلو څخه څارنه وکړه کوم چې پارلمان د 2013 کال په دسمبرکې ونه منله.[404]

## سیمه ایزه حکومتداري

متحده ایالات له هغو لومړیتوبونو ننګه کوي چې په سیمه ایزه کچه افغانانو ته په خپل حکومت کې پراخه ونډه ورکوي. موخه دا ده چې سیمه ایز حکومت افغانانو ته لا د لیدلو وړ وګرځوي او خلک یې حساب ورکونکی او ځواب ورکونکی وګڼي. په ځانګړې توګه په سویل او ختیځ کې چې بغاوت زیات لیدل کیږي.[405] د پروګرام موخه کلیوالي سیمې دي چې ولسوالي او کلي پکې شاملې دي او همداشان یې د ښارونو مرکزونه او ښاروالۍ یوه برخه ده.

د USAID په وینا افغان حکومت په ولایتي او سیمه ایزه کچه د ملکي خدمتونو د بستونو د ډکولو په برخه کې له ځینو ننګونو سره مخ دی. په دې کې روښانه شویده چې د افغانستان په ځینو سیمو کې ناامني د پام وړ مانعه بلل کیږي چې ورسره د ګمارلو پاېلې هم په کمي لحاظ دیره ستونزمنه کیږي. برسیره پر دې، ډیری بستونه ځانګړې تعلیمي غوښتنې لري چې د نوماندانو مخه ډبوي. د هغو نوماندانو د اسنادو تصویب چې له افغانستان څخه یې دباندې تعلیم کړیدی یوه بله ستونزه بلل کیږي.

د ملکي خدمتونو د کمیسیون د ګمارلو مستقل بورد (IARCSC) پلان لري چې د خپلو ګمارنو پروسیژر له سره وګوري او په موجوده سیستم کې نیمګرتیاوې په ګوته کړي او د لیاقت پر بنسټ ولاړ د ګمارنې یو سیستم رامنځ ته کړي. په داسې حال کې چې USAID وایي د دې هڅو د بشپړیدو لپاره څوکالو ته اړتیا لیدل کیږي.[406]

په دې ربع کې، USAID په دې وتوانیده چې د کابل په شمول په 14 ولایتونو کې د ملکي خدمتونو د ګمارنو او خالي بستونو په برخه کې اسناد چمتو کړي. شکل 3.30 له کابل څخه بهر د پنځو وزارتونو د خالي بستونو په برخه کې د ملکي خدمتونو له خوا په 14 ولایتونو کې د ګمارنو لنډیز چمتو کوي چې د IARCSC د ارقامو پر بنسټ ولاړ دی. کابل له دې کبله شامل نه وو چې USAID د ګمارل شویو ملکي کارکونکو په اړه په بیلابیلو وزارتونو کې معلومات نه درلودل.[407]

د فبروري په میاشت کې خپور شوی هغه کلنی راپور چې په نظامي شخړو کې د ملکیانو د محافظت په اړه دی، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ماموریت (UNAMA) موندلې ده چې یاغیان د افغان حکومت کارکونکو وژلو ته دوام ورکوي او هغه ملکیان چې افغان حکومت ته په جاسوسۍ تورنیږي، د ټولنې مشران، او د پولیسو یا ملي اردو هغه سرتیري چې له دندې ستانه شوي وي او د ملکي قانون د پلې کیدو دندې لري هم وژني. په ډیری پیښو کې طالبانو په خپل عامه ویبسایټ کې د وژنو مسولیت په غاړه اخیستی دی. په ختیځو سیمو کې هدفي وژنې ډیرې عامې دي چې 184 پیښې یې ثبت شویدي او په تعقیب یې سویل (129 پیښې)، سویل ختیځ (96)، شمالي (92)، لویدیځ (58)، مرکزي (49) او شمال ختیځ (35) سیمې راځي. ننګرهار ولایت کې د هدفي وژنو پیښې تر ټولو ډیرې لیدل شوېدي کومې چې د UNAMA له خوا ثبت شویدي او ورپسې کندهار دی چې 77 پیښې پکې ثبت شوی او کنړ چې 67 پیښې یې ثبت شویدي.[408]

په دې ربع کې DOD راپور ورکړ چې د کلیو د ثبات عملیات (VSO) د یاغیانو ضد یوه داسې اساسي ستراتیژي وه چې موخه یې د سیمه ایزې حکومتدارۍ له افغان ولسوالیو او ملي حکومت سره تړل وو او په پراخه توګه پای ته ورسیدل او یواځې افغان سیمه ایز پولیس (ALP) لاهم په دنده لګیا دي. د DOD په وینا، یواځې د کلیو د ثبات دوه



**ځانګړې عمومي پلټونکې سوپکو** او سیګار غړیو د کندهار له والي سره د 2014 کال په مارچ کې هغه مهال چې سوپکو د افغانستان په سفر راغلی وو ولیدل. (د سیګار انځور د ستیفن موکسري له خوا)

3.30 شکل

**له کابل بهر د 14 ولایتونو لپاره د ملکي کارکونکو ګمارل**




یادونې: دا معلومات USAID ته د افغان ملکي خدماتو کمیسیون خپلواک ګمارنې هییت چمتو کړي (IARCSC). نومورې معلومات د افغانستان 34 ولایتونو څخه 14 ولایتونو لپاره دي (دایکندي، فراه، غزني، هلمند، کندهار، خوست، لوګر، وردګ، نیمروز، نورستان، ارزګان، پکتیا، پکتیکا، او زابل). کابل پکې شامل کړی شوی نه و ځکه چې ډیری د ملکي کارکوونکو ګمارل شوی شمیر صفر ښود. د سیمه ایز ارګانونو خپلواک ریاست لپاره مقدارونو کې هغه پرسونل شامل دي کوم چې د ولایتي شاروالیو لپاره کار کوي.

سرچینه: یو ایس آیي، ODG، ډي، د SIGAR د ډاټا غوښتنې ځواب، 3/31/2014.

چوکاټونه او د ولسوالیو د ثبات 16 چوکاټونه (DSP) چې د متحده ایالاتو د ځانګړیو عملیاتو د ځواکونو له لورې یې کوربه توب کیده لا هم فعاله پاتې دي. ټاکل شویده چې DSP ګانې به د 2014 د اکتوبر تر 31 خپل ماموریت بشپړ کړي.[409]

د DOD په وینا، د VSO پایلې له یوه کلي تر بل توپیر لري او همداشان له یوې ولسوالۍ تر بلې ولسوالۍ او له یوه ولایته تر بل ولایته سره توپیر لري او له دې سره یوه عمومي ارزونه ناشونې کیږي چې په لویه کچه ورڅخه تر سره کړای شي.[410] د DOD د ارزونې د ټیمونو او سروې ګانو د ترکیب څخه کار واخیست تر څو د VSO پرمختګ او پایلې ورسره وارزوي. د متحده ایالاتو د ځانګړیو عملیاتو ځواکونو له حکومتدارۍ سره ځینې تړلې څرګندونکې د هغوی د VSO له ارزونې څخه د معلوماتو د تر لاسه کولو په موخه وکارولې. په دې کې لاندنۍ خبرې شاملې دي:[411]

- د ولسوال شتون یا نه شتون او همداشان د ولسوالي د څارنوال او د پولیسو د مشر شتون او یا نه شتون.
- د هغو کلیوالو شمیر چې په بازارنو او شوراګانو کې ګډون او تګ راتګ کوي.
- د طبي آسانتیاو شتون
- په ښوونځیو کې حاضریدل

د DOD د ولسوالیو د ارزونې راپور د 2014 د فبروري په میاشت کې بشپړ کړ او ویې مونده چې د سیمه ایزې حکومتدارۍ په برخه کې VSO مثبت اغیز درلود او ولسوالان او د وزارتونو استازې یې په دې وتوانول چې ډیر وخت د خپلو ولسوالیو په مرکزونو کې تیر کړي.[412] د دې راپور په وینا، د هغو 47 ولسوالیو له جملې چې ایتلاف ورڅخه نظارت کړیدي او د VSO څخه یې ملاتړ کړیدی، 53% یې "کافي" یا "اغیزمنه" حکومتداري درلوده. پاتې 47% کې حکومتداري "ضعیفه" یا "نااغیزمنه" وبلل شوه. په ټولو ولسوالیو

کې د تیر کال په اوږدو کې د حکومتدارۍ ورته کچه ښودل شویده پرته له یوې ولسوالۍ چې د له "کافي" څخه یې "اغیزمن" ته پرمختیا کړیده.[413]

په همدې وخت کې، DOD یادونه وکړه چې دوی د VSO د درې میاشتني اسنادو ډېره برخه د باور وړ نه بولي ځکه چې ناسم او تقلبي معلومات د سیمه ایزو افغان قراردادیانو له خوا په سروې ګانو کې داخل کړای شویدي.[414] د 2010 څخه د 2012 تر نومبر پورې سروې ګانو د ولسوالي د حکومتداري سیمه ایزه منظره په پراخه توګه مثبت راپور کړ، د سیمه ایزو شوراګانو اجرات، د ولسوالیو د حکومت اجرات او د سیمه ایزو منازغاتو د حل میکانیزمونو ته یې 80% رضایت ښودلی وو.[415]

## د کلیوالي ثبات پروګرامونه

USAID د ثبات ګڼ پروګرامونه لري چې موخه یې له افغان حکومت سره مرسته ده څو بې ثباته سیمو ته خپله ولکه وغځوي او د سیمه ایزې حکومتداري ظرفیتونه لوړ کړي. په دې پروګرامونو کې د USAID هغه څلور پروژې هم شاملې دي چې په کلیدي سیمو کې ثبات (SIKA) نومیږي، د ټولنیز پیوستون دوه پروګرامونه (CCI) پکې شامل دي او د 2.67 میلیارد ډالرو هغه مرسته هم پکې شامله ده چې د ARTF په چوکاټ کې د افغان حکومت د ملي پیوستون پروګرام (NSP) ته مرسته چمتو کوي. (له دې جملې 865 میلیون ډالرو د NSP لپاره یو ښکاره تشخیص درلود).[416] جدول 3.22 کې تر دې مهاله د ټولو پروګرامونو لګښتونه او لګول شوې پیسې په لنډه توګه وړاندې کیږي.

USAID پریکړه کړې چې د SIKA څلورو پروګرامونو ته به "د پراختیا په توګه وکتل شي د بهرني حضور د زیاتوالي په توګه." او شرط یې دا کیښود چې SIKA "باید د افغان جوړښت په چوکاټ کې کار وکړي." تر څو د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت (MRRD) سره د یو ملګري په توګه په مخ لاړ شي.[417] د SIKA څلور قراردادونه MRRD د خپل لومړني ملګري په توګه بولي تر څو په ولسوالیو کې د عملیاتو په موخه هلته شتون ولري. د MRRD د حضور کچه د MRRD د یوه استازي له شتون څخه رانیولې چې په "نیمه منظمه بڼه" کار کوي (SIKA South) د MRRD تر داسې شتون پورې چې په اغیزمنه توګه په ولسوالیو کې د SIKA له فعالیتونو څارنه او عملیات کوي او همداشان د ملاتړ او مشرتوب په برخه کې ونډه لري (SIKA West).[418]

3.22 جدول

**د USAID سیمه ایز (کلیوالي) پروګرامونه**

| د پروژې سرلیک | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټولیز اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 3/31/2014 پورې ټولیز لګښتونه (په ډالرو) |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان د بیارغونې خیریه صندوق (ARTF)* | 6/20/2002 | 3/31/2017 | $2,684,320,295 | $1,961,820,295 |
| په کلیدي ساحاتو کې ثبات (SIKA) ختیځ | 12/7/2011 | 9/6/2015 | 177,054,663 | 53,868,540 |
| د ټولنې د پیوستون لومړیتوب (ختیځ، سویل، سویل لویدیځ)** | 3/1/2012 | 2/28/2015 | 161,499,422 | 7,373,529 |
| SIKA سویل*** | 4/10/2012 | 4/9/2015 | 117,324,445 | 31,969,249 |
| SIKA لویدیځ | 1/29/2012 | 8/31/2015 | 62,998,824 | 25,658,723 |
| SIKA شمال | 3/15/2012 | 6/14/2015 | 45,633,274 | 16,390,620 |
| د ټولنې د پیوستون لومړیتوب (شمال، لویدیځ)** | 9/10/2013 | 9/9/2015 | 36,221,640 | 45,185 |

یادونې:
* په دې کې ARTF ته د USAID ټولې مرستې شاملې دي. له نړیوال بانک سره د موافقت پر بنسټ، مرسته کونکې یواځې د خپلو مرستو په برخه کې د ټولې ونډې د 50% د لګولو د ساحې غوراوی کولای شي. USAID په پرانیستې توګه د ملي پیوستون پروګرام ته د ARTF له ونډې څخه 865 میلیون ډالره بیلوي
** د لګښتونو معلومات یواځې فعالیتونه ښيي او عملیاتي لګښتونه به منعکس کوي.
*** د لګښتونو په اسنادو کې د SIKA South د دواړو برخو لپاره ټولیزه څانګړنه شامله ده.

سرچینه: د سیګار معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب 4/7/2014.



**د 18 نارینه و له جملې** دریو د مرستو د مدیریت په برخه کې له SIKA East څخه د لوګر د برکي برک په ولسوالۍ کې روزنه تر لاسه کړه. (SIKA ختیځ انځور)



**د لوګر د برکي برک ولسوالۍ** د ټولنیز پرمختیایي شورا له خوا د SIKA ختیځ مرستې تر څمکې لاندې د یوه ژور کانال د پاکولو په موخه وکارول شوه. (SIKA ختیځ انځور)

په فزیکي توګه څارنه کې د افغان حکومت برخه اخیستنه له یوې سیمې تر بلې پورې توپیر لري. د بېلګې په توګه په دې ربع کې USAID راپور ورکړ چې SIKA East پروژو د څارنې په 82% کې افغان حکومت ګډون نه درلود او په یواځې توګه د SIKA East له لوري تر سره شول.[419] د پروژې له ساحاتو څخه د SIKA South په 64.5% څارنې په یواځې توګه د SIKA South د کارکونکو له لوري تر سره شوې.[420] په شمال کې USAID راپور ورکوي چې ټولې څارونکې لیدنې یا له افغان حکومت سره په ملګرتیا تر سره شویدې او یا د افغان حکومت له لوري په یواځې سره تر سره شویدي.[421] د SIKA West په برخه کې، USAID راپور ورکړ چې د فبروري په میاشت کې د سیمې د پروژې له ساحاتو څخه د څارونکو لیدنو 70% یا د افغان حکومت په ملګرتیا تر سره شویدي او یا افغان حکومت په یواځې تر سره کړیدي.[422]

د USAID په وینا، MRRD او د سیمه ایزې حکومتدارۍ خپلواک ریاست (IDLG) په زیاتیدونکې توګه د SIKA لپاره د مشرتوب او لارښونې په برخه کې مرستې ورکوي او دا کار د روزنې لپاره د موادو د برابرولو او د مرستو په پلې کولو کې د همکارۍ له لارې تر سره کوي. د SIKA د پایښت کنفرانس پخوا د 2014 د جنوري/فبروري د وروستیو لپاره پلان شوی وو تر څو هغه مقیاسونه وارزوي چې د SIKA ولسوالیو فارغیدل ورسره ارزول کیدای شي تر څو بیا د پروګرام مسولیت افغان حکومت ته وسپارلی شي. د USAID په وینا، د پایښت د کنفرانس لپاره پلان جوړول او د تسلیمولو ستراتیژې روانه ده او نیټه او اجندا به یې روښانه شي.[423]

د USAID د ټولنې د پیوستون لومړیتوب (CCI) پروګرامونه داسې ویشل شویدي چې یو پروګرام ختیځ، سویل او سویل ختیځ تر پوښښ لاندې راولي او بل یې شمال او لویدیځ کې کار کوي موخه یې د USAID په وینا په هغو سیمو کې چې د تاوتریخوالې اغیز پکې

# حکومتداري

ډېر دی د "پرمختګ" رامنځ ته کیدل دي.[424] CCI د سیمه ایزې ټولنې د پرمختیا په څېر لومړیتوبونه پلې کوي چې د ټولنې مشران او د حکومت مسولین په خپلو پېژندنو او څارنو کې له ځان سره شکیل کوي. CCI همداشان د سولې د ملاتړ له کمپاینونو څخه په سپورتي ډګر کې ملاتړ کوي.[425]

د SIKA برخلاف، USAID په روښانه توګه د افغان حکومت ونډه د CCI په پلې کولو کې روښانه کړې نده. سره له دې چې CCI د خپلو فعالیتونو په مخته بیولو کې د افغان حکومت شتون نه غواړي، افغان ملکي کارکونکي کیدای شي د CCI له ډېرى فعالیتونو څخه د څارنې او کتنې په برخه کې مهم رول ولوبولای شي. د USAID په وینا، دا دواړه د څارنې په غښتلتیا او د اړیکو په پرمختګ کې د افغان حکومتي مسولینو او سیمه ایزو ټولنو د ارتباط ورکولو له لارې اغیز درلودای شي.[426]

USAID راپور ورکوي چې د CCI قراردادیانو 32% تفتیش په یواځې توګه تر سره کړیدی په داسې حال کې چې افغان حکومتي مسولینو 38% تفتیشي لیدنې له ساحې څخه کړیدي.[427] CCI همداشان د افغان حکومتي مسولینو له خوا 2,373 لیدنې تنظیم کړې تر څو په 12 ولایتونو کې د فعالیتونو 508 ساحې وګوري. له دې لیدنو څخه 17% په ولایتي مرکزونو کې، 36% د ولسوالیو په مرکزونو کې، او 47% هغه په هغو کلیو کې چې پروژه عملي کیږي تر سره شویدي.[428]

روښانه نده چې افغان حکومتي چارواکې څنګه د CCI پروژو په څارنو کې د SIKA په پرتله ډېره برخه اخلي. د انکشافي بودیجې د یوې برخې په توګه دوی د افغان حکومت د ملي پیوستون پروګرام (NSP) ته مرسته ورکوي کوم چې د سیمې په کچه د حکومتداري د پراختیا په موخه رامنځ ته شوې ده او د کلیوالو ټولنو لاسرسی ورسره اساسي خدمتونو ته مساعد کیدای شي او دا کار د ټولنې هغو انکشافي شوراګانو (CDCs) ته د سرچینو د ورکولو له لارې تر سره کیږي چې په ډیموکراټیکه توګه ټاکل شویدي.[429]

سره له دې چې NSP د 2011 کال د سنا د بهرنیو اړیکو د کمیټې د ډېرى غړو له خوا د یوه داسې ملي پروګرام غوره مثال وبلل شو چې د افغان حکومت او سیمه ایزو وګړو ترمنځ ټولنیز اغیز پیاوړی کوي،[430] سیګار د افغان حکومت د هغه وړتیاو په اړه پوښتنې راولاړې کړیدي چې له پروګرام څخه په اغیزمنه توګه نظارت وکړي په ځانګړې توګه په نامنه سیمو کې.[431]

USAID په تیر کې د NSP لپاره مرستو ته "غوره والی" ورکاوه چې د ARTF له لارې به تر سره کیده او په سیمه کې به یې د یاغیانو ضد موخو لپاره کار کاوه چې په وروستیو کې د افغان حکومت کنترول ته راغله. USAID د ځینو اسنادو له کتلو وروسته NSP ته د مرستو ورکولو ته غوره والی له پامه وغورځاوه یو یې د سیګار د پلټنې راپور وو چې په 2011 کال کې یې وموندل چې NSP په ډېرو ناامنو سیمو کې پلې کیږي خو د تاوتریخوالې کمولو کې اغیزمن ندی او په دې سیمو کې یې د حکومت په وړاندې کړنو ته بدلون ندی ورکړی.[432] USAID ومنله چې داسې شواهد نشته چې وښیي NSP د افغانستان په نامنه سیمو کې د ثبات د زیاتیدو سبب شویدی او په دې ترتیب یې خپلې مرستې تنظیم کړې.[433] USAID په ټولیزه توګه NSP ته نیغ په نیغه 865 میلیون ډالر ورکړي دي.[434]

د USAID په وینا، NSP ځینې مثبتې پایلې هم تر لاسه کړیدي، لکه په تصمیم نیولو کې په ټولنیزه کچه د ښکیلتیا رامنځته کول. په داسې حال کې چې USAID د ځانګړیو پرمختیایي موخو لپاره په دې پروګرام تکیه نه کوي. USAID له نړیوال بانک سره خپلې ښکیلتیا ته دوام ورکوي تر څو د NSP په څېر پروګرامونو کې پیاوړتیا رامنځ ته کړي او



**د خاني بابا** د سړکونو د شبکې د بیارغونې د پروژې موخه د کلي د 800 مترو سړکونو پخول او د اوبو د ویستلو ویالې کیندل وو، تر څو په سیمه ایز حکومت اطمینان زیات شي. (CCI انځور)

ورسره په لویه کچه د ARTF اغیزمنتیا زیاته کړي. USAID په افغانستان کې د مرستو د ستراتیژۍ د یوې اساسي برخې په توګه NSP په پام کې نلري.[435]

په دې ربع کې، د USAID د ثبات د لومړیتونو د اغیزو د اندازه کولو (MISTI) پروژه د یوې دریمې غاړې څارونکی او ارزونکی پروګرام دی چې د USAID د ثبات د پروګرامونو ارزونه کوي، د ټولنې د پرمختیا د پروګرام (CDP) څخه یې خپله وروستۍ ارزونه تر سره کړه.[436] CDP د 2009 کال له مارچ څخه د 2013 تر اګست پورې روانه وه او 264 میلیون ډالر لګښت ورباندې راغی، او د افغانستان په 19 ولایتونو کې یې 337 زیربنایي پروژې پلې کړیدي او په لنډ مهال بنسټ یې 373,859 کارګرو ته د کار موقع برابره کړیده. CDP د ثبات هغه موخې تر لاسه کړیدي چې د 2010 په سپټمبر کې شروع شوې او لومړی په کلیوالو سیمو کې په کارګرو متمرکزې پروژې پلې شوې. دې ارزونې په هغو موندنو تکیه کړې چې د CDP د پروګرام په څلورم او پنځم ګام کې تر لاسه شویدي او په هغو کې د 2012 له اپریل څخه د 2013 تر اګست پورې د CDP له خوا په ختیځ او سویلي ولایتونو کې 73 پروژې پلې شویدي.[437] CDP د مستقیمو پلې کېدنو ارقام په ګوته کړل چې پکې د USAID لومړني پلې کونکو د پروژې د پلې کولو د ټولو برخو مدیریت په غاړه درلود لکه امنیت، او پایله یې دا وه چې دوی د USAID د نورو پلې کونکو په تناسب ډېر ګړندي او ډېر انعطاف منونکي وو.[438]

د MISTI ارزونو د بدلون تیوري وموندہ چې له CDP سره یو ځای وه او د پلې کونکو ترمنځ یې توپیر درلود. په دې کې تاکید کېده چې په کلیدي ساحاتو کې هغه کسان چې د جګړې کولو په عمر کې دي مصروف وساتي او هغه شمیر را کم کړي چې له یاغیانو سره د یو ځای کېدو لپاره د لاسرسي وړ دي او ورسره جنایي فعالیتونه محدود کړي، او د USAID کارکونکو همداشان له افغان حکومت سره د سیمه ایزو ټولنو د اړیکو رامنځته کولو په ارزښت ټینګار وکړ.[439]

د USAID او CDP پلې کونکو غوښتنه وکړه چې د MISTI د ارزونې ډلې کلیو ته د مرکه کونکو له لیږلو ډډه وکړه په داسې حال کې چې CDP پروژې په ولسوالیو کې د امنیت د کچې د معلوملو لپاره په کار لګیا وې. له دې کبله چې د پروژې د پلې کولو پرمهال ارزونکې ټیم ته پروژې د سیمې د لیدلو اجازه نه وه ورکړل شوې، ځینې وخت دا ستونزمنه وې چې د هرې نمونه اې پروژې څخه کافي کارکونکې او برخه اخیستونکې او د هغوی موقعیت په کافي توګه تعین کړای شي.[440] د دې لیدلورې پایلې په راپور کې روښانه شوې:

> [CDP] غوښتنه چې د ارزونې د ډلې غړې د پروژې له ساحاتو څخه هله لیدنې وکړي چې په ولسوالۍ کې د CDP پروژې پای ته ورسیږي. معنا دا چې د ارزونې ډلې د راپور شویو کارګرو شمیر نشي راپور کولای. کله چې د ارزونې ډلې [CDP] ته خپل لومړني نتایج وړاندې کړل، د [CDP] یوه غړې وویل، "داسې لاره نشته چې ستاسو کارکونکی ساحې ته لاړ شي" او داسې یې څرګنده کړه چې دا سیمه ډېر ه خطرناکه ده. له دې سره لږ تر لږه دوه پوښتنې راولاړیږي: که چیرته د دریمې غاړې د ارزونې لپاره د پروژې د ساحې ارزونه ډېره ستونزمنه وي، نو [CDP] څنګه په دې توانیږي چې پلې یې کړي او په خپلواکه توګه یې ارزونه وکړي؟ USAID د کومې وړتیا له مخې د پروژې راپورونه تایید کړل؟ هلته چې د پروژې د تایید یا نظارت لپاره امنیت نه وي نو باید په پام کې وي چې هلته د فساد کچه به شدیدآ لوړه وي. له مناسب تفتیش پرته د پروژو پلې کول باید هله پلې شي چې ګټې یې په داسې حالت کې د نظامي ستراتیژۍ لپاره د اندازه کیدونکې خطرونو په پرتله د پام وړ زیات وي.[441]

په ارزونه کې وموندل شوه چې د CDP یوه تر ټولو ننګونکې برخه د داوطلبۍ په پروسه کې د قراردادونو خبره ده. په یوه رقابتي چاپیریال کې د موادو لپاره تر ټولو ټیټه بیه د منلو طریقه ښه کار کوي خو د CDP چاپیریال هر وخت د مناسبو او اغیزمنو رقابتونو لپاره مناسب ندی موندل شوی. له سیمې څخه ګڼو ځواب ورکونکو روښانه کړه چې د موادو لپاره یادې شوې بیې لوړې دي. په سیمه کې د دومره محدودو برابرونکو شتون په خپله تر عادي حالت څخه لوړو بیو ته زمینه برابروي حتا که د داوطلبۍ پروسه په تخنیکي توګه هم تعقیب شي. په ارزونه کې روښانه شوه چې قراردادونه د سیمه ایزو واکدارانو لپاره د ناسمې استفادې له څو لارو څخه یوه لار بلل کیږي. په کندهار کې ځواب ورکونکو روښانه کړه چې د ټولنې بانفوذه غړو او حتي ولسوالانو ته قراردادونه ورکړل شویدي.[442]

په ارزونه کې همداشان وموندل شوه چې CDP پروژې د درغلیو او فساد له لوړ خطر سره مخامخ وې، په ځانګړې توګه په ډیرو خطرناکو سیمو کې چې ډیرو لږو خلکو لاسرسی درلود او د CDP د چکونو او بیلانسونو په برخه کې درغلي شونې وه.[443] USAID د ستونزو په روښانولو کې کمه وړتیا درلوده ځکه چې د دوی ساحوي نظارت کونکو په نظامي بیزونو کې ژوند کاوه او له پروژو څخه یې یواځې هله لیدنه کولای شوای چې د نظامي کسانو له خوا به یې ملتیا کیدله. CDP داسې سیستمونه وکارول تر څو ورسره د فساد مخه ونیول شي او پیژندنه یې وشي. تر اوسه هم د CDP د پلې کولو په برخه کې ډیرې ستونزې شتون لري او سیمه ایزو مرکه کونکو د فساد د تورونو بیلابیلې بیلګې ثبت کړیدي چې د "خیالي کارکونکو" یا غیرحاضرو او مجازي کارکونکو لپاره د معاشاتو ورکړه ده.[444] CDP د مناسب نظارت لپاره بیلابیل پروسیژرونه تر هغې پیښې وروسته په لار واچول چې د 2012 کال په دوهمه نیمایي کې رامنځ ته شول او د CDP سیمه ایزو غړو کارکونکو د معاشاتو په برخه کې درغلۍ تر سره کړې او له مناسبې کتنې پرته د CDP د ولایتي مسول له لورې تصویب شوې وې.[445]

د MISTI له خوا د پروژې د پایلو په تړاو تر سره شوې ارزونه تر اوسه حل شوې ندي. د ارزونې مرکه کونکو له هغو سیمه ایزو کسانو څخه پوښتنې وکړې چې د پروژې په برخه کې یې مسولیت درلود. په ډیرو عامو ځوابونو کې NGO (ځینو یې د پلې کونکو نومونه هم اخیستې وو)، USAID، د ولایتي بیارغونې ټیم، افغان حکومت او د ټولنې مشران شامل وو. د MISTI په راپور کې د دې واقعیتونو پایلې چمتو شوې ندي او ورسره دا ستونزمنه کیږي چې معلومه شي چې کومې ادارې د CDP پروژو په برخه کې ډیرې مسولې ګڼل کیږي. په دې راپور کې یادونه شویده چې دوی باید په هغو محدودو مثبتو قضیو باندې تکیه وکړي چې ورسره تعینیدای شي چې آیا CDP د حکومت ضد عناصرو او جنایي فعالیتونو لپاره د لاسرسي وړ کسان کم کړي دي او که نه.[446]

## ښارونه او د ولایتونو مرکزونه

د USAID څلور پروګرامونه چې د ښاري وګړو لپاره د افغان ښاروالیو پروګرامونه (RAMP UP) نومیږي په دې ربع کې پایلې روښانه کړې. دا پروګرامونه چې د 2014 کال د مارچ تر میاشتې وغځول شو، موخه یې دا وه چې په ولایتي او ښاري کچه د حکومتدارۍ ظرفیتونه پیاوړې کړي او د بودیجې په برخه کې پرمختګ رامنځ ته کړي، او د ښاروالیو په برخه کې د عوایدو راټولول زیات کړي.[447] جدول 3.23 د USAID د RAMP UP پروګرامونو جزییات روښانوي.

3.23 جدول

**د USAID له خوا د ښاري وګړو لپاره د افغان ښاروالیو سیمه ایز پروګرام (RAMP UP)**

| سیمه | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټولیز اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 3/31/2014 پورې ټولیز لګښتونه ( په ډالرو) |
|---|---|---|---|---|
| ختیځ | 6/10/2010 | 3/31/2014 | $101,046,401 | $95,590,637 |
| سویل لویدیځ | 6/10/2010 | 3/31/2014 | 95,000,000 | 90,936,407 |
| شمال | 2/8/2011 | 3/31/2014 | 40,000,000 | 37,715,295 |
| لویدیځ | 11/14/2010 | 3/31/2014 | 34,177,405 | 31,033,010 |

سرچینه: د سیګار معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب 4/7/2014.

## ولایتي بودیجه

نړیوالو مرسته کونکو د TMAF د یوې اساسي لاس ته راوړنو په توګه د ولایتي بودیجې خبره کوي.[448] د USAID په وینا، د بودیجې په تنظیم کې ولایتي ونډه او لګښتونه، د ولایتي ریاستونو د ورکړې په شمول ( د مرکزي وزارتونو ولایتي نماینده ګي) هغه څه دي چې د وګړو د اصلي اړتیاو د پوره کولو په برخه کې افغان حکومت ته مهم بلل کیږي.[449] USAID سیګار ته راپور ورکړ چې افغان حکومت د TMAF یو شرط د ولایتي بودیجو په برخه کې پوره کړیدی چې هغه د ولایتي بودیجې د پالیسۍ مسوده ده.[450]

د USAID په وینا، اوسنۍ ولایتي بودیجه د 1386 (2007) او 1391 (2012) کال د ناکامې بودیجې څخه توپیر لري ځکه چې دا په همزمانه توګه د مرکزي وزارتونو او د هغو د ولایتي ریاستونو په اړه تمرکز کوي. د 1386 او 1391 کال په مخکنیو لارښودونو کې تمرکز د اصلاحاتو په هغو هڅو باندې وو چې د ولایتونو له والیانو او د وزارتونو په ولایتي استازو باندې به کیدو او د وزارتونو په مرکزي برخې به پاملرنه کمه وه. د 1386 کال لارښود یواځې د دریو ولایتونو بلخ، کندهار او پنجشیر په موخه رامنځ ته شوې وه او په 1391 لارښود کې ټولو 34 ولایتونو ته وغځول شوه. په دواړه لارښودونو کې د لویو کړښو ځینو وزارتونو ته ثابتې برخې ورکړل شوې تر څو د انکشافي پروژو هغو پروپوزلونو ته مرسته چمتو کړي چې د هغوی له مربوطه ولایتي ریاستونو څخه ورکړل شویدي. په دواړه مخکنیو لارښودونو کې، تاکید په دې کیده چې ولایتي مسولین وروزل شي خو دغه هڅې بالاخره له کمبود سره مخ شوې.[451]

د 1391 لارښونو کې له 1386 څخه زده شوې درسونه وکارول شول او مسلکي روزونکې یې د ظرفیت جوړونې په برخه کې وګمارل تر څو په ولایتي کچه یې ریاستونو ته ورکړي. برسیره پر دې چې د کلیدي وزارتونو ولایتي ریاستونو ته تخصیص ځانګړی شو، 1391 په لارښونو کې د بودیجې د جوړښت په برخه کې ولایتي مسولین وروزل شول خو د وزارتونو مرکزي پرسونل پکې شامل نه وو. په پای کې، د مرستو د سرچینو په برخه کې د افغان حکومت او مرسته کونکو تر منځ اختلافات د وړاندیز شویو پروژو په برخه کې د دې سبب شوه چې دغه پروژې لغوه شي.[452]

د USAID ارزونه داسې ده چې نوې پالیسي د وزارتونو، ولایتي ریاستونو او د والیانو تر منځ په همکارۍ تاکید کوي چې له ولایتي شوراګانو په مشوره او ونډه دې تر سره شي. په دې پالیسۍ کې د راپورونو له مخې په ټولو 34 ولایتونو کې د بودیجوي سرچینو تر منځ پیاوړې همکاري تشویقوي، او همداشان د بودیجې په اجرا کې ولایتي سلامشورې،

پلان جوړونه او نظارت و د بودیجې په اجراتو کې د ولایتونو ونډه تر بحث لاندې راولي. پالیسي همداشان د دواړه وزارتونو او ریاستونو د ظرفیت د لوړولو لپاره د بودیجې، پلان، او مالي عملیاتو په برخه کې او همداشان د شتمنیو د ساتنې په برخه کې مرسته کوي.[453]

د 1393 کال په بودیجه کې، 3 میلیون ډالره ټولو هغو 11 ولایتونو ته ځانګړې شول چې ډیر شاته پاتې دي او 1 ډالر ټولو نورو پاتې ولایتونو ته ورکړل شول تر څو یې د یوې احتیاطي او احتمالي مرستې په توګه په پام کې ولري.[454] د پروژې پروپوزل به د تمې سره سم د مالي مدیریت عامه کمیټې (PFM) ته ورکړل شي چې د ولایت مالي ریس، د والي دفتر، د اقتصاد رییس او د ښځو چارو رییس شامل وي. د PFM کمیټه د ولایتي شورا سره په مشوره به مالیې وزارت ته د پروژې د پروپوزل د وړاندې کولو په اړه ارزونه وکړي. کله چې پروژه تصویب شوه، ولایت به له مربوطه پروژې سره د تدارکاتو، لګښتونو او نظارت په برخه کې مسول وي.[455] د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وینا، د دې دریمې څیړنې پایلې به هغه لیدلوري وارزوي چې د یو پراخه او غیرمتمرکزه مالي پالیسي په تطبیق کې کار کولای شي.[456]

## بیاپخلاینه او یوځای کیدنه

د متحده ایالاتو اوسنی ملکي - نظامي چوکاټ په ډاګه کړه چې د افغان حکومت او مخالفینو ترمنځ سیاسي جوړجاړی به "په افغانستان کې د جګړې د پای ته رسولو لار وي."[457] په داسې حال کې چې د ملګرو ملتونو سرمنشي په دې وروستیو کې روښانه کړه چې د سولې د یوې رسمي پروسې په برخه کې د پرمختګونو رامنځ ته کول محدود وضعیت لري.[458]

### پخلاینه

د حکومت په وینا، د افغانستان د سولې عالي شورا (HPC) د وړتیاو په برخه کې د پام وړ پرمختګ راغلی دی چې له مخې یې په دې ربع کې د بیایوځای کیدو او بیاپخلا کیدو د هڅو په برخه کې د پام وړ ملاتړ په لار اچولی دی.[459] حکومت راپور ورکړ چې HPC په منظمه توګه ناستې تر سره کوي خو پایلې یې تر اوسه د لیدلو وړ ندي.[460]

د دې ربع په اوږدو کې، د افغانستان د ملي امنیت او د HPC د مشر دواړو له خولې ویل شویدي چې د ښځو د دفاع قوانین به له یاغي ډلو سره د سولې د خبرو اترو قرباني نشي.[461]

د دې ربع په اوږدو کې د بیاپخلاینې د لوړې کچې هڅې بیا هم مبهم پاتې شوې. نوي راپور ځینې هغه ننګونې په ګوته کړې چې افغان حکومت یې له طالبانو سره د سولې د خبرو اترو په برخه کې لري. د بیلګې په توګه، د فبروري په میاشت کې داسې راپورونه تر لاسه شول چې د دوبۍ په یوه ناسته کې د طالبانو پخوانیو چارواکو د افغانستان د شخړې د سوله ایز حل په برخه کې خپله لیوالتیا روښانه کړه. د افغانستان د سولې عالي شورا له دې ځخه د یوه پرمختګ په توګه یادونه وکړه او قدرداني یې وکړه.[462] څو ورځې وروسته، د راپورونو له مخې له هغو طالبانو یو کس چې په دې ناسته کې یې ګډون درلود د پاکستان په پیښور کې ووژل شو. د افغانستان د ولسمشرۍ یوه ویاند دا وژنه وغندله. د وژل شوې طالب چارواکی جسد بیا وروسته د یوې پوځي هلیکوپتر په واسطه د هغه اصلي ولایت ته ولیږدول شو. د ولسمشرۍ له قوله ویل شویدي چې، "هرکله چې طالبان له افغان لوري سره د خبرو لپاره لیوالتیا ښکاره کړي، په نښه کیږي او وژل کیږي."[463]

په داسې حال کې چې طالبانو په یوه اعلامیه کې ادعا وکړه چې دوی دوبۍ په ناسته کې ګډون نه وو کړی او له افغان حکومت سره د مستقیمو خبرو سره مخالف دي.[464]

دا د هغو راپورونو په غبرګون کې خپور شو چې ویل کېدل د ولسمشر کرزي او طالبانو ترمنځ پټې خبرې په لاره اچول شویدي. د HPC یوه ویاند د دې ډول ناستو تایید ونه کړ.[465] د فبروري په وروستیو کې، HPC یوه داسې اعلامیه خپره کړه چې پکې وویل شول چې HPC د طالبانو له یوې ډلې سره خبرې تر سره کړې او د خبرو اترو د دوام خبره یې هم وکړه.[466]

د اپریل په 10، HPC اعلان وکړ چې له طالبانو سره به خبرې په متحده عرب اماراتو کې "ژر" له سره ونیول شي او ځانګړې نیټه یې په ډاګه نه کړه. HPC تمه لري چې له آغاجان معتصم سره به ناسته ولري څوک چې د طالبانو یو پخوانی مشر وو او مخکې یې هم په دوبۍ کې له HPC سره ناستې درلودلې وې. په بله ورځ کې، راپور ورکړل شو چې آغاجان معتصم ورک شویدی او بیا وروسته د بهرنیو چارو وزارت له خوا یې تایید وشو.[467]

کانګرس ته د سیګار د تیرې ربع له راپور راهیسې، د HPC د یوه ویاند دنده له دې کبله وځنډول شوه چې په خپلو جنجالي خبرو کې یې اسامه بن لادن شهید بللی وو او په افغانستان کې یې تاوتریخوالی د بهرنیو مداخلو او د امریکایي ځواکونو له شتون سره تړلی دي.[468]

## د افغانستان د سولې او بیا یوځای کېدلو پروګرام

د افغانستان د سولې او بیایوځای کېدنې پروګرام (APRP)، د افغانانو په مشرۍ د بیایوځای کېدنې داسې یو پروګرام دی چې تر هدف لاندې کسان یې ټیټ رتبه سرتیري او د هغوی قوماندانان دي. مالي مرسته یې د 12 مرسته کونکو هیوادونو له خوا شویده او 182.3 میلیون ډالر ورته ځانګړې کړای شویدي. د دې پروګرام عملیاتي بسپنه د اوو مرسته کونکو هیوادونو له لورې چمتو شویده (په لومړي سر کې جاپان او جرمني). متحده ایالاتو د ټولنې د بیارغیدنې د هڅو په برخه کې مرستې چمتو کړې چې مدیریت یې د نړیوال بانک له لورې کیده.[469]



**د 2014 په جنوري** کې 19 هغه کسان چې د بیایوځای کېدلو لپاره نوماندان وو په هرات کې د افغانستان د سولې او بیایوځای کېدنې له پروګرام (APRP) سره یو ځای شول. د سولې ولایتي شورا (PPC) 18 بیلابیلې وسلې راټولې کړې. (د ایساف انځورونه)

# حکومتداري

د ځواک د بیایوځای کولو د واحد (FRIC) په وینا، د امنیت ساتنې د نړیوالو ځواکونو (ISAF) له لورې د APRP مرسته کیده چې د APRP ګډ سکرتریت او ولایتي ګډ سکرتریت ډلې ساحې ته اوس هم د یوه لومړیتوب په توګه دوام ورکوي. د بیلګې په توګه، APRP په وروستیو کې د ټول هیواد په کچه د ښځو یو کمپاین په لاره واچاوه او د 250,000 ښځو لاسلیکونه یې را ټول کړل چې سوله پکې غوښتل شوې وه.[470]

FRIC همداشان د 96 مرستندویه پروژو او د افغان حکومت 1,228 پروژو راپور ورکړ چې په 31 ولایتونو او 136 ولسوالیو کې په کار لګیا دي.[471]

د دې ربع په اوږدو کې، له دې پروګرام سره 426 نوې یو ځای شوې کسان ګډ شول چې د یو ځای شویو کسانو ټولیز شمیر ورسره 8,025 کسانو ته لوړ شو، لکه څنګه چې په شکل 3.31 کې ښودل شوې. د FRIC په وینا، تر اوسه دوی د 500 بیایوځای کیدونکو نوماندانو لست لري چې په ولایتي او ملي کچه یې پلټنه شویده او ژر تر ژره به د 2014 کال په بودیجه کې د هغوی شاملیدل نهایي شي.[472] د حکومت او FRIC په وینا، APRP د پلټنې یو پراخ سیستم لري تر څو د هغو کسانو د یاغي توب تایید وکړي چې غواړي له پروسې سره یو ځای شي. افغان ملکي حکومت او ANSF مسولین په ولایتي او ملي کچه د بیایوځای کیدونکو د پروسس مسولیت لري. نړیواله ونډه د بیایوځای کیدونکو د نظارت او تعقیب په برخه کې د لاسرسي له وړتیا سره تړلې ده.[473]

3.31 شکل

**د سیمه ایزې قوماندې په واسطه مجموعي بیایوځای کړی شوي**




یادونه: سرچینې توضیح نه وړاندې کوي چې مجموعي شمیر په RC-لویدیز او RC-سویل کې پدې ربع کې ولې ډیر شوی؛ د بیرته راګرځول شویو اوسنی شمیر 16 نفر دی.

سرچینې: د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/4/2013، 7/1/2013، 4/2/2013، 1/2/2013، 10/2/2012، 7/5/2012، 3/30/2012. د سیګار معلوماتو غوښتنې ته، د امریکا د دفاع وزارت ځواب، 3/31/2014، 12/31/2013.

## د فساد ضد او قانون حاکمیت

د افغانستان د رسمي قضایي سیستم موثریت او جغرافیایي پوښښ روښانه ندی. د ولسمشرۍ په 45 نمبر فرمان کې راغلي دي چې ولسمشر کرزي له سترې محکمې غوښتې دي چې په ولایتونو او ولسوالیو کې ټولې غیر فعاله محکمې فعاله کړي او د 2013 کال د مارچ له 21 دې د مسلکي پرسونل په واسطه پرانیستل شي.[474] د افغانستان سترې محکمې او AGO راپور ورکړ چې په ټولو ولسوالیو کې څارنوالان ګمارل شویدي او ولسوالي فعاله محکمې لري.[475] په داسې حال کې چې هغه نالمنه ولسوالۍ چې تر اوسه قاضي او څارنوالان په فزیکي توګه پکې شتون نلري تر اوسه هم "فعاله" بلل کیږي ځکه چې قضیې یې په ولایتي مرکزونو کې پروسس کیږي.[476] په یوه راپور کې په غزني کې د استیناف د محکمې د مشر له خولې ویل شویدي چې په دې ولایت کې د 18 ولسوالیو له جملې څخه په 14 کې قاضیان د زیاتیدونکې ناامنۍ له کبله حاضریدای نشي. اوسیدونکې باید یا د ولایت مرکز ته مراجعه وکړي او یا د شخړو د حل غیررسمي لارې ولټوي.[477]

USAID وایي چې دا روښانه نده چې په نالمنه ولایتونو کې څومره قضیې د ولایت په مرکز او څومره په ولسوالیو کې حل کیږي. په نالمنه ولایتونو کې ګمارل شوې قاضیان د ولایتونو په مرکزونو کې محکمې دایروي او د امکاناتو او امنیت د نه شتون له کبله یې په ولسوالیو کې نه پلې کوي په کندهار کې د قانون د حاکمیت مسولین په خپلو ولسوالیو کې استوګنه نه کوي او په ډیرې ولایتونو کې محدود اغیز لري. له دې کبله چې د کندهار په بیلابیلو ولسوالیو کې قاضیان شتون نلري، دا واقعیت د دې لامل شویدی چې پولیس بندیان له سیمه ایزو مشرانو سره د غیر رسمي خبرو په پایله کې خوشي کړي او رسمي تعقیب یې پلی نشي.[478]

د USAID په وینا، د افغانستان د قانون د برخې کارپوهان وایي چې په ولسوالیو کې د مناسبو کاري آسانتیاو او مالي ستونزو له کبله دوی نشي کولای چې هلته میشت شي. د بیلګې په توګه، هغه قاضي چې د ژیړۍ ولسوالي ته ګمارل شویدی د کندهار له ښاره خپل قضایي خدمتونه وړاندې کوي او کله له ولسوالي څخه لیدنه کوي ځکه چې هلته د محکمې ودانۍ نشته او کافي دفتري وسایل په اختیار کې نلري. USAID یو مثبت مثال دا په ډاګه کړ چې په ارغنداب ولسوالۍ کې دوه قاضیان او یو څارنوال په دوامداره توګه حاضر وي چې یو علت یې د محکمې د ودانۍ او د مامورینو لپاره د اوسیدو د شرایطو شتون بلل کیږي.[479]

په دې ربع کې سیګار اعلان وکړ چې دوی د متحده ایالاتو د هغو هڅو په اړه پلټنه په لاره اچوي چې موخه یې په افغانستان کې د قانون د حاکمیت په برخه کې مرسته او پیاوړتیا ده. سیګار په پلان کې لري چې (1) د متحده ایالاتو د حکومت پروګرامونه او لومړیتوبونه په افغانستان کې د قانون د حاکمیت په برخه کې وپیژني؛ (2) په دې پروګرامونو کې هغه پرمختګ وارزوي چې دې پروګرامونو او لومړیتوبونو د متحده ایالاتو د قانون د حاکمیت د ستراتیژۍ د موخو په تر لاسه کیدو کې تر لاسه کړیدي؛ او (3) هغه ننګونې په ګوته کړي که چیرته شتون لري او متحده ایالات یې د خپلو موخو د تر لاسه کولو په برخه کې لري او هغه کچه په ګوته کړي چې د دې ننګونو د حل لپاره تر سره شویدي.

### د پروژې لنډیز

متحده ایالاتو د بیلابیلو میکانیزمونو له لارې د رسمي او غیررسمي قضایي سیستمونو لپاره مرستې چمتو کړیدي. په دې کې د USAID د قانون د حاکمیت رسمي او غیررسمي اجزا شامل دي. (RLS-F او RLS-I)، د افغانستان د فساد ضد کارپوهانو پروګرام ته د USAID

3.24 جدول

**د USAID د فساد ضد او د قانون د حاکمیت پروګرامونه**

| د پروژې سرلیک | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټولیز اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | تر 3/31/2014 پورې ټولیز لګښتونه (په ډالرو) |
|---|---|---|---|---|
| د قانون د حاکمیت د ثبات رسمي برخه | 7/16/2012 | 7/14/2014 | $22,581,128 | $15,967,182 |
| د قانون حاکمیت د ثبات غیر رسمي برخه | 7/16/2012 | 3/13/2014 | 15,651,679 | 14,520,833 |
| له فساد سره په زغرده مبارزه | 7/4/2012 | 7/3/2014 | 997,000 | 528,783 |
| د GAPS د فساد ضد مرستې | 6/7/2012 | 6/6/2014 | 1,292,379 | 664,707 |

سرچینه: د سیګار معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب 4/7/2014.

مرسته (4As)، او د بهرنیو چارو وزارت د قضایي روزنې انتقالي پروګرام (JTTP).
دا او د قانون د حاکمیت او فساد ضد نور پروګرامونه په جدول 3.24 کې توضیح شوي.

RLS-F له رسمي قضایي سکتور سره مرستې د دې لپاره چمتو کوي چې قضا ته لاسرسی پیاوړی شي، د قانوني زده کړو د سیستم ظرفیت لوړ شي او په ولسوالیو، ولایتونو او ملي کچه د حساب ورکونې او شفافیت خبره پیاوړې شي. USAID راپور ورکوي چې RLS-F د قاضیانو او قضایي کارکونکو ظرفیت د هراړخیزو قانوني روزنو د چمتو کولو له لارې لوړوي. RLS-F د نویو قاضیانو لپاره د سترې محکمې رسمي روزنیز پروګرام هم په ځان کې لري. USAID له مخکې راپور ورکړ چې 81% افغان قاضیانو دا کورس بشپړ کړیدی. RLS-F همداشان د عامه ساحوي لیدنو هڅې په لاره اچولې دي تر څو د هیواد قضایي پروسې او د افغانانو د قانوني حقونو په تړاو د مدني پوهاوي کچه لوړه کړي.[480]

RLS-F له دودیز قضایي سکتور سره هم مرسته کوي تر څو د موجودو قضایي خدمتونو کیفیت لوړ کړي او د رسمي او دودیز قضایي سیستمونو تر منځ اړیکې رامنځ ته کړي. د USAID په وینا، RLS-I د شخړو د حل مهارتونه یې په 48 سویلي، ختیځ او شمالي ولسوالیو کې د سیمه ایزو مشرانو لپاره په لاره اچولې دي. د USAID په مرسته، 5,192 سپین ږیرو ژمنه وکړه چې ځنې رواجونه به بندوي لکه بد ، یا د شخړې د هوارې په موخه د ښځو راکړه ورکړه. د USAID د راپور له مخې د ښځینه مشرانو 67 ډلې رامنځته شویدي.[481]

USAID وایي دوی د RLS-I ارزونه کوي چې پایلې یې څه دي خو په لومړیو موندنو کې معلومه شوه چې: (1) په شخړه کې ښکیلې غاړې چې د RLS-I مشرانو د منځګړیتوب څخه برخمنې شویدي د پروسیژر د مناسبوالې او د عمومي عدل په اړه ښه تصویر ورسره پیدا شویدی؛ (2) هر څومره چې مشران ډیره پوهه لري په هماغه کچه د شخړې د حل په برخه کې د خلکو رضایت ډیر ښودل شویدی؛ او (3) RLS-I ګډون کونکې پوهه تر لاسه کو او ورسره په لویه کچه مربوطه عملي پوهه لکه د کورنۍ او میراث د قوانینو په برخه کې پوهه تر لاسه کولای شي.[482]

د بهرنیو چارو وزارت د JTTP برخه د قضایي سکتور مسولینو ته سیمه ایزې زده کړې چمتو کوي لکه پولیسو، څارنوالانو، قاضیانو او مدافع وکیلانو، او په لویه کچه د قضایي عدالت په اړه موضوعاتو او د فساد ضد مبارزې په برخه کې موضوعات ورته ورکړل شویدي. JTTP همداراز په ځانګړیو مسلو او قضایي قضیو کې د قضایي سکتور مسولینو لکه څارنوالانو او قاضیانو ته څارنې سمبالوي. د حکومت په وینا، له JTTP روزنو څخه ګټه اخیستونکو لوړ ظرفیت او پوهه څرګنده کړیده او اغیزمنتیا یې ورسره ډیره شویده. په داسې حال کې چې جکومت د افغانستان د محاکمو د ادارې په اړه کومه ارزونه چمتو کړې نده.[483]

## ستره محکمه او رسمي قضايي سکتور

د حکومت په وینا، د سترې محکمې له خوا د دې ربع په اوږدو کې د پام وړ پریکړې تر سره شوې ندي.[484]

## افغان اصلاحي سیستم

د افغانستان د محبسینو اداره د محابسو او توقیف ځایونو د لوی ریاست له خوا تر سره کیږي (GDPDC) او د تیرو پنځو کلو راهیسې هر کال 16.4% زیاتوالی مومي چې دا کار د حکومت په وینا د بیروبار لامل شویدی.[485] د ملګرو ملتونو عمومي سرمنشي راپور ورکړ چې د افغانستان د عمومي محابسو نفوس له 12,000 تنو څخه په 2008 کال کې 29,000 تنو ته د 2014 په جنوري کې لوړ شو، له دې سره د زندان د ناوړه شرایطو له کبله د نه خوړو اعتصابونه هم زیات شول او همداشان د محبوسینو خوښې کولو په تړاو بیلابیل درخواستونه ورکړل شول.[486]

د عدلیې وزارت د تنکیو ځوانانو د بیارغونې ریاست(JRD)، 1,233 تنکي ځوانان په بند کې لري. په دې مجموعه کې هغه محبوسین شامل ندي چې د افغانستان د کومې بلې اداري له خوا نیول شوي دي، ځکه چې قانون د پیاوړتیا د چارو او نړیوالو مخدراتو (INL) لاسرسي د نورو اداراتو اسنادو ته ندی مهیا شوی.[487]

ګنه ګونه یوه اوږدمهاله، دوامداره او پراخه ستونزه ده چې د GDPDC په مرکزونو کې تر سترګو کیږي. د 2014 کال د جنوري تر 20، د نارینه ولایتي محبس ټولیز تعداد د ظرفیت 296% وه، دا د نړیوال سره صلیب موسسې (ICRC) د معیاراتو په اساس چې باید په هر 3.4 متر مربع ساحه کې یو محبوس وساتل شي اندازه کیږي. د ښځینه ولایتي محبس ټول تعداد د ICRC له خوا د سپارښتنې په تناسب 135% لوړ بلل کیږي. د GDPDC تر اداري لاندې د محبسونو د ظرفیت په اړه او د تنکیو ځوانانو د بیارغونې د مرکزونو په اړه معلومات په لاس کې نشته. په داسې حال کې چې، د INL د سلاکارانو له خوا له راپور شویو واقعیتونو چې له محبسونو څخه یې د لیدنې پرمهال کړیدي معلومیږي چې په ډیرو ولایتونو کې بیروبار یو دوامداره ستونزه بلل کیږي.[488]

په اپریل کې سیګار یوه خبري پاڼه خپره کړه چې د 11.3 میلیون ډالرو په لګښت د INL د یوه قراردادي له خوا په بغلان ولایت کې د محبس د ودانولو خبره پکې شوې وه. سره له دې چې سیګار د امنیتي اندیښنو له کبله له زندان څخه له نږدې لیدنه ونشوای کولای خو د دې اداري له خوا د قرارداد د دوسیو له لیدنې وروسته د سختو ساختماني زیانونو د رامنځ ته کیدو خبره وشوه چې په پایله کې یې د ودانۍ یو واحد ونړید.[489] د INL په وینا، د ودانۍ د ډیزاین ځانګړنو د نړیوالو ساختماني کوډونو له معیاراتو سره باید په توافق کې وای (IBC)، همداشان باید د زلزلې په وړاندې مقاومت ولري او د دې معیاراتو د پوره کولو په موخه په دې ساحه کې ودانۍ باید د ټینګو خښتو په واسطه رغول شوې وای.[490] په ډیزاین کې روښانه شوه چې په ساحه کې دا واحد او نورې ودانۍ په داسې بڼه جوړې شویدي چې د کانکریټي ستونونو په منځ کې له ټینګو خښتو کار نه دی اخیستل شوی. سیګار سپارښتنه وکړه چې INL په خپل پلان له سره کتنه وکړي او هدایت ورکړي چې د کانکریټي ستونونو تر منځ دې له ټینګو خښتو څخه کار واخلي کوم چې د سیګار په باور د IBC له معیاراتو څخه بلل کیږي.[491] INL روښانه کړه چې دوی به له IBC سره خپلې کړنې په مطابقت کې وساتي او د افغانستان په راتلونکو رغونیزو قراردادونو کې به یې هم په پام کې وساتي.[492]

## د فساد په وړاندې

په دې ربع کې د افغانستان د فساد ضد مبارزې د پام وړ اغېز نه درلود. حکومت په دې ربع کې له یوې نوې پېښې څخه خبر شویدی چې پکې یو لوړ پوړی چارواکی هم شامل دی خو تر اوسه یې دوسیه نده سپړلې او د شواهدو د کیفیت په اړه تبصره نه کوي. د بلخ د څارنوالۍ مشر د اختلاس او له قدرت څخه د ناوړه کاراخیستنې له تورونو سره مخ شو څنګه چې د ازبکستان په سرحد کې یې د څلورو بارونو په اړولو کې له خپل واک څخه ناسمه استفاده کړېده. افغان حکومت د اداري فساد په تور د ټیټ پوړو دولتي چارواکو محاکمه روانه ساتلې ده، خو عدلي تعقیب یواځې په هغه کسانو عملي کیږي چې تر ټولو ټیټ رتبه مامورین دي.[493]

څانګړی عمومي مفتش جان ایف. سوپکو د 2014 د مارچ په 20 په اتلانتیک کنفرانس کې خبرې کولې تر څو روښانه کړي چې که په افغانستان کې اداري فساد په همدې شکل په مخ لاړ شي نو کیدای شي د متحده ایالاتو له خوا ټول هغه څه چې د بیارغونې په دې 12 کلونو کې بشپړې شویدي په خطر کې واچوي. د لازیاتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 55 وګورئ.

د دفاع وزارت ګډو غړو د فبروري په میاشت کې د اداري فساد په اړه یو راپور خپور کړ. دا مطالعه د ISAF د قوماندان جنرال جوسف ایف. ډانفورد له خوا پیل شو او د ISAF د پخواني قوماندان جان الن له قوله یې ویلي دي چې "اداري فساد د افغانستان لپاره موجوده ستراتیژیک تهدید ګڼل کیږي." [494] راپور وموندل چې: (1) له جنګسالارانو څخه د متحده ایالاتو په لومړي سر کې ملاتړ، د نظامي لوژستیک ملاتړ په موخه په قراردادونو تکیه کول، او د پوځ او مرستو د سیل د افغان حکومت د جذب تر ظرفیت لوړ وه او داسې یو چاپیریال یې رامنځ ته کړ چې اداري فساد یې پراخ کړ او بیا وروسته یې د فساد ضد هڅو (CAC) په وړاندې ستونزې رامنځته کړې؛ (2) له فساد سره د مبارزې لومړني شرطونه له دې کبله رامنځته نه شول چې متحده ایالات د افغان فساد په طبیعت باندې ناوخته پوه شو، له دې سره د فزیکي امنیت کچه ټیټه شوه او په دواړه خواو کې هم د افغان حکومت او هم د نړیوالې ټولنې له خوا سیاسي اراده موجوده نه وه او د فساد په وړاندې موثر عمومي فشار موجود نه وو چې له دې سره په لویه کچه د خلاصون کلتور عام شو او د CAC هڅې له ناکامۍ سره مخ شوې؛ او (3) د فساد د مسایلو په تړاو پوهه زیاته شوه او د استخباراتو په واسطه چلیدونکی ملاتړ د CAC له عملیاتو او پلانونو سره ملګری شو خو د یووالي او هڅو کمښت د CAC د عملیاتو د اغیزمن کیدو مخنیوی وکړ او د سیاسي ارادې دوامداره نه شتون د افغان حکومت له لورې تقریباً د فساد ضد ټولې هڅې له خنډونو سره مخ کړې.[495]

د راپور پربنسټ، د اداري فساد پر ضد د مبارزې لپاره دوه لارې دي: د فساد مخنیوی او له فساد سره مبارزه. د فساد د مخنیوي په کړنو کې موخه د فساد د فرصتونو محدودول دي. په دې کې د روڼتوب او حساب ورکونې کنترولي اقدامات هم شامل دي او تفتیش، پلټنې او په انفرادي کړنو د نفوذ عملونه هم شامل دي. راپور په نښه کړي چې د فساد ضد اقداماتو فساد چارواکې ناارامه کړیدي خو له خپلو کړنو یې لاس اخیستلو ته ندي مجبوره کړې چې په افغانستان کې یې معافیت د کلتور له لا عام کیدو سره مرسته کړېده. له دې سره په توپیر کې فساد سره مبارزه هغه اقدامات دي چې اصلاحي طبیعت لري او د فاسدو اشخاصو د مخنیوي او د فساد پر ضد ممانعت ته لار هواروي. برسیره پر دې، افغانستان

اغیزمن حقوقي سیستم نلري او په ځانګړې توګه یوه مستقله قضایي اداره چې د فساد سره د مبارزې لپاره اړینه بلل کیږي. د راپور پر بنسټ، له دې پرته د نړیوال ایتلاف د فساد سره د مبارزې په برخه کې کړنې د فاسدو اشخاصو څخه یو ګام وروسته پاتې شویدي.[496]

په دې راپور کې د افغانستان د بیارغونې په برخه کې د متحده ایالاتو لیدلوری له بیلابیلو خواو تر نیوکو لاندې راغلی دی لکه له قراردادیانو کمزوری نظارت کول، د لګښتونو د حساب ورکولو په برخه کې نیمګړتیا، او د یوه پراخ فکر رامنځته کول چې ورسره پرمختګ د زیات لګښت له لارې ښکاره کیدای شي او د نظارت په برخه کې ننګونې شاملې دي.[497] په دې راپور کې همداشان د CAC نړیوال لومړیتوبونه تر پوښتنې لاندې راوستل شویدي، چې د منظمو استخباراتو کارول قانوني کړکیچونه هغه مهال رامنځته کوي چې معلومات له افغان قضایي سیستم سره شریکیدای نشي. برسیره پر دې د لومړني قراردادي په کچه د پوهې پراختیا د دوهم لاس قراردادي په برخه کې تقویه نشوه. برسیره پر دې، په راپور کې تر لاسه شوه چې د ISAF له خوا د CAC په ټولو هڅو کې ډیر تمرکز په کابل کیده او له مرکز دباندې پاملرنه کمه تر سره شوه. په پای کې راپور دې پایلې ته رسیدلی وو چې افغان حکومت د CAC د نړیوالو هڅو مخنیوی کړی وو او د فساد ضد اصلاحاتو په برخه کې یې ناسمه لاره کارولې وه او همداشان یې داخلي اصلاحات ضعیفه وو، لکه د فساد ضد نظارت او ارزونې د خپلواکې ګډې کمیټې (MEC) د ګمارنې په برخه کې ځنډ رامنځته کول.[498]

په دې ربع کې، په سیمه ایزه کچه د افغان حکومت د ځینو چارواکو په اړه داسې راپورونه وو چې د غنمو د توضیع سره په اړلو برخو کې په فساد تورن بلل شوي وو. د نورستان والي د حوادثو د اداري او کلیو او پراختیا اداري سره یو ځای له دې کبله له دندو ګوښه شول چې د حکومت سلګونه ټنه غنم یې غلا کړي وو.[499] همداشان، د غزني یو ولسوال د راپورونو له مخې وروسته له هغه له دندې لرې شو چې د 90 ټنو اصلاح شویو غنمو د تخمونو په خرڅلاو تورن وبلل شو کوم چې باید سیمه ایزو بزګرانو ته توضیع شوي وای.[500]

## د افغانستان د لوی څارنوالی دفتر

د AGO د تخنیکي ظرفیت یا موثریت په اړاو کوم د پام وړ بدلون ندی لیدل شوی. AGO د حکومت هغه وړاندیز ونه مانه چې ویل شوي وو چې AGO دې څارنوالان په څېرنیز میتود باندې وروزي او له حکومت سره یې بیلابیلې ترتیب شوې ناستې لغوه کړې. د حکومت په وینا، ټاکنې د دې سبب شوې چې د اداري فساد د لوړې کچې د قضیو د تعقیب احتمال کم کړي.[501]

د لویو جرمونو کاري ځواک (MCTF) د AGO د داخلي کنټرول او نظارت څېړنیز مټ بلل کیږي.[502] د حکومت په وینا، MCTF په دوامداره توګه یو ځواکمن څېړنیز قوت ته اوړي خو د اداري فساد پیښې له دې کبله نه تعقیبوي چې د AGO له خوا ورته لاره نه هواریږي.[503]

## د فساد ضد نظارت او ارزونې ګډه مستقله کمیټه (MEC)

د USAID په وینا، MEC پوره تخنیکي ظرفیت لري څو داسې احکام په لاره واچوي چې ورسره د فساد ضد سپارښتنې او معیارات پرمختګ وکړي؛ د حکومت او نړیوالې ټولنې له هڅو سره د فساد ضد مبارزې په برخه کې نظارت او ارزونه وکړي؛ او افغان ولسمشر،

پارلمان، خلکو او نړیوالې ټولنې ته راپور ورکړي. MEC په افغانستان کې د اداري فساد په وړاندې د مبارزې په برخه کې تر اوسه هم یواځنۍ اغیزمنه اداره بلل کیږي. د MEC دوه اصلي مرسته کونکې ډنمارک او انگلیستان دي چې له MEC سره په گډه کار کوي تر څو ځینې هغه اداري نیمگړتیاوې اصلاح کړي چې د انگلیستان د پلټونکو له خوا څو میاشتې مخکې په گوته شوې وې. USAID په وینا، مرسته کونکې او د متحده ایالاتو حکومت د MEC له وړتیاو متاثره شویدي چې د اداري فساد د جدي قضیو په مسله کې د افغان حکومت په مخ کې دریږي.[504]

په اپریل کې MEC خپل پنځم شپږمیاشتنی راپور خپور کړ چې د 2013 کال د جولای له 1 څخه د دسمبر تر 31 پورې د هغوی کار او سپارښتنې تر پوښښ لاندې راولي.[505] سیگار د دې سپارښتنو په اړه مخکې هم راپور درلود (د بیلگې په توگه، د 2014 کال د جنوري په 30 د درې میاشتني راپور له 137–138 مخونو څخه لیدنه وکړئ). MEC راپور ورکړ چې دوی له 40 زیات افغان دولتي ادارې او نړیوالې ادارې تر نظارت لاندې نیسي. په دې راپور کې MEC د 23 ادارو د تصنیف سیستم معرفي کړ (یا د بنسټ بنه لکه نړیواله ټولنه/مرسته کونکی) چې دا د 23 د سپارښتنو په ځواب کې د همغږۍ او هڅو کچه څرگندوي. د MEC په وینا، تر ټول غوره کارکونکې اداري عبارت دي له IEC، د افغانستان بانک، د کانونو او پترولیم وزارت او ستره محکمه. تر ټولو ناقصې کارکونکې اداري عبارت دي له ISAF، د کډوالو او بیاراستنیدونکو اداره، د کابل بانک ځانگړې محکمه او د افغانستان د پانگونې د ملاتړ اداره.[506]

MEC په دې وروستیو کې روښانه کړه چې افغان حکومت په اغیزمنه توگه د لوړ پوړو افغان چارواکو دشتمنیو د ثبتولو او تصویب پروسیژر پلی نه کړ او له دې سره د اختلاس لپاره دروازې پرانیستل شوې. د MEC په وینا، د شتمنیو د ثبت او تصدیق یو مناسب سیستم د فساد په وړاندې د مبارزې لپاره یوه اغیزمنه وسیله ده. MEC ومونده چې د څارنې او فساد ضد عالي اداره (HOO) تر یوه حده د چارواکو د شتمنیو د ثبت کار باندې توانیدلی دی خو د غوښتنې مطابق په کلنۍ توگه HOO د ثبتو شویو شتمنیو د تصدیق په برخه کې پاتې راغلې ده او ناڅرگنده شتمن کیدلو قضیې یې د لوی څارنوالۍ اداري ته ندي راجع کړې، او د HOO د شتمنیو د ثبت او څرگندولو برخه د کارکونکو د ظرفیت له نیتوالي څخه اغیزمنه ده.[507]

## د څارنې او فساد ضد عالي اداره

مخکې حکومت او USAID راپور ورکړی چې HOO کارنده اداره نده، اغیزمنه نده او سیاسي شویده.[508] د USAID د راپور له مخې HOO کافي اداري او تخنیکي ظرفیت لري تر څو خپل پروگرامونه او احکام په مخ بوځي.[509] په داسې حال کې چې HOO د سیاسي ارادې او د اهدافو د جدیت له نه شتون څخه اغیزمنه ده چې د فساد په وړاندې مبارزه د لوړ پوړیو چارواکو په کچه نه پلي کوي په ځانگړې توگه کله چې د پیاوړو سیاسي څیرو ښکیل کیدل پکې مطرح وي. د HOO نوی رییس موثریت ندی زیات کړی او په دوامداره توگه د HOO د کارکونکو د ظرفیت جوړونې په برخه کې د بسپنه ورکونکو د مرستو غوښتنه کوي. د USAID په وینا، مرسته کونکې ټولنه دا مهال د لا زیاتو پانگونو په برخه کې لیوالتیا نلري ځکه چې پخوا یې هم HOO ته پانگونه کړیده خو د پام وړ پایلې یې ندي تر لاسه کړې.[510]

د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وینا، HOO د 2,975 دولتي مسولینو شتمنۍ ثبتې کړيدي. HOO د 44 لوړپوړیو دولتي چارواکو د شتمنیو د ثبتولو اړوند معلومات خپاره کړيدي او د 33 لوړ پوړو دولتي چارواکو د شتمنیو تصدیق هم بشپړ شویدی چې په دې کې ولسمشر، مرستیالان، وزیران او والیان شامل دي. د شتمنیو د روښانولو تصدیق د 32 نورو چارواکو په تړاو تر کار لاندې دی.[511]

د USAID په وینا، د 1,150 افغان چارواکو له خوا د شتمنیو د اعلان فورمې بشپړې شویدي، سره له دې چې HOO ادعا کوي چې دا شمیره د 2,500 څخه تر 5,000 پورې ده. HOO وايي چې له 7,000 مسولینو غوښتل شویدي چې د شتمنیو د ثبت فورمونه بشپړ کړي. USAID مني چې د HOO له خوا د تصدیق شویو ارقامو لپاره د خپلواک تصدیق بله لاره نشته، او یادونه کوي چې له ډېرو چارواکو هر کال غوښتل کیږي چې خپلې شتمنۍ اعلان کړي، ډېری هغه کسانو چې اعلان کړی دی دا کار یې له 2010 کال راهیسې یواځې یو ځل تر سره کړیدی.[512] له دې کبله، افغان حکومت د TMAF د ستونزمنو لاسته راوړنو هغه شرایط پوره نکړل کوم چې د لوړپوړیو چارواکو د شتمنیو د خپرولو او معلومولو په تړاو دي.[513]

## د MOD او MOI له مستقیمې ونډې څخه د CSTC-A نظارت

د DOD په وینا، د امنیتي لیږد ګډې قوماندانۍ-افغانستان (CSTC-A) د لومړي ځل لپاره د "مالي رافعې ستراتیژي" اعلان کړه چې موخه یې د MOD او MOI ته مستقیمې مالي ونډې وې چې د افغانستان د حکومت د کړنو بدلون ته د یوې وسیلې په توګه کار وکړي. شکل 3.32 وګورئ. کله چې یوه پلټنه یا د ارزونې پایلې له مربوطه وزارت سره شریکې شي نو CSTC-A به پروسه پیل کړي. په 30 ورځ، د CSTC-A عمومي قوماندان یا د

3.32 شکل

**د امنیت لیږد ګډه قومانده – افغانستان (CSTC-A) د مالي تیر ستراتیژي**

| X ورځ | 1 ورځ | 15 ورځ | 30 ورځ |
|---|---|---|---|
| د دفاع وزارت (MOD) یا کورنیو چارو وزارت (MOI) پورې اړوند پلټنه یا ارزونه یوه مسله رابرسیره کوي. | د CSTC-A وزارتي مشاور د پلټنې/ارزونې پایلو لنډیز لاسته راوړي. د پلټنې وړاندیزونو لیک پلټل شوي نهاد ته څي. | پلټونکی د MOI/MOD سره تعقیبوي چې د پلټنې وړاندیزونو دریځ وټاکل شي او د پیژندل شویو ستونزو له منځه وړلو کې پرمختګ. | د CSTC-A قوماندان یا معاون د پلټنې وړاندیزونو لیک MOD یا MOI ته لیږي چې ټول "خلاص" او "تړل شوي" وړاندیزونه ښیې. پدې موخه چې مسلې راپورته او خلاص وړاندیزونه په نښه کړي. |

| 45 ورځ | 46 ورځ | 60 ورځ | 61 ورځ |
|---|---|---|---|
| د بیاکتنې هییت په CSTC-A کې توافق تاییدوي چې موندنې ندي په نښه شوي او وړاندیزونه په وخت سره ندي تعقیب شوي. | **لومړی کچه غزول شوې: د اغیزمن شوي بودیجې کوډ ته 50% ناوختي، که چیرې لا نور مداوم عملونه پیښ شي که** MOD یا MOI د پلټنې وړاندیزونه په پام کې ونه نیسي او ځواب ورنکړي. | د CSTC-A بل تعقیب د پلټنې وړاندیزونو دریځ ټاکي. | دویم کچه غزول شوی: **د ژمنو لیک فنډ ورکول ډېر شوي، یا اغیزمن شوي بودیجې کوډ ته مصرف** 100% درول شوی. د بودیجې خورا لوړ کوډ د MOD یا MOI لپاره پراخه مفاهم لري. |

سرچینه: DOD، د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړی عمومي پلټنې د 12/30/2013 غوښتنې ته د CSTC-A ځواب.

عمومي قوماندان معاون به د پلټنې د سپارښتنې یو مکتوب ولیږي او MOD او MOI ته به ټول پرانیستې او تړلې سپارښتنې ولیږي. که چیرته تر 45 ورځې د بیاکتنې د بورد له خوا یوه قضیه حل نشوه، CSTC-A به د اغیزمن شویو بسپنو د 50% لګول وځنډوي او یا به د اړتیا په صورت کې لا نور جدي ګامونه پورته کړي. بالاخره، به په 60 ورځ، CSTC-A په ژمنلیک کې د مرستې کچه راټیټه کړي او یا په اغیزمن شویو مرستو کې لګښتونه وځنډوي. بالاخره به په 61 ورځ، CSTC-A یا د ژمنې په پاڼه کې بسپنه کمه کړي او یا به د اغیزمن شویو بسپنو لګول وځنډوي.[514]

د رافعې د ستراتیژۍ موخه د وزارتونو په کچه د کړنو د بدلون لټول دي. لومړنۍ پلټنه چې د دې پروسې له لارې 46/45 ورځې ته ورسیده د 2013 د دسمبر په 23 وه.[515] د 2013 کال له اکتوبر څخه CSTC-A د MOI د معاشاتو له ورکړې پلټنه کوله. د 2013 د نومبر په شروع کې CSTC-A د MOI په اړه د پلټنې راپور خپور کړ. په پلټنې کې هغه موندنې هم شاملې وې چې د تقاعد تفریق پکې په غلطه توګه حساب شوی وو؛ د معاشاتو نورې مسلې لکه ناوخته تادیه، د معاشاتو د مالیې څخه غاړه ایستل، او د تقاعد د برخې ناکافي تفریقول؛ د مشترکو پلورلو مرستې ناقانونه دي، ونډه والو ته د لاسرسي نه موجودیت، او د داسې فیس موجودیت چې له اټکل شویو عملیاتي لګښتونو څخه زیاتیږي. MOI دې پلټنې ته په ځواب کې داسې یو فرمان صادر کړ چې له مخې ی د مشترک پلور د تادیې کمول ودرول شول.[516]

د CSTC-A په وینا، د افغان امنیتي ځواکونو د بودیجې لپاره د متحده ایالاتو د مستقیمې ونډې په برخه کې بیلابیل میکانیزمونه شتون لري. CSTC-A د دوه اړخیزو ژمنو هوکړه لیک کاروي تر څو ډاډ تر لاسه شي چې افغان حکومت د CSTC-A مرستو د مناسبې کارونې په تړاو شرایط او اصولو باندې پوهیږي (د موخې، هدف او مقدار په شمول) او د بسپنې د ناسمې کارونې پایلې هم ورته معلومې دي.[517] د مستقیمې ونډې مرستې د مالیې وزارت ته ورکول کیږي او بیا MOD او MOI ته ځانګړې کیږي. په عادي توګه د اړتیاو د موجودیت په بنسټ کار ورڅخه اخیستل کیږي.[518]

د CSTC-A د ارزونې له مخې که یو ځل مرستې د افغان حکومت بانکي حساب ته داخلې شوې نو نظارت یې بیا یوه ننګونکې مسله ده. CSTC-A اوسمهال په اونیز بنسټ د افغانستان د مالي مدیریت معلوماتي سیستم (AFMIS) لګښتونه پرتله کوي ( د لګښتونو د پنځه رقمي کود په واسطه) چې د ژمنې د هوکړه لیک د تصویب شوې مقدار سره اړخ لګوي. CSTC-A یادونه وکړه چې AFMIS یو منول سیستم دی او د اعتماد کچه یې دومره ده لکه د افغانستان د حکومت مامور چې اسناد داخلوي. که چیرته CSTC-A ولیدل چې د لګښتونو کچه د مصارفو له معین کود څخه زیاتیږي کوم چې د ژمنې په هوکړه لیک کې ځانګړې شویدی، دا شمیره که هر څومره وي CSTC-A به یې څیړنه وکړي. په ورته وخت کې، CSTC-A که د بودیجې د کود هره اندازه اجرا که په داسې بڼه وګورې چې په هوکړه لیک کې روښانه شوی ندی نو اقدام به وکړي.[519]

CSTC-A وایې چې دوی کولای شي د متحده ایالاتو مستقیمې مرستې له MOI او MOD سره د لګښتونو او مصارفو د شنني له لارې همغږې کړي او د AFMIS له لارې یې پر مخ بوځي خو تر اوسه له USAID سره په همکارۍ پرمخ ځي، دا د مستقیمې ونډې د چمتو کولو په برخه کې یو متبادل لیدلوری دی چې د دفاع وزارت د عمومي مفتش د پلټنې په پایله کې په پام کې ونیول شو. CSTC-A هغه میتود شني چې د USAID

له خوا کارول کیږي او پکې افغان حکومت یو ځانګړی بانکي حساب د دې لپاره رامنځ ته کوي چې USAID د دې حساب په اړه د پلټنې بشپړ حق ولري. د CSTC-A په وینا، له دې تنظیماتو سره به CSTC-A وکولای شي د مستقیمو ونډو په برخه کې د پیاوړتیا په موخه له بلې وسیلې کار واخلي. اوسمهال، د CSTC-A مستقیمه ونډه د افغان حکومت د عوایدو له ټولو سرچینو سره ترلې ده (لکه د نورو مرسته کونکو هیوادونو او کورني عواید) کوم چې د مرکزي بانک د ذخیرې په واحد حساب کې په امانت توګه ایښودل شویدي. د CSTC-A په وینا، د دې لیدلوري ګټه دا ده چې ډیرساده دی او افغان حکومت ته د لا زیات انعطاف زمینه برابروي خو له CSTC-A څخه نورې هڅې د یادو شویو مرستو د همغږۍ کولو په برخه کې غواړي.[520]

CSTC-A همداشان هغه پلټنې چې سمو او ناسمو لګښتونو د معلومولو په موخه طرح شوې وې کاروي تر څو هغه سیمې وڅاري چې ډیر خطر ورته متوجه دی لکه د تیلو د پیسو برخه. CSTC-A د تیرو څو میاشتو په اوږدو کې 12 پلټنې پیل کړیدي تر څو د معاشاتو په برخه کې د کورنیو چارو او دفاغ وزارت د حساب ورکونو معاینه وکړي او د جامو اخیستلو، تیلو او نورو اړتیاو په اړه هم پلټنه تر سره کړي.[521]

# بشری حقوق

## د جیندر یا جنسیت مساوات

په جنوري کې د افغانستان د ښځو چارو وزارت (MOWA) خپل هغه لومړنی رپوټ خپور کړ چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالې له منځه وړلو قانون (EVAW) په تړاو وو. د UNAMA په وینا، د دوی دې راپور د UNAMA هغه لاس ته راوړنې لا پیاوړې کړې چې د 2013 کال د دسمبر له راپور څخه یې تر لاسه کړې وې او ورسره ښکاره شوه چې ډیری قضیې د منځګړیتوب له لارې هوارې شویدي نه د جنایي قضا د سیستم له لارې.[522]

په راپور کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالې 4,505 قضیې راپور شوې چې په اوسطه توګه په هرو 100,000 ښځو کې 35 قضیې پکې راځي چې له 34 ولایتونو څخه په 32 کې پیښې شویدي. هغه پنځه قضیې چې تر ټولو ډیر راپور شویدي عبارت دي له وهل ټکول، ژوبلول (40.5%)، وژنه (7.3%)، تاوتریخوالی (5.4%)، د ډوډۍ نه ورکول (5.4%) او جبري ودونه (5.1%).[523] د راپور شویو قضیو اوسنی حالت کې د منځګړیو له لارې د حل موندل او نورې پروسې (41%)، د رسمي حقوقي سیستم له لارې حل موندل (11.5%) او هغه قضیې چې تر اوسه هم تر کار لاندې دي (47%) جوړوي.[524]

د USAID په وینا، افغان حکومت د TMAF د ستونزمنو لاسته راوړنو د حاصلولو په برخه کې پاتې راغی چې هغه په هر ولایت کې د EVAW د قانون د پلې کیدو په اړه یو تفصیلي راپور خپرول وو. د راپور پرمختللې مسوده چې مرسته کونکو ته د 2014 کال د جنوري تر 28 مخکې وړاندې شوه، د ارزونې او همغږۍ د ځانګړې ګډ بورډ له خوا هغه توپیر پکې په ډاګه شو چې د MOI د راپور، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون (AIHRC)، یا MOWA ترمنځ موجود وو. همداشان د توقیفونو راپور شوې شمیرې، عدلي تعقیب او محکومیت او په ولایتونو کې د مکملو اسنادو نه شتون، د ولایتي قضایي بنسټونو او د MOWA ولایتي ادارو ترمنځ د همغږۍ نه شتون، په ولایتونو کې د تخنیکي ملاتړ کمښت او د کابل او ولایتونو لپاره د بشپړ او مرکزي شوي داسې سیستم نه شتون چې اسناد را ټول کړي.[525]

افغانستان ته د اروپايي اتحاديې نوي سفير په خپلو خبرو کې د مارچ په مياشت کې په ډاګه کړه چې افغان حکومت په افغانستان کې د ښځو د حقونو په تړاو د قاطعيت بشپړ احساس ندی ښکاره کړی او په دې برخه کې پياوړې پاليسي نلري.[526]

په دې ربع کې دا د جنايي تعقيب د قانون يا CPC د يوې برخې په توګه د بحث وړ موضوع وه. د مسودې د جوړولو له شپږ کلنې دورې وروسته، د CPC 26 ماده چې له هغو کسانو سره چې د شاهد په توګه په قضايي څېړنو کې ورڅخه کار اخيستل کيدای نشي او دا ماده يې توضيح کوي د پارلمان له خوا تصويب شوه او په قانون کې ځای پر ځای شوه، خو وروسته بيا د ولسمشر کرزي د فرمان په بنسټ پکې سمون راوستل شو.[527] انديښنه دا وه چې 26 ماده به د کورني تاوتريخوالي په تعقيب کې اغيزمنه شي او د ماشومانو په وړاندې د تاوتريخوالي مخه به په دې ډول ونيول شي چې د تاوتريخوالي رامنځ ته کونکي خپلوان به يې د شاهدي حق ونلري. اروپايي اتحاديه، د متحده اياالتو د کابل سفارت، او نورو نړيوالو مرسته کونکو داسې غوښتنې وکړې چې د دې مادې د اصلاح غوښتنه يې کوله.[528]

د حکومت په وينا، د CPC وروستنۍ شوې بڼه د هغې بڼې په پرتله چې د پارلمان له خوا تصويب شوه يو پراخ پرمختګ په ګوته کوي. په داسې حال کې چې د مدني ټولنو ډلو د CPC د اغيزمنې پلې کيدنې د څرنګوالي په اړه انديښنه لري.[529] د USAID په وينا، مثبت سمونونه پکې د مدني ټولنو د پياړوې غوښتنې او فشار له کبله وو چې د دې ښکارندويي کوي چې په تيره لسيزه کې افغان مدني ټولنه څومره فعاله او منظمه شويده.[530] د بشري حقونو د ناظرينو په وينا، اصلاح شوې 26 ماده په داسې بڼه ده چې د کورنۍ ډيری غړي د شاهد په توګه محکمې ته له راتګ معاف دي او له دې سره د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي او د شاهدانو د محافظت په برخه کې د برياليي تعقيب په تړاو لا هم يوه جدي ننګونه موجوده ده.[531]

## کډوال او په هيواد کې دننه بېځايه کيدل

د حکومت په وينا، د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کميسيون (UNHCR) په دې ربع کې د نويو کډوالو د وتلو کومه پيښه ثبت شوې نده. د 2014 په لومړيو دوو مياشتو کې، په ټوليزه توګه 965 کسان بيارستانه شول چې د 2013 کال د همدې مودې په پرتله 57% کموالی په ګوته کوي چيرته چې 2,265 کسان بيرته را ستانه شوې وو. په بيارستنيدو کې کموالی کيدای شي په افغانستان کې له مبهمې امنيتي وضعې سره تړاو ولري، همداشان د 2014 کال د اپريل د ولمسشريزو او ولايتي شوراګانو نامعلومې پايلې او په پاکستان کې د افغان کډوالو د راجستر د کارتونو د مودې غځول يې هم په لاملونو کې راځي. بيارستنيدنه همداشان په ژمي کې کميږي چې د فبروري مياشت له تير څخه همداشان په ټيټه کچه کې پاتې شويده. افغانان لا هم د نړۍ په کچه د پناه غوښتونکو تر ټولو لوی شمير سره په سر کې ولاړ دی کوم چې په 2013 کال کې 38,653 کسان ښودل شويدي.[532]

د فبروري تر 28، UNHCR د کورنيو بېځايه شويو کسانو (IDPs) د راجستر ټوليزه شميره 654,664 کسانو ته رسولې ده، په داسې حال کې چې دا شميره د جنوري تر 31 پورې 647,779 کسانو ته رسيدلې وه. د حکومت په وينا، د کورنيو بېځايه شويو اصلي شمير کيدای شي تر دې ډير لوړ وي خو کره تصديق يې ستونزمن دی.[533]

د فبروري په مياشت کې افغان حکومت د کورنيو بېځايه کيدونکو په تړاو يوه نوې ملي پاليسې په لاره واچوله. په دې کې د افغانستان د بيلابيلو وزارتونو او ادارو او د هغوی پرمختيايي او بشري ملګرو ونډه او مسوليتونه روښانه شويدي. د ملګرو ملتونو د عمومي

سرمنشي په وینا، د پلې کولو یو ستراتیژي اوسمهال تر کار لاندې ده.[534] د نوې پالیسۍ پر بنسټ، افغان حکومت په لومړي سر کې د بېرنو مرستو د چمتو کولو مسولیت په غاړه لري او همداشان په افغانستان کې د بېځایه شویو کسانو لپاره د اوږدمهاله ملاتړ او محافظت چمتو کول یې یوه برخه ګڼل کیږي. د UNHCR په وینا، دا مسولیت د بېځایه کېدو د قضیې له پام کې نیولو پرته د دوی پر غاړه دی. دا همداشان په هغو ټولو حالتونو کې چې بېځایه شوې کسان په استوګنځایونو کې ژوند کوي، له کوربه کورنیو سره دي، په ښار او یا کلیو کې دي او د خپل اصلي ولایت داخل دي او یا بهر دي د تطبیق وړ بللي دي. په پالیسۍ کې دا خبره یقیني کیږي چې افغانان به په هغه سیمه کې چې ژوند کوي د یو ځای کېدلو حق ولري یا بیرته خپلو کورونو ته ستانه شي او یا نویو ځایونو ته ولیږدول شي. بېځایه شوي کسان به دې ته نه تشویقیږي چې داسې یوې سیمې ته دې ولیږدیږي چې د دوی ژوند پکې په خطر کې دی.[535]

د پاکستان حکومت د نویو مهاجر کارټونو توضیع پیل کړیده او د 2015 کال تر پایه به اعتبار ولري او تر 1.6 میلیون ډیر افغان کډول پکې راجستر شویدي. د 2013 کال په جولای کې د پاکستان کابینې پریکړه وکړه چې د افغان کډوالو موقتي استوګنه دې لا هم وغځوي. د UNHCR په وینا، مهاجر کارټ له دې کبله مهم دی چې افغانانو ته په پاکستان کې د قانوني میشتیدو زمینه برابروي او له دې سره د پیسو شکولو، په خپل سر توقیفونو او نیونو ویستلو مخه د پاکستان د هغه قانون پر اساس نیسي چې د بهرنیو اتباعو لپاره دی. دا پروسه به په دوو مرحلو کې پر مخ لاړه شي د 2014 کال له فبروري څخه تر جون پورې به ټول زاړه کارتونه نوي شي. په دوهم ګام کې به پاکستان شاوخوا 150,000 هغو ماشومانو ته چې په تیرو پنځو کلونو کې زیږیدلي دي شخصي کارتونه ورکړي او راجستر به یې کړي 330,000 نور افغان ماشومان چې تر 18 کلونو کم عمر لري د لومړي ځل لپاره کولای شي چې د زیږیدنې سرټیفیکیټ د دې لومړیتوب پر بنسټ واخلي.[536]

د ناروې د کډوالو د کونسل (NRC) له خوا په خپاره شوي راپور کې موندل شویده چې د کډوالو راستنیدل د ښارونو د نفوس د چټکې زیاتیدا لامل شویدی، کورني بېځایه شوي کسان چې له تاوتریخوالي او ستونزو ښارونو ته مخه کوي او یا اقتصاي موخې لري هم د دې لاملونه بلل کیږي. د NRC په وینا، د IDPs او راستانه شویو کډوالو له خوا د افغانستان په ښارونو کې د ژوند شرایط له خطرناک حالت سره مخامخ شویدي، لکه د جبري شړلو دوامدار خطر. افغان کورنی قانون د شړلو په برخه کې روښانه قانوني معیارات نلري. شړل په داسې توګه پلان او عملي کیږي چې مهمه مشوره نه کیږي، کافي خبرداری نه ورکول کیږي او هیڅ کومه پروسه او خساره ورته په پام کې نه وي. NRC وموندله چې د دې پیښې لوی اکثریت کورني بېځایه شوي او بیا راستانه شوي کورنۍ دي او داسې لیدلوری ورسره نشته چې مناسبه بدیله سرپناه ورته یا د حکومت او یا د ځمکې د مالکینو له خوا نیول شوې وي.[537]

## د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کمیسیون

د حکومت په وینا، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون (AIHRC) د بشري حقونو په اړه د پوهاوي په برخه کې په زیاتیدونکې توګه پرمختګ کړیدی همداشان د بشري حقونو د روان حالت د ثبتولو ، د زورزیاتي په اړه اظهارات او د روانو ټاکنو نظارت یې له کارونه څخه دی. په داسې حال کې چې د افغان حکومت له خوا د AIHRC د کمیشنرانو د ګمارلو پروسې د AIHRC خپلواکتوب له اندیښنې سره مخ کړیدی چې کیدای شي د اعتبار کچه یې تر تهدید لاندې راشي.[538]

د جنوري په 28، د نړیوالې همغږۍ کمیټې (ICC) له AIHRC څخه د خپلې بیاکتنې موندنې خپرې کړې. ICC اوسمهال AIHRC ته "A" وضعیت نمبر ورکړیدی چې د پاریس له اصولو سره یې تطابق او بنسټیز قانونیت او اعتماد یې په ګوته کوي.[539] دا بیاکتنه هر پنځه کاله بعد تر سره کیږي او له داسې پریکړې سره پای ته ورسیده چې د AIHRC وضعیت به یو کال لپاره د اعتبار وړ وي. ICC په داسې حال کې چې د AIHRC کار ته یې پراخ درناوی څرګند کړیدی خو د افغان حکومت له خوا یې د کمیشنرانو د ګمارلو په پروسې او د ښځینه کارکونکو کموالی او د مرسته کونکو له پیسو سره تړاو یې اندیښنه ښودلې ده. ICC ټینګار وکړ چې AIHRC دې له افغان حکومت سره د 2014 تر نومبر پورې دغه اندیښنې حل کړي، د ناکامۍ په صورت کې به "B" وضعیت ته ښکته کړای شي.[540] له دې کبله افغان حکومت د AIHRC د کمیشنرانو د ګمارنې په خاطر د TMAF د ستونزمنو لاس ته راوړنو د پوره کولو په برخه کې ناکامه شو.[541] حکومت راپور ورکړ چې اوسنې مرسته کونکې سره له دې چې د اعتبار نړیواله کچه روښانه نده د AIHRC لپاره مرستو ته ژمن دي.[542]

## د افغانستان د خلکو د سروې د معلوماتو د کیفیت ارزونه

سیګار په تیره ربع کې د افغانستان د خلکو د کلنۍ سروې په اړه راپور ورکړ چې د آسیا فونډیشن له خوا خپره شوه. USAID اوسمهال شاوخوا د سروې 26% لګښت د 750,000 امریکایي ډالرو مرستې له لارې چمتو کوي.[543]

په پایله کې د تیرې ربع راپور کې USAID د سروې د معلوماتو ارزونه پای ته ورسوله. د USAID په راپور کې روښانه شوه چې د اسیا فویډیشن سروې په افغانستان کې له 2006 کال راهیسې یوازنۍ هیواد شموله سروې وه چې په عامه توګه ورته لاسرسی کیده، له دې کبله یې بحثونه راوپارول چې د دې سروې د هیلې ډکې موندنې د نورو سروېګانو له موندنو سره اړخ نه لګوي.[544] د دې راپور پر بنسټ، د افغانستان په شرایطو کې کارکونکې ادارې او شنونکې دا سروې ناسمه بولې په داسې حال کې چې پالیسي جوړونکې او کلیدي پریکړه نیونکې په دې آند دي چې دا د هغه پرمختګ شواهد دي چې نړیوالې ټولنې په افغانستان کې ورته لاسرسی موندلی دی.[545]

د USAID د ارزونې پر بنسټ، اسیا فونډیشن په 2013 کال کې د سروې د کیفیت د ښه والي په موخه ځینې بدلونونه راوستل لکه د سروې د پلان بدلون، وسایل، میتود او شننې.[546] د دې بدلونونو ځینې برخې د هغو افغانانو د نظر معلومول وو چې په ناامنه سیمو کې ژوند کوي. د 2013 کال سروې د اسیا فونډیشن له خوا د "پریکونکو مرکو" په توګه وپیژندل شوې تر څو د هغو افغانانو برداشت تر لاسه کړي چې په داسې سیمو کې چې لاسرسی ورته نه کیږي ژوند کوي. فونډیشن د ناامنه سیمو ځواب ورکونکې د امنو سیمو لاسرسي وړ سیمو په برخه کې 'را پرې کړل' لکه بازارونه، روغتونه او یا د سفر په حالت کې. ارزونه کې یادونه وشه چې دا د ناامنه سیمو د نظریاتو د موندلو لپاره یو آیډیل طریقه بللی نشو.[547]

بل بدلون دا وو چې یوه بې پلوه نظارت کونکې کمپنۍ وګمارل شوه تر څو د سروې د پلې کولو پروسه تر څار لاندې ونیسي. په داسې حال کې چې بې پلوه ناظرینو چې

نشوای کولای د سروې پروسه په مستقله توګه په لاره واچوي څکه چې د سروې پلې کونکې تر وخت مخکې د خپلې سروې مهالویش له دوی سره نه وو شریک کړی او دوی د نظارت لپاره د ساحې په پلان کولو کې پاتې راتلل تر څو د سروې د اخیستل شویو سیمو څخه د تصادفي انتخاب له مخې نمونې واخلي. د دې پر ځای ناظرینو د سروې د پلې کونکو په لارښوونو تکیه کوله تر څو د سروې د پروسې څار وکړي. په پای کې، ویلای شو چې داسې څه ډاډینه نشته چې ووایو د سروې پلې کونکو د بې پلوه ناظرینو لارښوونه هغو برخو ته کړیده چې سروې پکې په غوره شرایطو تر سره شویده نه په تصادفي توګه د نمونه اخیستنې لپاره.[548] د دې بدلونو برعکس، د ارزونې ټیم وموندل چې د اندیښنې وړ دوامداره سیمې، لکه د نمونه اخیستنې د سیمو بدلول، د تصادفي ځواب ورکونکو د پروسې د شمیرونکو ناسم پوهاوی او هم د سروې په برخه کې ضعیفې پوښتنې تر سره شوې دي. د راپور په وینا، موندنې په سروې کې دوامداره کمزورې په ګوته کوي.[549]

# اقتصادي محتويات


| | |
|---|---|
| کليدي پيښې | 157 |
| اقتصادي پروفايل | 158 |
| د غزول شوي قرضې اسانتيا برابرول | 162 |
| بانک لرنه او مالي مديريت | 164 |
| د متحده اياﻻتو اقتصادي ملاتړ ستراتيژي | 169 |
| د طبيعي زيرمو پراختيا | 171 |
| کرهنه | 177 |
| اساسي خدمات/پراختيا | 180 |
| د خصوصي سکتور پرمختګ | 188 |
| ترانسپورتيشن | 189 |
| زده کړه | 190 |
| روغتيا | 193 |
| مخابرات | 197 |

# اقتصادي او ټولنيزه پراختيا

د 2014 کال د مارچ تر 31 پورې، متحده ایالاتو په افغانستان کې د حکومتولۍ او اقتصادي پراختيا څخه د ملاتړ لپاره نږدې 26 ملیارده ډالر چمتوکړې ده. د مختص شوي بسپنو ډیری یې څلور لوی پروګرامونو او حسابونو ته لیږدول شوي، لکه څنګه چې په جدول 3.25 کې ښکاري.

3.25 جدول

**د افغانستان د پرمختګ لپاره مجموعي تخصيصات، د 2014 کال**
**د مارچ تر 31 پورې** (په ميليارډ ډالر )

| فنډ | مسؤله اداره | اختصاص شوي |
| --- | --- | --- |
| ESF | USAID | $17.5 |
| CERP | DOD | 3.7 |
| TFBSO | DOD | 0.8 |
| AIF | STATE/DOD | 1.2 |
| **ټول** | | **$23.2** |

يادوني: ESF = د اقتصادي ملاتړ صندوق؛ CERP = د قوماندان بیرني خواب پروګرام؛ TFBSO = د سوداګرۍ او ثبات عملياتو لپاره کاري ځواک؛ AIF =.د افغانستان زیربنا فنډ.

سرچینه: د دی راپور د ب ضمیمه وکورۍ.

د دې بسپنو لپاره مختص شوي 23.2 ملیارد ډالرو څخه، شاوخوا 18.6 ملیارد ډالر منل شوي او 14.7 مليارد ډالر تر مارچ 31، 2014 پورې مصرف کړی شوي.

## کليدي پيښې

پدې ربع کې یو شمیر داسې پرمختګونه شوي دي چې کولی شي په راتلونکی کال کې د افغانستان پر اقتصاد ژوره اغيزه ولري. د پیسو د ناقانونه انتقال په ضد د سم کردار نه ترسره کولو له امله افغانستان د مالي کړنې د وظيفوي ځواک (FATF) لخوا په "خړ-خاکي" لست کې ونیول شو. که چیرته د جون تر میاشتې پورې افغانستان پدې اړه قانع کونکي اقدامات ونه کړي نو د لوړ خطر، مرسته نه کونکی قضا درلودلو له امله په تور لست کې نیول کیږي، چې دا اقدام په خپل وار سره د افغانستان د بانکي سکتور نړیوال ارتباطات اغیزمن کوي او یاد سکتور له زیاتو خنډونو سره مخ کوي.[550]

د همغږۍ او څارنې مشترک هيئت (JCMB) — یو لوړ پوړی تصمیم نیونکی ارګان دی چې د افغانستان او نړیواله ټولنې ترمنځ د ستراتیژیکه همغږۍ مسولیت په غاړه لري — په جنوري کې ناسته وکړه تر څو د ټوکیو دوه اړخیزه کاري چوکاټ د شرایطو په پلې کولو کې د افغان دولت او ډونرانو پرمختګ وارزوي او د نوی دولت لپاره لارښوني چمتو کړي.

ياد هييت په خپل بيانيه کې وويل چې دواړه لوري "مناسب پرمختګونه" کړي خو سره له دې ننګونې لاهم شته دي.[551]

د افغانستان ملي عايدات په 1392 مالي کال کې (د 2012 د ډيسمبر 21 څخه د 2013 د ډيسمبر تر 20) د ماليې وزارت د ټاکل شوي بوديجوي موخې څخه 11.9% وروسته پاتې شو.[552] ملي عايدات په 1392 مالي کال کې د افغانستان د عادي او انکشافي مصارفو (5.4 ميلیارډه ډالر) بوازې 37% (2 ميلیارډه ډالر) پوره کړ؛ او پاتې برخه يې د مرسته کونکو هيوادونو لخوا تامين شو.[553]

په عين وخت کې، د افغانستان حکومت د 1393 مالي کال (د 2013 د دسمبر له 21 د 2014 د دسمبر تر 20) ملي بودجه تاييد کړه، چې ټوله 7.65 ميليارده امريکايي ډالره وه، او د 1392 مالي کال په پرتله 23% زياته وه.[554]

د راپور په دې دوره کې د افغان حکومت لخوا د موافقت ليک د ملي عايداتو او قانوني شرايطو د نه پوره کولو له امله د پيسو نړيوال صندق لخوا د غزول شوي قرضې سهولت د برابرولو بياکتنه او تاديه وځنډول شوه.[555]

په پای کې، افغان دولت نور کسان د کابل بانک د فساد په تور ونه نيوله او هم يې پدې ربعه کې کومې پيسې بيرته تر لاسه نکړې.[556] علاوه پردې، دولت لا هم د کانونو د نوی قانون تصويب ځنډوي چې دا په خپل وار سره د کانونو په سکتور کې پانګونه له خنډ سره مخ کوي.[557]

## اقتصادي پروفايل

د افغانستان داخلي مجموعي عايدات په تير کال کې د پام وړ کم شوي و. د پيسو نړيوال صندوق (IMF)، نړيوال بانک، او د آسيا پراختيايي بانک (ADB) ټولو وړاندوينه کړې ده چې د افغانستان GDP (د کوکنارو د کرهنې څخه پرته) د 2012 کال په پرتله چې (د غنمو او نورو غله جاتو د استثنايي حاصل له امله) 14% و په 2013 کال کې د پام وړ کموالی ښيي او 3–4% ته رسيږي. يادې ادارې د GDP د کمښت لامل غيرثابت سياسي او امنيتي وضعيت په ګوته کوي. نړيوال بانک، IMF او د آسيا پراختيايي بانک وړاندوينه کوي چې په 2014 کال کې به GDP د 3.5% شاوخوا پاته شي.[558] د 2014 کال څخه ورسته د نړيوالو مرستو او مصارفو د کميدو له امله ياد بانک ويلي چې د GDP وده به تر 2018 کاله پورې د 5% شاخوا وي. د ناامنۍ او بې ثباتۍ ترڅنګ د نورو عواملو مداخله کيدای شي د ودې کچه لاهم ټيټه کړي.[559] بله خوا، د افغانستان اقتصاد د 2003 کال څخه تر 2012 کاله پورې د نړيوالو پوځي مصارفو له امله هر کال په اوسط ډول 9.4% وده کړې ده.[560]

عامه خدمات او د کرهنې سکتور د GDP ډيره مهمه برخه جوړوي. د نړيوال بانک په وينا، په 2013 کې عامه لګښتونو د خدماتو لپاره غوښتنه ډيره کړې، چې په کورنيو ناخالصو توليداتو کې ډير زياته برخه لري، له 2005–2012 څخه، که څه هم په 2013 کې د پام وړ کم شوي.[561] مګر، په 2013 کې د آسيا پراختيايي بانک موندلي چې د نا امنی له کبله د مصرف کوونکو د نه ډاډ، د نړيوالو ځواکونو لخوا د کمو لګښتونو، او د 2014 د ځواکونو کميدلو سره د ډيري شميرې پراختيايي پروژو تړلو له کبله په صنعت او خدماتو کې غوښتنه کمه شوې.[562] له کوکنارو پرته کرنيز محصولات په کورنيو ناخالصو توليداتو کې دويمه لويه برخه لري، او عموماً د کورنيو ناخالصو محصولات له څلورمې تر دريمې جوړوي، مګر محصولات او ګټه د هوا له حالتونو سره توپير مومي.[563]

## مالي پايښت

د نړيوال بانک په وينا په 2013 کال کې د عامه مصارفو له زياتيدو سره د افغان دولت عايدات د GDP د سلنې له مخې کم شوي(9.6%) — په 2012 کال کې 10.3% او په 2011 کال کې 11% و.[564] تمه کيږي چې د خدماتو وړاندې کولو، د اساسي زيربناو د جوړولو، او د کاروني او ساتنې د لګښتونو له امله د افغان دولت مصارف نور هم زيات شي.[565]

ياد بانک د افغانستان مالي منظر د معيار څخه ټيټ ارزوي او وايي چې کيداى شي د خودکفايې بهير له ځنډ سره مخ کړي.[566] د افغان دولت د عايداتو او مصارف ترمنځ مالي خلا مخ په زياتيدو ده. نوموړى بانک اټکل کړى چې په 2018 کال کې به ياده خلا د GDP، 25% ته (7 ميلیارده ډالر) او په 2025 کال کې د GDP، 20% ته ورسيږي. په داسې وضعيت کې افغانستان نشي کولی د ډونرانو د پام وړ مرستې څخه پرته خپل خلکو ته اختياري خدمات وړاندې کړي.[567]

د GDP په رسمي ارقامو کې د کوکنارو عايدات ندي شميرل شوي (په 2013 کال کې زيات له 21 ميلياړد ډالره)، که څه هم په اقتصاد کې واضح رول لري. د کرنې په سيمه کې د کوکنارو بيه د ملکرو ملتونو د مخدره موادو او جرايمو دفتر (UNODC) لخوا د GDP، 4% اټکل شوی، او همدارنګه د کوکنارو د مشتقاتو لکه هیروبين او مورفين صادرات يې په 2013 کال کې د GDP (تقريبا 3 ميليارده ډالر)، 14% محاسبه کړې ده.

سرچينه: UNODC، د افغانستان د کوکنارو سروې 2013، 12/2013، 10، 12 مخونه.

## بوديجه

د افغانستان پارلمان د 2014 کال د جنوري په 15 نيټه د 1393 مالي کال (د 2013 کال د ډيسمبر21 - د 2014 کال د ډيسمبر20) لپاره ملي بوديجه تصويب کړه. په دې بوديجه کې چې مجموعي شميره يې 7.55 ميليارده ډالر وه 4.94 ميلیارده ډالر د عادي بوديجې او 2.61 ميليارده ډالر يې د انکشافي بوديجې لپاره منل شوې ده.[568] ياده بوديجه به په امنيت (د مجموعي بوديجې 44%)، زيربنا (14%)، زده کړه (13%)، کرهنه (8%)، او روغتيا (4%) کې مصرف کړای شي.[569]

تمه کيږي چې د افغانستان د 1393 مالي کال د بوديجې له 7.55 ميليارده ډالرو څخه نږدې 4.8 ميليارده ډالر يې د ډونرانو د مرستې لخوا ورکړ شي. د ډونرانو د مرستې 2.76 ميليارده ډالر عادي بوديجې او 2.07 ميليارده ډالر يې انکشافي بوديجې ته ورکول کيږي.

سرچينه: د ماليې وزارت، "د 1393 کال ملي بوديجه د ولسي جرګې لخوا تصويب شو"، 1/18/2014؛ GIROA، د 1393 کال ملي بوديجه، مخونه 8–9.

## د عايداتو توليد

افغان ماليه وزارت تيرکال وړاندوينه کړې وه چې په 1392 مالي کال (د 2012 کال د ډيسمبر21 - د 2013 کال د ډيسمبر20) کې به د ملي عايداتو کچه 2.4 ميلیارډ ډالرو (د 2013 کال په جنوري کې يو ډالر د 51.6 افغانيو په بيه اخيستل کيده) ته رسيږي، چې دا شمير د 1391 مالي کال (د 2012 کال له مارچ څخه تر دسمبر 2012 پورې) په مقايسې سره 40% زياته ده، البته 1391 مالي کال د 1392 مالي کال څخه درې مياشتې کم و.[570] پهر صورت، افغان ماليه وزارت په 1392 مالي کال کې راپور ورکړ چې داخلي عايدات د دوی له بوديجوي هدف څخه 11.9% کم و.[571] په راتلونکی مخ کې 3.33 شکلد 1388 مالي کال څخه تر 1392 مالي کاله پورې د افغانستان د عايداتو — چې عمدتا د ماليو او ګمرکاتو څخه لاسته راځی — او عملياتي لګښتونو ترمنځ فرقونه په ګوته کوي.

نړيوال بانک ويلي چې په 1392 مالي کال کې کورنيو عوايدو د افغانستان د 5.4 ميلياردو امريکايي ډالرو ټولې بودجې لګښتونو يووازې 37% يا 2 ميلیارده امريکايي ډالر تاديه کړي او نوره برخه يې مرستندويانو پوره کړې.[572] نړيوال بانک او د آسيا پراختيايي بانک د افغانستان د عوايدو کميدلو د اقتصادي فعاليتونو کموالي، د وارداتو په جوړښت کې د بدلونونو، او اداري فساد، او په ځانګړې توګه د ګمرکونو د عوايدو ټولولو له کبله ګڼلي.[573]

افغان اقتصاد په 2013 او 2014 کلونو کې بیاهم خپلې ودې ته ادامه ورکوي که څه هم کچه (3–4%) يې د 2012 کال په مقايسه چې 14% وه ډيره کمه ده.[574] د امريکا د استخباراتو مرکزي اداره (CIA) اټکل کړې ده چې افغان خلکو به په هرکال کې په اوسط ډول 2.29%

3.33 شکل

**د عملياتي بوديجې سره پرتله شوي افغانستان کورني عايدات** (مليون ډالر)




يادونې: تر دې وروستيو، د افغانستان مالي کلونه د جارجي کاليز د کلونو اندازتاً د مارچ د 20 مې څخه د مارچ تر 20 مې وي. مالي کال 1388 د شلم 20 مارچ 2009 نه تر شلم 20 مارچ 2010 سره سمون خوري، او داسې نور. مالي کال 1391 لپاره د نهمې مياشتې ډاټا د افغان مالي کال په وخت کې يو بدلون انعکاسوي. په 1392 مالي کال کې پيل، افغان مالي کال له دسمبر 21 څخه تر دسمبر 20 پورې وي.

سرچينې: MOF، کلنی مالي راپور ۱۳۹۱، په 6/20/2013 خپور شوی؛ MOF، د ۱۳۹۳ ملي بوديجه، په 4/14/2014 خپور شوی؛ MOF د ۱۳۹۲ کال مالي مياشتني مالي خبرپاڼه، ۱۲ مياشت، 2/14/2014، په 4/14/2014 خپور شوی؛ د افغانستان بانک، افغانيو ته د ډاکل شوي اسعارو د تبادلې ورځنی نرخ، 2/14/2014، په 4/14/2014 خپور شوی.

زيات شي، بناء د دې لپاره چې د سرانه GDP کچه، چې د يو هيواد د هوساينې کليدي معيار دی، کمه نشي، بايد لږ تر لږه د دې هيواد اقتصاد پورته ويل شوې وده وکړي.[575]

لکه څنګه چې ووېل شوه ملي عايدات په 2013 کال کې د GDP، 9.6% ته راټيټ شو، او دا قيمت په نړۍ کې ترټولو ټيټه اندازه ده.[576] افغانستان د ټوکيو د حساب ورکونې دوه اړخيزه کاري چوکاټ په اساس ژمنه کړې تر څو خپل ملي عايدات تر 2016 کاله پورې د داخلي مجموعي توليداتو 15% او تر 2025 کاله پورې 19% ته زيات کړي. بانک خبرداری ورکوي چې په عايداتو کې اوسنی کمښت اوږد مهال ثبات او د ټوکيو دوه اړخيزه حساب ورکونې کاري چوکاټ اهداف ، چې د ډونرانو د مرستې شرايط دي، له خطر سره مخ کوي.[577]

د متحده ايالاتو چارواکي سيګار ته ويلي چې اداري فساد د افغانستان پر ګمرکاتو او عايداتو تر ټولو ناوړه اغيزه لري.[578] USAID وايي چې علاوه پردې سياسي واک او غيرموثر سيستمونه هم افغان ګمرکات او عايدات تر تاثير لاندې راولي؛[579] ګمرکي عايدات د افغانستان د ملي بوديجې لويه برخه جوړوي.[580]

په 2008 کال کې د افغانستان د ملي پراختيا ستراتيژي سپارښتنه کړې وه چې د اداري فساد کمولو لپاره بايد د ګمرکاتو کړنلارې اتومات او منظم کړای شي. پهرصورت، لکه څنګه چې د امريکا د نړيوالې پراختيا ادارې (USAID) د افغانستان د سوداګرۍ او عايداتو پروګرام د قراردادونو په اسناد (ATAR) کې راغلي، "د افغانستان د ثبات لوی عامل د اصلاحاتو په عملي کولو او د اداري فساد په ضد د مبارزې لپاره د ياد هيواد سياسي اراده ده."[581]

د اداري فساد په مخنيولو کې د سياسي ارادې د تاثير په هکله USAID وويل له کوم وخت نه چې شيرزی د ننګرهار ولايت پريښې او خپل کمپاين کې بوخت دی د طورخم پولې د عايداتو په ټولولو کې د پام وړ تغير رامنځته شوې ده. د محلي ساختماني فيسونو په نوم چې کوم غيرقانوني ماليات د "ولايت دفتر" لخوا اخيستل کيده، لرې شوې ده. د USAID's ATAR په وينا، نوی والي د تورخم او جلال آباد ترمنځ ټول بارې پلونه لرې کړې، او همدارنګه د ګمرکاتو د کارکونکو په وړاندې هم د کوم ګواښ راپور ندی ورکړ شوی.[582]

## سوداګري

افغانستان د وچې سره احاطه شوی هيواد په توګه د خپل سوداګرۍ، ټرانزيټ، امنيت او ثبات لپاره تر ډيره حده پورې نورو هيوادونو ته اړتيا لري. پاکستان د افغانستان تر ټولو ستر سوداګريز ملګری دی، چې ورپسې بيا متحده ايالات، اروپايي ټولنه، او نور ګاونډي هيوادونه شامل دي.[583]

نړيوال بانک په خپل وروستی تحليل کې ومونده چې د افغانستان سوداګريزه خلا په 2012 کال کې زياته شوې او د GDP د 41.9% سره برابر دی. په 2012 کال کې د صادراتو مجموعي کچه 3% زياته شوه او 2.76 ميليارد ډالرو ته ورسيده او د وارداتو مجموعي کچه هم 11% زياته شوه او 11.4 ميليارد ډالرو ته ورسيد. دا خلا تر ډيره حده پورې د بهرنيو په مرسته ډکه شوه. نړيواله مرسته د 2012 کال په پای کې د افغانستان د تادياتو بيلانس او د نړيواله زيرمې په چوکاټ کې د 7.1 ميليارد ډالرو ريکارډ تامين کړ. يادې زيرمې د 2013 کال په جون کې 6.9 ميليارډ ډالرو ته کمې شوې.[584]

**مجموعي صادرات:** په دې کې رسمي صادرات، د قاچاقي صادراتو اټکل، بيا صادرول، او غير تبعه کسانو ته خرڅول شامل دي.

سرچينه: نړيوال بانک، د افغانستان د اقتصاد تازه اخبار، 10/2013.

## د سوداګرۍ په نړيوال سازمان کې شامليدل

يو شرط چې د ټوکيو د حساب ورکونې دوه اړخيزه کاري چوکاټ په اساس افغانستان بايد ترسره کړې دا و چې د 2014 کال تر پايه پورې د سوداګرۍ د نړيوال سازمان (WTO) غړيتوب لاسته راوړي.[585] USAID راپور ورکړی چې د تخنيکي ابعادو له نظره افغانستان بايد له WTO سره موافقه وکړي تر څو په ټاکل شوی وخت کی يې غړيتوب ترلاسه کړي.[586] پهرصورت، د افغانستان د ګمرکاتو په اړه د سيګار يوه پلټنه وايي چې ياد هيواد د نړيوال تجارت د موافقت ليکونو په بحثونو کې بهرنی مرستو ته اړتيا لري تر څو وکولی شي پدې برخه کې د پرمختګ څخه وروسته WTO ته لاسرسي پيدا کړي.[587]

په دې ربعه کې USAID راپور ورکړ چې افغانستان د WTO په نمايندګۍ خپل کاري ملګري سره مارکيټ ته د لاسرسۍ دوه اړخيزه خبرې اترې بشپړې کړې او د اسبابو او خدماتو په اړه د خپلو ژمنو او مهال ويشونو مسوده يې هم وړاندې کړه. افغان دولت د کاري ملګري سره خپله ناسته چې ټاکل شوې وه د مارچ په 31 ترسره شي، د انتخاباتو څخه وروسته وځنډوله. افغانستان بايد د WTO له 24 قوانين او اووه مقرراتو څخه تير شي. د متحده ايالاتو حکومت پدې برخه کې تخنيکي مرسته کوي.[588]

## د افغانستان د تجارت او عایداتو پروژه

| د پروژې سرلیک | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 3/31/2014 نیټې پورې مجموعي تادیه |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان سوداګري او عایدات | 11/7/2013 | 11/6/2017 | $77,754,267 | $1,920,915 |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/7/2014.

### د سیګار پلټنه

سیګار د افغانستان د ګمرکاتو په پلټنه کې ومونده چې که څه هم د TAFA او ATAR د قراردادونو په چوکاټ کې د خطر مدیریت او د برقي تادیاتو سیسټم په ګوته شوې، خو د ATAR قرارداد بیا د خپل پلي کونکی ملګری څخه ندی غوښتنې چې د یادو سیسټمونو د عملي کیدو کلنی اهداف لاسته راوړي. د لازیاتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 25 وګورئ.

د ATAR پروژه د USAID وروستی فعالیت دی چې (1) WTO ته د لاسرسۍ په موخه له افغانستان سره مرسته کوي، (2) د سیمه ایزه دوه اړخیزه او څواړخیزه موافقت لیکونو په ترسره کولو کې مرسته کوي، او (3) د عایداتو په تولید کې د افغان دولت وړتیا زیاتوي. د یادې پروژې متوقعه نتایج دا دي چې افغانستان په 2014 کال کې د WTO غړیتوب لاسته راوړي او پدې مسیر کې ټول غوښتل شوي قوانین او مقررات عملي کړي؛ ګاونډیو هیوادونو ته صادرات زیات شي او په پوله کې د اموالو انتقال ګړندی شي؛ د ګمرکاتو څخه د دولت عاید زیات شي او د اضافي ارزښت مالیه عملي کړي؛ او د تجارتي موقو په اړه عامه پوهاوي زیاته کړي.[589]

پدې ربعه کې ATAR د خپل پخوانی پروګرام، د افغانستان لپاره تجارتي لاسرسي او تسهیل (TAFA)، کړنلاره بیاکتنه وکړه. پدې لړ کې وموندل شو چې د ګمرکاتو یو شمیر فرعي پروسې په سیسټم کې د افغان سوداګرو او افغان حکومت د ګټو مخه یې نیوله. ATAR د غوره تجاربو په بیامعرفي کولو او د ظرفیت په لوړاوي کې کار کوي. یاده پروژه په پلان کې لري چې سوداګرو ته د ګمرکاتو رسمي پروسه تشریح کړي، همدارنګه د شکایاتو شمیره جوړوي ترڅو خلک د اداري فساد په اړه راپور ورکړي.[590]

## د غزول شوي قرضې اسانتیا برابرول

### د غزول شوي اعتبار سهولت (ECF):

یو درې کلن پروګرام دی چې افغانستان او همدارنګه نورو هیوادونو ته مالي مرستې برابروي او د لړ عاید لرونکو هیوادونو سره د IMF د منځ مهاله مرستو ابتدايي وسیله دی. د ECF مالي مرستې عموما د داسې قرضو له لارې ورکول کیږي چې سود یې صفر فیصده وي.

سرچینه: سیګار، 16-14 خیرنز راپور، د افغانستان بانکي سکتور: د مرکزی بانک د تجارتی بانکونو تنظیم ظرفیت لا ضعیف پاتې دی، 1/2014.

لکه څنګه چې د IMF د اداري او اجرایوي بورډ لخوا ټاکل شوي دہ د ECF په چوکاټ کې د 129 میلیون ډالرو درې کلنه قرضه چې د 2011 کال په نومبر کې لاسلیک شوې وه د پروګرام د بیاکتنې له بشپړیدو څخه وروسته تادیه کیږي. IMF تراوسه پورې دوه ځله د 18.2 میلیون ډالرو قرضې تادیه کړې — لومړی ځل د ECF له منلو څخه وروسته، او بیا د 2012 کال په جون کې د بورډ له لومړی بیاکتنې څخه وروسته. نه د IMF دویمه بیاکتنه چې ټاکل شوې وه د 2012 کال په دسمبر کې ترسره شي، نه هم دریمه بیاکتنه چې د 2013 کال په مارچ کې پلان شوې وه، هیڅ یوه بشپړه نه شوه.[591]

افغان دولت پدې ربعه کې یوځل بیا د بانک لرنې او مالي جوړښتونو په برخه کې کوم خاص پرمختګ ونکړ، کوم چې د ECF د یو نوی بیاکتنې او اړوند قرضې لپاره د IMF لخوا شرط ټاکل شوی و. IMF د ECF د معیارونو او د کړنې د اهدافو په اړه کومه بشپړه یا رسمي محاسبه نده وړاندې کړې. د خزانې په وینا افغان دولت د پیسو د غیرقانوني انتقال/د تروریزم د تمویل په ضد د مبارزې (AML/CFT) داسې قانون پارلمان ته وړاندې نکړ چې د نړیوالو معیارونو سره سم وي، او نه هم د داخلي عایداتو هغه اهداف یې پوره کړ چې د ECF لخوا ضروري ګڼل شوي و.[592] د دې ناکافي پرمختګ له امله متحده ایالات خپل 15 میلیونه ډالر تشویقي مرسته افغان دولت ته ورنکړه کوم چې د ECF د ژمنو پوره کولو لپاره یې ځانګړې کړې و.[593]

د ECF موافقت ليک نړيواله ټولنې ته ډېر اهميت لري ځکه چې دا ښيي چې افغان دولت د ضروري اصلاحاتو د راوستو لپاره سياسي اراده لري. د IMF د معيارونو منل او د لوی اقتصاد د شرايطو پوره کول د نړيوالو لخوا د افغانستان د بيارغونې خيريه صندق (ARTF) سره په مرسته کې هم ډېر رول لري. په 1390 لمريز کال (د 2011 کال مارچ - د 2012 کال مارچ) کې نړيواله ټولنه د ARTF د 933 ميليون ډالرو څخه 85% يې بنده کړه تر څو چې IMF د 2011 کال په نومبر کې د افغانستان لپاره د ECF يوه نوې موافقه تصويب کړه.[594]

د تشويقي فنډ له لارې د ډونرانو مرسته له پخوا نه شتون درلود. په 2008 کال کې د افغانستان د بيارغونې خيريه صندق ډونرانو موافقه وکړه چې د ARTF د تکراري لګښتونو د ابتدايي کلنۍ مصارف کمولو لپاره يو تشويقي پروګرام پيل کړي. په 2012 کال کې يو نوی IP پيل شو، چې د فنډونو پروګراماتيک، څو کلن او تخنيکي بياکتنې او مصارف ته لاره هواره کړي.[598]

د 2013 په نومبر کې، نړيوال بانک او مرستندويانو پدې اړه خبري کړې چې آيا د ARTF د هڅولو پروګرام (IP) مرستو ځينې يا کومه برخه توزيع کړي. پداسې حال کې چې افغانستان د ARTF IP ګڼ شمير معيارونه پوره کړي، خو د ECF غوښتل شوي معيارونو په عملی کولو کې وروسته راغلی دی چې له امله يې د فنډونو يوه برخه بنده شوې ده. پهرصورت، که چيرته د ډونرانو ټولنه معلومه کړی وای چې د ECF په شرايطو کې دا ځنډ په پروګرام کې ستونزه جوړوي، نو د ARTF IP ټول فنډ به يې اوس بند کړی و. بالاخره د ARTF IP د څلورو معيارونو له بشپړ کولو او د IMF له دې لارښونې څخه وروسته چې د ECF پروګرام لا هم فعال دی، 44.8 ميليون ډالر خوشی کړای شو.[595]

روان ECF د 2014 کال په نومبر کې پای ته رسيږي. نوی افغان دولت به د IMF سره د خپل بوختيا کچه معلوموي، او د علاقې په صورت کې به د نوی ECF په اړه خبرې اترې وکړي. د خزانې په وينا په دې موقتي دوره کې IMF او د افغان دولت چارواکو موافقه کړې چې د ساختماني اصلاحاتو او مقداري کړنو څخه خپل څارنې ته ادامه ورکړي.[596]

## د ټوکيو د حساب ورکونې دوه اړخيزه کاري چوکاټ

د ټوکيو د حساب ورکوونې دوه اړخيزه کاري چوکاټ (TMAF)، په 2012 کې د ډونرانو په يوه کانفرانس کې د افغان حکومت او نړيوالې ټولنې په واسطه رامنځته کړی شو، د دې لپاره رامنځته کړی شوی چې تر 2017 پورې له افغانستان سره د نړيواله ټولنې پراختيايي مرستو ته چوکاټ جوړ کړي. ډونرانو پر افغان دولت شرط کيښود چې د دوی راتلونکي مرستې به د دې کاري چوکاټ د معيارونو پوره کولو پورې ارتباط ولري.

متحده ايالاتو د 2013 کال په جولای کې د لوړ پوړو چارواکو په ناسته کې د افغاني اصلاحاتو څخه د ملاتړ لپاره د دوه اړخيزه تشويقي پروګرام په بنه د 175 ميليون ډالرو مرستو اعلان وکړ او دا شرط يې کيښود چې "فنډونه يوازې په هغه صورت کې ورکول کيږي چې ځانګړي پرمختګ وشي." داسې پروګرام نيول شوی دی چې دا فنډونه په دوو برخو — 75 ميليون ډالر او 100 ميليون ډالر — ويشل کيږي او تاديې به يې د افغان دولت له پرمختګ سره ارتباط ولري.[597]

I برخه (75 ميليونه ډالر) له پنځه ساحو سره ارتباط لري:[599]

1. ټاکنې
2. حکومتولي، د قانون حاکميت او بشري حقونه
3. د عامه ماليې او سوداګريزه بانک لرنې انسجام
4. د دولت عايدات، د بوديجې اجرا، او سيمه ايزه حکومتولي
5. جامع او پايداره وده او پراختيا

د همغږۍ او څارنې ګډ خصوصي هييت (JCMB)، چې د افغان دولت، ډونرانو، ملګري ملتونو استازي پکې شامل دي، د 2014 کال د جنوري په 29 نيټه يوه غونډه وکړه تر څو د TMAF د شرايطو عملي کول وارزوي او پدې موافقه وکړي چې د پاتې شوي ژمنو د عملي کولو لپاره کومو ګامونو ته اړتيا لري.[600] USAID د 2014 کال د مارچ په 6 نيټه اعلان وکړ ياده اداره د دوه اړخيزه تشويقي فنډ د I برخې په چوکاټ کې 30 ميليونه ډالره مرسته کوي څکه چې افغان دولت د پنځه ټاکل شوي ساحو څخه په دوه ساحو کې — ټاکنې او د دولت عايدات، د بوديجې اجرا، او سيمه ايزه حکومتولي — کافي پرمختګ کړې ده.[601] پنځلس ميليونه ډالر يې د نړيوال بانک د تکراري مصارفو کړکۍ ته د هغه پرمختګ لپاره ورکړ شو چې په ټاکنو کې يې کړی و — د ټاکنو زماني چوکاټ جوړول، د ټاکنو د کميسيون کميشنران تعينول، د ټاکنو قوانين عملي کول، او د ټاکنو په امنيت کې مرسته کول. متحده ايالاتو هم د هغه پرمختګونو له امله چې د دولتي عايداتو، د بوديجې اجرا، او سيمه ايزه حکومتولي په برخه کې شوي او د ولايتي بوديجې جوړولو لپاره د يو پاليسي مسوده جوړه شوي ده، 15 ميليونه ډالر تاديه کوي.[602]

متحده ايالاتو افغان دولت ته ويلي چې د حکومتولي، د قانون حاکميت او بشري حقونو اړوند 15 ميليونه ډالر او د عامه ماليې او سوداګريزه بانک لرنې په تړاو 15 ميليونه ډالر نه تاديه کيږي، څکه چې په يادو ساحو کې کافي پرمختګ ندی شوی. د عامه ماليې او سوداګريزه بانک لرنې د فنډونو بندولو يو مهم لامل دا و چې افغان دولت د هغه شرايطو په پوره کولو کې پاتې راغلی چې د IMF لخوا د ECF د بياکتنو لپاره اړين و. پاتې 15 ميليونه ډالر چې د جامع او پايداره ودې او پرمختګ سره ارتباط لري هغه وخت افغان دولت ته ورکول کيږي چې د منرالونو د نوی قانون په تصويب کې کافي پرمختګ وکړی. متحده ايالاتو خپله نهايي پريکړه د 2014 کال د اپريل په 16 نيټه کوي.

د II برخې فنډ به د افغانستان نوی دولت ته ورکړ شي.[603]

## بانک لرنه او مالي مديريت

نړيوال بانک په خپل راپور کې ويلي د افغانستان بانک لرنه او مالي سکتور چې تر اوسه پورې د کابل بانک له 2010 بحران څخه ندی وتلی، د ناسم نظم او څارنه، لړه پانګونه، او د مشتريانو د ټيټ اعتماد څخه ځوريږي.[604] د امريکا د بهرنيو چارو وزارت په اند د افغانستان بانکي سکتور د سياسي او اقتصادي ګواښونو سره مخ دی، او د داسې يو بانکي قانون په تصويب او عملي کولو يې مخنيوی کيدای شي چې د څارنې سم ميکانيزم ولري او د پيسو غيرقانوني انتقال/د تروريزم د تمويل په خلاف اقدامات وکړي.[605]

متحده ايالات په 2011 کال کې مرکزي بانک — د افغانستان بانک — ته د مشروط مرستو وړاندېز وکړ چې د ياد بانک لخوا ونه منل شو. شرايط پدې ډول و:

- افغانستان به د IMF ECF پروګرام د شرايطو بشپړ کولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوي؛
- د کابل بانک سهام لرونکو ته په بانکي سکتور کې اجازه ورنکړ شي (رسمي يا غير رسمي)؛
- د ولسمشر کرزي لخوا د خزانې وزارت د مشاورينو هرکلی کولو لپاره څرګند ارتباط ونيول شي؛

- د خزانې وزارت تخنيکي مشاورينو ته په ليکلې بڼه څرګند رولونه، اهداف، د پرمختګ معيارونه، او ژمنې وسپارل شي؛
- د عامه خلکو هغه خبرې ردول چې ګواکې د امريکا متحده ايالات د کابل بانک د بحران مسول دی؛
- د خزانې وزارت د مرستو په بدل کې د افغانستان د مالي سکتور پلان پر ياد وزارت اعتماد وکړي.[606]

د سيګار يوه پلټنه چې په تيره ربعه کې خپره شوه نتيجه ګيري کړې چې د امريکا له مرستې څخه پرته، او يوازې د نړيوال بانک او IMF د مداخلې په نتيجه کې د هيواد د بانک لرنې سکتور بې ثباته پاته کيږي او د لا بې ثباتۍ په لور ځي چې له امله يې د افغانستان د اقتصادي او مالي ودې پايښت له ګواښ سره مخ کيږي.[607]

د خزانې په وينا، کم شمير بانکونه د پانګې له کموالی سره مخ شوي او يوازې محدودو مواردو کې قرضه ورکوي چې هغه هم خپل تړلې ملګرو ته ورکول کيږي — د بانک څخه بهر داسې سوداګريو ته ورکول کيږي چې د بانک د څښتنانو لخوا اداره کيږي. دا کار د ګټو ټکر رامنځته کوي او د بانک پانګې په داسې مواردو کې مصرفيږي چې يادې سوداګرۍ پکې ګټه کوي. همدارنګه د بانک لرنې سکتور تر ډيره حده په ډالرو پورې تړلې ده، چې دا کار افغان مالي بنيادونه د پيسو له خطر سره مخ کوي.[608]

د خزانې په وينا، دا ټولې نښې د وروسته پاتې اقتصاد او د افغاني بانکونو او کنټرولي بنيادونو د کمزورې کيفيت نتايج دي. د خزانې وزارت ويلي چې د افغانستان غوندې هيوادونو په شرايطو کې چيرته بانکونه وغواړي د خپل کوربه اقتصاد په اړه فکر وکړي او د يادو ننګونو د لرې کولو هڅه وکړي، د چاپيريال د وضعيت له امله ډير ورو پرمختګ کوي.[609]

يو څو افغاني بانکونه د نړيوال معيارونو سره سم کار کوي. د نړيوال بانک د 2013 د يوه راپور په وينا، په افغانستان کې د مهمو بانکونو پلټنو چې د کابل بانک له رسوايي وروسته ترسره شوي، "د بانکدارۍ په ټولو ساحو کې د اداري او عملياتونو سيستماتيکې کمزورۍ ښودلې".[610] د امريکا د بهرنيو چارو وزارت وايي چې د افغانستان بانکونه له سياسي لاسوهنې او نظارت نشتون له کبله هم رنځ وړي.[611] پردې برسيره، د پيسو مينځلو او ترووريستانو د تمويل په برخو کې هم د افغانستان کنټرولونه تر ډيرې کچې کمزوري دي.[612]

عام افغانان پر بانکونو اعتماد نلري، او غوره ګڼي چې د خپلو ملګرو څخه پيسې قرض کړي يا خپل پيسې ورته ورکړي، او د خپلو پيسو د انتقال لپاره غير رسمي، خيريه، يا هم د حوالې لارې کاروي.[613] د نړيوال بانک په وينا د کابل بانک له پيښې څخه وروسته تجارتي قرضې په ټپه دريدلې دي او د بانک لرنې سکتور د قرضې-زيرمېنسبت د 2010 کال په پرتله چې 56.8% و په 2012 کال کې 23% ته راټيټ شوی دی.[614] همدارنګه افغانان غوره ګڼي تر څو د خپل ملي پيسو (افغاني) پر ځای چې ورځ په ورځ د ډالرو په وړاندې خپل ارزښت له لاسه ورکوي، بهرنی پولي واحد وکاروي.[615] د افغان مرکزي بانک په وينا، د 2012 کال د جنوري په لومړيو کې يو ډالر په 49 افغاني اخيستل کيده؛ او د 2014 کال د مارچ په 31 دا بيه 58 افغانيو ته پورته شوې ده.[616]

**د قرض-پر-زيرمې نسبت:** د بانک مجموعي قرضې پر مجموعي زيرمو ويشل کيږي او د دې له مخې د بانک تسويه (لنډ مهاله بقا) معلوميږي. دا قيمت په فيصدي ښودل کيږي. دا د فنډونو ايستلو لپاره د پيرودونکو غوښتنې پوښلو ته د مالي نهاد ورتيا محاسبه کولو لپاره کارول کيږي. که نسبت ډير لوړ وي، بانک ممکن د نه وړاندوينه شوې اړتياوو پوښلو لپاره ناکافي پيسو ته بدلول ولري. که چيرته ډير ټيټ وي، نو بانک نشي کولی څومره پيسې چې غواړي تر لاسه يې کړي.

سرچينې: انويستوپيډيا، "د قرضې-پر-زيرمې نسبت،" http://www.investopedia.com/terms/l/loan-to-deposit-ratio.asp، لاسرسي 9/30/2013؛ مالي فورمولونه، "د قرضې پر زيرمې نسبت"، http://www.financeformulas.net/Loan-to-Deposit-Ratio.html، لاسرسي 9/30/2013.

## د بانک لرنې قانون

د بانک لرنې قانون د 2013 کال د جنوري په 28 نیټه د وزیرانو شورا لخوا تصویب شو، خو تر اوسه یو کال کېږي چې د پارلمان لخوا ندی تصویب شوی. د خزانې وزارت په اند نوموړی قانون د شرکتونو د کنترول شرایطو ته وده ورکوي، د پانګې او لویو پانګونو لپاره چوکاټ جوړوي، د بانکونو څخه څارنه زیاتوي، او د بانکي شخړو د حل لپاره اسانتیا برابروي. که دا قانون تصویب شي په مالي سکتور کې د ستونزو په مخنیوی، کمولو، او غبرګون ښودلو کې مرسته کوی. د خزانې په وینا د یاد قانون نه تصویبیدو په صورت کې د مالي سکتور د کنترول او څارنې نواقص به لاهم زیات شي. د افغانستان بانک به د بانکي تنظیماتو په عملي کولو کې لږ واک ولري، د بانک لرنې سکتور مهمې ستونزې په خپل حال پاتې کیږي، او د بانکونو څارونکي به د خپلو دندو په ترسره کولو کې لږ محافظت او واک ولري. که چیرته کوم بل بانک د بحران سره مخ او سقوط وکړي، بیا به هم داسې قانوني چوکاټ ونلرو چې د هغې په رڼا کې د ستونزې سره مخ شوی بانک شخړې حل کړو.[617]

## د پیسو غیرقانوني انتقال

د مالي فعالیتونو وظیفوي څواک (FATF) د 2014 کال د فبروري په 14 نیټه اشاره وکړه چې افغانستان د پیسو غیرقانوني انتقال/د تروریزم د تمویل په ضد (AML/CFT) د مبارزې په رژیم کې پاتې راغلې ده. FATF افغانستان ته پداسې حال کې لاندې سپارښتنې کوي چې د AML/CFT کاري پلان یې جوړ کړې ده خو تراوسه لا صرف قضایي بڼه لري او لازم پرمختګ یې ندی کړی:

- د پیسو غیرقانوني انتقال او د تروریزم تمویل د جرمونو په توګه معرفي کړي؛
- د تروریستانو د شتمنیو د موندلو، تعقیب او کنګل کولو لپاره یو قانوني چوکاټ جوړ او پلي کړي؛
- د ټولو مالي سکتورونو لپاره د څارنې یو مناسب پروګرام عملي کړي؛
- د پیسو د غیرقانوني انتقال د سرچینو ضبط کولو لپاره مناسبې کړنلارې ترتیب او عملي کړي؛
- د مالي مسایلو لپاره یو فعال او عملیاتي استخباراتي څانګه جوړه کړي؛ او
- د پولو څخه پورې غاړې د پیسو انتقالاتو لپاره د کنترول موثر اقدامات پلي کړي.[618]

دا سپارښتنې د هغو مواردو سره ورته دي چې د 2013 کال په جون کې FATF خپاره کړي و.[619] بناء، د FATF ټول غړي د 2014 په فبروري کې د AML/CFT په بررسي کې د نیمګړتیاو درودلو، او د AML/CFT قانون نه تصویبولو له امله افغانستان په "خړ-خاکي" لست کې وشمیرل. که چیرته افغانستان ونه توانیږي د AML/CFT قانون چې پورتنۍ نیمګړتیاوې حلوي، تصویب کړي کیدای شي د FATF په راتلونکی عامه بیانیه کې چې د 2014 کال په جون کې خپریږي، په "تور لست" کې ونیول شي.[620] افغانستان کیدای شي د هغه نهو هیوادونو سره یوځای شي چې په یاد لست کې شامل دي — الجیریا، اکوادور، ایتوپیا، اندونیزیا، میانمار، پاکستان، سوریه، ترکیه، او یمن. ایران او شمالي کوریا په شدید تورلست کې شامل دي او د دوی په وړاندې "مخالف اقدامات" عملي شوي دي. د FATF ټیټه درجه به د افغانستان بانکي سکتور لا هم زیانمن کړي. په شدیدو حالاتو کې کله چې نړیوال مالي سیستم له ګواښ سره مخ شي د FATF له غړو هیوادونو څخه غوښتل کیږي

---

**د مالي فعالیتونو وظیفوي څواک (FATF):** یوه دولتي پالیسي جوړونکی اداره ده چې د پیسو غیر قانوني انتقال، د تروریستانو د تمویل مخنیوی او د نړیوال مالی سیستم په وړاندې د هر ډول ګواښ لرې کولو لپاره معیارونه وضع کړي او قوانین، مقررات، او عملي ګامونه په سمه توګه پلی کړي.

سرچینه: د مالي فعالیتونو وظیفوي څواک، "مونږ څوک یو"، لاسرسي 4/2/2014.

چې مخالف اقدامات عملي کړي، مثلاً، د هغه هيو ادونو بانکونو ته اجازه ورنکړي چې د دوی په خاوره کې خپلې څانګې او فرعي دفاتر پرانيزی کوم چې د دوی له نظره لوړ خطر سره مخ دي.[621] همدارنګه دا کيدای شي د افغاني بانکونو له لارې د مرستو او همکاريو انتقال ته هم زيان ورسوي.[622]

د افغانستان ګڼ شمير بانکونه د 2013 کال د نومبر په 30 نيټه، د جرمني له کومرزبانک سره يې خپل ډالري کمکي تعلقات له لاسه ورکړ. دا د پيسو پر اساس ولاړ بانک د افغاني بانکونو سره خپل تعلقات ختم کړ تر څو د هغه خطرونو په څارنه کې خپل دقت زيات کړي چې ګڼ شمير برتانوي بانکونه يې دې ته اړ کړي چې د امريکا د پيسو غيرقانوني انتقال د تورونو لپاره زښت زيات تاوانونه په غاړه واخلي. د خزانې په وينا، کيدای شي نور بانکونه هم د افغاني بانکونو سره خپل تعلقات سخت کړي.[623]

## کابل بانک

سره له دې چې د ابتدايي او استيناف محکمې لخوا ترې غوښتل شوی و د افغانستان لوی څارنوالي (AGO) پدې ربعه کې د کابل بانک د دوسيې په اړه هيڅ کوم نوی کس تعقيب يا مجرم ونه ګڼله او نه يې هم اضافي کسان په ياده دوسيه کې تورن کړ.

د امريکا بهرنيو چارو وزارت د نړيوالو مخدره توکو په ضد د مبارزې او د قانون حاکميت اداري ويلي چې په درغلي تورن شوي کسان د ميليونو ډالرو په ارزښت داسې شتمني لري چې کيدای شي د ضبط او مصادرې وړ وي.[624] د امريکا عدليې وزارت (DOJ) پدې ربعه کې بيا هم د لوی څارنوالۍ له دفتر سره د نورو کسانو د تعقيب خبره ياده کړه خو د يادې اداري لخوا ونه منل شو. لوی څارنوال وويل چې "تحقيقات روان دي" او کومه ادعا چې DOJ سيګار ته ويلې و له اعتباره خالي و. کوم دلايل او شواهد چې د نورو برخه لرونکو د تعقيب لپاره ضروري دي هماغه دي چې د درغلۍ دوه اصلي کسانو په نيولو کې کارول شوي و — د بانک پخوانی رييس شيرخان فرنود او پخوانی اجرايي رييس خليل الله فيروزي.[625] د لوی څارنوالۍ دفتر د 2014 کال په جنورۍ کې د استيناف محکمې د فرمان په اساس يوه غونډه جوړه کړه او د هغه برخه لرونکو څخه چې ندي نيول شوي — د مخکينی رييس فرنود او مخکينی اجرايوي رييس فيروزي سره يوځای — غوښتنه وکړه تر څو د مدعي عليه کسانو، څارنوالانو، او د کابل بانک له اخيستونکی سره يوځای حاضر شي او د مدعي عليه کسانو د قرضو شخړې هوارې کړي. يوازې دوه برخه لرونکې غونډې ته حاضر شول. دويمه غونډه په پام کې نيول شوې ده خو وخت يې لا ندی تعين شوی.

د DOJ په وينا، د مالي شخړو د حل کميسيون چې د هغه شخړو د حل لپاره ټاکل شوی و چې د کابل بانک د اداري لخوا د حل کيدو وړ ندي، وايي چې ټولې حسابي شخړې يې حل کړي او نور د دوی غونډو ضرورت نه ليدل کيږي.[626]

کابل بانک مخکې له دې چې په 2010 کال کې سقوط وکړي د افغانستان ترټولو لوی خصوصي بانک و چې د دولتي مامورينو د معاشاتو ډيره برخه يې د افغان دولت له لوري ويشل. 935 مليون ډالرو دباندې 92% چې د بانک څخه غلا شوي و 19 افرادو او پانګ پورې اړوند شرکتونو ته تللي. د افغانستان مرکزي بانک، د افغانستان بانک، دا تاوانونه ورکړ چې په هغه وخت کې د افغانستان د GDP، 5–6% کيده.[627]

د 2013 کال د مارچ په 5، د سترې محکمې ځانګړې هييت د 21 کسانو په اړه چې په درغلۍ تورن شوي و، خپله فيصله واروله. د درغلۍ دوه مشران، پخوانی رييس شيرخان

**اړوند بانکي حسابونه:** هغه بانکي حسابونه دي چې د بهرنيو مالي تاسيساتو لخوا د متحده ايالاتو په بانکونو کې پرانيستل کيږي تر څو د امريکا مالي سيستم ته لاسرسی پيدا کړي او له داسې خدماتو او محصولاتو څخه ګټه واخلي چې د خپل هيواد په قضايي سيستم کې يې نشي ترلاسه کولی.

**د پيسو په اساس ولاړ بانکونه:** هغه بانکونه دي چې خپل فنډونه د پيسو له ملي او نړيوالو بازارونو څخه لاسته راوړي او پر خپلو زيرمو ډير اتکا نه کوي.

سرچيني: د فيدرال مالي تاسيساتو د معاينې کونسل د بانک د محرميت لايحه/د پيسو د غير قانوني انتقال په ضد انفوبيز، "اړوند بانکي حسابونه (بهرني) - عمومي کتنه"، لاسرسي 10/1/2013؛ سرچينه: انويستوپيډيا، "د پيسو په اساس ولاړو بانکونو تعريف"، لاسرسي 1/10/2014.

فرنود او پخوانی اجرايي رييس خليل الله فيروزي، په امانت کې د خيانت په جرم محکوم او په اعظمي ډول پنځه کاله د بند سزا ورکړ شو. لوی څارنوالي د 2013 کال د مارچ په 16 نېټه د استيناف غوښتونکی شو.[628] د استيناف محکمې پرېکړه تراوسه لا معلومه نده.[629]

## محدود نقدي پيسې او د شتمنيو بيرته لاس ته راوړل

د راپور ورکولو پدې موده کې، له کابل بانک څخه د غلا شويو پيسو بيرته لاسته راوړلو په اړه کومو نويو معلوماتو شتون ندرلود.[630] د دغو معلوماتو يوازينی سرچينه، د افغانستان مرکزي بانک د 2013 د جون له 30 د سپتمبر تر 30 پورې 6.13 ميليونه امريکايي ډالر نغدې پيسې ثبت کړې، چې ټولټال بيرته لاسته راوړل شويو پيسو مقدار 174.5 مليون ډالرو ته رسوي. پدې کې د کابل بانک د انتقالاتو 16 ميليون ډالر هم شامل دی چې په پلان کې نيول شوی و خو د بانک له محافظوي دوري څخه وروسته بيا نه و ورکړ شوی، همدارنګه 1.49 ميليون ډالر چې د محکمې د فرمان په اساس ورکړ شوی، او د قرضې 0.45 ميليون ډالر هم شامل دي. تر اوسه پورې د اخيستل شوي پيسو مجموعه د غلا شوي پيسو له 20% څخه لړه ده.[631]

State INL ويلي چې د لوړې کچې اداري فساد د تعقيب په برخه کې د اپريل مياشتې تر ټاکنو پورې د افغانستان ونډه کمزورې وه. AGO پدې ربعه کې ټاکل شوې غونډې لغوه کړې.[632] همدارنګه، د DOJ په اند د کابل بانک غلا شوي پيسو د ډېرو مبالغو په بيرته اخيستو کې سياسي غوښتنه نشته ده. د مثال په ډول، ګازګروپ چې د کابل بانک پخوانی اجرايي رييس خليل الله فيروزي دی او د 100 ميليونه ډالرو څخه زياتې پيسې يې غيرقانوني قرضې اخيستي، له دولت سره يې موافقه کړې ده چې له دې قرضو سره به هر مياشت 20,000 ډالر سود ورکوي. د کابل بانک د تحويلاتو څانګه د امريکا عدليې وزارت ته پدې ربعه کې ويلي چې ګاز ګروپ له څو مياشتو څخه راهيسې دولت ته خپل تاديات بند کړي. سره له دې چې د تحويلاتو څانګه له لوی څارنوالي څخه د مداخلې غوښتنه کړې خو ياده اداره هيڅ کوم جزايي اقدام ندی اخيستی.[633]

## نوی کابل بانک

خصوصي سکتور ته د نوی کابل بانک خرڅول د اوږدې مودې څخه د افغانستان مرکزي بانک او د نړيوالې ټولنې له اهدافو څخه دی.[634] د ګرانټ تورنتن LLP په نوم د محاسبې شرکت چې په 2012 کال کې يې د کابل بانک مالي پلټنه کړې وه وايي چې ياد بانک د موفقه خصوصي کولو څخه پرته نشي کولی خپل کارونو ته ادامه ورکړي. NKB د 2012 کال په هرمياشت کې په اوسط ډول 1.85 ميليونه ډالر له لاسه ورکړي ده.[635] د افغاني چاروکو په وينا، د ياد بانک مياشتنی عملياتي ضايعه د بيې له کميدو سره يوځای 700,000 ډالرو ته رسيږی.[636]

د IMF او خزانې په وينا نوی کابل بانک به تر خرڅيدو پورې د قرضې د توان نه درلودلو، د خرڅيدو څخه مخکې د قرضې محدوديت، او د شتمنيو د مديريت لپاره د محافظتي ستراتيژۍ د اړتيا په سبب نور عملياتي تاوان هم وکړي.[637] د نوی کابل بانک د عايداتو يوازينی منبع د دولتي مامورينو معاشات دي چې د ياد بانک لخوا ويشل کيږي — د داخلې، دفاع او معارف د وزارتونو شاوخوا 450,000 مامورين په دې بانک کې حسابونه لري. NKB د دې خدمت له لارې هر مياشت د ماليې وزارت څخه 550,000–600,000 ډالر تر لاسه کوي.[638]

**نوی کابل بانک (NKB):** يو موقتي "پلبانک" دی چې د کابل بانک اسباب او پولي زيرمې پکې دي. د نوی کابل بانک خصوصي کول چې د دولت سلهاوو زره کار کونکو ته معاشات او د پيسو د مستقيم زيرمه کولو خدمات وړاندې کوي، د ECF يو معيار دی.

سرچينه: IMF، "د افغانستان اسلامي جمهوري دولت - د غزول شوي قرضې سهولت د برابرولو لپاره لومړی بياکتنه، د کړنې د يو معيار په نظر کې نه نيولو، د کړنې د معيار بدلولو، او د تادياتو د مراحلو بيا ټاکلو لپاره درخواست"، 6/19/2012، لاسرسي 1/3/2014.

د افغانستان د وزيرانو شورا د نوي کابل بانک د کنټرلولو لپاره د مالیي وزارت د 2013 د دسمبر 29 د دوو داوطلبيو پريکړې ندي تاييد کړي.[639] د امريکا د بهرنيو چارو وزارت په وينا، د وزيرانو شورا پدې اړه انديښنه لري چې د دواطلبيو وړانديزونه ډېر ټيټ و او د خصوصي بانک لخوا د حکومت د معاشونو تادياتو ترسره کيدل ډېر مهم دي. دوی له دولت څخه غوښتی د هغه مصارفو تفصيلي راپور ورکړي چې د NKB د ملکيت ساتلو لپاره يې ورکوي.[640] د افغانستان مرکزي بانک دا هم بايد معلومه کړی چې آيا ګټونکی لوری د "سم او مناسب" معيار پوره کوي که نه. د خزانې وزارت په وينا ياده پروسه پيل شوې ده.[641]

IMF "سم او مناسب داوطلب" داسې چاته وايي چې د خطر مديريت او داخلي کنټرول سربيره د شرکت د اداره کولو لپاره له لوړو معيارونو څخه پيروي وکړي؛ د مالي او د خطر د مديريت له نظره مناسب وضعيت ولري؛ او د معاشاتو د تاديې خدمت ترسره کولو لپاره کافي سرچينې په واک کې ولري.[642] د افغانستان د بانک لرنې د قانون په مسوده کې بيا سم او مناسب داوطلب هغه چاته وايي چې "د يوه معتبره محکمې لخوا د کوم جرم يا سرغړونې له امله بندي شوی نه وي، مګر دا چې داسې سزا د هغې د ديني يا سياسي نظرياتو يا فعاليتونو په نتيجه کې ورکړ شوی وي." د خزانې په وينا، FATF دا يې له ټاکل شوی معيار څخه د تيښتې لاره پريښې ده.[643]

## د متحده ايالاتو د اقتصادي ملاتړ ستراتيژي

په افغانستان کې د متحده ايالاتو د اقتصادي ليرد ستراتيژي لکه څنګه چې د متحده ايالاتو د 2013 کال په ملکي-پوځي ستراتيژيک چوکاټ کې راغلې ده غواړي چې د 2014 کال له پای ته رسيدو سره د نړيوال سوله ساتي ځواکونو له وتلو او د بسپنه ورکونکو د مرستې متوقع کمښت له امله منفي اقتصادي اغيزې کمې کړي. دا همدارنګه د افغانستان سره مرسته کوي تر څو د پايداره ودې لپاره خپلې زيرمې په کار واچوي.[644] د ESF د مرستې ډېرې برخې د USAID په پراختيايي پروګرامونو کې لګول کيږي. 3.34 شکل په راتلونکی مخکې د USAID مرستې د هر سکتور په اساس ښيي.

USAID پدې ربعه کې د 300 ميليونه ډالرو په ارزښت د درېو پراختيايي فعاليتونو اعلان وکړ تر څو له 2014 څخه وروسته د افغانستان د اقتصاد له زيات سقوط څخه مخنيوی وکړي. دا پروګرامونه په دريو ساحو تمرکز کوي:[645]

1. د کرهنې سکتور، د اګری بيزنس پرمختګ او بازار ته د محصولاتو د رسولو په شمول (125 ميليونه ډالر)
2. مالي ثبات، د مالياتو او نورو عوايدو د سم راټولولو په شمول، او د افغانستان په مخ کې د نړيوال تجارت او پانګه اچونې لاره پرانيستل (77 ميليون ډالر)
3. د زده کړې سکتور، د 10 افغاني پوهنتونو سره د مرستې په شمول، تر څو داسې ځوان کاري ځواک وروزي چې په دولتي او خصوصي سکتورونو کې د کار جوګه وي (شاوخوا 100 ميليونه ډالر)

شکل.3.34

**د یو ایس آیي ډي د پرمختیا مرسته، له 31 مارچ تر 2014 سره سم مجموعي** (په ملیونونو ډالرو)




یادونې: ارقام برابر کړای شوي دي.

[a] د پروګرام د ملاتړ په پروژو کې شامل دي د ملکي تخنیک تقویت، د کاري وړتیا معیارونه، د نتیجو تعقیبول، وزارتونو سره تخنیکي مرسته، او ARTF ته بودیجې.

سرچینه: یو ایس آیي ډي، د SIGAR د ډاټا غوښتنې ځواب، 4/7/2014.

## افغان دولت سره د بودیجې په چوکاټ کې د USAID مرسته

سیګار پدې اړه لاهم اندیښنه لري چې له 2014 کال ځخه وروسته چې نړیوال سوله ساتي ځواکونه له هیواد ځخه وځي آیا د متحده ایالاتو تطبیق کونکي اداري د امریکا په فنډ چلیدونکي بیارغونیزو پروژو ځخه د څارنې وړتیا لري که نه. متحده ایالات د ټوکیو کنفرانس د ژمنو په اساس چې په 2012 کال کې ترسره شو او وروسته په 2013 کال کې د لوړ پوړو چارواکو د کتنې په اساس په تدریجي ډول د افغان دولت سره د بودیجې په چوکاټ کې د خپلو مرستو کچه زیاتوي.

د متحده ایالاتو ډیرې اداري ټولې هغه مرستې د بودیجې په چوکاټ کې شمیري چې مستقیما له دولت ځخه دولت ته ورکول کیږي او یا هم څو اړخیزه خیریه صندقونو ته لیږدول کیږي لکه د افغانستان د قانون او نظم خیریه صندوق (LOTFA)، د افغانستان د بیارغونې خیریه صندوق (ARTF)، او د افغانستان د زیربنا خیریه صندوق (AITF). دا فنډونه چې په ترتیب سره د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام (UNDP)، نړیوال بانک، او د ADB لخوا اداره کیږي د افغان ملي بودیجې ځخه ملاتړ کوي. افغان دولت دې فنډونو ته معلومات، لارښونه او څارنه برابروي، او ځینې پروژې د افغان حکومت لخوا عملي کیږي خو فنډونه په بشپړه توګه د افغان دولت تر کنترول لاندې ندي.[646] په 67 مخ کې د متحده ایالاتو د هغه مرستو په اړه تفصیلي معلومات موندلی شی چې له افغان دولت سره یې د بودیجې په چوکاټ کې کوی.

USAID پدې ربعه کې د تیر مالي کال له فنډونو ځخه د بودیجې په چوکاټ کې — د ARTF په شمول — نږدې 117 میلیون ډالر مقید او 24 میلیون ډالر تادیه کړي ده. لکه څنګه چې په 3.35 شکل کې ښودل شوي ده USAID د 2014 کال د مارچ تر 31 پورې د بودیجې په چوکاټ کې مجموعا 3 میلیارډه ډالر مقید او 2.14 میلیارډه ډالر یې تادیه کړي ده.[647]

### د سیګار پلټنه

د سیګار یوه پلټنه چې په تیره ربعه کې خپره شوه د هغو افغاني وزارتونو ارزونه کړې وه چې د امریکا دولت ځخه یې دوه اړخیزه مستقیمه مرستې ترلاسه کولې. دې ارزونو د فنډونو د اداري او حساب ورکونې په برخو کې د وزارتونو بیاکتنه کړې وه. د راپور له خپریدو ځخه وروسته USAID د دغو 16 وزارتونو له منځ نه د اوو په اړه یې د خطرونو بیاکتنه بشپړه کړه. د سیګار پلټنې معلومه کړه چې د دې ارزونو او بیاکتنو ځخه ښکاري چې د خطر کمولو د معیارونو له پلي کولو ځخه پرته هیځ یو وزارت نشي کولی د ورکړ شوې مرستو اداره او حساب ورکونه په موثره توګه وکړي.

## د طبیعي زیرمو پراختیا

متحده ایالاتو، افغان حکومت او د ډونرانو نړیواله ټولنه د اقتصادي پراختیا څخه د ملاتړ لپاره په ځانګړی ډول د مرستو کمیدو څخه وروسته د افغانستان پر طبیعي زیرمو ډیر حساب کوي. که څه هم کان کیندنه تر اوسه پورې د هیواد په GDP کې د 2% څخه لږه برخه اخیستې، خو افغان حکومت تمه لري په عینک (مس) او حاجي ګک (د اوسپنې ډبرې) پروژو کې او همدارنګه د افغان تاجک حوزې د تیلو او ګاز په پروژو کې د پراخه پانګه اچونې څخه زیات عواید تر لاسه کړي.[648]

3.35 شکل

**له 31 مارچ تر 2014 سره سم د یو ایس آیي ډي د داخلي بودیجې مرستې چې ضمناً منل شوي او مصرف شوي، مالي کال 2002 - مالي کال 2013** (په ملیونونو ډالرو)




یادونې: ارقام برابر کړای شوي دي. ضمني منل شوې د پروژې د کچې د موافقو بودیجه ده.
[a] له 31 دسمبر 2014 سره سم د یو ایس آیي ډي د مالي کال 2012 د داخلي بودیجې زیاته مرسته نه ده مصرف شوې.
[b] په 2013 کې مصارف د تېر مالي کال د بودیجې نه شوې وو. مالي کال 2013 لپاره ضمني منل شوې او مصارف تر دې دمه نه دي معلوم.

سرچینه: یو ایس آیي ډي، د SIGAR د ډاټا غوښتنې ځواب، 4/7/2014.

د امریکا د دفاع وزارت وایي چې د افغانستان د منرالونو زیرمې کولی شي ډیر عواید او د کار موقې چمتو کړي.[649] پهرصورت، سیګار په ثابت ډول خبرداری ورکړی چې افغان حکومت د هغه ستونزو له امله چې د زیربنا په برخه کې لري په خاصه بیا د خراب امنیتي شرایطو په نظر کې نیولو سره په لنډ وخت کې نشي کولی چې د خپل طبیعي زیرمو څخه ډیر عواید لاسته راوړي.

په دې ربعه کې د تجارت او ثبات د عملیاتونو وظیفوي ځواک (TFBSO) یوځل بیا خبرداری ورکړ چې د کان کیندنې نړیوال اقتصاد نوی پانګونه محدود کوي، او ګن شمیر شرکتونه او مالي متخصصین افغانستان ته د ډیر خطرناک محیط په سترګه ګوري.[650]

"TFBSO د امريکا د دفاع وزارت په نمايندګۍ او د بهرنيو چارو وزارت په موافقې سره په ستونزمنو او جنګ ځپلي سيمو کې کار کوي تر څو د اقتصاد د پرمختګ ستراتيژيکې موقې معلومې کړي او د خصوصي سکتور د ودې لپاره لاره هواره کړي، او په نتيجه کې د اقتصاد اوږدمهاله ودې لپاره شرايط برابر کړي." د 2014 کال د مارچ تر 31 پورې د مجموعي تخصيصاتو کچه 804 ميليونه ډالرو ته رسيږي.

سرچينه: TFBSO، "د سوداګرۍ او ثبات د عملياتو لپاره وظيفوي خواک، د 2013 مالي کال د ليږد پلان او د ليږد د عملي کيدو راپور"، 8/19/2013، مخ 1.

## د TFBSO ليږد

TFBSO چې د 2014 کال تر پايه پورې خپل کارونه په افغانستان کې پای ته رسوي خپل ټولې پروژې يو افغاني وزارت، يو خصوصي سوداګرې، يا هم د متحده ايالاتو کومې بلې ادارې ته سپاري.[651] کانګرس مخکې له مخکې د 2014 مالي کال د ملي دفاع د واکمنۍ په لايحه کې غوښتي و چې د امريکا دفاع وزارت د بهرنيو چارو وزارت يا USAID ته د TFBSO د سپارلو په اړه يو پلان جوړ کړي او نوموړی پلان بايد د امريکا دفاع وزارت لخوا په هر 180 ورځو کې بياکتنه، اصلاح او لاسليک شي.[652] پداسې حال کې چې د TFBSO کوم پروګرام تراوسه پورې USAID يا د متحده ايالاتو کومې بلې ادارې ته د سپارلو لپاره ندی وړاندې شوی، د کان کيندنې څخه پرته د نورو پروګرامونو ډيری برخې لپاره د ليږد راپورونه د جوړيدو په حال کې دي.[653]

## د منرالونو نوی قانون

د منرالونو نوی قانون د ډير ځنډ څخه وروسته په تيره ربعه کې د ولسي جرګې د طبيعي زيرمو د کميټې لخوا تصويب شو او د ولسي جرګې د بشپړ مجلس تصويب لپاره انتظار کوي. پارلمان د 2014 کال د جنوري له منځ څخه د فبروري تر پايه پورې د 45 ورځو لپاره رخصت و. که څه هم ولسمشر کرزي ويلی و چې دی به د قانوني رخصتۍ په موده کې د ولسمشرۍ فرمان له لارې ياد قانون پلي کړي، خو دا کار يې نشو کولی.[654]

د پارلمان غړي په دوامداره توګه د ياد قانون د موادو په اړه د منرالونو او پټروليم وزارت (MOMP) له چارواکو څخه د څرګندونې غوښتنه کوي. د TFBSO مشورتي ډلې د پارلمان د غړو پوښتنو ته ځواب ورکړ چې ډيری برخه يې د کان کيندنې حقونو او د حق الامتياز په اړه و. ياده ډله همدارنګه د پارلمان ليوالو غړو ته د جيولوژيکی مسايلو او د پانګونې غوره تجربو په اړه ګڼ شمير معلوماتي غونډې جوړې کړې.[655]

## د پانګه اچونې په وړاندې خنډونه

د منرالونو په قانون کې وړانديز شوی بياکتنې ځکه په نظر کې نيول شوي چې افغاني زيرمې په ښه توګه وساتل شي، پانګه اچونکي وهڅول شي، او اړوند مقررات د نړيوالو غوره تجربو سره يو شان کړي. د افغانستان د عايداتو زياتولو او د مالي او خارجي پايښت د ودې لپاره پدې اړه د نوی قانون تصويب د ټوکيو د حساب ورکونې دوه اړخيزه کاري چوکاټ يو مهم شرط دی.[656] TFBSO پدې باور دی چې د پارلمان غړي ياد قانون ځکه ځنډوي چې د سياسي خطر منلو ته اماده ندي، همدارنګه وايي چې د پارلمان ځينې غړو د جيولوژيکی معلومات او د مزايدې په ځينې جوړښتونو باندې لکه حق الامتياز، د پوهې نه درلودلو له امله داسې فکر کوي چې ياد قانون د بهرنيو په ګټه جوړ شوی او افغانستان ته زياته ګټه نلري. داسې يو قانون ته رايه ورکول چې بهرنيو بانګونو ته د افغانستان دروازه پرانيزي کيدای شي خطرناک وي او په ولسواليو کې د دوی موقعيت ته تاوان ورسوي.[657]

د امريکا دفاع وزارت TFBSO خبرداری ورکړی چې د داسې يوقانون څخه پرته ګڼ شمير شرکتونه په نوی داوطلبيو کې ګډون نکوي چې د پانګه اچونکې کشف د استخراج له حقونو سره ونښلوي، او د حق الامتياز لپاره يو رسمي او ثابت قيمت وضع نکړي.[658] دا واضحه نده چې د قانون وروستی مسوده ياده اړيکه ورکوي که نه.[659] د طبيعي زيرمو



د سیګار کارکونکي او **څانګړی مفتش سوپکو** د قالین پاکولو له یو مرکز څخه لیدنه کوي چې د TFBSO لخوا جوړ شوی دی. (د سیګار تصویر د سمیث اندیرسن لخوا)

په اړه د شفاف مالي رژیم د چمتو کولو لپاره په قانون او د عدلیې وزارت په کړنلارو کې اصلاحات راوستل د IMF یو ډېر مهم ساختماني معیار دی.[660]

TFBSO پدې باور دی چې د منرالونو نوی قانون باید د نورو هیوادونو له قوانینو سره د مقایسې وړ وي تر څو د غربي پانګو د جذب جوګه شي. د قانون په تصویب کې ځنډ، پانګونکي دې ته اړ کوي چې ډېر په احتیاط ګامونه واخلي، البته دا د افغانستان د استخراجي صنعت په وړاندې یوازینی خنډ ندی. د کان کیندنې خصوصي شرکتونه په څرګنده توګه د هیواد د کړکیچن امنیت په اړه اندیښمن دي. د کان کیندنې په صنعت کې د پانګې نشتون یو بله ستونزه ده. که چیرته پانګې ډیرې وای د TFBSO په اند به د کان کیندنې د نوی قانون ځنډ ډیره د اندیښنې وړ نه وه.[661]

د کانونو نوی قانون د ځنډ له امله ګڼ شمیر قراردادونه معطل شوي دي، چې پدې کې د حاجي ګک (د اوسپنو ډېرې چې د 2011 کال په نومبر کې ورکړ شوی)؛[662] شیدا (د مسو کان، 2012 نومبر)؛ بدخشان (سره زر، نومبر 2012)؛ بلخاب (مس، نومبر 2012)؛ او زرخشان (سره زر، ډیسمبر 2012).[663]

## د کانونو او پترولیم وزارت، د افغانستان د پترولیم ادارې، او د افغانستان د جیولوژیک سروی سره مرسته

متحده ایالات پدې ربعه کې بیا هم د TFBSO، USAID او د متحده ایالاتو د جیولوژیک سروې (USGS) له لارې د کانونو او پترولیم وزارت، د افغانستان د پترولیم ادارې (APA)، او د افغانستان د جیولوژیک سروې (AGS) سره خپل مرستو ته ادامه ورکړه. دا ادارې د منرال او هایدروکاربن په مزایدو کې او همدارنګه د تیل او ګاز د معلوماتو د مدیریت په برخو کې مرسته کوي.

USGS د افغانستان د جیولوژیک سروې ادارې ته ساحوي او د کار په سر د اړوندو کانونو د معلوماتو راټولولو او تنظیم کولو په برخو کې ترینګ ورکوي. پدې ترینګونو کې د نقشې اخیستلو او جوړولو سافټ ویر، جیوفزیک، او د هایپرسپکټرل تصویر اخیستنې مهارتونه ښودل کیږي. مخکینی روسي راپورونه او نقشې چې په 1970s او 1980s کلونو کې اخیستل شوي د AGS جیولوژیستانو ته د بالقوه کانونو په اړه معلومات ورکوي. USGS او TFBSO د 2014 کال د مارچ په 10 د هایپر سپکټرل نقشو 60 سیټونه خپارل کړل چې پدې کې د افغانستان توپوګرافیک موقعیت او منرالي شتمنیو په اړه تشریحي انځورونه ښودل شوي و. MOMP د دې نقشو په مرسته کولی شی راتلونکی پانګونې جذب کړي. TFBSO وایي چې افغانستان د نړۍ له هغو هیوادونو څخه دی چې ډیرې جیولوژیکي نقشې لري.[664]

TFBSO او USAID د افغانستان د پترولیم ادارې ته د اړوند موضوع ماهرین چمتو کوي. پدې کې د آمو دریا د کشف او تولید د شریکي قرارداد لپاره تخنیکي (د تیلو او ګاز انجنیران)، قانوني (د قرارداد تطبیق)، او مالي (محاسبه او تحلیل) مرستې شامل دي.[665]

د 2014 د مارچ تر 31 پورې، TFBSO په 2014 مالي کار کې د کانونو د سکتور پراختیا لپاره 8.6 میلیونه امریکایي ډالر مکلف کړي دي. ټاکل شوې ده چې د TFBSO واک او صلاحیت د 2014 کال په آخر کې پای ته ورسیږي.[666]

## د معادنو پانګونه او پراختیا د افغانستان د بقا لپاره

د افغانستان د بقا لپاره د کان کیندنې پانګونه او پراختیا (MIDAS) د کان کیندنې په برخه کې د USAID یوازینی پروګرام دی چې د بودیجې په چوکاټ کې او د هغې څخه بهر 86.6 میلیونه ډالر فنډ لري. د بودیجې له چوکاټ څخه بهر 41.6 میلیون ډالر چې I پړاو دی په دغو برخو تمرکز لري: د قانون او مقرراتو اصلاحات او د MOMP سره تخنیکي مرسته، د وړو او متوسطو پانګه اچونو پراختیا، او د جیوساینس په تحقیقاتو کې مرسته. دا به د اړتیا سره سم نور ملاتړ چمتو کړي. د بودیجې په چوکاټ کې 45 میلیون ډالر مرسته چې II پړاو دی تراوسه ندی پیل شوی، خو موخه یې دا ده چې MOMP سره مرسته وکړي تر څو د کان کیندنې د مزایدو د تدارکاتو، تطبیق او څارنې جوګه شي. USAID د بودیجې د چوکاټ څخه بهر د پروګرام د تطبیق لپاره د 2014 کال د مارچ تر 31 پورې 16 میلیون ډالر مقید او 5.05 میلیون ډالر تادیه کړی ده.[667]

MIDAS پدې ربعه کې د مختلفو موضوعاتو په اړه لکه د کان کیندنې اساسات، د منرال اقتصاد، د تجارت د ارزښت کړی، او قانوني او تنظیمي اصلاحاتو په برخو کې د MOMP چاواکو، ټولنو، مدني ټولنو، او خصوصي سکتور ته ګڼ شمیر ورکشاپونه جوړ کړ. د دریو ساحو لپاره د استخراج پلانونه چمتو شوي او د ډونرانو د همغږۍ ناستې هم جوړې شوې تر څو د پروژو له تداخل څخه مخنیوی وشي. د کانونو او پترولیم وزارت او د مالیې وزارت د هغه تفاهم لیک په عملي کولو کې لړ پرمختګ کړی چې د بودیجې په چوکاټ کې د فعالیتونو لپاره یې کړي و، او همدارنګه د تطبیق پاتې هغه شرایطو او موارد یې هم په نظر کې ندي نیولي کوم چې له USAID سره یې موافقه کړې وه.[668]

## د کانونو او پترولیم وزارت ظرفیت

د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره د TFBSO د ستراتیژۍ یوه برخه دا ده چې د افغانستان د طبیعي زیرمو په پر پراختیا کې کار وکړي. TFBSO کانګرس ته د خپل لیږد په راپور کې لیکلي چې د پروژو د پلان جوړونې او اجرا په ټولو مراحلو کې له افغانانو سره د دوی د ملګرتیا په نتیجه کې به "افغانان وکولی شي د روانو پروژو چارې په غاړه واخلي."[669]
TFBSO ویلي چې MOMP د مزایدو ارزونه او قرارداد او د قرارداد د خبرو اترو او لاسلیک کولو ټول مسولیتونه په غاړه اخیستي یا هم اخلي. که چیرته په یادو مواردو کې کومه ستونزه پیدا شي TFBSO مرسته او څارنه کوي، خو رسمي ترینګ نه ورکوي.[670]

TFBSO د دې وزارت ځینې نواقصو ته په خاصه توګه د ظرفیت، څارنې او نظارت په برخو کې هم اشاره وکړه. یاده اداره له USAID څخه غوښتنه کوي چې دغو ساحو ته په خپل MIDAS پروګرام کې توجه وکړي. TFBSO وایي چې د MOMP د تکړه کارکونکو نه درلودل د دې لامل کیږي چې هغه لړ کسان چې په کار پوهیږي له خپل حد او اندازې څخه زیات کار وکړي. د همدې لپاره سپارښتنه کوي چې د استخدام او دظرفیت لوړاوي اوږمهاله پروګرام پلي کړای شي.[671]

## د کانونو امنیت

ولسمشر کرزي د 2014 کال د فبروري په 17 نیټه فرمان ورکړ چې افغان عامه محافظت ځواک (APPF) — چې د کانونو امنیت یې په غاړه و — منحل کړای شي. کومې دندې چې د APPF خوا ترسره کیدې د داخلې وزارت (MOI) تر سرپرستۍ لاندې افغان ملي

> ### د سیګار پلټنه
> د سیګار یوه پلټنه چې پدې ربعه کې اعلان شوې ده پدې اړه څیړنه کوي چې آیا د افغانستان د استخراجي صنایعو او سرچینو د ثبات په برخه کې د TFBSO او USAID پروګرامونه څومره رول لوبولي او د ستونزو په حل کې یې مرسته کړې ده. د لازیاتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 30 وګورئ.

پولیسو ته وسپارل شو. دا لا واضحه نده چې د استخراجي سکتور سربیره د متحده ایالاتو او نړیوالو هیوادونو د پرمختیایي پروژو او اړوندو کارکونکو امنیت به څوک ټینګوي.[672]

فعلا د داخلي وزارت او د افغان عامه محافظت ځواک د MOMP سره د یو قرارداد څخه وروسته د دې کار لپاره افراد استخدام او ترینګ ورکوي. د راپور تر دې دورې پورې MOMP یوزاې د مس عینک، د شمالي آمو دریا حوزې، او د شبرغان ګاز په اړه د افغان عامه محافظت ځواکونو سره قرارداد کړی دی.[673] معلومه نده چې د APPF په تشکیلاتو کې دا تغیر د کانونو پر امنیت څه اغیزه وکړي.

متحده ایالاتو د 2014 کال د مارچ تر 31 پورې ، په مجموعي توګه د APPF لپاره چې 22,727 پرسونل یې درلود، 51.3 میلیونه ډالر فنډ ورکړی دی. د APPF شاوخوا 1,557 کسان د کانونو د محافظت لپاره ګومارل شوي و چې له دې شمیرې څخه 1,400 کسان یې په 2013 کال کې د مس عینک په محافظت بوخت و.[674] د MOMP پخوانی وزیر ښاغلی شهراني اټکل کړی و چې د ټول افغانستان په 11 لویو کانونو کې 5,200 تنه APPF سرتیرو ته اړتیا شته دی. پهرصورت، د TFBSO په وینا لکه څنګه چې په افغانستان کې د کان کیندنې لرې ساحې فعالې شوي بناء فعلا لږ امنیتي اهتماماتو ته اړتیا لیدل کیږي.[675] د APPF په اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره 87 او 96 مخونه وګوری.

## د عینک مسو کان

افغان دولت په 2008 کال کې د عینک د مسو کان چې په لوګر ولایت کې دی، د استخراج حق یې د چینا میتالورجیکل کارپوریشن (MCC) سره قرارداد کړ.[676] د قرارداد جزییات هیڅکله خپور نشو خو د MOMP لخوا د خپور شوی لنډیز په اساس د MCC مجموعي پانګونه 2.9 میلیارډ ډالرو ته رسیږي. افغانستان ته د عملي کیدو مطالعې له تصویب سره 808 میلیون ډالر، او د تجارتي تولید له پیلیدو سره 565.6 میلیون ډالر، او 19.5% د اعظمي حق الامتیاز په توګه ورکول کیږي.[677]

پهرصورت، د مس عینک د کان پرمختګ په سیمه کې د کلتوري آثارو د رابرسیره کیدو، د ځمکې د اخیستو ستونزې، د ابتدایي زیربنا نشتوالی، او د امنیتي اندیښنو له امله ځنډیدلی دی.[678] TFBSO ځینې نور لاملونه هم په ګوته کوي لکه، د قرارداد سخت شرایط، د منرال په بازار کې د بیو تزلزل، او د منرالونو په اخیستو کې د چین دولت لیوالتیا د دې لپاره چې د راتلونکی لپاره یې "وساتی".[679] افغاني رسنۍ خبر ورکړ چې MCC اراده لري د قرارداد د موادو په اړه له سره خبرې اترې وکړي.[680] د افغان دولت ملي بودیجه په 1393 مالي کال کې د عینک له کان څخه هیڅ کومه عایداتي تمه نده کړې د 1392 مالي کال د بودیجې پرخلاف چې د 50 میلیونه ډالر عایداتو تمه یې کړې وه خو هیڅکله تر لاسه نشو.[681]

## د حاجی ګک د اوسپنو کان

پدې ربعه کې د حاجي ګک د اوسپنو کان د قرارداد په خبرو اترو کې کوم نوی راپور ندی ورکړ شوی.[682] د کانونو او پترولیم وزارت د دې کان درې بلاکونه د افغان آیرن اینډ سټیل کانسرشیم (AFISCO) سره د 2011 کال په نومبر کې قرارداد کړ. نوموړی کانسرشیم اووه غړي لري چې د سټیل اتاریټي آف اندیا په نوم د هند یو دولتي شرکت لخوا رهبري کیږي. یو بل بلاک د کینیډین کیلو آیرن اور سره قرارداد شو چې د کیلو ګولډ ماین یوه څانګه ده.[683] د نوي راپورونو په اساس AFISCO په نظر کې لري چې خپله ابتدایي پانګونه د 11 میلیاردو ډالرو څخه 1.5 میلیارډ ډالرو ته راټیټه کړي.[684]

## هایدروکاربنونه

د خپل تیل او ګاز زیرمو ته وده ورکولو لپاره د افغانستان هڅې د امو سین او افغان تاجک حوزو باندې متمرکز دي، دواړه په شمالي افغانستان کې. سره له دې چې افغانستان د تصفیې لپاره دوه فعال مرکزونه لري خو بیا هم د مناسبه تصفیې په برخه کې له نواقصو سره مخ دی او د تیلو لپاره تر ډېره حده پورې پر وارداتو تکیه کوي. نوموړی هیواد د ترکمنستان، ازبکستان، روسیه، پاکستان، او ایران څخه په ورځ کې 10,000 ټنه نفتي محصولات واردوي.[685]

## د آمو سین حوزې

د آمو دریا حوزې درې بلاکونه چې په 2011 کال کې د چاینا نیشنل پټرولیم کارپوریشن وطن انرژی افغانستان (CNPCI-W) سره قرارداد شوی 87 میلیون بیرل اومه نفت لري.[686] د تولید کار لا ندی پیل شوی خو یو له درې بلاکونو څخه د تولید لپاره چمتو زیربنا لري او کولی شي په ورځ کې 5,000 بیرل تیل تولید کړي. CNPCI-W د یو نړیوال شرکت سره خپل وروستی خبرې اترې کوي تر څو د څو کلونو لپاره په کلنۍ ډول لږ تر لږه 230,000 ټن اومه تیل پرې خرڅ کړي.[687] افغان دولت تر اوسه پورې د 2 میلیونه ډالرو څخه لږ حق الامتیاز له دې قرارداد څخه ترلاسه کړې ده. افغان دولت تمه لري چې د بشپړ تولیداتو له پیل څخه وروسته هره ورځ 60,000 ډالر ترلاسه کړي.[688]

په همدې وخت کې افغان دولت د سرحدونو څخه اخوا د ترانزیت (CBTA) په اړه خپل ګاونډیو هیوادونو سره خبرې اترې کوي. د ازبکستان سره خبرې اترې روانې دي چې له مخې یې د افغانستان اومه تیل مخکې له دې چې په هیواد کې وپلورل شي ازبکستان ته لیږدول کیږي او له تصفیې څخه وروسته بیرته افغانستان ته راځي. د امریکا بهرنیو چارو وزارت راپور ورکړی چې د 2014 کال په فبروري کې ازبکستان ته موافقت لیک استول شوی و خو نوموړی دولت کیدی شي ژر لاسلیک نکړي ځکه چې ازبکستان ویره لري چې دا تیل له تصفیې څخه ورسته د افغانستان پرځای بیرته د ازبکستان په ښارونو کې خرڅ نکړای شي.[689]

TFBSO تشریح کړ چې د هایدروکاربن دا موافقت لیکونه (CBTAs) د وارداتو/ صادراتو لپاره چوکاټ جوړوي او د هغه اومه تیلو د ګمرکاتو او د صادراتو فیس لپاره شرایط معلوموي کوم چې له افغانستان څخه ځي او له تصفیې وروسته بیرته افغانستان ته واردیږي. د دې کار اغیزه پر استخراجي صنایعو لږ دی او د تیل دنړیوالو شرکتونو توجه د افغانستان خواته نه راګرځوی. کوم نامعلوم شرکت چې CNPCI-W د خپل اومه تیلو د خرڅولو لپاره ورسره په خبرو اترو بوخت دی د CBTA غوښتنه نده کړې، ځکه نو TFBSO دې موافقت لیک ته د لومړیتوب په سترګه نه ګوري.[690]

د کانونو او پټرولیم وزارت د 2014 کال د جنوري په 7 نیټه د توتي میدان بلاک د کشف، پراختیا، او تولید لپاره رسماً د یوې مزایدې اعلان وکړ کوم چې د آمو دریا په حوزه کې 7,131 کیلومتر مربع ځای لري.[691] د قرارداد په ساحه کې د 28 میلیارډ متر مکعب په اندازه زیرمې چې د ګاز په دوه پیژندل شوي ساحو کې دي، او 50 د سطحې څخه لاندې جوړښتونه شامل دي. د ګټو توضیحات به د 2014 کال د فبروري تر 8 پورې وړاندې شي.[692] TFBSO لکه څنګه چې د افغان تاجک د مزایدې سره یې کړی و د آمو دریا د دې قرارداد څخه هم خپل تعقیب ته ادامه ورکوي او د کانونو او پټرولیم وزارت سره په تخنیکي، قانوني، تجارتي، او شفافیت په برخو کې مرسته کوي.[693] د 2014 کال دمارچ په 20 نیټه د مزایدې یو کنفرانس جوړ شو چې پنځه واړه ابتدايي داوطلبان پکې حاضر و. د دواطلبۍ نیټه د 2014 کال د مې 31 ټاکل شوې ده.[694]

## کرهنه

کرهنه افغان وګړو لپاره د کار موندنې او دوام اصلي زيرمې په حيث شتون ته دوام ورکوي. فقط 12% ځمکه د کر وړ ده او له 6% لږه کرل شوې، بيا هم نوموړی سيکتور د ناخالص داخلي توليد 31% لپاره حسابيږي او د نړيوال بانک خورا اخرني راپور په وينا، د کاري ځواک شاوخوا 59% ته کار موندنه چمتو کوي.[695] دې ته ورکړشوی اهميت، کرهنه کولی شو د کورني ناخالص توليد ودې، وده شوي غذايي امنيت، او لانور ټينګ د کار موندنې فرصتونو لپاره کتلست وي.[696]

USAID د 2002 مالي کال څخه تر 2012 مالي کاله پورې نږدې 2.46 ميلياړده ډالر د کرنيز او بديل پرمختګ لپاره مرسته کړې تر څو توليداتو ته وده ورکړي، بازارونو ته لاسرسي زياته کړي، او د کوکنارو د کرنې لپاره بديلونه چمتو کړي.[697] د دې مرستو څخه USAID د مستقيمه مرستو په چوکاټ کې 54 ميليونه ډالر مقيد او 29 ميليونه ډالر تاديه کړي تر څو د کرنې، اوبه لګونې او مالدارۍ وزارت (MAIL) ظرفيت لوړ کړي.[698]

USAID دا مهال کرهنيز سيکتور ته د ډيری پروګرامونو له لارې د آن او آپ بوديجې مرسته چمتو کوي. د USAID درې پروګرامونه چې لوړ لومړيتوب لري، او له 350 ميليونه ډالرو څخه زيات ارزښت لري، دا دي:[699]

- د کرهنې پراختيا فنډ (ADF) او د کرهنې کريډيټ وده (ACE)
- انګيزشي پرمخ وړونکي اقتصادي بديلونه-شمال، ختيځ، او لويديز (IDEA-NEW)
- سوداګريزه باغواني او د زراعتي بازار موندنې پروګرام (CHAMP)

### د کرنيز قرضې زياتول او د کرنې پراختيايي فنډ

| د پروژې سرليک | د پيل نېټه | د پای نېټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 3/31/2014 نېټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| کرهنيز قرضې لوړول | 7/15/2010 | 1/15/2015 | $75,175,296 | $63,908,185 |
| د کرنې د پراختيا فنډ | 7/18/2010 | 12/31/2014 | $74,407,662 | $29,000,000 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/7/2014.

د کرنې پراختيايي بوديجه او د کرنيزې قرضې زياتول (ADF-ACE)، دوه بشپړونکي برخې لري چې د MAIL د قرضې ورکولو له هڅو ملاتړ کوي او په عين وخت کې د قرضو اداره کولو په موخه د ADF ظرفيت زياتوي. ADF د دې لپاره رامنځته کړی شوی و چې د بانکونو، فارم ذخيرو، ليزينګ شرکتونو، او خواړو پروسس کونکو له لارې د کرهنې ارزښت چين ته پورونه وړاندې کړي، کوم چې په بدل کې بزګرانو ته کرهنيز کريډيټ چمتو کوي. ACE د ياد پروګرام د تخنيکي مرستې څانګه ده چې د ADF ټول قرضې فعاليتونه اداره کوي او د MAIL دظرفيت د لوړاوي په برخه کې کار کوي.[700]

د 2014 کال د فبرورۍ تر 28 پورې، د ADF د قرضو اسناد 85.7 ميليونه ډالر، تاديه شوې قرضې 43.5 ميليونه ډالر، او بېرته اخيستل شوې پيسې 21 ميليونه ډالر و. نور 24 قرضې په پايپ لاين کې دي. د USAID د راپور په اساس، د پور اخيستونکو د محافظت لوړه کچه د ADF عملياتونو لپاره ډېر مهم دی، کوم چې بيرته ګرځيدونکو مشتريانو له کبله 68% ته رسيدلی دی. تراوسه پورې په 32 ولايتونو کې د 22,386 بزګرو کورنيو ته قرضې ورکړې دي.[701]

**د 2014 کال د مارچ په 28 نېټه، ځلور بريدکونکي د چاوديدونکي توکو څخه ډک شوی موټر سره، په کابل کې د روټ آف پيس — يوه نړيواله بشري او غير سياسي موسسه ده — پر دفتر بريد وکړ چې په پای کې ځلور واړه ترهګر د يوې 16 کلنې جلۍ، او يو موټر چلونکي سره ووژل شو. د APPF دوه محافظين او يو بهرنی کس زخمي شول. روټ آف پيس فعلا د USAID دوه کرنيزه پروژې پلې کوي: سوداګريزه باغواني او د زراعتي بازار موندنې پروګرام (CHAMP) او د افغانستان د کرنيزه څيړنې او توسعې پرمختګ (AGRED).**

سرچينې: روټس آف پيس، "رسمي خبرونه: طالبانو د روټ آف پيس پر کمپ بريد وکړ،" 3/28/2014؛ د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته د USAID ځواب، 4/7/2014.

### د سيګار پلټنه

د سيګار يوه پلټنه چې پدې ربعه کې خپره شوه، هڅه کړې ترڅو معلومه کړي چې USAID تر کومه حده پورې په افغانستان کې د اوبو لپاره د امريکا د 2010 کال بين الاداري ستراتيژۍ کليدي موخې پې ترلاسه کړې، او هم معلومه کړي چې USAID په هغه پروژو کې چې د 2010 کال څخه وروسته عملي شوې تر کومه حده پې دې موخو او اهدافو ته پام کړی ده. ياده پلټنه ومونده چې د افغانستان لپاره د اوبو نوی ستراتيژي اړينه ده چې د USAID د اوبو لومړيتوبونه پکې مراعات شوې وي؛ د ستراتيژۍ د ارزونې لپاره د فعاليتونو معيار پکار دی؛ او د دې اقداماتو د عملی کولو لپاره د مسوليت او حساب ورکولو ځرګند خطونه وټاکل شي. د لازياتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 28 وګورئ.



**ځانګړی مفتش سوپکو** د 2014 کال په مارچ کې د افغانستان د سفر په ترڅ کې د سویابین له کښت څخه لیدنه کوي. (د سیګار تصویر د سمیث اندیرسن لخوا)

## د بدیل اقتصادي لارو د پرمخ بیولو جایزې - شمال، ختیځ، او لویدیځ

| د پروژې سرلیک | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 3/31/2014 نیټې پورې مجموعي تادیه |
|---|---|---|---|---|
| د بدیل اقتصاد پرمخ وړو انګیزشي طرحې - شمال، ختیځ، او لویدیز | 3/2/2009 | 2/28/2015 | $159,878,589 | $141,080,906 |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/7/2014.

د اقتصادي متبادلو پرمختیاو خوځښت شمال، شرق او غرب (IDEA-NEW) د اقتصادي همکاریو هغه پنځه کلن پروګرام دی چې اقتصادي مرستې او د کوکنارو کښت ته اقتصادي متبادلې لارې د ختیځ په ځانګړو ولایتونو کې په لار اچوي او همداشان یې د هیواد په شمال او لویدیځ کې په پام کې لري. دا پروګرام پدې ربعه کې د شپږم کال لپاره وغزول شو. ګټل کیږي چې IDEA-NEW د سوداګریز فرصتونو ډیرولو، مالي خدماتو ته لاسرسي غزولو، او کلیدي سیمه ایز صنایع او سوداګریز درشلو لپاره د ارزښت چین پراختیا ودې په واسطه بزګرانو سره مرسته وکړي چې د کوکنارو کښت څخه قانوني کرهنیز تولید ته واوړي. دا د بازار معلوماتو فعالیتونو او پلورلو ودې له لارې د تولید کونکو، سوداګرو او پیرودونکو ترمنځ ارتباطات هم اسانوي.[702]

USAID راپور ورکړی چې د 2013 کال په مقایسه چې 209,000 هکتاره ځمکو کې کوکنار کرل کیده پدې ربعه کې د IDEA-NEW پروګرام له امله په 14,027 هکتاره ځمکو کې بدیله کرنه کیږي.[703] سره له دې چې USAID ویلي زرهاو کسان د کرنیز تولیداتو او د سوداګریز تریننګ څخه او همدارنګه د یاد پروګرام په مرسته د کرنیزو تولیداتو څخه ګټې اخیستي دي، خو دا یې هم ومنله چې د حاصلاتو لړ تولید، د خوړو د پروسس لړ فرصتونه، او امنیتي ستونزې د افغانستان د کرنې د پرمختګ په وړاندې ننګونې دي او د IDEA-NEW پروګرام په مخکې یې هم خنډونه جوړ کړي دي.[704]

## تجارتي باغ لرنه او د کرنې د بازار موندنې پروګرام

| د پروژې سرلیک | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 3/31/2014 نیټې پورې مجموعي تادیه |
|---|---|---|---|---|
| سوداګریزه باغواني او د زراعتي بازار موندنې پروګرام | 2/1/2010 | 12/30/2014 | $40,320,241 | $34,722,834 |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/7/2014.

د تجارتي باغ لرنې او د کرنې د بازارموندنې پروګرام (CHAMP)، د باکیفیته کرنې له لارې د کروندګرو سره مرسته کوی تر څو ډیر ګټه لرونکې د میوې او انګورو باغونه جوړ کړي او خپل صادرات او تجارت دالان ته وده ورکړي. پروګرام د سوداګرو سره هم کار کوي چې ذخیره کولو، پیک کولو، د بخ خونو، او بار وړلو میتودونو ته وده ورکړي.[705]

لکه څنګه چې CHAMP د 2014 کال لیږد ته نږدې کیږي، USAID وایي چې خپله توجه به د ګران بیه محصولاتو د ټولولو څخه وروسته مراحلو ته واړوي. یاد پروګرام غواړي چې د بازارموندنې او د وارداتو تعویض د وده ورکولو له لارې د صادراتو کچه زیاته کړي. په هرصورت، USAID وویل چې بې امنیتي د CHAMP بشپړ پلي کیدو ته لا ننګونې په حیث پاتې ده. ترهه ګرې ډلو دواړه د CHAMP کارمندان او بزګران ګواښلي، په ځانګړي ډول کندهار، هلمند، زابل، وردګ، لوګر، او غزني ولایتونو کې.[706]

## د افغانستان د کرنیزه څیړنې او د توسعې د پراختیا پروګرام

| د پروژې سرلیک | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 3/31/2014 نیټې پورې مجموعي تادیه |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان د کرنیزه څیړنې او توسعې پرمختګ (AGRED) | 7/17/2012 | 7/16/2017 | $23,638,611 | $4,193,245 |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/7/2014.

د افغانستان د کرنیزه څیړنې او د توسعې پراختیا (AGRED) د بودیجې په چوکاټ کې یو پروګرام دی چې د کرنې، اوبه لګونې او مالدارۍ وزارت په ملکرتیا سره عملي کیږي. د یاد پروګرام موخه دا ده چې د کرنې تولیدات زیات او د کرنې د پرمختللی تکنالوژۍ له لارې د کلیوالي خلکو معیشت ته وده ورکړي. AGRED د کرنې، اوبه لګونې او مالدارۍ وزارت او ریاستونو ته د څیړنې او توسعې مراکز جوړوي او د اووه ولایتونو په 50 ولسوالیو کې فعالیت کوي. AGRED همدارنګه د کرنې، اوبه لګونې او مالدارۍ د وزارت او ریاستونو پرسونل ته روزنه ورکوي ترڅو افغاني بزګرانو او کروند ګرو ته ټکنالوژي برابر کړي او ګټورې مشورې ورکړي.[707]

## د کندهار د خوړو زون

| د پروژې سرلیک | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 3/31/2014 نیټې پورې مجموعي تادیه |
|---|---|---|---|---|
| د کندهار خواړو ساحه | 7/31/2013 | 7/30/2015 | $19,695,804 | $2,428,000 |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/7/2014.

د کندهار د خوړو زون پروګرام (KFZ) داسې طرح شوی چې په اووه ټاکل شوي ولسوالیو کې د کوکنارو د کرنې عوامل په ګوته کوي.[708] دا پروګرام دوه لوېې برخې لري: د مخدره موادو په ضد د مبارزې وزارت (MCN) د ظرفیت لوړاوې او د بدیل معیشت پروژې. د ظرفیت لوړاوې برخه د بدیل معیشت د پروژو په طرح، تطبیق، او اداره کولو کې د مخدره موادو په ضد د مبارزې وزارت ظرفیت ته وده ورکوي. د بدیل معیشت برخه د ټولنې زیربناو ته وده ورکوي او د قانوني کارونو موقې زیاتوي.[709] KFZ د خپل کارونو اداري پلان، د پروګرام طرح، د کارکونکو ترینګ او لارښوونه، د ولسوالیو نقشې، او ټولنیز حدود یې بشپړ کړې دي. د 2013 کال د ډیسمبر تر 31 پورې، KFZ د ټولنې په کچه دوې پروژې پیل کړې.[710] د KFZ پروګرام موخه دا ده چې د ټولنو سره د ارتباط له لارې د

کوکنارو د کرنې ټولنيز، سياسي، او اقتصادي عوامل پيدا کړي او بيا د دوی لپاره مناسبې پروژې په نظر کې ونيسي.[711]

USAID راپور ورکړی چې په کندهار کې د KFZ دفتر د دې لپاره تړل شوی چې APPF د خپل وعدې سره سم د APPF محافظينو ته يونيفارم او وسلې چمتو نکړې. د KFZ د کندهار ځانګې کارکونکي اوسمهال د خپل کورونو څخه د باندې کار کوي تر څو وضعيت بيرته سم شي. د دې خنډونو سربيره، بيا هم USAID د اړوندو وزارتونو او ولايتي ادارو ترمنځ د KFZ له همکارۍ څخه راضي دی، او سيګار ته يې ويلي چې د پروژې د معرفي پروسه د خوښې وړ و.[712]

3.36 شکل

**د مرکزي اسيا-سويل اسيا د بريښنا ليږد پروژه، CASA-1000**




سرچينه: CASA-1000.org، د نړيوال بانک له لارې، په 4/3/2014 خپور شوی.

## اساسي خدمات/پراختيا

له 2002 راهيسې، متحده ايالاتو د بيارغونې بسپنې چمتو کړې ترڅو بريښنا ډيره، سړکونه او پلونه جوړ، او روغتيا او تعليم ته وده ورکړي. دا برخه د لازمي خدماتو وړاندې کولو لکه بريښنا، ترانسپورتيشن، روغتيا او تعليم ته د حکومت وړتيا پرمختګ لپاره د متحده ايالاتو هڅو کې کليدي پرمختګونه په ګوته کوي.

### انرژي

د نړيوال بانک د وروستی راپور په اساس افغانستان په ټوله نړۍ کې يو له هغه هيوادونو څخه دی چې د بريښنا په برخه کې ډير لږ خدمات لري، او يوازې 28% خلک يې د بريښنا له کړۍ سره وصل دي. له دغو څخه څوک چې وصل دي، په تخميني ډول 77% يې ښاري سيمو کې ژوند کوي.[713]

لکه څنګه چې بريښنا د افغانستان په پرمختګ کې رغنده رول لري، متحده ايالات د 2002 کال څخه راهيسې د افغان دولت او نړيواله ټولنې سره يوځای د انرژي يو جامع سکتور رامينځته کولو ته د خپل بيارغونيزو هڅو د ستر لومړيتوب په سترګه ګوري.[714] متحده ايالات د 2002 مالي کال څخه تر 2012 مالي کاله پورې زيات له 2 ميلياردو ډالرو څخه د افغانستان له بريښنا سکتور سره مرسته کړې ده.[715]

نړيوال بانک د 2014 کال د مارچ په 27 نېټه د انتقالي لينونو د زيربنايي مرستې او د مرکزي او جنوبي آسيا (CASA-1000) د بريښنايي انتقال د پروژې په چوکاټ کې 526.5 ميليونه ډالر منظوره کړه. اسلامي پراختيايي بانک او USAID به هم پدې برخه کې فنډ برابر کړي.[716] متحده ايالات هم د تيره ربعې په وروستيو کې د 15 ميليونه ډالرو ژمنه وکړه. د CASA-1000 پروژه به د تاجکستان او قيرغزستان هيوادونو ته دا موقع برابره کړي چې د خپل اوړي موسم اضافي بريښنا پر افغانستان او پاکستان وپلوري. افغانستان به د يو مصرف کونکي په توګه د خپل بريښنا ځانګې ته 300 ميګاواټ زيات کړي. همدارنګه د ترانزيټي لارې په توګه د هغه بريښنا په بدل کې عايد لاسته راوړي چې د دې له لارې پاکستان ته ليږدول کيږي.[717] د CASA-1000 پروژې مجموعي لګښت 1.17 ميلیارده ډالر اټکل شوی.[718]

د CASA-1000 د وړانديز شوي لينونو لارې او اړوند زيربنا يې چې له 746 ميلو څخه ډير ځای نيسي، په 3.36 شکل کې موندلی شی.

يوازې USAID د 2002–2011 کلونو ترمنځ د ESF په چوکاټ کې نږدې 2 ميليارده ډالر مرسته کړې ده تر څو د جنريټرونو، فرعي سټيشن، او انتقالي لينونو په جوړولو، او هم پدې برخه کې د تخنيکي مرستو د چمتو کولو لپاره مصرف شي. دا اداره پلان لري چې په

راتلونکي څو کلونو کې لږ تر لږه 500 میلیونه ډالره نور هم مصرف کړي.[719] علاوه پردې، DOD د قوماندان د بیړنیو مرستو (CERP) له لارې 292 میلیونه ډالر او د افغانستان د زیربنا فنډ (AIF) له لارې 700 میلیونه ډالر د بریښنایي پروژو سره مرسته کړې، چې دواړه پروګرامونه د امریکا د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو لخوا په ګډه اداره کیږي.[720]

افغانستان په اوس وخت کې د بریښنا نهه بیل سیسټمونه لري: دوه ابتدایي سیستمونه لکه څنګه چې د راتلونکی مخ په 3.37 شکل کې ښودل شوی، د شمال ختیځ د بریښنا سیسټم (NEPS) او د جنوب ختیځ د بریښنا سیسټم (SEPS) دی. USAID درې پروژې لري چې دواړه سیسټمونو کې د بریښنا تحویلي ډیره او وصل کړي — شبرغان؛ د کندهار-هلمند بریښنا پروژه، په کوم کې چې د کجکي بند هایدرو پاور شامل دی؛ او د بریښنا انتقال پراختیا او د اتصال پروګرام. د دفاع وزارت دواړه NEPS او SEPS سره د AIF پروژو له لارې مرسته کوي. افغان دولت د USAID او د امریکا دفاع وزارت په همغږۍ سره دې پروګرامونو ته لومړیتوب ورکوي، او موخه لري چې د لینونو له لارې د استفادې وړ بریښنا ته لاسرسي زیاته کړي. د بریښنا د کړیو نښلول د دې لپاره په نظر کې نیول شوی دی چې په لږه بیه د بریښنا غوره کارونه ټولو ته اسانه کړي، د بریښنا د نورو سرچینو کارونه کمه کړي، او د سیسټم ډاډمنتیا زیاته کړي.[721]

**NEPS:** د مرکزي آسیا له جمهوریتونو څخه بریښنا واردوي او کابل او شاوخوا سیمو ته یې ویشي.

**SEPS:** د خپل بریښنا زیاته برخه د کجکي بند او د کندهار ښار د ډیزلي جنریټرونو څخه لاسته راوړي. دا د هلمند او کندهار سیمو ته بریښنا ورکوي.

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، په افغانستان کې د امنیت او ثبات په لوري د پرمختګ په اړه راپور، 11/2013، لاسرسي 12/29/2013.

## د شبرغان پروګرام

د USAID په وینا افغانستان د خپل اوسنی بریښنا د 70% څخه زیاته برخه واردوي.[722] USAID د آسیا پراختیایي بانک (ADB) سره یوځای د شبرغان له پروژې څخه ملاتړ کوي تر څو د ګاز داسې سرچینې پیدا کړي چې د بریښنا په تولید کې د کارولو وړتیا ولري. د USAID په وینا، د سیندونو څخه پورې غاړې د پانګونې شرکت چې ټاکل شوی و پدې بهیر کې برخه واخلي، دا کار به ونکړي.[723] د USAID په وینا، داسې اټکل شوې ده چې د شبرغان د ګاز زیرمې کولی شي د 25 کلونو لپاره تر 10,000 میګاواټه پورې بریښنا تولید کړي. د دې خبرې د تایید لپاره یوه څیړنه روانه ده چې د روان کال تر پایه پورې به بشپړه شي.[724]

USAID د دوو میکانیزمونو له لارې د شبرغان په پروګرام کې برخه اخلي: د شبرغان ګاز د پرمختیا پروژه (SGDP) چې د 90 میلیون ډالرو په ارزښت د بودیجې له لارې پلي کیږي، او د شبرغان ګاز د تولید فعالیتونه (SGGA)، چې د35 میلیون ډالرو په ارزښت د بودیجې له چوکاټه بهر پلي کیږي.[725] USAID د SGDP له لارې د بودیجې په چوکاټ کې 30 میلیونه ډالر ورکوي تر څو د آمو سین حوزې د جمعې او باشي کرد په سیمو کې دوه څاګانې ترمیم او یو څاه وکنل شي. 7 میلیونه ډالره نور د افغانستان د ملي بودیجې لخوا ورکول کیږي. د ترکیې د ملي پترولیم شرکت د 2013 کال د دسمبر په 14 د کانونو او پترولیم وزارت سره یو قرارداد لاسلیک کړ تر څو دا کار ترسره کړي. که چیرته کنل شوي څاګانې دومره ظرفیت ولري چې 200 میګاواټه بریښنا تولید کړي نو بیا به USAID د SGDP له لارې د بودیجې په چوکاټ پاتې 60 میلیونه ډالر هم ورکړي ترڅو د ګاز راټولولو سیسټم او د ګاز پروسس کولو دستګاه جوړه کړي.[726] تر اوسه پورې هیڅ پیسې ندي تادیه شوي.[727]

د SGGA پروګرام د بودیجې څخه بهره برخه د اډوانس انجینرنګ اسوشیتس انټرنیشنل سره د یو قرارداد له لارې د تطبیق په حال کې دی او د کانونو او پترولیم وزارت سره د یادو څاګانو د کنلو په برخه کې تخنیکي مرسته کوي او همدارنګه د ګاز راټولولو سیسټم او د ګاز پروسس کولو دستګاه د انجینرینګ/تدارکات/رغونې د مزایدې په برخه کې یاد وزارت سره

3.37 شکل

**عمومي کټنه د شمال ختیځ برېښنا سیستم**




**عمومي کټنه د سویل ختیځ برېښنا انرژۍ سیستم**




یادونه: موقعیتونه او لاري وراندي کوټکي دي.
سرچینه: د سیګار معلوماتو غوښتني ته، د امریکا د دفاع وزارت ځواب، 4/3/2014.

مرسته کوي. د 2014 کال د مارچ تر 31 پورې، نږدې 23 میلیونه ډالر مقید شوي چې له دې څخه زیات له 13 میلیونه ډالر یې تادیه شوي دي.[728]

## د کندهار-هلمند د بریښنا پروژه

د کندهار-هلمند د بریښنا پروژه (KHPP) د دې لپاره په نظر کې نیول شوې ده چې د کندهار او هلمند ولایتونو کې د بریښنا لاسرسي او اعتماد زیات کړي. دا پروژه د دې لپاره طرحه شوې ده چې د بیرنیو اړتیاو لپاره د ډیزلي بریښنا ځای ونیسي، د اوږدمهال لپاره د اوبو بریښنا برابره کړي، او د SEPS د لینونو او ویش د پراخولو په صورت کې د بریښنا د ضایع کیدو مخه ونیسي.[729] USAID راپور ورکړی چې د KHPP ډیرې برخې یا ترل شوي یا هم د ترل کیدو په حال کې دي.[730]

د 2010 کال د اکتوبر په 29 نیټه USAID د 266 میلیون ډالرو قرارداد له بلک اینډ ویټچ سره لاسلیک کړ تر څو هغه وخته پورې چې د کجکي بند او/یا د NEPS-SEPS د لینونو له لارې ارزانه بریښنا خلکو ته برابریږي د بریښنا فرعي ستیشنونه ترمیم او جوړ کړي، په کندهار ښار کې د منځنۍ ولټاژ د ویش سیستم ته پرمختیا ورکړي، په کجکي بند کې دریم توربین نصب، آزموینه او په کار واچوي، او د ډیزلي بریښنا لپاره نوی جنریټورونه طرحه او نصب کړي.[731] د توربین پرزې په 2008 کال کې د امریکا-برتانیې د یو ګډ ماموریت په مرسته د بند ساحې ته ورسول شو چې تر اوسه پورې ندي تیت او پرک د ترپال لاندې پراته دي.[732]

USAID د 2013 کال د اپریل په 22 نیټه د افغان دولت سره د بودیجې په چوکاټ کې یوه تطبیق پاڼه لاسلیک کړه او د کجکي بند د دریم توربین د نصب، آزموینه او کارونې لپاره یې75 میلیونه ډالر په فرعي ډول مقید کړ، البته دا کار لکه څنګه چې ټاکل شوی و د بلیک انډ ویچ د قرارداد لاندې ترسره نه شو.[733] د توربین د نصب موضوع چې د بلیک اینډ ویچ په قرارداد کې راغلی و ترې ایسته کړای شو.[734]

د افغانستان د بریښنا ملي شرکت، د افغانستان برشنا شرکت (DABS)، منلې ده چې د تطبیق پاڼې د شرایطو او غوښتنو د عملي کیدو مسولیت په غاړه واخلي.[735] DABS د 2013 کال د ډیسمبر په 9 د GFA کانسلټنګ کمپنې سره چې په دوبی کې ده د 6 میلیون ډالرو په ارزښت یو قرارداد لاسلیک کړ تر څو د امنیت او ساحوي مرستو سربیره د کجکي بند د دریم توربین د انجینرنګ، تدارکات، او د مزایدې خدمات ترسره کړي.[736] USAID د بلیک اینډ ویچ سره د KHPP غزولو په اړه یو انحصاري قرارداد لاسلیک کړ تر څو له DABS او USAID سره د دریم توربین د نصب په برخه کې تخنیکي مرسته- چې په 2015 کال کې پای ته رسیږي- وکړي. بلیک اینډ ویچ به د پروژې اسناد او د کجکي هایدرو پاور د دستګاه طرحې په جوړولو کې مرسته وکړي. USAID دا پریکړه د دې لپاره ونیوله چې بلیک اینډ ویچ د کجکي هایدروپاور د دستګاه په اړه تجربه لري.[737]

د امریکا دفاع وزارت د AIF له لارې په کندهار د پوځي انجینرانو قطعې په کندهار ښار کې د 2014 په اوږدو کې جنراتورونه نصب کړي. DABS په ساحه کې نورو جنریټرونو ته تیل چمتو کوي. د تیلو سبسایډي کیدای شي پراخه شي، خو USAID تمه لري چې دا لګښت کم کړای شي ځکه چې DABS هغه اړین ګامونه پورته کوي چې د تیلو دوامدار مصارف تامین کړي. یو ګام دا دی چې د کجکي بند د دریم توربین د نصب لپاره قرارداد لاسلیک شي، چې د فعالیت له پیل څخه وروسته اضافي بریښنا او عواید ترې لاسته راځي.[738]

**د کجکي بند څخه د USAID وروستی کتنه د 2013 کال په منی کې وه. د USAID او د امریکا سفارت د ماموریت د مشرۍ (COM) پرسونل فعلا نشي کولی د کجکي بند څخه لیدنه وکړي، ځکه چې په افغانستان کې د COM د سفرونو په ترڅ کې باید د امریکا پوځ، ناټو، یا د سفارت محافظتي ځواکونه په مناسبه فاصله کې وي. له کوم وخته چې د امریکا سمندري ځواکونه په 2013 کال کې له کجکي څخه وتلي، یاد شرایط نه پوره کیږي. سیګار دغو ساختماني سیمو ته چې د لاسرسی څخه بهر دي "د خارنې له دایرې" څخه بهر سیمې وایي. سیګار د بهرنیو چارو وزارت کیږي، د دفاع وزیر هیګل، او د USAID مدیر شاه ته د 2013 کال په اکتوبر کې لیږلی و، توضیح ورکړی چې د ایتلاف ځواکونو له وتلو سره به په افغانستان کې د بیارغونیزو ساحو سمه څارنه له کوانس سره مخ شي.**

سرچینې: د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته د USAID خواب، 3/31/2014؛ د سیګار بررسی ته د USAID خواب، 4/12/2014؛ سیګار، SP-14-4، د دفاع او داخلې وزارتونو، او د نړیوالې پراختیا لپاره د متحده ایالاتو اداري ته د خارنې لاسرسي لپاره د تحقیق پاڼه.

### د سيګار ځانګړي پروژه

سيګار پدې ربعه کې USAID ته يوه تحقيق پاڼه وليږله او له يادې اداري څخه يې غوښتنه کړې چې د کجکي بند دريم توربين د نصب مصارفو په اړه د سيګار انديښنې ته پام وکړي. د سيګار تحليل نتيجه ګيري کړې چې د KHPP پروژې لپاره د متحده ايالاتو مصارف له ګټو څخه يې کم دي. USAID په خپل غبرګون کې له دې نتيجه ګيرۍ سره موافقه نده کړې. د لازياتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 43 وګورئ.

د عايداتو راټولول کيداى شي له ننګونو سره مل وي. پدې ربعه کې USAID راپور ورکړ چې د DABS د مالي وضعيت په اړه، او دا چې آيا ياد شرکت به وکړى شي د 2014 کال څخه وروسته د دولت له سب سايډي يا د ډونرانو له مرستې پرته خپل مصارف ورکړي، او همدارنګه د کافي عايداتو د توليد په برخه کې يې د پلانونو په اړه معلومات نلري.[739] علاوه پردې، په پاکستان او افغانستان کې د USAID د مشر مرستيال کانګرس ته په خپله وينا کې وويل چې هغه مطمين ندى چې DABS به دومره عايدات ولري چې د تيلو مصارف يې پوره کړي.[740] دا د USAID له هغه وينا سره فرق لري چې د 2014 کال د اپريل په 3 نيټه يې کانګرس ته کړې وه او ويلي و چې د USAID په مرسته به DABS د خودکفايۍ په لور روان شي.[741]

د سيګار يوې پلټنې موندلي چې برسيره پردې چې USAID پانګوونه کوې دې د DABS — کابل لپاره د ځينې سوداګريز کولو برياو پايله درلوده، په شمول د نغدو راټولونو ډيروالى تر 60%، افغان منفعت لاتراوسه مالي زيان کې کار کوي. همدارنګه، DABS نشي کولى د دولت له سب سايډي څخه پرته چې دا هم په2014 کال کې پاى ته رسيږي، خپل بيلونه تاديه کړي.[742] USAID د 2014 کال د مارچ تر 1 پورې، د ESF له فنډ څخه 228 ميليونه ډالر د KHPP لپاره مقيد کړي، چې شاوخوا 217 ميليونه ډالر يې تاديه شوي دي. دا شميره د تير ربعې په مقايسه 17.9 ميليونه ډالر زياته ده.[743]

## د برېښنا د انتقال پراخولو او د اتصال پروګرام

د متحده ايالاتو بسپنه شوى د برېښنا انتقال توسعه او اتصال (PTEC) پروګرام د برېښنا توليد، انتقال او توضيع سيستمونو پياوړي او پراخه کولو لپاره ډيزاين شوى و. دا پروګرام د افغانستان د ملي انکشافي ستراتيژۍ د انرژي رسولو د ملي پروګرام څخه په مستقيمه توګه ملاتړ کوي کوم چې د برېښنا په وړاندې د بيلونو د سم ټولولو او د برېښنا خدمات د لاپراخولو غوښتنه کوي.[744] د PTEC پروګرامونه چې مجموعآ 814 ميليونه ډالر فنډ لري، 357.4 ميليونه ډالر يې د بوديجې له لارې DABS ته ورکول کيږي — او د PTEC DABS د قراردادونو مسوليت په غاړه لري — او 37 ميليونه ډالر يې د بوديجې له چوکاټ څخه بهر د انرژي او اوبو وزارت او د زده کړې بنيادونو ته ورکول کيږي.[745]

د NEPS د تقويې او پراخولو سربيره، د PTEC يوه مهمه برخه دا ده چې د کابل او کندهار ترمنځ د برېښنا لينونو د 329 ميل څخه د304 ميل لپاره يې فنډ برابر کړى او NEPS د SEPS سره ونښلوي. NEPS د SEPS سره نښلول يو ځو – ډونر هڅه ده. د NEPS-SEPS د نښلولو په لاره کې اته فرعي ستيشنونه هم جوړيږي چې موقعيت به يې د لارې پر سر ډير جمعيت لرونکي سيمې وي. دا اتصال، يوځاى د کجکي هايدرو پاور کارخانې بيا احيا سره، په 2010 کې په کندهار کې د پرلګښت او ناپايدار ډيزل برېښنا توليد لرې کولو ته يوازينى د دوام وړ اوږد مهال حل وپيژندل شو.[746]

USAID د 2014 کال د مارچ تر 31 پورې د AITF لپاره 180.3 ميليونه ډالر مقيد کړي او 105 ميليونه ډالر يې تاديه کړي چې له تاديه شوي شميرې څخه 45 ميليونه ډالر يې د 2013 کال په مارچ کې د پروګرام د کمکي موافقې د لاسليک سره سم او 60 ميليونه ډالر يې د 2013 کال په ډيسمبر کې د ADB د غوښتنې په اساس تاديه شوي دي.[747]

ADB د کابل څخه تر ارغندې پورې د لومړى 25 ميلو مسوليت په غاړه لري. USAID به د ارغندې څخه تر غزني پورې د 75 ميلو مصرف ورکړي چې 101 ميليونه ډالر لګښت لري، او

د امریکا دفاع وزارت د AIF څخه USAID ته انتقال شوی دی. USAID، همدارنګه 263.3 میلیونه ډالر یې د مستقیمه مرستو په چوکاټ کې MOF او DABS ته د PTEC لپاره ورکړي، او دوه اړخیزه موافقت لیک یې د 2013 کال فبروري کې رسمي کړې ده. د بودیجې په چوکاټ کې دا مرستې د 56.7 میلیونه ډالر په ارزښت یو قرارداد لاسلیک شو تر څو د ارغندی څخه تر غزنی پورې لینونه وغزوي. د عامه پوهاى کمپاین هم پیل شوی تر څو په لینونو باندې د خلکو د برید مخه ونیسي.[748]

د DABS نور قراردادونه چې د USAID د مستقیمه مرستو له لارې لاسلیک شوي، پدې ډول دي:

- د DABS د قراردادونو اداري او د مالي او شرکتي مدیریت د ودې لپاره د 17.9 میلیونه ډالرو او 18.8 میلیونه ډالرو په ارزښت دوه اداري قراردادونه.[749]
- په سیدآباد (وردګو ولایت) او غزني کې د فرعي سټیشنونه جوړول — د 48.1 میلیونه ډالرو په ارزښت.[750]
- د تدارکاتو او بیلونو د عملي کیدو پروګرام "mPower"، د بیل جوړونې، د پیسو ټولول، عایدات، لینونو، خدمات، د میټر معلومات، ساتنې، او د کاري ځواک مدیریت — 10 میلیونه ډالر[751]

USAID همدارنګه پلان لري چې د 814 میلیونه ډالر PTEC پروژې څخه 417.6 میلیونه ډالر یې د آسیا پراختیایي بانک AITF ته ورکړي او د دې یوه برخه د هغه 230 میله انتقالي لینونو د جوړونې لپاره لګول کیږي چې د غزني څخه تر کندهاره پورې NEPS او SEPS سره نښلوي. د NEPS-SEPS د اتصال بشپړول به تر 2017/2018 کلونو پورې د دوو کلونو لپاره وځنډول شي. په AITF کې د USAID له برخې اخیستنې څخه، نږدې 290 میلیونه امریکایي ډالر به له غزني څخه تر کندهاره له NEPS تر SEPS پورې د بریښنا د لینونو د وصلولو لپاره کار واخیستل شي.[752]

ADB په دسمبر 2010 کې AITF تاسیس کړ، چې دوه اړخیز، څواړخیز او انفرادي اعانه کونکو ته اجازه ورکړي د ADB سره زیربنا پانګوونو ته مالي چارو برابرولو کې ملیتیا وکړي. AITF به د DABS یا نورو افغان وزارتونو له لارې د آن بودیجې پروژې بسپنه کړي. د AITF په اوسنی مرسته کونکو کې د برتانیې د نړیوالې پراختیا اداره او د جاپان سفارت شامل دي.[753]

## د دفاع وزارت فنډ ورکړل شوي پروګرامونه

د امریکا دفاع وزارت د افغانستان د امنیت، ثبات، او اقتصادي ودې لپاره د بریښنا تولید، انتقال، او ویش ته د اساسي محور په توګه ګوري. پدې ربعه کې د دفاع وزارت د FY 2012 او AIF FY 2013 پیسو په کارولو سره ډیری د لومړیتوب انرژۍ سیکتور پروژو پلي کولو ته دوام ورکړ. په دې کې لاندې پروژې شاملې دي:[754]

- د کندهار بریښنا وصلولو حل
- د کندهار-دوراهی جنکشن انتقال لینونه
- د چاریکار-بازیرک او چاریکار-محمود راقي انتقال لینونه
- د کجکي بند څخه تر موسی قلعې پورې انتقالي لینونه




تر څو چې NEPS او SEPS سره وصل او پراخيږي د برېښنا د تولید لپاره د **ډيزلي جنريټرانو** څخه کار اخیستل کیږي. (د سیګار تصویر د ستیفن موساری لخوا)

## د کندهار برېښنا وصلولو حل

دا پروژه د کندهار ښار لپاره د ډيزلي جنريټرانو تيل برابروي تر هغې چې د DOD-USAID د مشترکو هڅو په نتيجه کې NEPS او SEPS سره وصل شي او کندهار ښار ته مناسب او پايداره برېښنا برابره شي.[755]

د شورندام صنعتي پارک او د باغ پل جنريټرونه په مجموعي ډول 8–13 ميګاواټه برېښنا توليدوي. د بسپنه کوونې کچې له تيرې ربعې راهيسې ندي بدل شوي. د FY 2012 بسپنه ورکوونې د سونګ توکو د عملياتو او محافظت (O&M) لپاره 79.8 مليون ډالر پاتې دي. په 2013 مالي کال کې نومورې مصارف 100 ميليونه ډالر اټکل شوي چې 90 ميليونه ډالر يې د تيلو او 10 ميليونه ډالر يې د O&M لپاره ورکول کيږي.[756] ټاکل شوې ده چې د DOD د تيلو قراردادونه ورو کم شي او د 2014 کال د ډيسمبر په 31 نيټه پای ته ورسيږي. که چيرته DABS ونشی کړی د برېښنا د بديله سرچينو فنډ برابر کړي، کیدای شي مجبوره شي د کجکي د دريم توربين تر نصب پورې د ځايي خلکو برېښنا بند کړی.[757]

کانګرس د ولسمشر د 2014 مالي کال له بوديجوي غوښتنې څخه 279 ميليونه ډالر د AIF لپاره بيله کړه ترڅو د NEPS او SEPS په نښلولو کې د DOD برخه 199 ميليونه ډالرو ته ورسوي. همدارنګه لاندې محدوديتونه د کانګرس لخوا وضع شو:[758]

- د AIF فنډونو له 50% څخه زيات تر هغه وخت پورې نشي مصرفيدای چې د امريکا دفاع وزارت کانګرس ته راپور ورکړي چې د افغانستان او امريکا ترمنځ دوه اړخيزه امنيتي موافقه لاسليک شوې او دا د امريکا د ملي امنيت په ګټه ده، او له دې راپور څخه 15 ورځې تيرې شوې وي.[759]
- د AIF هغه فنډونه چې د 2014 مالي کال د مجموعي تخصيصاتو لايحې په چوکاټ کې تصويب شوي د هغه پروژو د پلان، جوړولو، او تعمير لپاره نه لګول کيږي چې د ياد قانون د تصويب څخه وړاندې نه وي شروع شوی (د 2014 کال د 17 جنوري).[760]

DOD وړانديز کړی تر څو 100 ميليونه ډالر يې د ډيزلي جنريټرانو د تيل، او د DOD او USAID د برېښنا مخکينيو پروژو په يوځای کولو کې ولګول شي. DOD به د 2014 مالي کال د نهايي تخصيصاتو په نظر کې نيولو سره نومورې پلان بياوارزوي.[761] دا پلان به د کندهار مختلف ''برېښنايي پروګرامونه'' په يوه کړی کې سره راټول کړي او پدې سره د برېښنا د ستونزې په حل کې مرسته کوي. د دفاع وزارت پلان لري چې تر په FY 2015 کې د سونګ توکو پيرود ته دوام ورکړي او O&M ته ملاتړ چمتو کړي، مګر DABS ته د جنراتورونو ليږد يې دسمبر 2013 ته نومولی، د شپږو مياشتو لپاره سپيرپارټ سره. د دفاع وزارت وويل چې د ليږد څخه يو کال وروسته پورې به دا تخنيکي ملاتړ چمتو کړي.[762] هغه دا برېښنا د ترهه ګرو پروړاندې مبارزې ته حياتي بولي ترڅو د اقتصادي پراختيا ملاتړ او د ښاريانو ژوند کچې ته وده ورکولو په واسطه د کندهار باثبات کولو کې مرسته وکړي. د دفاع وزارت وويل چې د کندهار وصلولو حل د افغانستان برېښنا رسولو پلان او د افغانستان لپاره د بهرنيو چارو وزارت پراختيايي پلان په سر کې دی.[763]

## له کندهار تر دوراهيی جنکشن انتقال لينونه

د SEPS پراخولو ته هڅې برخې په حيث، دا پروژه د کندهار ښار څخه تر دوراهيی جنکشن پورې د انتقال لينونو نصب يا ترميم او په ميوند او پشمول کې د فرعي ستيشنونو

جوړولو يا ترميم لپاره هڅو ته دوام ورکوي. د دې پروژې لګښت چې په 2012 کې قرارداد شوی و، د 2012 مالي کال په فنډونو کې 40 میلیونه ډالر پاتې شو. دا د انتقال لین د SEPS او NEPS وصلولو لوی PTEC پروژې لپاره کلیدي عنصر تشکیلوي او د افغانستان سویل او سویل ختیځ کې د باور وړ بریښنا لپاره اړتیا په ګوته کوي. د دفاع وزارت هدف د DABS سره د اقتصادي، امنیت، ثبات او ظرفیت جوړولو هڅو وده ده ترڅو ورسره مرسته وکړي چې ګریډ ته د پانګې پرمختګونو فنډ لپاره کافي عایدات رامنځته کړي. د دفاع وزارت په وینا، په کجکي بند کې نصب ته په تمه دریم توربین په واسطه تولید شوي بریښنا توضیح لپاره د دې پروژې بشپړتیا اړینه ده.[764]

## د چاریکار-بازیرک او چاریکار-محمود راقي انتقال لینونه او د بریښنا فرعي سټیشنونه

په دې پروژه کې به د چاریکار څخه تر بازارک او د چاریکار څخه تر محموداراقي پورې 52 میل لینونه وغزول شي. دا به د NEPS پراخولو لپاره درې د بریښنا فرعي سټیشنې هم جوړې کړي. کانګرس ته د امریکا د دفاع وزارت د خبرتیا په اساس، یاد وزارت په 2012 مالي کال کې 38 میلیونه ډالر او په 2013 مالي کال کې 33 میلیونه ډالر دې پروګرام ته تخصیص کړی و، چې مجموعي لګښت یې 71 میلیونه ډالر کیږي. د انتقالي لینونو او فرعي سټیشنونو د O&M لګښت په کال کې 580,000 ډالره کیږي.[765]

د دفاع وزارت کانګریس ته وویل چې نوموړې پروژه به د درې ولایاتو په اوږدو کې 1.15 ملیون افغانانو ته معتبر بریښنا راوړي او د سونګ توکو خصوصي سیکتور ودې سره مرسته وکړي، په ځانګړي ډول کرهنې، پروسس کولو، تولید او د کان کیندنې سیکتورونو کې. د ټول AIF بسپنه شوي پروژو سره نامتناقص، او د رسمي تړون په واسطه، دا پروژه به د بشپړتوب په صورت کې افغان حکومت ته انتقال شي. DABS به د O&M لپاره مسؤلیت په غاړه واخلي. د دفاع وزارت په وینا، د پیرودونکي پراخه شوي اساس څخه ډیرشوي عایدات او وده شوي د راټولولو وړتیا به DABS سره مرسته وکړي چې اوږدمهاله ثبات چمتو کړي.[766] په هرصورت، سیګار د DABS ظرفیت په اړه پوښتنې راولاړې کړي، او نورو پلټنو ویلي چې افغانستان د O&M لپاره ورکړې اړین زیرمې نلري.[767]

## د کجکي بند څخه تر موسی قلا پورې د انتقال لینونه

دا پروژه په هلمند ولایت کې د کجکي بند هایدرو پاور پلانټ څخه تر موسی قلا پورې د نوي انتقال لینونه جوړوي. د پروژې فیز I لپاره په FY 2013 فنډونو کې ټاکل شوي 12 ملیون ډالر به د کجکي څخه تر نوي فرعي سټیشن پورې نوي 110kV د انتقال لینونو تقریبا 9 میله جوړ کړي چې د موجوده 20kV انتقال لین سره به وتړل شي. فیز II پلان شوی چې د FY 2014 فنډونو کې 49 ملیون ډالر د فرعي سټیشن څخه موسی قلا ته د 110kV انتقال لین 23 میله جوړولو، یو 110kV فرعي سټیشن جوړول، او په موسی قلا کې موجود د 20kV فرعي سټیشن بیا احیا لپاره وکاروي. د DOD په ویناو دا پروژه د موسی قلعی د سیمې 60,000 استوګنو ته ګټه رسوي.[768]

د پروژې نورې برخې داسې طرحه شوي چې د SEPS ټولې پروژې په یوه واحد او سره نښتی سیستم کې یوځای کوي. د ټول AIF بسپنه شوي پروژو سره نامتناقص، او د رسمي تړون په واسطه، دا پروژه به د بشپړتوب په صورت کې افغان حکومت ته انتقال شي.

DABS به د O&M لپاره مسؤليت په غاړه واخلي. د DOD په وينا، د يو پراخيدونکی سکتور څخه زيات عايدات کول او د پيسو د ټولو وړتيا زياتول به له DABS سره مرسته وکړي تر څو اوږدمهاله ثبات پيدا کړي.[769] لکه څنګه چې وويل شو، سيګار د DABS ظرفيت په اړه اندېښنې څرګندې کړي، او نورو پلټنو ښودلې ده چې افغانستان د O&M د مصارفو لپاره اړينې سرچينې په واک کې نلري.

## د خصوصي سکتور پرمختګ

متحده ايالاتو د ESF، TFBSO، او CERP له لارې خصوصي سيکتور پراختيا حمايه کوي. USAID د 2002مالي کال څخه تر 2012 مالي کاله پورې 1.06 ميليارده ډالر د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره مرسته کړې دی.[770] د اقتصادي ودې په برخه کې د USAID ستره پروژه، چې فنډ يې د ESFله لارې ورکول کيږي، د تشبثاتو له لارې د افغانستان په ودانولو کې مرسته (ABADE) دی.

### د تشبثاتو له لارې د افغانستان په ودانولو کې مرسته

| د پروژې سرليک | د پيل نېټه | د پای نېټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 3/31/2014 نېټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| د پراختيايی شرکتونو په واسطه د افغانستان جوړوني کې مرسته | 10/16/2012 | 10/16/2016 | $104,997,656 | $16,839,439 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته خواب، 4/7/2014.

د تشبثاتو له لارې د افغانستان په ودانولو کې مرسته (ABADE) چې 105 ميليونه ډالر فنډ يې د USAID لخوا ورکول کيږي موخه لري چې د توليدي، افغاني، واړه او متوسطو تشبثاتو له لارې خلکو ته کاري موقې زياتې، پانګونه زياته، او د خصوصي-عامه اتحاديو په مرسته د داخلي محصولاتو او خدماتو خرڅولو ته لاره هواره کړي. دا خپل کار په درې لارو کوي: عامه-خصوصي اتحاديې له تصويب څخه وروسته عملي کول؛ د اتحاديانو معلومول، ټاکل او ملاتړ کول؛ او د سوداګرۍ د چاپيريال بهتره کولو لپاره د افغان دولت سره مرسته.[771]

د 2013 کال له فبروري څخه چې ABADE پيل شوی، د USAID د راپور په اساس د 2014 کال د مارچ تر 31 پورې، 30 عامه-خصوصي اتحاديان — د اووه مياشتو مخکې په مقايسه چې اووه اتحاديان و — نهايي شوي او 10 درخواستونه د تصويب انتظار کوي. 81 نور درخواستونه د پرمختګ او داخلي کتنې په جريان کې دي. علاوه پردې، په دې ربعه کې د سوداګرۍ خپورتيا او د دولت د ظرفيت لوړاوړي هڅې روانې وې.[772]

د ABADE عملی کولو د ولسمشر د 62 فرمان څخه وروسته له محدوديتونو سره مخ شوی. په ياد فرمان کې له ټولو ادارو څخه غوښتل شوي چې د خپل امنيت لپاره د APPF او د خطر کمونکو شرکتونو څخه استفاده وکړي. د USAID په وينا، APPF نشي کولی چې خوځنده امنيتي واحدونه او نقليه وسايل چمتو کړي، او له دې امله ABADE نشي کولی تر څو د افغانستان بيلابيلو سيمو ته سفر ورکړي.[773] وروسته له هغه چې د داخلې وزارت پدې ربعه کې APPF منحل کړ، دا معلومه نده چې د نړيوالو د پراختيايي پروژو او کارکونکو امنيت به د چا لخوا ټينګيږي.[774] د APPF په اړه د لازياتو معلوماتو لپاره 87 او 96 مخونه وګورئ.

## ترانسپورټيشن

د افغانستان د ترانسپورټيشن زيربنا نه شتون داخلي سوداګري، بهرنی تجارت او اقتصادي وده په شا تمبوي. نړيوال بانک وايي چې د ترانسپورټيشن سيکتور بيانصبول د اقتصادي او پراختيا لپاره حتمي دی.[775] د افغانستان په زيربنا کې کمبود په ځانګړي ډول د خدماتو او کرهنې سيکتورونو باندې فشار اچوي، کوم چې دا مهال د GDP ډيری برخه جوړوي. همدارنګه نوموړی نواقص د کان کيندنې صنعت هم له خنډ سره مخ کوي پداسې حال کې چې افغان دولت او نړيواله ټولنه تمه لري د بهرنيو مرستو له کميدو وروسته د کانونو عوايد وکولی شي د افغان دولت د مصارفو لګښت پوره کړي.[776] متحده ايالاتو بدې ربعه کې بياهم د افغانستان د وزارتونو د ظرفيت لوړاوي، د کاروني او مراقبت ثبات، او د نړيوالو معيارونو سره د برابريدو په برخو کې خپل مرستو ته دوام ورکړی و.[777]

په افغانستان کې د امريکا د ترانسپورټيشن وزارت لومړنی دنده دا ده چې د افغانستان د مرکزي او باثباته ترانسپورټي سيستمونو د جوړولو لپاره د افغانستان د ترانسپورت وزير، د متحده ايالاتو ادارو، د امريکا پوځ، غير دولتي موسسو، او نورو نړيوالو ملکي او پوځي موسسو ته ستراتيژيکه تخنيکي سلا مشورې وړاندې کړي. **DOT** د امريکا بهرنيو چارو وزارت لخوا فنډ ترلاسه کوي.

سرچينې: د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته د DOT ځواب، 3/31/2014؛ د سيګار د معلوماتو بررسی ته د DOT ځواب، 4/6/2014.

## سړکونه

د امريکا د ترانسپورټيشن وزارت (DOT) په وينا، پداسې حال کې چې امريکا تراوسه پورې په مجموعي ډول 2 ميلیارډه ډالر د افغانستان د سړکونو د رغونې او ساتنې لپاره ورکړي او هر کال شاوخوا 5 ميليونه ډالر د سړکونو د مراقبت او ساتنې لپاره ورکوي، خو بيا هم افغانستان د خپلو سړکونو او لويو لارو د ساتنې لپاره کافي فنډ او تخنيکي ظرفيت نلري.[778] علاوه پردې، د سړکونو د ادارې لپاره د يوې بيلې ادارې نشتون په ټوله افغانستان کې د سړکونو زيربنا ته ډير زيان رسولې دی.[779] که څه هم ولسمشر او کابينه د 2013 کال په اګست کې د عامه فوايدو وزارت ته اجازه ورکړه ترڅو د سړکونو اداره او د سړکونو فنډ رامنځته کړي خو دا کار تراوسه لاندی ترسره شوی.[780]

د DOT په وينا د سړکونو د ادارې جوړولو په وړاندې ابتدايي ننګونې سياسي عوامل دي — چې پدې کې د ترانسپورټيشن پخوانی قانون، د مختلفو وزارتونو او محلي ښاروالیو د ادارو کاري تداخل، غيرواضح او مبهم مسوليتونه شامل دي. د 2014 کال د اپريل د ټاکنو غير واضح نتايج، نوی دولت، فنډونه او د ډونرانو هيوادونو سره د همغږی په برخو کې د نيمګړتياو له امله يادې ننګونې لاهم زياتيږي.[781]

DOT د افغانستان د سړکونو د رغونې، ساتنې او مراقبت لپاره د نړيوالو ډونرانو د همغږی نوښت پيل کړ تر څو د افغان د ولت په مشرۍ د يادو ستونزو د حل ستراتيژي او د بررسۍ کړنلاره جوړه کړي. دا نوښت په وروستيو کې MOPW ته سپارل شوی تر څو د مختلفو ډونرانو ترمنځ همغږۍ ته ادامه ورکړي.[782] پهرصورت، DOT وايي چې که چيرته پورتنۍ ستونزې ژر تر ژره بررسي او د حل لارې ونه موندل شي، د افغانستان د سړکونو شبکه به د پام وړ خرابۍ سره مخ شي.[783]

## د سړکونو د سکتور بقا

USAID د 2013 کال د جولای په 14 نيټه د سړکونو سکتور د ثبات (RSS) پروژې طرحه منظوره کړه. دا پروژه څلور اساسي فعاليتونه لري:[784]

- فعاليت 1-بيړنی کارونه او مراقبت (5 ميليونه ډالر). د درخواست وړانديز د 2014 کال د فبروري په 18 نيټه خپور شوی، درخواستونه د مارچ تر 18 پورې اخيستل کيږي، او تمه کيږي چې قراردادونه يې تر اپريل مياشتې پورې ترسره شي.

- فعالیت 2-د سړکونو د اداري او د سړکونو د فنډ په برخه کې د عامه فوایدو له وزارت (MOPW) سره تخنیکي مرسته (25 میلیونه ډالر د I مرحلې لپاره؛ 10 میلیونه ډالر د II مرحلې لپاره). د I مرحلې درخواستونه د 2014 د جنوري په 29 نیټه ترلاسه شوي، تخنیکي او د لګښتونو بیاکتنه یې روانه ده، او تمه کیږي چې قرارداد یې په اپریل کې ترسره شي.
- فعالیت 3-د MOPW د ظرفیت لوړاوي (38 میلیونه ډالر). د کار شرایط د نهایي کیدو په حال کې دی او وظیفوي فرمان اړتیاوې هم د جوړیدو په درشل کې دي. تمه کیږي چې قرارداد یې د 2014 کال تر سپتمبر پورې ترسره شي.
- د سړکونو د عملیاتونو او ساتنې لپاره فعالیت. د 2014 د سپتمبر لپاره د USAID له مرستو څخه وړاندیز شوي (33 میلیونه امریکایي ډالر)، به د AITF له لارې وروسته لدې دې برخې ته ولاړې شي کله چې د آسیا پراختیایي بانک لخوا د عملیاتونو او ساتنې ګټې کړکې جوړه شي.

## ریل

اوسمهال، افغانستان د ریل پټلۍ پراختیا ته عملیاتي تجربه او ظرفیت نلري. د 47 میلو په اوږد والي د ریل یوواړې یوه پټلی له هیرتانه د ازبکستان له سرحده تر مزار شریف پورې بشپړه شوې.[785] دا هیواد اړتیا لري چې د 47 میلو دغه پټلی نوره هم وغزوې ترڅو د سیمې د اقتصادي وصلولو لپاره د امریکا حکومت د "وریښمو نوي لار" نظر ته پراختیا ورکړي. د افغانستان، ترکمنستان، او تاجکستان ترمنځ د 249 میلو په اندازه د ریلو د سړک کار د 2013 کال په جون کې پیل شوی.[786]

## زده کړه

د هغه معلوماتو په اساس چې د معارف وزارت (MOE) د زده کړې د معلوماتي اداري له سیستم (EMIS) څخه لاسته راغلي افغانستان په 1391 مالي کال (د 2012 کال د مارچ 21 - د 2012 کال د ډیسمبر20) کې په مجموعي ډول 14,740 ابتدایي، ثانوي، او د لیسې مکتبونه درلود. همدغه سرچینه ښیي چې په مالي کال کې شاوخوا 4.2 میلیون تنه زده کونکي په ابتدایيه، ثانوي او لیسه مکتبونو کې راجستر شوي دي1391. د EMIS د ثبت په اساس مجموعاً 4.2 میلیون تنه زده کونکي راجستر شوي چې له دې څخه 3.27 میلیون تنه یې حاضر او 931,347 تنه یې غیرحاضر دي.[787]

د USAID په وینا، د 1391 مالي کال له راجستر شوي زده کونکو سره د پخوانیو زده کونکو شمیره یوځای شوې او په ټول هیواد کې د زده کونکو شمیره (7.48 میلیونه تنه) لاسته راغلې ده. د معارف وزارت غیرحاضر زده کونکي هم په راجستر شوي کسانو کې شمیري او وایي چې دوی په موقتي ډول لرې شوي او کیدای شي په راتلونکی کې مکتب ته حاضر شي. غیرحاضر زده کونکي د دریو کلونو لپار په راجستر شوي کسانو کې شمیرل کیږي او وروسته بیا یې نوم حذف کیږي. د غیرحاضرو زده کونکو په شمیرلو سره د معارف وزارت په وینا په ټول افغانستان کې 8.4 میلیون تنه زده کونکي شته دي.[788]

USAID لادمخه د EMIS/MOE د اعتبار په اړه خپله اندیښنه ښودلې وه. یاده سرچینه یوازینی دیټابیس دی چې په معارف وزارت کې تعلیمي محاسبې ترسره کوي. USAID اکثرآ د EMIS پر معلوماتو تکیه کوي خو سیګار ته یې ویلي چې د دې معلوماتو صفایي نشي کولی. USAID د معارف وزارت سره مرسته کوي تر څو د EMIS د معلوماتو اعتبار ته وده ورکړي.

**راجستر شوي:** د ټولو هغه زده کونکو شمیر چې په یو مالي کال کې راجستر شوي،

**حاضر:** د تیرکال هغه زده کونکي چې په یو مالي کال کې حاضر وي،

**غیرحاضر:** د هغه زده کونکو شمیر دی چې مکتب ته نه راځي، خو تراوسه لا په راجستر شوي زده کونکو کې شمیرل کیږي.

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته د USAID ځواب، 4/12/2014.

د دې مرستو زياته برخه اوس د بوديجې په چوکاټ کې کېږي. USAID وايي چې د اړوندو معلوماتو د تصديق او صفايي لپاره د خپل مامورينو، د نړيوال ساتي ځواکونو، نورو ډونرانو، او عملي کونکو ملګرو له داخلي راپورنو څخه استفاده کوي.[789]

په همدې توګه، سره له دې چې USAID د تعليمي اداري د ظرفيت زياتولو په برخه کې له معارف وزارت سره ډېره مرسته کړې، خو بيا هم ياد وزارت د خپل مکتبونو د کتني او شمير لپاره د تعقيب کوم سيسټم ندی جوړ کړی همدارنګه د وزارت مرکز ته دا معلومه نده چې کوم مکتب او کله د ولسواليو د معارف مديريتونو لخوا ټکل شوي دي. بناء، د ټکل شوي مکتبونو شمير، د هغه زده کونکو سلنه چې په مکتب کې زده کړه کوي، او د ټکل شوي ښونکو سلنه معلومه نده. د همدې لپاره، نه هم USAID او نه د معارف وزارت د دې شاخصونو په وړاندې کوم هدف ندی ټاکلی. د معارف وزارت د چارواکو په وينا، امنيتي ستونزې په خاصه بيا په جنوبي او جنوب ختيځه سيمو کې د دې نيمګړتياو يو عامل دی.[790] سيګار پدې اړه لاهم انديښنه لري چې د متحده ايالاتو دولتي اداري او نور نړيوال ډونران نشي کولی د زده کړې په برخه کې د افغانستان د لاسته راوړنو صحت معلوم کړي.

USAID د 2002 کال څخه راهيسې د ښوونځيو د ترميم، د نصاب جوړولو، او د ښوونکې د روزنو له لارې د زده کړې سره مرسته کړې ده. پدې ربعه کې د ESF له لارې بسپنه شوي د معارف سيکتور کې د USAID روان لومړيتوب پروګرامونو کې شامل دي:

- اساسي زده کړې، سواد، تخنيکي-مسلکي ښونې او روزنې (BELT)
- د افغانستان امريکايي پوهنتون (AUAF)

## د سيګار پلټنه

د معارف وزارت د معلوماتو ټيټ اعتبار او د معارف وزارت د ظرفيت په اړه د سيګار د روانو انديښنو له امله سيګار يوه پلټنه پيل کړه تر څو معلومه کړي چې متحده ايالات په افغانستان کې د زده کړې له سکتور سره کومې مرستې کړي.

## اساسي زده کړې، سواد، تخنيکي-مسلکي زده کړه او روزنه

| د پروژې سرليک | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 3/31/2014 نيټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| اساسي زده کړه، سواد زده کړه، او تخنيکي مسلکي زده کړه- درسي کتابونه | 11/16/2011 | 12/31/2014 | $26,996,813 | $21,955,403 |
| د ښوونکو ترينګ | 3/4/2012 | 11/6/2014 | 62,000,000 | 62,000,000 |
| BELT - په ټولنې کې ميشته زده کړه | 10/29/2013 | 10/28/2017 | 56,000,000 | 0 |

سرچينې: د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته د USAID ځواب، 4/7/2014؛ د سيګار بررسی ته د USAID ځواب، 4/14/2014.

اساسي زده کړې، سواد، تخنيکي-مسلکي زده کړه او ترينګ (BELT) موخه لري په هغه سيمو کې چې دولت لاسرسي نلري باکيفيته زده کړې ته لاسرسي زياته کړي. دا پروګرام د معارف وزارت د 1-6 ټولګيو د درسي کتابونو فنډ ورکوي، او تخنيکي-مسلکي زده کړه، او ترينګ او همدارنګه د ټولنې په مرسته د زده کړې پروګرامونه چمتو کوي.[791] دوه نور برخې يې چې د طرحې لاندې دي عبارت دي له: د معارف وزارت د ظرفيت لوړاوي، او د بازار د غوښتنو پوره کولو لپاره تخنيکي مسلکي زده کړه او ترينګ(TVET).[792]

BELT په هغه سيمو کې چې د معارف وزارت له مکتبونو څخه لرې دي، د ټولنيزه زده کړې له لارې ګړندی او ګټوره زده کړه وړاندې کوي.[793] د BELT CBE تطبيق پاڼه د مالیې او معارف وزارتونو سره لاسليک شوه چې د زده کونکو اهداف، د کړنې معيارونه، د صحت معلوملو لارې، او د فنډ سويه پکې روښانه شوې ده.[796] پهرصورت، USAID وايي

## د سيګار څارنه

د بلخ د تحصيلي ودانۍ په اړه د سيګار يو تفتيش چې په تيره ربعه کې ترسره شوې وه، موندنه چې د بلخ تحصيلي ودانۍ د قرارداد له شرايطو او تخنيکي مشخصاتو سره سم ندي جوړ شوي؛ سره له دې چې د تعمير له رغيدو څخه پنځه کاله تيرو شوي اوس هم افغان دولت ته د سپارلو جوګه ندی؛ او افغان محصلينو سره له دې چې تعمير په رسمي ډول ندی تسليم شوی، ترې استفاده کوي.[794]

**USAID پدې ربعه کې راپور ورکړ چې د بلخ پوهنتون د ودانۍ د کار بشپړ کولو لپاره یې یو نوی قرارداد لاسلیک کړی ده. ټاکل شوې وه چې د ودانۍ کار د 2014 کال اپریل په 10 پیل شي 180 ورځې دوام ولري او د 2014 کال د اکتوبر په 10 پای ته ورسیږي. USAID د لوړو زده کړو له وزارت څخه غوښتي چې د رغونې په جریان کې یاده ودانۍ تشه کړي.[795]**

چې د معارف وزارت د CBE د اهدافو لپاره کاري پلان او د تطبیق مهال ویش په جوړولو کې ځنډ کوي.[797]

نورې ننګونې عبارت دي له: د بوديجې په چوکاټ کې د مرستو په ډيزاين، تهيه، او عملي کولو کې د معارف وزارت ټيټ ظرفيت؛ او د متحده ايالاتو په مرستو باندې د مالیې وزارت لخوا نامناسبه ماليه اخيستل چې له امله يې د مستقيمه مرستو په تادياتو کې د USAID فعالیتونه له ځنډ سره مخ شوي ده. USAID لا د مخه د معارف او مالیې وزارتونو سره خبرې پيل کړي تر څو هغه مرستې چې د بوديجې په چوکاټ کې کیږي د مالیې څخه معاف کړي او اخيستل شوي مالیې د BELT د فعالیتونو لپاره د معارف وزارت خصوصي حساب ته ولیږدوي.[798]

کومه تطبيق پاڼه چې په 2011 کال کې د USAID او معارف وزارت ترمنځ لاسلیک شوه تر څو د BELT پروګرام له لارې د معارف وزارت نږدې 50 ميليون درسي کتابونه چاپ کړي، له معارف وزارت څخه غواړي تر څو "داسې درسي کتابونه چمتو کړي چې د ښځو او جينکو اړتیاوې په نظر کې نیول شوی وی." پهرصورت، د USAID په فنډ د جنډر د ارزونې یو پروګرام ومونده چې په یادو کتابونو کې هلکان او سړي د ښځو او جینکو په مقایسه دوه ځلې زیات یاد شوي او تصویرونه یې بیا درې ځلې زیات انځور شوي دي. د یاد راپور په معلوماتو کې راغلي چې د ښځو او سړو په یادولو، نوم اخیستو، او انځورونو کې څرګند توپیر لیدل کیږي. نوموړی راپور په نتیجه ګیری کې وایې چې د ښځو او جینکو د ټولنیزو فعالیتونو زیاتولو لپاره په درسي کتابونو کې د جنډر مساواتو ته کافي پام ندی شوی.[799]

## د لوړو زده کړو پروژه (HEP)

| د پروژې سرلیک | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 3/31/2014 نیټې پورې مجموعي تادیه |
|---|---|---|---|---|
| د لوړو زده کړو پروژه | 2/23/2011 | 2/28/2014 | $21,216,813 | $18,548,120 |

سرچينه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته خواب، 4/7/2014.

په 2006 کال کې د لوړو زده کړو (HEP) پروژې له پیل راهیسې، دې پروژې د لوړو زده کړو وزارت سره د لوړو زده کړو د ملي ستراتیژیک پلان په اجرا کې مرسته کړیده. د HEP وروستی مرحله چې د 2014 کال د فبروري تر 28 غزول شوې ده، د مسلکي تريننګ، د کیفیت یقیني کول او اعتبار ورکول، د نصاب بیاکتنه، د پوهنتونو ملګرتیا، اکاډمیکه پالیسي، او د مقرراتو له لارې د یاد وزارت ظرفیت ته وده ورکوي.[800] په دې ربعه کې ولسي جرګې بیا هم د لوړو زده کړو قانون تصویب نه کړ. په یاد قانون کې دولتي پوهنتونو ته صلاحیت ورکړ شوی چې خپل عایدات او ترلاسه کړي مرستې په خپلواک ډول تولید او اداره کړي. پهرصورت، د HEP په مرسته د پولی تخنیک پوهنتون په چوکاټ کې د دوه کلن سند کار پای ته ورسید او لومړی صنف یې د 2014 کال په جنوري کې پیل شو.[801]

## د افغانستان امریکایي پوهنتون

| د پروژې سرلیک | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 3/31/2014 نیټې پورې مجموعي تادیه |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان امریکایي پوهنتون | 8/1/2013 | 7/31/2018 | $40,000,000 | $4,395,826 |

سرچينه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته د USAIDخواب، 4/7/2014.

د USAID دویم پنځه کلنۍ تعاوني موافقت لیک دا دی چې د افغانستان امریکایي پوهنتون د انګلیسي ژبې لیسانس درسونه او روان درسونو ته دوام ورکړي. د دې موافقې ځلور برخې موخه لري چې د اکاډمیک او مسلکي پروګرامونو وده تقویه کړي، د پروګرام کیفیت زیات کړي، او د مالي اړخ نه خودکفایۍ ته وده ورکړي.[802]

AUAF د خپل د لګښت پوره کولو اهداف پوره کړ، او د 2013 کال د نومبر 1 څخه د 2014 کال د جنوري 31 پورې یې د درسونو او اعانو له لارې 3,265,765 ډالره راټول کړ.[803] همدارنګ USAID راپور ورکړ چې د AUAF د لیسانس دورې ښځینه زده کونکي د 2014 کال تر مارچ پورې 31.9% ته رسیده. پهرصورت، امنیت لاهم یوه اندیښنه ده، او د ښځینه زده کونکو جذب او ساتل یوه ننګونه ده.[804]

## د زده کړې په برخه کې د USAID نور فعال پروګرامونه

| د پروژې سرلیک | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 3/31/2014 نیټې پورې مجموعي تادیه |
|---|---|---|---|---|
| د زده کړې لپاره نړیواله ملګرتیا | 10/11/2012 | 3/31/2015 | $2,500,000 | $438,683 |
| د افغانستان تعبیرونه | 6/1/2013 | 5/31/2014 | 380,000 | 300,000 |
| د افغانستان تخنیکي مسلکي انستیټیوټ | 6/15/2013 | 6/14/2015 | 1,000,000 | 475,000 |
| په افغانستان کې د زده کړې پیاوړی کول | 8/8/2010 | 6/30/2014 | 10,225,847 | 9,949,051 |
| د افغانستان د تعلیمي سکالرشیپ پروګرام | 8/21/2011 | 7/31/2017 | 7,384,665 | 5,311,003 |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/7/2014.

## روغتیا

د USAID په وینا، افغانستان د 2002 کال څخه راهیسې په خپلو صحي شاخصونو کې د پام وړ پرمختګ کړی دی. سره له دې چې دا هیواد اوس هم د نړۍ په کچه د مور او ماشوم د مړینې لوړه شمیره لري، د مرګ ژوبلې سروې چې په 2010 کال کې د USAID په فنډ ترسره شوه معلومه کړه چې په دې هیواد کې د ژوند تمه 20 کاله زیاته شوې او په اوسط ډول 62–64 کلونو ته رسیږي.[805] پهرصورت، ځینې نورې ادارې بیا یو څه ټیټې شمیرې ښودلې دي. د CIA د نړۍ په معلوماتو کې د افغانانو د ژوند تمه د زیږیدنې څخه تر 50 کالو پورې، او نړیوال بانک بیا په 2012 کال کې 60.5 کاله ښودلې پداسې حال کې چې په 2001 کال کې یې 55.26 کاله ښودلې و 5.25-کاله زیات. علاوه پردې، نړیوال بانک په 1991 کال کې د ژونمه تمه 49.4 کاله ښودلې وه، له دې څخه معلومیږي چې نړیوال بانک په هره لسیزه کې د افغانستان د ژوند تمه 5–6 کاله زیاتوي، پرته له دې چې د متحده ایالاتو د هڅو نتایج په نظر کې ونیسي.[806]

له 2002 تر 2012 مالي کاله پورې، د افغانستان روغتیايي سکتور سره د متحده ایالاتو هغه مرستې چې د افغان حکومت له لارې یا د حکومت له بودیجې بهر لګول شویدي 1.06 میلیارډه ډالرو ته رسیږي.[807] د عامې روغتیا وزارت سره د بودیجې په چوکاټ کې ورکړ شوي مرستو کې د هغه کسانو معاشونه چې د امریکا په مرسته جوړ شوي مرکزونو کې کار کوي، طبي او غیر طبي اکمالات، داخل خدمت روزنې،د ودانیو ورې بیارغونې، طبي تجهیزات او نظارت او ارزونه شامل دي. د بودیجې له چوکاټ څخه بهر مرستې په

## د سيګار تحقيق

د عامې روغتيا وزارت د مرستو او قراردادونو د مديريت څانګې په يو تحقيق کې چې د صحي مراکزو د چلونکو انجيوګانو څارنه او لاربښونه په غاړه لري، سيګار غواړي چې د انجيوګانو د حساب صورتونه، د ټرل شوي صحی مراکزو د فنډ، او د رشوت او جعلي مهال ويشونو بياکتنه وکړي.

لاندې مواردو کې شوي: د صحي سيستم تقويه کول، په صحي مسايلو کې خصوصي سکتور راښکيلول، او درمل او کانتراسپټيف مواد (د اميداورۍ د مخنيوی لپاره) چمتو کول.[808]

د USAID د دې ربعې لوړ لومړيتوب روغتيا سيکتور پروګرامونو کې شامل دي:

- د روغتيا خدماتو لپاره د ملګرتيا قراردادونه (PCH)
- د روغتيا پاليسي پروژه (HPP)
- د رهبريت، مديريت، حکومتدارۍ پروژه (LMG)

## د روغتيايي خدمتونو لپاره مشارکتي قراردادونه

| د پروژې عنوان | د پيل نېټه | د پای نېټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 3/31/2014 نيټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| د روغتيايي خدمتونو لپاره مشارکتي قراردادونه | 7/20/2008 | 1/31/2015 | $236,455,840 | $164,648,037 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/7/2014.

د روغتيايي خدمتونو لپاره د مشارکتي قراردادونو (PCH) پروګرام د عامې روغتيا وزارت سره مرسته کوي تر څو په 13 ولايتونو کې خلکو ته د روغتيايي خدماتو اساسي کڅوړه (BPHS) او د روغتون د خدماتو اساسي کڅوړه (EPHS) وړاندې کړي. متحده ايالاتو د روغتيا دغه اسانتياو څخه 641 ملاتړ کړي، په شمول د:[809]

- 5 ولايتي روغتونونو
- 27 ولسوالۍ روغتونونو
- 14 د روغتيا جامع مرکزونه+( "+"پراخو خدماتو ته اشاره کوي)
- 163 پراخه روغتيايي مراکز
- 278 د ابتدايي روغتيا مراکز
- 144 د روغتيا فرعي مرکزونه
- 10 د زندان روغتيايي اسانتياوې

همدارنګه USAID په ټول افغانستان کې د 6,402 صحي پوستو سره مرسته کوي — د ټولو صحي پوستو 48.5%. هره مياشت په اوسط ډول د 1.3 ميليونه ناروغانو خدمت کيږي.[810]

PCH د ابتدايي پاملرنې څخه نيولې تر اعلي او مسلکي تشخيصي او معالجوي خدماتو پورې وړاندې کوي. نوموړی پروګرام د ټولنې د قابله ګانو د ښوونې پروګرام سره هم مرسته کوي تر څو د ښځينه روغتيايي کار کونکو شمير زيات او پدې سره د ميندو او ماشومانو مرګ ژوبلې کمې شي.[811]

USAID په خپل راپور کې ويلي چې اوسنی BPHS او EPHS نشي کولی د ټولنو زياتيدونکي صحي اړتياو ته ځواب ووايي. علاوه پردې، د PCH کار کونکي د مرستو او قراردادونو د مديريت څانګې ته ورکول، او د امنيتي شرايطو خرابيدل د دې لامل شوي چې روغتيايي مراکز په موقتي ډول بند او اداري فعاليتونه، د کارکونکو انتقال، څارنه او نظارتي فعاليتونه له ځنډ سره مخ شي.[812]

PCH هر شپږ مياشتې USAID ته راپور ورکوي.[813] خو سيګار د عامې روغتيا وزارت په اړه د پلټنې په ترڅ کې موندلې چې USAID د ياد وزارت د عملياتي لګښت پوره کولو لپاره په پيشکي ډول هر 45 ورځې اضافي فنډ ورکوي. د عامې روغتيا وزارت ياد شوی

او نور داخلي نواقص د دې لامل کيږي چې د PCH پروګرام په چوکاټ کې د متحده ايالاتو فنډونه د درغلي، ضياع او ناوړه کارونې له خطر سره مخ شي. همدارنګه يادې پلټنې په ګوته کړه چې د USAID چارواکو ته معلومه نده چې آيا د عامې روغتيا وزارت د يادو نواقصو د لرې کولو لپاره کوم ګام پورته کړی که نه.[814]

## د USAID څارنه

USAID د عامې روغتيا وزارت د مرستو او قراردادونو د اداري په څانګه (GCMU) کې يو ټيم ته فنډ ورکوي تر څو د USAID په فنډ جوړ شوي تسهيلاتو څخه څارنه وکړي. USAID راپور ورکړی چې دGCMU ټيم په2013 مالي کال کې 55 ساحوي کتنې کړي، چې پدې کې يې د PCH پروګرام242 (44%) صحي مراکز کتلي دي. د انجيوګانو څخه غوښتل شوي چې د هر صحي مرکز په اړه عادي څارنه ترسره کړي او په خپل مياشتنی راپور کې د فعالو صحي مراکزو او په دوی کې د بوختو کسانو شميره هم وليکي.[815] د حاضرو ناروغانو شمير، د روغتيايي خدماتو ډول، کيفيت، يا نتايج ترې ندي غوښتل شوي.

USAID فعلا د افغانستان د صحي معلوماتو لپاره د عامې روغتيا وزارت د صحي اداري پر معلوماتي سيستم (HMIS) اعتماد کوي، لکه څنګه چې د معارف وزارت له EMIS سره هم داسې کوي. د EMIS برخلاف، USAID د مشرۍ، مديريت، او حکومتولۍ د پروژې له لارې د عامې روغتيا وزارت سره مرسته کوي تر څو د معلوماتو کيفيت د ارزولو وسيله وکاروي او پدې سره د HMIS لپاره بشپړ، په وخت او کره معلومات راغونډ کړي. USAID همدارنګه د عامې روغتيا وزارت سره په تيره ربعه کې مرسته وکړه چې د معلوماتو د کيفيت يقيني کولو لپاره د نمونه ګيرۍ سروې په لاره واچوي. د2013 کال په اکتوبر کې د معلوماتو راټولول بشپړ شو او LMG پدې اړه په دري ژبې يو راپور خپور کړ.[816] د LMG پروګرام په اړه د لازياتو معلوماتو لپاره 130 مخ وګورئ.

## د صحي پاليسۍ پروژه

| د پروژې سرليک | د پيل نېټه | د پای نېټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 3/31/2014 نېټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| د روغتيايي پاليسۍ پروژه | 6/2012 | 10/2014 | $28,000,000 | $13,700,000 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 3/31/2013.

د صحي پاليسۍ پروژه (HPP) د عامې روغتيا وزارت سره مرسته کوي ترڅو د روغتونونو د عامه-خصوصي ملګرتيا (PPPs)په طرحه، څيرنه، او مديريت سره د خلکو د روغتيا اساسي اړتياوې بشپړې کړي. همدارنګه دا پروژه موخه لري چې د روغتيا مالي څانګې او د روغتيايي سرچينو په مديريت کې مرسته وکړي، د روغتيا سکتور په فعاليتونو کې د جندر رول زيات کړي، د محلي سيمو د خصوصي سکتور موسسو ظرفيتونه لوړ کړي تر څو د ټولنيزو رسنيو د بازار موندنې له لارې — داسې يوه کړنلاره ده چې د افرادو او ټولنې د ګټو لپاره د خلکو چلند بدلوي- د افغان دولت سره يوځای د باکيفيته صحي خدماتو په چمتو کولو کې برخه واخلي.[817]

د USAID په وينا، پدې ربعه کې ناامنۍ په خاصه بيا د ټاکنو له امله، د HPP کارونه تراغيزې لاندې راوستله، او د ټاکنو د نتايجو په اړه د ډاډ نشتوالی د دې لامل شو چې ډېر نړيوال پانګه اچونکي د عامې روغتيا وزارت سره د HPP په برخه کې مرسته ونکړي.

په عين وخت کې، د عامې روغتيا وزارت د PPP څانګې کارکونکو د ټريننګ لپاره د تکړه نړيوال مشاورينو نشتون د دې لامل شوی چې د PPP فعاليتونه چې غواړي د افغان دولت له

## د سيګار څارنه

د سيګار يو تفتيش پدې ربعه کې وموندل چې د CERP په فنډ جوړ شوی سالنګ روغتون د قرارداد له شرايطو سره سم ندی جوړ شوی او د خونديتوب مهمې ستونزې لري؛ هغه نواقص چې د متحده ايالاتو ځواکونه-افغانستان لخوا په ګوته شوي و ندي سم شوي؛ او روغتون کې شمير خدمات چې په نظر کې نيول شوي و نه وړاندې کوي. پدې ربعه کې د متحده ايالاتو ځواکونه-افغانستان ملاحظات خپور شو. د لازياتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 36 وګورئ.

موافقې (د ولسوالی، ولایت، او ټول هیواد په کچه) او د امنیتي تصفیې وروسته د کابل څخه د باندې د جندر په اساس د تاوتریخوالی په ضد ورکشاپونه جوړ کړي، له ځنډ سره مخ شي.[818]

د دې ننګونو سربیره، HPP د عامې روغتیا وزارت په مرسته داسې یوه اشتهاري ویډیو جوړه کړه چې د کابل په درېو روغتونونو کې خصوصي سکتور پانګونې ته هڅوي، همدارنګه دوه راډیويي اعلامیې یې خپرې کړې چې د لږ عمر ودونه او د روغتیایي خدماتو په بهیر کې د جندر تبعیض پکې غندل شوي و. په دې ربعه کې د HPP په مرسته د ترینګ پروګرامونه دوام درلود، چې اساسي موضوع یې د مور او ماشوم د مرګ ژوبلې د مخنیولو هڅې، او د روغتیا د خصوصي سکتور په پالیسي جوړولو کې د مشاورت ونډه وه.[819]

## د مشری، مدیریت، او حکومتولي پروژه

| د پروژې سرلیک | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 3/31/2014 نیټې پورې مجموعي تادیه |
|---|---|---|---|---|
| مشري، مدیریت، او حکومتولي | 9/25/2011 | 9/24/2016 | $26,000,000 | $15,657,888 |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته خواب،4/7/2014.

د مشری، مدیریت، او حکومتولۍ (LMG) پروژه په مرکز او ولایاتو کې د عامې روغتیا وزارت او د معارف وزارت سره کار کوي تر څو د افغانستان په روغتیایي، او تعلیمي سیستمونو کې د مشرۍ، مدیریت، او حکومتولۍ ظرفیتونو ته وده ورکړي. دا غواړي چې د MOPH روڼتیا او حساب ورکوونې ته هم وده ورکړي او دواړه وزارتونو سره مرسته وکړي چې آن بودیجې مرسته اداره کړي.[820]

د افغانستان د ملکي خدماتو کمیسیون پدې ربعه کې د کابل روغتونونو ته د بشري سرچینو خپلواکي — د کارکونکو د استخدام او لرې کولو حق- ورکړه.[821] د دې روغتونونو د داخلي افرادو ګومارنه د سیاسي او ټولنیزو عواملو تر تاثیر لاندې و، چې دا کار د USAID په اند د تخنیکي مرستو په وړاندې کولو کې د LMG هڅې زیانمن کولې.[822] USAID همدارنګه راپور ورکړ چې د دې روغتونونو څخه 14هغو یې د وینې د بانک او کلینیک سره یوځای د خپل وروستی مالي کال مصارف بند کړ چې د بودیجې اوسط مصارف یې 89% و.[823]

USAID همدارنګه ګڼ شمیر ننګونو ته اشاره وکړه، چې ځینې یې دا دي: د عامې روغتیا وزارت د پخوانیو چاراوکو لخوا پر مشاورنیو او سلاکارانو له اندازې زیات تکیه کول، د ولایتي روغتیا پراختیایي اړتیاو ته د MOPH ناکافي غبرګون ښودل، د عامې روغتیا وزارت د صحي معلوماتو برخې په مختلفو ریاستونو ویشل شوې، او د لوجیستیکي او امنیتي مسایلو له امله د ساحې د څارنې محدودیتونه.[824]

### دUSAID نور فعال روغتیایي پروګرامونه

| د پروژې سرلیک | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 3/31/2014 نیټې پورې مجموعي تادیه |
|---|---|---|---|---|
| د فارمسي سیستم تقویه کول | 8/28/2011 | 8/27/2015 | $24,499,936 | $12,933,500 |
| د پولیو له منځه ورلو فعالیتونه | 9/30/1996 | 9/30/2022 | 10,750,000 | 9,415,102 |
| TB= د ساحې مرسته | 9/29/2010 | 9/28/2015 | 4,600,000 | 1,252,370 |
| د پوهنتون څیړنه = د ساحې مرسته | 9/30/2009 | 9/29/2014 | 13,950,000 | 12,950,000 |
| د افغانستان د پوهنتونو او کاري ځواک څخه د ملاتړ لپاره د USAID پراختیایي پروګرام | 1/1/2014 | 12/31/2018 | 91,927,769 | 335,229 |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/7/2014.

## مخابرات

د ملي مخابراتو لپاره یوه مناسبه زیربنا جوړول د 2002 کال څخه راهیسې د افغان دولت یو ستر لومړیتوب دی. د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ سکتور (ICT) په تیرو څو کلونو کې ډیره وده کړې او د افغان دولت تر ټولو لوی عایداتي سرچینې په توګه پیژندل کیږي. یاد سکتور په کال کې نږدې167 میلیونه ډالر عاید لري.[825] د USAID د راتلونکی اقتصادي اغیزې په مطالعه کې ومونده چې د ICT سکتور په 2013 کال کې 1.8 میلیارډه ډالر مجموعي عاید درلود او شاوخوا 138,500 تنه افغانان پکې په کار بوخت و.[826]

MCIT خپل کاري لومړیتوبونه تنظیم کړي ده تر څو پاتې خلکو ته هم د موبایل د پوښښ خدمات وړاندې کړي، د نوري فایبر د کیبل زیربنا پراخه کړي، د ګرندی انټرنیټ خدمات عملي کړي، بریښنایي حکومتولي معرفي کړي، او د ډیجیټل تلویزیون سیستم ته یې بدل کړي.[827]

افغان ټیلیکام- په بشپړ ډول د MCIT ملکیت دی چې د مشرۍ د بورډ ریاست یې د MCIT وزیر شاغلی امیرزی سنګین لخوا کیږي او په بورډ کې د MCIT او مالیې وزارت چارواکی، او د نورو افغاني شرکتونو استازي شامل دی- کښیني او د په مارکیټ کې ډیر په شدت سره وده کوي، چې پدې سره به د موبایل د شبکې له پراخیدو سره مرسته وکړي په خاصه بیا داسې لرې او خطرناکو سیمو کې چې خصوصي شرکتونه هلته د تلو جرات نکوي. د موبایل د خدماتو ګڼ شمیر پایې به د هغه پایو خلا ډکه کړي چې د ایتلاف ځواکونو د مراکزو له بندیدو سره غیر فعاله شوي، او همدارنګه د خصوصي شرکتونو په خلاف چې د شپې لخوا د جنګیالیو د بریدونو له ویرې خپل پایې بندوي، څلورویشت ساعته خلکو ته خدمات وړاندې کوي.[828]

د MCIT سره د افغان ټیلیکام اړیکه کیدای شي د ګټو ټکر رامنځته کړي او د دې انحصاري ملي جواز کیدای شي د غیرمنصفانه ګټو زمینې ورته برابرې کړي.[829] TFBSO وایي چې افغان ټیلیکام هڅه کوي ترڅو د اعتبار، مسولیت منل، او د لاسرسۍ ارتیاوې پوره کړي، او همدارنګه د افغان ټیلیکام د نوری فایبر شبکې انحصاري وضعیت کیدای شي د ICT سکتور له ننګونې او خطر سره مخ کړي.[830] نړیوال بانک په وینا، د افغان ټیلیکام اداره چې د ملي شبکې د ملاتیر له ځان سره لري او د دې له لارې ټولې شبکې سره نښلوي، د ګاونډیو هیوادونو په مقایسه یې په مصنوعي ډول د انټرنیټ بیې لوړې ساتلې.[831]

### د سیګار ځانګړې پروژه

د سیګار د ځانګړو پروژو دفتر دا ربعه د امریکا د بهرنیو چارو وزیر کیري، د دفاع وزیر هیګل، جنرال آستین او جنرال دانفورډ ته یوه تحقیق پاڼه ولیږله او د هغه شیږ مخابراتي برجونه په اړه یې خپله اندیښنه ښوده چې په افغانستان کې جوړ شوي خو هیڅکله کارول شوي ندي. سیګار په خپل لیک کې د هغه پریکړې په اړه چې د هغې په اساس برجونه جوړ شوي، د ساتنې مصارف یې تامین شوي، او پلان جوړ شوی چې د امریکا دفاع وزارت یا افغان دولت ته وسپارل شي، د معلوماتو غوښتونکی شو. د لازیاتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 42 وګورئ.

## د موبایل له لارې پیسې

په افغانستان کې د پایداره، متنوع، او هراړخیزه مالي سکتور رامنځته کولو لپاره USAID په پام کې لري چې د موبایل له لارې پیسو ته لاسرسي موندلو او د بې ځانګې بانکي سکتور په مرسته پیسو ته لاسرسي زیاته کړي. یاده اداره خپل دا موخه د افغانستان د پرمختګ لپاره د مالي لاسرسي پانګونې د پروګرام (FAIDA)له لارې پلي کوي. د موبایل پیسې دا معنا لري چې د پیسو ساتلو، د خرڅلاو لپاره، او د فنډونو د لاسته راوړو او انتقال لپاره د موبایل فون څخه کار واخستل شي. د FAIDA په نورو برخو کې د اګرې بیزنس فعالیتونه او د افغانستان مرکزي بانک د ظرفیت لوړاوي هڅې شاملې دي.[832]

پدې ربعه کې د USAID یوه پلټنه وموندله چې د موبایل پیسې تراوسه لا په افغانستان کې ندی معمول شوی. د ګرځنده تیلفون له 21 میلیونو خلکو څخه یوواژې 1% یا 10,642 خلکو په فعاله توګه د ګرځنده پیسو کار اخیستونکي و (په هره میاشت کې یې لږ تر لږه 12 معاملې ترسره کولې. USAID ویلي چې په افغانستان کې د موبایل پیسو تجارتي پایښت د هغه موبایل لرونکو 20% دی چې په راتلونکی څلورو کلونو کې له دې خدمت څخه ګټه اخلي. د دې خبرې مفهوم دا دی چې FAIDA د ظرفیت لوړاوي او د موبایل پیسو په مشهورولو کې کافي پرمختګ ندی کړی، او سره له دې چې د پروژې څخه 19 میاشتې شوې خو کومه لاسته راوړنه نلري. سربېره پردې، په افغانستان کې د موبایل پیسو په اړوند ډېر لږ معلومات پیدا کیږي، USAID ته د دې پوښتنې ځواب ګران دی چې پدې برخه کې به د FAIDA نتایج څه وي. USAID پلان لري چې په 2014 مالي کال کې د دې پروګرام مالي پلټنه وکړي.[833] USAID د 2014 کال د مارچ تر 31 پورې د FAIDA لپاره 73,462,780 ډالر فنډ ورکړی چې د موبایل د یاد پروګرام یوه برخه وه.[834]

## د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ له وزارت سره مرسته

د امریکا د دفاع د معلوماتي سیستم اداره د افغانستان د تیلیکام مشاورتي ډلې(TAT) له لارې چې د DOD لخوا یې اداره کیږي، د افغانستان د مخابراتي هڅو څخه ملاتړ کوي.[835] TAT د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت په ګڼو برخو کې ترینګ، مشوره او مرستې ورکوي؛ که څه هم یاد پروګرام د خپل پرمختګ یا نتایجو د ارزولو لپاره د اندازې وړ معیارونه نلري. TAT د سوداګرۍ تحلیل په ترسره کولو کې مرسته کړې تر څو د موبایل د خدماتو پوښښ پراخ او لرې پراته سیمو ته ورسیږي؛ د افغانستان د وزارتونو او امنیتي ادارو لپاره یې د ملي انټرنیټي امنیت په جوړولو کې برخه اخیستې ده، او یادو ادارو ته یې د انټرنیټي امنیت په برخه کې ترینګ ورکړې؛ د مداخلې ځانګړو سرچینو په موندلو کې یې مرسته کړې کوم چې د حجروي شبکو په فریکونسي بده اغیزه کوله، که څه هم پدې اړه لا پریکړه نده شوې؛ او د MCIT، TAT، او د موبایل شبکې چلونکو په ګډون یې د څارنې یو ګډ پروګرام جوړ کړی چې د دې په مرسته ګڼ شمیر تجارتي مداخلې موندل شوې دي خو تر اوسه پورې د افغان دولت پریکړې ته منتظر دي.[836]

TAT همدارنګه د افغان ملي پوځ او افغان ټیلیکام ترمنځ د یوې ناستې په جوړولو کې مرسته کړې تر څو د افغان ملي پوځ د شبکې پراختیا او د نوري فایبر خوندي شبکو ته لومړیتوب ورکړ شي؛ د وزارتونو ناسته یې جوړه کړه تر څو په خطرناکو سیمو کې د داخلې او دفاع وزارتونه د MCIT مرستې ته وهڅوي؛ د افغان ټیلیکام او د ترکیش تیلیکام د نړیواله سوداګرۍ له ځانګې سره یې په خبرو اترو کې مرسته وکړه تر څو د IP لیږدولو

### د سیګار ځانګړې پروژه

سیګار دا ربعه په افغانستان کې د امریکا د پوځ قوماندانۍ ته یو لیک واستوله تر څو د موبایل پیسو ټکنالوژۍ د هغه پروژې په اړه څېړنه وکړي چې په 2009 کال کې د داخلې وزارت لخوا په نمونه یې ډول شروع شوې و او موخه یې دا وه چې د افغان ملي پولیسو معاشات د دې ټکنالوژۍ له لارې ورکړي. سیګار داسې معلومات هم لاسته راوړي چې د افغان پولیسو ځینې قوماندانان د خپلو سرتیرو په ځای خپلې شمیرې لیکلې دي تر څو لکه د پخوا په شان د هغوی د معاشاتو یوه برخه خانته واخلي. د لازیاتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 46 وګورئ.

**د 2014 کال د جنوري 1 څخه د مارچ تر 31 پورې د TAT لپاره اته کسان وګومارل شو- شپږ تنه ملکي کاري ځواک او دوه قرارداد کونکي. لګښت: $468,000 د فنډ مسوله اداره: د دفاعي اداري معلوماتي سیستم**

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه، د امریکا د دفاع وزارت ځواب، 4/3/2014.

خدمات او د افغانستان د انترنيټي خدماتو بيه راکمه کړي؛ او په کابل کې د امريکا سفارت او CSTC-A سره يې کتنه وکړه تر څو پدې اړه سره خبرې وکړي چې آيا د ANSF پاتې 20% کسانو ته (شاوخوا 70,000 تنه دي) پيسې چې تراوسه نقدې ورکول کيدې، د موبايل له لارې ورکړې که څنګه.[837]

USAID د خپل E-دولت د سرچينو د مرکز پروژې لپاره د MCIT د بوديجې په چوکاټ کې 3.9 ميليونه ډالر مقيد کړي دي. د 2014 کال د مارچ 31 پورې هيڅ فنډ ندی تاديه شوی. دا پروژه د دې لپاره طرحه شوې ده چې د MCIT ظرفيت لوړ کړي تر څو د افغان وزارتونو لپاره په وخت او لوړکيفيت لرونکی مشوره، ترينګ، سلاکاري، او د برقي حکومتولي او انترنيټي امنيت نور خدمات وړاندې کړي.[838] DOD's TAT راپور ورکړی چې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژي وزارت په چوکاټ کې د برقي حکومتولی (E-Gov) رياست د برقي حکومتولی د ودانۍ تعميراتي پلان جوړوي. د دې ودانۍ کارکونکي به بشپړ برقي او بنفسه دولتي خدمات وړاندې کوي لکه برقي تذکره، او دولتي جوازونه، او د مالياتو د تاديې پروسس.[839]

علاوه پردې، USAID د 150,000 ډالرو په ارزښت د ICT سکتور د اقتصادي اغيزو مطالعه (2001–2018) په لاره اچولې ده، تر څو د MCIT د دې په مرسته وکولی شي د تير وخت د تجاربو څخه زده کړې او د هغې له مخې خپل راتلونکی پلان جوړ کړي.[840]

## د سيګار پلټنه

سيګار په تيره ربعه کې د افغانستان د معلوماتو او مخابراتي ټکنالوژی (ICT) د رغونې او سوداګريز کولو په برخه کې د متحده اياالاتو د هڅو په اړه سکتوري پلټنه پيل کړه.

# 4
# د نورو ادارو **څارنيز** فعاليتونه



# د نورو ادارو د څارنيزو فعاليتونو منځپانګې

**د نظارت بشپړ شوي فعاليتونه** **204**

**د نظارت يا څار روان فعاليتونه** **209**

**تصوير په تيره پاڼه کې**
د افغانستان د نفوس يا اوسيدونکو درې پر څلور څخه ډيره برخه کليواله ده، خو ډيری افغانان په متراکم پرمختللي ګاونډي ځاينو کې اوسيږي لکه د دې يوه په څير په ختيځ افغانستان کې. (د افغانستان د ختيځ سيمه ايز قوماندانی عکس)

# د نورو ادارو نظارت

د سيګار قانوني مسوليت غوښتنه کوي چې د بيارغونيزو پروګرامونو په اداري کې د ستونزو په هکله دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو ته خبرتيا ورکړي، او د هر ربعې پای ته رسيدو سره تر يو مياشتې پورې د خپل څارنيزو کارونو او د متحده ايالاتو د بيارغونيزو هڅو په اړه يو رپوټ کانګرس ته وړاندې کړي. په هرو درې مياشتو کښې سيګار د نورو ادارو څخه د بشپړ شوو او روانو څارنيزو فعاليتو په اړه د معلوماتو غوښتنه کوی. دا برخه لاندې نوې کونې لري.

د هغوی تفصيل يوازي د راپور د نورو برخو سره د همغږۍ په موخه (مخففات، تخليصات، په لويو حروفو معياري ليکنه، د اتصال د نښو، نقطه ګذاري، غوره املا او دريم-کس سمونې) پرته په تسليم شوي څېر ښکاري.

دغه اداري په افغانستان کې څارنيز فعاليتونه ترسره کوي او پايلې يې سيګار ته وړاندې کوي:

- د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر (DOD OIG)
- د بهرنيو چارو وزارت د عمومي پلټونکي دفتر (State OIG)
- د دولت د حساب ورکولو دفتر (GAO)
- په افغانستان د پوځ د پلټنې اداره (USAAA)
- د نړيوالې پراختيا لپاره د متحده ايالاتو ادارې عمومي پلټونکي دفتر (USAID OIG)

## د نظارت بشپړ شوي فعاليتونه

جدول 4.1 د بيارغونې په برخه کې ۹ څارنيزې پروژې ښيي چې د شرکت کونکو ادارو لخوا يې څارنه پای ته رسيدلې ده.

جدول 4.1

**تر مارچ 31، 2014 پورې د متحده ايالاتو نورو ادارو په وروستيو کې بشپړ شوي د نظارت فعاليتونه**

| اداره | د راپور شميره | د خپريدلو نيټه | د پروژې سرليک |
|---|---|---|---|
| DOD OIG | DODIG-2014-046 | 3/24/2014 | د خپلواک پلټونکي راپور د DOD د شمالي اتلانتيک تړون سازمان (ناټو) د اجرا په ازمولو — د افغان ملي اردو وجهي صندوق ته د برخه اخيستونکي هيوادونو اعانې |
| DOD OIG | DODIG-2014-044 | 3/11/2014 | د افغانستان څرخي وزر پروګرام قراردادونو لپاره د قراردادکونکي نظارت، د ماموريت امنيت او پرسونل خونديتوب کې پرمختګونو ته اړتيا ده |
| DOD OIG | DODIG-2014-045 | 3/10/2014 | د شين ډنډ د پيلوټ روزنې قراردادونه |
| GAO | GAO-14-304 | 3/26/2014 | فدرالي قرارداد کول: د سمدستي اړتيا اضافي نظارت پر بنسټ غير رقابتي قراردادونه |
| GAO | GAO-14-448T | 3/13/2014 | افغانستان: د USAID پراختيا هڅو لپاره د کليدي نظارت مسلې |
| GAO | GAO-14-229 | 2/14/2014 | د احتمالي پيښې له پاره قرار داد کول: د بهرنيو چارو وزارت او USAID د بدلونونو ارزولو او پلې کولو کې پرمختګ کړی، مګر نورو کړنو ته اړتيا ده |
| USAID OIG | F-306-14-002-P | 3/29/2014 | د افغانستان پروژې په پراختيا کې د پانګوونې لپاره د افغانستان/USAID مالي لاسرسی پلټنه |
| USAID OIG | F-306-14-001-P | 3/23/2014 | د اضافه کاری په تادياتو باندې د USAID/افغانستان اداري کنټرولونو پلټنه |
| USAID OIG | F-306-14-001-S | 2/6/2014 | د USAID/افغانستان د ټاکنو مرستې پروګرام بيا کتنه |

سرچينې: DOD OIG، د سيکار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 3/20/2014؛ State OIG، د سيکار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 3/5/2014؛ GAO، د سيکار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 3/17/2014؛ USAAA، د سيکار معلوماتو غوښتنې ته ځواب 3/13/2014؛ USAID OIG، د سيکار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 3/21/2014.

## د امريکا د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر

د دې ربعې پرمهال، DOD OIG د افغانستان بيا رغونې پورې اړوند درې راپورونه خپاره کړ.

### د خپلواک پلټونکي راپور د DOD د شمالي اتلانتيک تړون سازمان (ناټو) د اجرا په ازمولو — د افغان ملي اردو وجهي صندوق ته د برخه اخيستونکي هيوادونو اعانې

(د رپوټ شميره. DODIG-2014-046، په مارچ 24، 2014 کې خپور شوی)

DOD OIG د نومورې وزارت د 2013 مارچ 31 نيټې د ناټو مالي مهالويش افغان ملي اردو وجهی صندوق ته وارزاو ترڅو مشخص کړي چې ايا رسيدونه او مصارف په سمه ښودل شوي و (په درستۍ سره راپور ورکړ شوی). وزارت د دې وړ نه و چې د پلټنې وړ مالي مهالويش وړاندې کړي (مهالويشونو او حساب ورکوونې معلوماتو ملاتړ ته منطبق شوی). د دې لپاره، DOD OIG وړ نه و چې د پلټنې اند وړاندې کړي (د اند ردول يې وړاندې کړي) او وړ نه و چې مشخص کړي ايا مالي مهالويش درست و. د پلټل شوي بيان پرته، د ډونر هيوادونو لخوا راتلونکي اعانې ممکن خطر کې وي. پروخت د پلټنې بشپړ شوي راپور نشتون ممکن وجهی صندوق ته د ناټو هيوادونو اعانې ورکولو کې برخه اخيستنه باندې منفي اغيز وکړي. ناټو هيوادونو تر نن نيټې پورې وجهی صندوق ته له 600 مليون ډالرو څخه ډير اعانه کړي. DOD OIG مالي راپور ورکولو پروسو پورې اړوند داخلي کنټرول نيمګړتياوې او د قانون او مقرراتو سره مطابقت نه درلودل يې پيژندلي.

په هرصورت، DOD OIG داسې پيښې ندي موندلي چيرې چې اعانې داسې قراردادونو ته پلي شوي وي چې د ډونر مرام سره په ټکر کې وي.

## د افغانستان څرخي وزر پروګرام قراردادونو لپاره د قراردادکونکي نظارت، د ماموريت امنيت او پرسونل خونديتوب کې پرمختګونو ته اړتيا ده

(د رپوټ شميره. DODIG-2014-044، په مارچ 11، 2014 کې خپور شوی)

دا راپور يواځې د رسمي کارونې لپاره ځانګړی شوی دی.

## د شين ډنډ د پيلوټ روزنې قراردادونه

(د رپوټ شميره. DODIG-2014-045، په مارچ 10، 2014 کې خپور شوی)

دا راپور يواځې د رسمي کارونې لپاره ځانګړی شوی دی.

## د امريکا د منځني ختيځ سيمه ايزو عملياتو - د باندينيو چارو وزارت دعمومي پلټونکی دفتر

پدې ربع کې، State OIG د افغانستان بيارغونې په هکله کوم رپوټ ندی خپور کړی.

## د حکومت د حساب ورکولو وزارت

پدې ربع کې DoS OIG د افغانستان د بيارغونې په اړه هيڅ راپور نه دي خپور کړی.

## فدرالي قرارداد کول: د سمدستي اړتيا اضافي نظارت پر بنسټ غير رقابتي قراردادونه

(د رپوټ شميره. GAO-14-304، په مارچ 26، 2014 کې خپور شوی)

د دفاع وزارت (DOD) او د بهرنيو چارو وزارت او متحده ايالاتو د نړيوالې پراختيا لپاره اداري (USAID) سمدستي استثنا تر يو محدود حد پورې کارولې، مګر د ځينې فدرالي پيرود معلوماتو عناصر د پوښتنې وړ دي. د 2010 څخه تر 2012 مالي کلونو اوږدو لپاره، د سمدستي غير رقابتي قراردادونو لاندې راپور ورکړ شوي مکلفيتونه د ټول غير رقابتي قرارداد مکلفيتونو له يو سلنې څخه تر شاوخوا 12 سلنې څخه کم اندازه شوي. د دغه وخت په جريان کې، DOD د سمدستي استثنا په کارولو سره د توکو او خدماتو پيرود لپاره 12.5 مليارد ډالر په غيررقابتي ډول مکلف کړي، پداسې حال کې چې د بهرنيو چارو وزارت او USAID په ترتيب سره 582 مليون ډالر او شاوخوا 20 مليون ډالر مقيد کړي، تقريبا د خدماتو پيرود لپاره په ځانګړي ډول. پيرودل شوي توکو کې په افغانستان او عراق کې د ماموريتونو ملاتړ لپاره شخصي زره، ګارد خدمات او مخابراتي تجهيزات شامل و.

GAO د کوډ ورکولو غلطۍ موندلي چې د سمدستي استثنا په کارولو سره د فدرالي پيرود معلوماتو معتبريت په اړه انديښنې راپورته کوي. نږدې نيمايی — د GAO بيلګې کې له 62 څخه 28 قراردادونه — د سمدستي استثنا کارولو په حيث غلط کوډ شوي و پداسې حال کې چې نه و. GAO موندلي چې غلط کوډ ورکړل شوي 28 تړونونو څخه 20 يې د سمدستي استثنا کارولو پورې اړوند اړتياو څخه خورا ساده او جلا پروسيژرو په کارولو سره ورکړي و. د پيرود معلوماتو له معتبريت څخه ډاډ ترلاسه کول حساس دي ځکه چې دا معلومات د پيرود پاليسي پريکړو څخه خبرتيا او نظارت اسانولو ته کارول کيږي.

د GAO بیلګې کې 34 قراردادونو لپاره چې د سمدستي استثنا کارونې درلودو په حیث سم کوډ شوي و، ادارو یو اندازه سمدستي حالات ښودلي، اساسا د محاربوي عملیاتو لپاره سمدستي اړتیاو پوره کول یا د پروګرام ملاتړ کې غیر وړاندوینه شوي تشو څخه مخنیوي لپاره. تصدیقونه او تصویبونه — کوم چې د فدرالي لاسته راوړنې مقرري (FAR) په واسطه د سیالۍ لپاره سمدستي استثنا کاروونې تایید ته د ځینې حقایقو او دلیل درلودو ته اړ دي — عموما اړین عناصر لري؛ په هرصورت، ځینې یې حکومت ته د ځانګړي خطراتو په اړه مبهم یا ګونګ و که چیرې لاسته راوړل یې ځنډیدلی وی.

GAO بیلګه کې له 34 څخه لس قراردادونو له یو کال څخه ډیره د فعالیت دوره درلوده — اته یې د ورکوونې وروسته د فعالیت دورې له یو کال هاخوا غزولو لپاره اصلاح شوي و. FAR د سمدستي استثنا په کارولو سره قراردادونه یو کال مودې ته محدودوي غیرله دې د ادارې مشر یا ځای ناستی یې مشخص کوي چې استثنایی حالتونه پلې شي. ادارې دا ټاکل د 10 قراردادونو لپاره سرته نه رسوي. FAR روښانه ندی چې ادارې باید کوم ګامونه واخلي کله چې د ورکوونې وروسته د فعالیت دورې له یو کال څخه ډېر غزولو لپاره قرارداد اصلاح کیږي. د قرارداد کولو ځینې چارواکو په نښه کړي چې دا اصلاحات د جلا قرارداد کړنو په حیث ګڼل کیږي او د ادارې مشر یا منتصب په واسطه مشخص کیدو ته اړتیا نلري. نور دا ټولیزې کړنې ملاحظه کوي چې مشخص کیدو ته اړتیا لري. په فدرالي حکومت کې د داخلي کنټرول لپاره معیارونه له نهادونو غواړي چې سم کنټرولونه وساتي کوم چې د حکومت سرچینو مباشرت لپاره روڼتیا او حساب ورکوونه باوري کوي. د فدرالي پیرود پالیسي دفتر — کوم چې د فدرال قراردادکولو پروسیژرو باندې د حکومت په کچه پالیسي چمتو کوي — د وضاحت په موقف کې دی چې کله د استثنایی حالتونو مشخص کول اړین دي ترڅو د فدرال حکومت په اوږدو کې د دې اړتیا نامتناقص پلې کیدل لاسته راشي. نور، د سمدستي استثنا پراساس، FAR اړتیا لري د ورکړل شوي حالتونو کې هرڅومره ډېر او شوني پلورونکو څخه ادارې وړاندیزونه وغواړي. د GAO بیلګې کې ځینې قراردادونو لپاره، تخنیکي معلوماتو حقونو ته د لاسرسي نشتون او د قراردادکونکي پر تجربې اتکا د سیالۍ لاسته راوړو څخه د ادارو مخنیوی کړی.

## افغانستان: د USAID پراختیا هڅو لپاره د کلیدي نظارت مسلې

(د رپوټ شمیره. GAO-14-448T، په مارچ 13، 2014 کې خپور شوی)

په 2010 کې، متحده ایالاتو ژمنه وکړه چې د خپلې پراختیا مرستې لږترلږه 50 سلنه په مستقیم ډول د افغان حکومت بودیجې له لارې په دوه کلونو کې چمتو کړي. دا مستقیم مرسته د دې لپاره نومول شوې وه چې د افغان حکومت وزارتونو ظرفیت جوړونې کې مرسته وکړي ترڅو پروګرامونه او فنډونه اداره کړي. د دوه اړخیز تړونونو او څواړخیز باوري فنډونو په کارولو سره، د ژمنې لومړي کال کې متحده ایالاتو افغانستان ته خپله مستقیم مرسته له درې چنده ډېره کړه، چې په 2009 مالي کال کې څه دبره 470 ملیون ډالرو څخه په 2010 مالي کال کې 1.4 ملیارد ډالرو ته ورسیده. د USAID خورا اوسنۍ راپور ورکوونه ښیې چې نوموړې ادارې د مستقیم مرستې له لارې د ماموریت فنډونو کې 2012 مالي کال لپاره څه دبره 800 ملیون ډالر چمتو کړي. په 2013 کې، GAO راپور ورکړ چې پداسې حال کې چې USAID په خپل مستقیم مرستې تړونونو کې د بیلابیل مالي او

نورو کنټرولونو سره عموما منطبق وه، د فنډونو ورکولو څخه مخکې د مستقيم مرستې په چمتو کولو کې يې تل خطرات ندي ارزولي. USAID د GAO وړانديزونو په ځواب کې ګامونه اخيستي ترڅو افغان حکومت ته ورکړل شوي مستقيم مرستې فنډونو حساب ورکوونې ډاډمن کولو کې مرستندويه وي. پدې وروستيو کې، د افغانستان بيارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي (سيګار) راپور ورکړی چې USAID مشخص کړي چې اووه وزارتونه په ځای کې د خطر کمولو ستراتيژۍ پرته د مستقيم مرستې فنډونو د اداره کولو وړ نه و. په هر صورت، سيګار راپور ورکړی چې USAID د وزارتونو لپاره مرسته تصويب کړې، مګر ټول پيژندل شوي خطرات نه کموي.

د خپل ماموريت پرمخ وړو ته د USAID وړتيا او په افغانستان کې د خپلو پراختيايي پروژو نظارت او څار وړاندې کولو کې ورسره مخ شوي ننګونې احتمالا د افغانستان څخه د 2014 کال پای کې د متحده ايالاتو او ايتلافي ځواکونو محاربوي سرتيرو پلان شوي وتلو سره بدتر شي. متحده ايالات دامهال د ترهګرۍ ضد او ثبات عملياتو څخه ډير سنتي ديپلوماسي او پراختيايي فعاليتونو ته ليږد کوي. لکه څنګه چې د متحده ايالاتو محاربوي سرتيري له افغانستان څخه وځي، د ولايتي بيارغونې ټيمونه په شمير کې کميدو ته دوام ورکړي، پدې سره د افغانستان ځينې برخو کې د پروګرامونو مستقيم نظارت او ارزونې لپاره د USAID فرصتونه د ننګونې سره مخ کوي. په ساحه کې د USAID پرسونل ممکن کمښت لپاره چمتووالي ته، USAID د ډيرى پلانولو هڅې ترتيب کړي ترڅو احتمالي ننګونې کمې کړي. د مثال په توګه، USAID پلان کوي چې د ريموټ يا لرې لارې نظارت کولو پروګرام پلي کړي چې قراردادیان به وکاروي ترڅو هغه فعاليتونه تاييد کړي چې پلي کونکو ملګرو بشپړ کړي وي. لکه څنګه چې متحده ايالات د محاربوي سرتيرو وتلو او د يوکړی شوي ملکي او نظامي هڅې څخه د ملکي-په مشرۍ شتون ته ليږد پلان کوي، GAO باور لري چې خوندي کونکي ولري ترڅو د متحده ايالاتو او ايتلاف پانګوونو په واسطه رامنځته کړی شوي لاسته راوړنو پايښت ډاډمن کولو کې مرسته وکړي.

### د احتمالي پيښې له پاره قرار داد کول: د بهرنيو چارو وزارت او USAID د بدلونونو ارزولو او پلي کولو کې پرمختګ کړی، مګر نورو کړنو ته اړتيا ده

(د رپوټ شميره. GAO-14-229، په فبروری 14، 2014 کې خپور شوی)

د بهرنيو چارو وزارت او USAID د پولو هاخوا احتمالي عملياتو کې د قرارداد ملاتړ ته ودې ورکولو لپاره يو شمير بدلونونه پيژندلي، مګر د پلي کولو هڅې يې ندي بشپړې کړي. لکه څنګه چې د 2013 مالي کال ملي دفاع واکمنۍ قانون په واسطه اړين دي، دواړه ادارو مشخص کړي چې د دوی نهادي جوړښتونه مؤثر و، ولې د بهرنيو چارو وزارت په عراق کې د قرارداد کولو هڅو ښه ملاتړ لپاره نوی سيمه ايز قرارداد مديريت دفتر رامنځته کړی. په اکتوبر 2013 کې، د بهرنيو چارو وزارت د پاليسيو او پروسيژرو ودې لپاره يو شمير کړنې تصويب کړې، په شمول د لاسته راوړنې پلان جوړولو او خطر مديريت کې ځانګړي نوښتونه، د نورو ترمنځ، او په 2014 کې خپل د بهرنيو چارو منول کې د دې بدلونونو رسمي کولو ته نومول. په هرصورت، د بهرنيو چارو وزارت عموما د دې نوښتونو اغيز ارزولو لپاره پلان ندی رامنځته کړی. د فدرال داخلي کنټرول معيارونه تمه شوي پايلو لپاره د مديرانو اهميت واقعيي فعاليت پرتله کول برجسته کوي. پدې سره، د مديريت مداوم پام اړين دی چې

اطمينان لاسته راشي ايا دا هڅې خپل نومول شوي اهداف لاسته راوړي. USAID خپلې هڅې پداسې برخو متمرکز کړي لکه د قراردادکونکي فعاليت ارزونې او د خطر مديريت. GAO موندلي چې د USAID ځينې ماموريتونه او دفترو چې په احتمالي چاپيريالونو کې فعاليت کوي پروسيژرې او اقدامات يې رامنځته کړي، مګر USAID نه ملاحظه کوي چې ايا دا بايد د ادارې په کچه رسمي شي ځکه چې USAID چارواکو قانوني اړتيا فقط د ادارې په کچه پاليسيو شاملولو ته تفسير کړي. د يوې پايلې په حيث، USAID ممکن د راتلونکي احتمالاتو غوره ملاتړ لپاره د خپل نهادي پوهې د کارولو فرصتونه له لاسه ورکړي وي. USAID په اکتوبر 2013 کې د زده کړې درسونو، ټولکيټس او روزنې د ودې لپاره يو نوی کاري ګروپ رامنځته کړی او تمه کيږي چې د 2014 په وروستيو کې بشپړ شي. دا کاري ګروپ د ماموريتونو او دفترونو په واسطه رامنځته کړی شوي پاليسۍ او پروسيژرې لانورې ارزولی شي، پدې سره USAID ته احتمالا يو فرصت برابروي چې خپل نهادي پوهه وکاروي. د بهرنيو چارو وزارت او USAID خپل د لاسته راوړنې کاري ځواک په ترتيب سره 53 او 15 سلنه د خپلو 2011 کچو څخه ډير کړی او د پولو هاخوا احتمالي عملياتو لپاره د دوی اړين کاري ځواک ارزولو بيلابيل ګامونو کې دي. د دفتر مديريت او بوديجې لارښود په اساس، دواړه ادارو خپل 2013 لاسته راوړنې بشري پانګې پلانونو کې د خپل لاسته راوړنې کاري ځواک لپاره د وړتيا او مهارت تشې پيژندلي. د بهرنيو چارو وزارت 2013 پلان په نښه کړي چې د عراق او افغانستان په څير ساحو کې د قرارداد کولو فعاليت کې ودې ته په ځواب کې، د لاسته راوړنې اضافي پرسونل ته اړتيا ده. په اکتوبر 2013 کې، د بهرنيو چارو وزارت د مديريت سيکرټر د څو بيورو يا دفترو کاري ګروپ جوړښت تصويب کړ چې د اوسني او راتلونکي احتمالي عملياتو لپاره نور اړين کاري ځواک موندل پلانوي. د USAID 2013 پلان په نښه کړي چې د لاسته راوړنې کاري ځواک لپاره روزنې وړاندې کول تر ټولو لوی ننګونه ده، ځکه چې ډيری پرسونل د قرارداد کولو پنځه کاله يا لږه تجربه. USAID په 2013 کې د خپل لاسته راوړنې کاري ځواک لپاره د روزنې برخه رامنځته کړه. د بهرنيو چارو وزارت خپل د 850 برخې راپور کې په نښه کړي چې د خطر مديريت سټاف رامنځته کولو له لارې به د قراردادکونکو په اعتماد، استعمال او نظارت د خطر ارزونو پرمخ وړو خپل تمرکز ډير کړي. د USAID د 850 برخې راپور په قراردادیانو اعتماد نه په نښه کوي، مګر په اکتوبر 2013 کې، USAID خپل د پلان جوړولو پاليسۍ ته يوه سمونه پيښليک کړه چې د پولو هاخوا احتمالي عملياتو کې د قراردادي د حساس کړنو فعاليت سره به اړوند د خطر ارزونې او کمولو پلان ته اړتيا ولري.

## د امريکا د پوځ پلټونکې اداره

USAAA پدې ربع کې د افغانستان د بيارغونې په هکله کوم رپوټ ندی خپور کړی.

## د امريکا د عمومي پلټونکي دفتر

د دې ربعې په جريان کې، USAID OIG د افغانستان بيارغونې پورې اړوند درې راپورونه بشپړ کړي.

### د افغانستان پروژې په پراختيا کې د پانګوونې لپاره د افغانستان/USAID مالي لاسرسی پلټنه

(د رپوټ شميره. F-306-14-002-P، په مارچ 29، 2014 کې خپور شوی)

د پلټنې موخه:

- آيا د FAIDA پروژه د دوام وړ، هر اړخيزه، او بشپړ مالي سکتور ته وده ورکولای شي چې وکولای شي د کيفيت وړ کارونو ته وده ورکړي او وساتي ترڅو په هيواد کې د ډيرو وړو، وړو او منځني شرکتونو اړتياوي پوره کړي؟

### د اضافه کاری په تادياتو باندې د USAID/افغانستان اداري کنټرولونو بياکتنه

(د رپوټ شميره. F-306-14-001-P، په مارچ 23، 2014 کې خپور شوی)

د موخې ارزونه:

- ايا USAID/افغانستان د اضافه کاری تادياتو لپاره د کنترول مناسب طرزالعملونه تعقيبوي؟

### د USAID/افغانستان ټاکنو مرستې پروګرام پلټنه

(د رپوټ شميره. F-306-14-001-S، په فبروری 6، 2014 کې خپور شوی)

د پلټنې موخې:

- ايا USAID مرستې د افغاني نهادونو او سازمانونو وړتيا پياوړې کړې چې په 2014 کې باوري، مشمول او رڼې ولسمشريزې او ولايتي شورا ټاکنې وړ کړي؟
- ايا د USAID مرستې د OIG ټاکنيزې مرستې مخکينۍ پلټنه کې پيژندل شوي اوږدمهاله مسلو لپاره افغان حلونو سره همکاري کړې؟

## د نظارت يا څار روان فعاليتونه

د 2014 کال د مارچ تر 31 پورې، شرکت کونکي ادارو د افغانستان بيارغونې په هکله د 28 روانو پلټنو راپور ورکړي دی. دغه څارنيز فعاليتونه په جدول 4.2 کې په لاندې ډول يادولای شو:

جدول 4.2

**تر مارچ 31، 2014 پورې د متحده ايالاتو نورو ادارو د نظارت روانې پلټنې**

| اداره | د پروژې نمبر | د پيل نيټه | د پروژې سرليک |
|---|---|---|---|
| DOD OIG | D2014-D00SPO-0129.000 | 3/6/2014 | د افغان ملي پوليس د لوژيستکي حفظ او مراقبت د وړتياو او ظرفيتونو د اوچتولو په موخه د امريکا حکومت او د ايتلافي ځواکونو د هڅو ارزونه |
| DOD OIG | D2014-D000AS-0111.000 | 2/12/2014 | د کاري فرمان W58RGZ-09-D-0130-0102 پراساس د Mi-17 کاکپيټ اصلاحاتو د پلټنې دوام |
| DOD OIG | D2014-D000FS-0088.000 | 12/24/2013 | د DOD په واسطه چمتو کړی شوي د مستقيم مرستې فنډ ورکولو پورې اړوند د افغانستان اسلامي جمهوريت حکومت داخلي کنټرولونه |
| DOD OIG | D2013-D00SPO-0181.000 | 6/13/2013 | د متحده ايالاتو د هغو هڅو ارزونه چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت سره د مرستې لپاره د امنيتي مرستو د ليږد مسوليت د دفاع وزارت د چارواکو څخه د کورنيو چارو وزارت چارواکو ته سپاري |
| DOD OIG | D2013-D00SPO-0154.000 | 4/26/2013 | افغان ملي پوليسو ته د روغتيا پالني پايداره وړتيا چمتو کولو په برخه کې د متحده ايالاتو پوځ او د ايتلاف د هڅو بررسي کول |

په راتلونکې پاڼه کې دوام لري

جدول 4.2

**تر مارچ 31، 2014 پورې د متحده ايالاتو نورو ادارو د نظارت رواني پلټنې**

| اداره | د پروژې نمبر | د پيل نېټه | د پروژې سرليک |
|---|---|---|---|
| DOD OIG | D2013-D000AS-0097.000 | 2/8/2013 | د W58RGZ-09-D-0130-0102 وظيفوي فرمان په اساس د Mi-17 د پيلوټ خای تغيرات |
| DOS OIG | 14AUD034 | 2/11/2014 | د بهرنيو چارو وزارت د امتيازاتو افسر نمايندګانو د انتخاب، خای په خای کولو، روزنې او خار مسؤليتونو پلټنه |
| DOS OIG | 14AUD018 | 1/27/2014 | د کاري فرمان 10 محافظت خدماتو قرارداد د نړی په کچه ديپلوماتيک امنيت بيورو د کابل سفارت امنيتي ځواک پلټنه |
| DOS OIG | 14AUD014 | 1/17/2014 | په افغانستان کې د قراردادونو لپاره د قرارداد کلوزآوټ پروسې پلټنه |
| DOS OIG | 13AUD082 | 6/20/2013 | د قانون پلي کولو چارو او د نړيوال مخدره توکو بيورو د افغانستان سره د تارياکو ضد مرستې پلټنه |
| DOS OIG | 13AUD52 | 2/15/2013 | په بيت المقدس او افغانستان کې د خوځيدنې او سکون امنيتي خدماتو لپاره د 2، 9، او 11 وظيفوي فرمانونو په اړه د ډيلوماټيک امنيت اداري د نړيوال محافظتي خدماتو قرارداد پلټنه |
| GAO | 321014 | 2/19/2014 | په افغانستان د افغانستان لپاره ملکی-نظامي ستراتيژيک کاري چوکاټ اپډيټ |
| GAO | 100003 | 2/4/2014 | په کار ګمارل شوي محلي کارمندانو ته کوابنونه |
| GAO | 320997 | 10/22/2013 | په افغانستان کې د امريکا ملکي شتون |
| GAO | 351851 | 8/16/2013 | په افغانستان کې د DOD قراردادکونکو وتل |
| GAO | 351854 | 8/15/2013 | د امريکا د ځواکونو کمول په افغانستان کې د DOD مشورتي ماموريت باندې اغيز کوي |
| GAO | 320990 | 7/27/2013 | د متحده ايالاتو کابل سفارت کې د رغونې يا ساختماني هڅې |
| GAO | 320985 | 7/2/2013 | د بهرنې ليبر قراردادکونکو بهر کارول |
| GAO | 320978 | 5/29/2013 | د بهرنيو چارو وزارت د بلاعوضه مرستو او تعاوني تړونونو مديريت |
| GAO | 351819 | 5/9/2013 | د افغان عامه محافظت ځواک ته د DOD ليږد لګښت |
| GAO | 351805 | 3/1/2013 | د DOD کانټينر مديريت |
| GAO | 351798 | 1/22/2013 | په افغانستان کې د تجهيزاتو کمول او د مراکزو تړل |
| USAID OIG | FF100414 | 3/10/2014 | له حکومت څخه حکومت ته د USAID/افغانستان مالي مديريت کنټرولونو بيا کتل |
| USAID OIG | FF100914 | 12/18/2013 | د تره خيل په فابريکه کې د USAID افغانستان فعاليتونو دوام او عملياتونو ارزونه |
| USAID OIG | FF100314 | 11/14/2013 | په افغانستان کې د USAID د اساسي زده کړې، سواد زده کړې، او تخنيکي حرفوي زده کړې او روزنې (BELT) پروژې (تعليق شوي) بيا کتنه |
| USAID OIG | FF100114 | 10/16/2013 | د USAID/افغانستان د ملکي خدماتو د ملاتړ پروګرام II |
| USAID OIG | FF100712 | 11/29/2012 | د USAID/افغانستان انتقال پلانونو پلټنه (تعليق شوي) |
| USAID OIG | FF101712 | 10/25/2011 | USAID/افغانستان ته چمتو کړی شوي د قوماندان بيړني غبرګون پروګرام (CERP) فنډونو د DOD پلټنې تعقيبول |

سرچينې: DOD OIG، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 3/20/2014؛ State OIG، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 3/5/2014؛ GAO، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 3/17/2014؛ USAAA، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب 3/13/2014؛ USAID OIG، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 3/21/2014.

## د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر

د دفاع وزارت د سيندونو څخه پورې غاړې احتمالي عملياتونو په ترسره کولو لاهم د ننګونو سره مخ دی. د دفاع وزارت د څانګړی مفتش دفتر (DOD OIG) د دغو ننګونو او سترو خطرونو په اساس خپل لومړيتوبونه ټاکلي. په 2014 مالي کال کې، DOD OIG په افغانستان کې د دې زيرمو ملاتړي عملياتو اکثريت سره د پولو بهر احتمالي عملياتو په نظارت تمرکز کوي. DOD OIG تمرکز اساسا په افغانستان کې د افغان امنيتي ځواکونو فنډ، نظامي ودانۍ، د پرسونل خونديتوب، او د قراردادونو ملاتړي ايتلاف ځواکونو اداري او نظارت د مديريت او اجرا په عرصو کې دوام لري. پردې برسيره، په افغانستان کې د DOD OIG په نظارت کې په افغانستان کې د ځواکونو کميدلو په اړه موضوعګانې او د سپارلو عملياتونه شامل دي.

يو تر ټولو لوی لومړيتوب د افغانستان امنيتي ځواکونو (ASF) روزنې، مجهز کولو او پايښت باندې متمرکز لاسته راوړنې او قرارداد کولو پروسې د نظارت او څار ادامه ده. DOD OIG د ASF مجهز کولو لپاره د قراردادونو اداره کولو او څار په نښه کولو څارنيزې هڅې پلان کړي. DOD OIG به د افغان ملي امنيتي ځواکونو روزنې او تجهيز لپاره د وزارت هڅو بياکتنې او ارزولو ته هم دوام ورکړي.

د DOD OIG په مشرۍ د سويل لويديزې اسيا ګډ د پلان جوړولو ډله به د نظارت فعاليتونو پورې اړوند د فدرالي او DOD OCO په همغږۍ کې مرسته وکړي. DOD OIG د سويل لويديز اسيا لپاره د خپلې برخې 2014 مالي کال جامع څار پلان اجرا کولو ته دوام ورکوي.

د DOD OIG د OEF په اړه روانه څارنه د افغانستان د امنيتي ځواکونو د مرستې د ملکيت؛ غير مناسب تاديات؛ د قرارداد اداره او مديريت پشمول د ساختماني پروژو؛ د سپارلو پلان کول؛ په افغانستان کې لوژستيکي توزيع؛ عنعنوي عملياتونه، روغتيايي پاملرنه؛ او د اخيستلو پلان کول او کنترولونو لپاره د حل لار پيدا کوي.

## د افغان ملي پوليسو د لوژستيکي پراختيا او ساتنې پايښت لپاره د متحده ايالاتو او ايتلاف هڅو ارزول

(د پروژې شميره. D2014-D00SPO-0129.000، د 2014 کال د مارچ په 6 مه پيل شوې)

DOD OIG د افغان ملي پوليسو (ANP) د لوژستيک، تحويلۍ، او ساتنې سيستمونو پلانول او اجرا کول ارزوي چې په افغانستان کې د متحده ايالاتو او ايتلاف ځواکونو په واسطه رامنځته او پلي شوي دي. په ځانګړې ډول، DOD OIG پلان لري چې وارزوي:

- ايا د متحده ايالاتو او ايتلاف اهداف، مقصدونه، پلانونه، لارښود او سرچينې په 2014 کې ANP ته د لوژستيک، تحويلۍ او ساتنې سيستمونو مؤثره پراختيا، اداره کولو او ليږد ته کافي دي،
- افغان رهبرۍ ته د ANP لوژستيک او ساتنې پروسو ليږد او د تحويلۍ ليږد کې د ځنډ اغيز کمولو لپاره د متحده ايالاتو او ايتلاف پلانونه، او
- ايا د متحده ايالاتو او ايتلاف پلانونه او سرچينې به په اغيزمن ډول د ANP لوژستيک، تحويلۍ، او ساتنې سيستمونو پايښت او له 2014 هاخوا مداوم پرمختګ ملاتړ کړي.

## د کاري فرمان W58RGZ-09-D-0130-0102 پراساس د Mi-17 کاکپيټ اصلاحاتو د پلټنې دوام

(د پروژې شميره. D2014-D000AS-0111.000، د 2014 کال د فبروري په 12 مه پيل شوې)

دا د دې شمير پروژې دوام دی. D2013-D000AS-0097.000، "د W58RGZ-09-D-0130-0102 کاري فرمان پر اساس د Mi-17 کاکپيټ تمديدونو تعقيبي پلټنه،" چې په فبروري 2013 کې پيل شوې. DOD OIG مشخص کوي چې ايا د DOD چارواکو په سمه توګه د نامشخص-تحويلۍ، نامشخص–مقدار W58RGZ-09-D-0130 قرارداد، کاري فرمان 0102 د فدرال او DOD مقرراتو او پاليسيو سره په مطابقت کې ورکړی او اداره کړی. نوموړی قرارداد د DOD په ملکيت Mi-17

بيلابيل الوتکو اصلاح لپاره و. مخکينۍ پروژې (D2013-D000AS-0097.000) اساسا د کاري فرمان 0102 پر اساس د Mi-17 کاکپيټ اصلاحاتو د قرارداد اداره کول په نښه کړي. دا پروژه به اساسا د کاري فرمان 0102 نومول يا ورکول په نښه کړي.

## د DOD په واسطه چمتو کړی شوي د مستقيم مرستې فنډ ورکولو پورې اړوند د افغانستان اسلامي جمهوريت حکومت داخلي کنټرولونه

(د پروژې شميره. D2014-D000FS-0088.000، د 2013 کال د دسمبر په 24 مه پيل شوې)

DOD OIG مشخص کوي چې ايا د افغانستان اسلامي جمهوري حکومت (GIROA) د دفاع او کورنيو چارو وزارت کنټرولونه لري چې د افغان ملي امنيتي ځواک پايښت لپاره چمتو کړی شوې مستقيم مرستې لپاره د رڼې او حساب ورکوونې وړ مالي پروسې څخه ډاډ ورکړي. د امنيتي ليږد ګډه قومانده-افغانستان (CSTC-A) دا پلټنه غوښتلې ده.

## د متحده ايالاتو د حکومتي هڅې چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت سره د امنيتي مرستې او مرستندويه فعاليتونو د ليږد مسوليت د امريکا دفاع وزارت څخه د امريکا ب هرنيو چارو وزرات ته سپاري

(د پروژې شميره. 2013-D00SPO-0181.000، د 2013 کال د جون په 13 مه پيل شوې)

DOD OIG هغه پلانونه او فعاليتونه ارزوي چې په افغانستان کې د DOD څخه د بهرنيو چارو وزارت ته د امنيتي همکارۍ او مرستندويه فعاليتونو انتقال لپاره بشپړ شوي يا پلي شوي، او د وړانديزونو رامنځته کول چې د بهرنيو چارو وزارت ته د دغه فعاليتونو انتقال ته د موجود امنيتي همکارۍ لارښود يا امنيتي مرستې قوانينو سره په مطابقت کې اسان يا وده ورته ورکړي چې ممکن اړوند وي. د دې فعاليتونو ځانګړې موخې دا دي چې معلومه کړي آيا:

- د متحده ايالاتو د حکومت موخې، اهداف، پلانونه او لارښودونه د دې لپاره کافي دي چې په افغانستان کې د امنيتي مرستې فعاليتونه د دفاع وزارت CSTC-A څخه د بهرنيو چارو وزارت په چوکاټ کې د امنيتي تعاون ادارې ته وسپارل شي.
- د افغان دولت سره د امنيتي مرستې په برخه کې د متحده ايالاتو روانې هڅې په افغانستان کې د متحده ايالاتو د پوځ (USFOR-A) ايستلو د پلان د عملي کيدو په واسطه او نړيوال مرستندويه امنيتي ځواکونو (ISAF) او ايساف ګډې قوماندې (IJC) ليږد د ناټو واک لاندې قوماندې سازمان ته ليږد پرې معکوس اغيز کړی.

## افغان ملي پوليسو ته د روغتيا پالني پايداره وړتيا چمتو کولو په برخه کې د متحده ايالاتو پوځ او د ايتلاف د هڅو بررسي کول

(د پروژې شميره. D2013-D00SPO-0154.000، د 2013 کال د اپريل په 26 مه پيل شوې)

DOD OIG د متحده ايالاتو او ايتلافي ځواکونو هغه هڅې بررسي کوي چې د روغتياپالنې پايداره وړتيا موندلو په برخه کې يې د افغان ملي پوليسو سره کوي. دا ارزونه به په ځانګړې توګه معلومه کړي چې، آيا:

- د ANP لپاره د روغتيا پالنې پايداره وړتيا چمتو کولو پلانونه په موثر ډول رامنځته شوي، او د GIROA سره همغږی شوي، او داسې عملي کيږي چې په ټاکلی مهال ويش کې د ليږد موخې تر لاسه کوي،
- د افغان ملي پوليسو د روغتيايي اړتياو پوره کولو لپاره، د روغتياپالنې د خدماتو په برخه کې د مشاورينو سرچينې په نظر کې نيول شوي، او
- داسې پراختيايي پلانونه په پام کې نيول شوي چې افغان ملي پوليسو ته د مناسب طبي خدماتو وړاندې کول يقيني کوي، تر څو د ژوبلې څخه نيولې د ضرورت وړ پاملرنې پورې خدمت وړاندې کړي.

## د W58RGZ-09D-0130-0102 وظيفوي فرمان په اساس د Cockpit Mi-17 بدلونونه

(د پروژې شميره. D2013-D000AS-0097.000، د پيل نيته، 8 فبروري، 2013)

DOD IG د Mi-17 د چلونکي او سپرو د بدلونونو په اړه د وظيفوي فرمان څخه يو تعقيبوي پلټنه تر سره کوي (د پروژې شميره. D2012-D000AS-0075.000). په دې تعقيبي پلټنه کې DOD IG معلوموي چې ايا د DOD چارواکو د فيدرالي او DOD مقرراتو او پاليسيو په اساس د Mi-17 ډوله الوتکو د بدلون په اړه، د وظيفوي فرمان 0102، W58RGZ-09-D-0130 شميره قرارداد کې نامعينه انتقال او نامعينه مقدار په سمه توګه قرارداد او اداره کړي که نه. د تيرې پروژې په اساس، DOD OIG د پاکستان په ملکيت Mi-17 ډوله الوتکې د ترميم لپاره هغه قرارداد بياکتنه وکړه چې د 0102 وظيفوي فرمان لخوا لاسليک شوی و.

## د منځني ختيځ سيمه ايزو عملياتو - د باندينيو چارو وزارت دعمومي پلټونکی دفتر

د State OIG پدې ربع کې د افغانستان بيارغونې په اړه پنځه رواني پروژې لري.

## د بهرنيو چارو وزارت د امتيازاتو افسر نمايندګانو د انتخاب، ځای په ځای کولو، روزنې او څار مسؤليتونو پلټنه

(د پروژې شميره. 14AUD034، د 2014 کال د فبروری په 11 مه پيل شوې)

هدف: د هغه حد مشخص کول کوم ته چې د نوموړي وزارت د امتيازاتو افسر نمايندګان (GORs) انتخاب شوي، ځای په ځای شوي او روزل شوي ترڅو په بريا سره هغوی ته ورکړل شوي امتيازاتو اداره کول او د څار مسؤليتونه سرته ورسوي.

## د کاري فرمان 10 محافظت خدماتو قرارداد د نړۍ په کچه ډيپلوماتيک امنيت بيورو د کابل سفارت امنيتي ځواک پلټنه

(د پروژې شميره. 14AUD018، د 2014 کال د جنورى په 27 مه پيل شوې)

هدف: د دې ټاکل چې ايا د بهرنيو چارو وزارت د کابل سفارت امنيتي ځواک لپاره د نړۍ په کچه محافظتي خدماتو (WPS) اداره کول او څار مؤثره و.

## په افغانستان کې د قراردادونو لپاره د قرارداد کلوزآوټ پروسې پلټنه

(د پروژې شميره. 14AUD014، د 2014 کال د جنورى په 17 مه پيل شوې)

هدف: د دې مشخص کول چې ايا د بهرنيو چارو وزارت ټول شرح شوي پروسيژرې تعقيبولې کله چې يې په افغانستان کې ټول محلي او سيمه ايز قراردادونه تړل.

## د قانون پلي کولو چارو او د مخدره توکو نړيوالې ادارې د افغانستان سره ترياکو ضد مرستې پلټنه

(د پروژې شميره. 13AUD082، د 2013 کال د جون په 20 مه پيل شوې)

دا پلټنه د افغانستان د مخدره توکو په ضد د مبارزې په برخه کې د قانون ملاتړ او د مخدره توکو نړيوالې ادارې مديريت او څارنه بررسي کوي، تر څو معلومه کړي چې آيا ياده اداره خپل ټاکل شوي موخې ترلاسه کړې، او آيا د افغانستان د مخدره توکو ضد ادارې سره يې د مستقيمه مرستو د ادارې لپاره داخلي کنترول عملي کړى دى.

## په بيت المقدس او افغانستان کې د خوئيدنې او سکون امنيتي خدماتو لپاره د 2، 9، او 11 وظيفوي فرمانونو په اړه د ډپلوماټيک امنيت ادارې د نړيوال محافظتي خدماتو قرارداد پلټنه

(د پروژې شميره. 13AUD52، د 2013 کال د فبرورى په 15 مه پيل شوې)

د پلټنې عمومي موخه دا ده چې د WPS قرارداد 2، 9، او 11 وظيفوي فرمانونو په اړه د وزارت د ادارې او څارنې موثريت معلوم کړي. پلټونکې ډله به په ځانګړې ډول معلومه کړي چې آيا قرارداد کونکی خپل کارونه د قرارداد له شرطونو سره سم کوي، د قرارداد کارونه سم څارل کيږي، د دقت ډاډه کولو او د لګښت بشپړوالي لپاره د صورتحساب بياکتنه او د منلو کړنلارې کارول کيږي.

## د حکومت د حساب ورکولو وزارت

GAO پدې ربع کې د افغانستان بيارغونې پورې اړوند 11 رواني پروژې لري.

## د امريکا د افغانستان لپاره ملکی-نظامي ستراتيژيک کاري چوکاټ اپډيټ

(د پروژې شميره. 321014، د 2014 کال د فبرورى په 19 مه پيل شوې)

د متحده ايالاتو د افغانستان لپاره ملکي-نظامي ستراتيژيک کاري چوکاټ د دې ته نومول شوى چې ستراتيژيک ليد مفصل کړي ترڅو د متحده ايالاتو ملي اهدافو لاسته راوړو لپاره د متحده ايالاتو حکومت هڅې لارښود کړي او په افغانستان کې د متحده ايالاتو ملکي

او نظامي همکاري او ملګرتيا اسانه کړي. نوموړی کاري چوکاټ، چې اصلا د يوکړی شوي ملکي-نظامي کمپاين پلان په حيث پيژندل کيږي، د لومړي ځل لپاره په اګست 2009 کې لاسليک شو. د 2013 مالي کال لپاره د ملي دفاع واکمنۍ قانون 1220 برخه له GAO څخه غواړي چې د افغانستان لپاره کمپاين پلان/کاري چوکاټ ته د هرډول پام وړ اپډيټونو څخه راپور ورکړي. GAO به ځواب کړي: څنګه د افغانستان کاري چوکاټ ته د 2013 اپډيټ له اکتوبر 2012 نسخې څخه بدل شوی؟

## په کار ګمارل شوي محلي کارمندانو ته ګواښونه

(د پروژې شميره. 100003، د 2014 کال د فبروری په 4 مه پيل شوې)

د متحده ايالاتو ادارو له 44,000 څخه ډير سيمه ايز ګمارل شوي کارمندان (LES) د بهرني خدمت اتباع او د متحده ايالاتو ښاريان-د نړۍ په کچه څه د باندې 270 پوستونو کې ګمارلي دي. پدې پوستونو کې LES د متحده ايالاتو د شتون کليدي عنصر دی، چې ډيری وختونه يو لړ پروګراماتيک، امنيتي، د نظارت، ساتنې او نورې دندې سرته رسوي. په هرصورت، د متحده ايالاتو سره د دوی تړاو يا وابستګي له امله، LES کيدی شي د ځورونې، ارعاب او مرګ ګواښونو سره مخ شي. LES ته ګواښونه په ځانګړي ډول د تروريست شبکو او تاوتريخوالي افراطي ډلو فعال شتون هيوادونو په پوستونو کې ډير دی، لکه افغانستان، عراق، پاکستان، او يمن. دا ډول ګواښونه احتمالا کولی شي د LES ګمارنې او ساتنه کې د متحده ايالاتو د هڅو ممانعت وکړي. له GAO څخه غوښتل شوي و چې د لوړ-ګواښ پوستونو کې د LES خدمات کولو ته د ګواښونو کمولو او په اړه يې معلوماتو شريکولو او نظارت لپاره د متحده ايالاتو حکومت هڅې بياوګوري. مهمې پوښتنې: (1) د ګواښ څرنګوالی او وسعت يې څومره دی چې تروريست شبکې او نورې د تاوتريخوالي افراطي ډلې يې LES ته کوي، په شمول د ګواښونو او بريدونو شمير؛
(2) تر کوم حد پورې د متحده ايالاتو ادارو په مؤثره او وخت سره ترتيب کې LES ته ګواښونو په اړه معلومات راټولولو او منتشر کولو ته ميکانيزمونه رامنځته کړي؛
(3) په لوړ-ګواښ پوستونو کې ترکوم حده د متحده ايالاتو ادارو ګامونه اخيستي ترڅو ګواښونه کم کړي او کومې موانع شتون لري چې دا ګواښونه پرې کم شي؛
او (4) تر کوم حده دې ګواښونو او بريدونو د لوی ګواښ پوستونو کې د LES په کار ګمارنه او ساتنه اغيزمنه کړې؟

## د امريکا ملکي شتون په افغانستان کې

(د پروژې شميره. 320997، د 2013 کال د اکتوبر په 22 مه پيل شوې)

په افغانستان کې د امريکا ملکي ادارې د 2014 په پای کې په افغانستان کې له ډيرې زيات نظامي شتون څخه د ملکي شتون لپار چې مشري به يې د امريکا بهرنيو چارو وزارت لخوا کيږي د سپارلو پلان کولو په حال کې دي. GAO به يې بيا وګوري: (1) د سپارلو لپار ملکي ادارې څنګه پلان جوړوي، پشمول د له سپارلو وروسته پروګرامونه او کارکوونکي، امنيت، او د هغوی ملاتړ لپاره لوژستيکي اړتياوې؛ (2) له سپارلو وروسته په افغانستان کې د ملکيانو شتون اټکل شوي لګښتونه؛ او (3) هغه عوامل چې کيدای شي پدغو پلان کولو او اړوندو اټکلونو لګښت باندې اغيز وکړي.

## په افغانستان کې د DOD قراردادکونکو وتل

(د پروژې شمیره. 351851، د 2013 کال د اکست په 16 مه پیل شوې)

DOD په افغانستان کې د قرارداد ملاتړ لپاره په ملیاردونو مصرف کړي او په افغانستان کې د خپلو سرتیرو ملاتړ لپاره د ډیری قراردادیانو په کار ګمارنې ته دوام ورکوي. لکه څنګه چې DOD د خپلو ځواکونو وتل پیل کوي، کوم چې باید 2014 پورې بشپړ شي، دا باید د قراردادیانو وتل هم پیل کړي. GAO به مشخص کړي: (1) تر کوم حد پورې DOD په افغانستان کې د قراردادیانو، او خپلو تجهیزاتو ویستلو لپاره له عراق څخه زده کړې درسونه پلي کوي؛ (2) د DOD او متحده ایالاتو ځواک – افغانستان (USFOR-A) په واسطه رامنځته کړی شوی پروسې د خپل قراردادي کاري ځواک او اړوند تجهیزاتو ایستلو لپاره؛ (3) DOD څنګه د وتلو پریکړو عملیاتي ملاتړ قرارداد لپاره لګښت ملاحظه کوي؛ او (4) USFOR-A د 2014 کال څخه وروسته د قراردادیانو کارولو لپاره پلان ته کومه طریقه غوره کړې؟

## په افغانستان د ځواکونو کمول په افغانستان کې د DOD مشورتي ماموریت باندې اغیز کوي

(د پروژې شمیره. 351854، د 2013 کال د اکست په 15 مه پیل شوې)

په افغانستان کې د دسمبر 2014 پورې د محاربوي ماموریت پای ته رسولو متحده ایالاتو پلان برخې په حیث، DOD تر فبروري 2014 پورې د متحده ایالاتو سرتیرو شمیر 34,000 ته راکموي. له 2014 کال وروسته، د متحده ایالاتو پاتې ځواکونه به افغان ځواکونو ته مشوره ورکوي، د تروریزم ضد فعالیتونه به پرمخ وړي، او د متحده ایالاتو نورې ادارې به حمایه کوي. مهمې پوښتنې: (1) تر کوم حد پورې DOD د متحده ایالاتو ځواکونو ترکیب او ماموریتونه پیژندلي څکه چې راتلونکي کال کې ځواک کموي؛ (2) تر کوم حد پورې DOD د متحده ایالاتو پاتې ځواکونو لپاره ملاتړ او امنیتي اړتیاوې پیژندلي چې د کمیدلو سره به مشورتي او نور اضافي ماموریتونو کې شکیل وي؛ (3) کومو ننګونو سره، که شتون ولري، DOD به د مشورې او نورو ماموریتونو لپاره ملاتړ امنیت چمتو کولو کې مخ شي، او تر کوم حد پورې اقدامات یې کړي ترڅو کوم موجود چالشونه راکم کړي؟

## د متحده ایالاتو کابل سفارت کې په کابل سفارت کې

(د پروژې شمیره. 320990، د 2013 کال د جولای په 24 مه پیل شوې)

له 2009 راهیسې د بهرنیو چارو وزارت د شاوخوا 700 ملیون ډالرو په ارزښت دوه قراردادونه ورکړي ترڅو اضافي میشته کول او د دفتر ودانۍ د متحده ایالاتو کابل سفارت، افغانستان کې جوړې کړي. د بهرنیو چارو وزارت اوس لومړی قرارداد پای ته رسولی او د دوهم قرارداد سکوپ، ارزښت او نیټه یې غزولې. مهمې پوښتنې: (1) له 2009 راهیسې د بهرنیو چارو وزارت د متحده ایالاتو کابل سفارت نوي ودانیو جوړولو کې کوم پرمختګ کړی، او کومو فاکتورونو د کوم سکوپ، لګښت یا مهالویش بدلونونو کې برخه اخیستې؛ او (2) تر کوم حد پورې اوسني مصارف د پروژې اړتیاو سره سمون خوري؟

## د بهرني لیبر قراردادکونکو بهر کارول

(د پروژې شمیره. 320985، د 2013 کال د جولای په 2 مه پیل شوې)

متحده ایالات په قراردادیانو تکیه کوي چې د ټولو هاخوا ورته مختلف خدمات چمتو کړي. د متحده ایالاتو حکومت ټولو قراردادونو لپاره د قاچاق شوي کارمندانو د کارولو ممانعت

سربيره، د متحده ايالاتو قراردادیانو په واسطه ګمارل شوي کارګرانو ته چمتو شوي محافظتونو په اړه اندېښنې پرڅای پاتې دي ځکه چې په ځينې کوربه هيوادونو کې شايع کړنې د متحده ايالاتو معيارونو سره په اختلاف کې دي. مهمې پوښتنې: (1) د متحده ايالاتو څخه بهر کار لپاره د بهرنيو کارګرانو په ګمارنه کې د متحده ايالاتو حکومت قراردادیانو تجارب څه دي؟ (2) د متحده ايالاتو څخه بهر د متحده ايالاتو حکومت قراردادیانو په واسطه ګمارل شوي بهرني کارګرانو ته د محافظت چمتو کولو لپاره د متحده ايالاتو کومې اداري قانوني او نور مقامات پېژني؟ (3) د دا ډول مقاماتو ترکومه کچه فدرالي اداري نظارت او اجرا چمتو کوي؟

## د بهرنيو چارو وزارت د بلاعوضه مرستو او تعاوني تړونونو مديريت

(د پروژې شميره. 320978، د 2013 کال د مى په 29 مه پيل شوې)

بلاعوضه مرستې او تعاوني تړونونه کليدي اسباب دي چې د بهرنيو چارو وزارت يې د خپلې بهرنۍ پاليسۍ د ودې لپاره کاروي. په 2012 مالي کال کې، د بهرنيو چارو وزارت شاوخوا 1.6 مليارد ډالر د نړۍ په کچه بلاعوضه مرستو او تعاوني تړونونو کې غيرحکومتي نهادونو او نورو پلي کونکي ملګرو ته ورکړي. مهمې پوښتنې: (1) د بهرنيو چارو وزارت کومې پاليسیانې او پروسيژرې لري چې د بلاعوضه مرستو او تعاوني تړونونو ورکړه پرې اداره او نظارت کړي؛ او (2) تر کوم حد پورې د وزارت داخلي کنټرولونه مناسب ډاډ وراندې کوي چې دا فنډونه په انتخاب شوي هيوادونو کې د نومول شوي هدف لپاره کارېږي؟

## د افغان عامه محافظت ځواک ته د DOD ليږد لګښت

(د پروژې شميره. 351819، د 2013 کال د ميی په 9 مه پيل شوې)

افغان عامه محافظت ځواک (APPF) په مارچ 2012 کې د امنيتي مسؤليت په غاړه اخيستل پيل کړل. د امنيت خصوصي قرارداد کونکي (PSCs)، چې د نظامي بيزونو خوندي کولو لپاره کارول کيده، په مارچ 2013 کې د APPF يا نظامي پرسونل په واسطه بدل کړی شو. مهمې پوښتنې: ترکومه بريده: (1) د دفاع وزارت د امنيتي خدماتو ليږد له خصوصي امنيتي قراردادیانو څخه APPF ته پلي کړي؛ (2) APPF DOD ته د ليږد پورې اړوند لګښت تخمينونه جوړکړي او د دې لګښتونو کمولو لپاره کوم اعمال سرته رسيدلي؛ او (3) د دفاع وزارت APPF ته د ليږد پايلې په حيث د متحده ايالاتو پرسونل او لوژستيک ته اوسني او احتمالي خطرات ارزولي او د دې خطراتو کمولو لپاره ګامونه پورته شوي؟

## د DOD کانټينر مديريت

(د پروژې شميره. 351805، د 2013 کال د مارچ په 1 مه پيل شوې)

د باروړلو کانټينر مديريت د DOD لپاره يو اوږدمهاله ننګونه وه. GAO اټکل کوي چې DOD به څه دبره 1 مليارد ډالر په عراق او افغانستان کې د عملياتو پرمهال د سوداګريز بار وړو سره د هغې قرارداد کې ټاکل شوي وخت چوکاټ هاخوا د سوداګريز باروړو کانټينرو کارولو لپاره له 2003 څخه تر 2013 اوږدو پورې د توقيف فيس ورکړي. مهمې پوښتنې: (1) په افغان صحنه کې کارول شوي د بار وړو کانټينرو باندې اغيز کونکي ننګونو

د کانټينر مديريت په نښه کولو لپاره DOD تر کوم حد پورې اصلاحي ګامونه اخيستي؛ او (2) او تر کوم حد پورې DOD د توقيف فيسونو زيرمې باندې د خپل اصلاحي ګامونو اغيز ارزولی دی؟

## په افغانستان کې د تجهيزاتو کمول او د مراکزو تړل

(د پروژې شميره. 351798، د 2013 کال د جنورۍ په 22 مه پيل شوې)

DOD ويلي چې له افغانستان څخه د 90,000 کانټينر مواد او 50,000 نقليه وسيلو ويستلو لپاره لږ تر لږه 5.7 ميليارده ډالر مصرف کړي. په افغانستان کې د زيات شمير مرکزونو او ستونزمن شرايطو په نظر کې نيولو سره، يو موثر او اقتصادي وتنه دې پورې تړلې ده چې DOD ته معلومه وي څومره تجهيزات په افغانستان کې لري او د ځای په ځای کولو لپاره يې کم لګښته پريکړې ونيسي. مهې پوښتنې: (1) تر کوم حد پورې DOD د بيس-بندولو پروسيژرې پلي کړي، په شمول د تجهيزاتو حساب ورکوونه، ترڅو د قوماندې رامنځته کړی شوي موخې او وخت نيټې سره سمون وخوري؛ (2) تر کوم حد پورې د افغانستان تجهيزاتو ايستلو لپاره د قوماندې رامنځته کړی شوي موخې او وخت چوکاټونه د DOD اسانتياو او پروسو په واسطه ملاتړ شوي؛ او (3) تر کوم حد پورې DOD د لګښت او نور معلومات کاروي ترڅو د دې ډاډ لاسته راوړو سره مرستندويه وي چې دا د لګښت مؤثره دريځ پريکړې کوي؟

## په افغانستان د پوځ پلټونکې اداره

پدې ربع کې، USAAA د بيارغونيزو نوښتونو په اړه کومه روانه پلټنه نلري.

## په افغانستان د عمومي پلټونکي دفتر

پدې ربعه کې، USAID OIG د بيارغونې نوښتونو پورې اړوند شپږ روانې پلټنې لري. په لاندې لست کې دوې شاملې پروژې تعليق شوي دي.

## له حکومت څخه حکومت ته د USAID/افغانستان مالي مديريت کنټرولونو بيا کتل

(د پروژې شميره. FF100414، د 2014 کال د مارچ په 10 مه پيل شوې)

د موخې ارزونه:

- ايا د مالي مديريت کنټرولونه د USAID/افغانستان مالي مديريت له حکومت څخه حکومت ته مرستې د ډيزاين سره تړلي او په مؤثر ډول عمل کوي؟

## د تره خيل په فابريکه کې د USAID افغانستان فعاليتونو دوام او عملياتونو ارزونه

(د پروژې شميره. FF100914، د 2013 کال د دسمبر په 18 مه پيل شوې)

د موخې ارزونه:

